



مرکوال: انجنیر عبدالقادر« مسعود »

د نشرنیټه : 19 نوامبر 2026 میلادی

د نړیوال او پښتو داستاني ادبیاتو په تړاو له پوهاند محمد بشیر دودیال سره، چې پیاوړی لیکوال، ژباړونکی، ناول لیکونکی، د علمي، ادبي او اقتصادي مسایلو څېړونکی دی ځانګړې ادبي مرکه.

د پوهې، ادب او فرهنګ درنو او پتمنو مینه والو!



پوهاند محمد بشیر «دودیال»

ادب د یو ملت د اندیز او فکري، فرهنګي او معنوي ژوند هینداره ده. د هرې ژبې او ولس ادبیات د هغه د تاریخ، تمدن او احساساتو ژبه ده. ادبیات د انسان د اندو فکر، احساس، تجربو او تولنیزو ارزښتونو د بیان یوه مهمه وسیله ده. ادبیات یوازې د کلمو هنري پیوستون نه دی، بلکې د انسان د روح هغه پته ژبه ده چې د زمانې له پولې او د جغرافیې له واټن څخه تېرېږي او د انسان د ژوند و ژواک، احساس، اندو فکر، درد، هیلو او تولنیز حقیقت انځور په خپل هنري وجود کې خوندي کوي.

نړیوال داستاني ادبیات د بشري تولنو د ژوند، تجربو، تاریخي پېښو، رواني حالتونو، فلسفي اندونو او تولنیزو اړیکو هغه هنري بیان دی چې د کیسو، رومان، ناول او لنډو کیسو په بڼه وړاندې کېږي.
نړیوال داستاني ادبیات د انسان د فردي او تولنیز ژوند یوه پراخه هنري هینداره ده. په دې ادبیاتو کې د انسان د ژوند، تاریخ، تولنې اندو فکر، احساس، هنري او فرهنګي هویت بېلابېل اړخونه انځور شوي دي. نړیوال داستاني ادبیات؛ د انساني تجربو ګډ میراث دی.
د نړۍ داستاني ادبیات د بشري تمدن د فکري او فرهنګي تاریخ یوه ارزښتناکه خزانه ده. له لرغونو روایتونو او ولسي کیسو څخه نیولې، د معاصرو داستانونو، لنډو کیسو، ناول او تجربوي داستاني

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندهٔ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»

ځېلونو او ژانرونو پورې، هر ادبي بهير د خپل عصر د انسان د اندو فکر، ژوند، ټولنيزو تحولاتو او فرهنګي ارزښتونو استازيتوب کوي.
پښتو داستاني ادبيات؛ د ژوبې د هويت او فرهنګي حافظې هنري خزانه ده.
پښتو داستاني ادبيات د پښتنو د تاريخي، ټولنيز، فرهنګي، سياسي، رواني او عاطفي ژوند هنري انځور دی.
زمونږ ولسي کيسې، شفاهي روايتونه، افساني، لنډې کيسې، ناولونه او نور داستاني نښير(آثار) د پښتني ټولنې د ژوند، دودونو، ارزښتونو، بدلونونو او انساني تجربو بېلابېل اړخونه راڅرګندوي.
نړيوال داستاني ادبيات مونږ له نورو ملتونو، تمدنونو او انساني تجربو سره اشنا کوي؛ پښتو داستاني ادبيات بيا مونږ ته خپل تاريخي هويت، فرهنګي واقعيتونه، ټولنيز دردونه او انساني تجربې راپېژني.
لنډه دا چې داستاني ادبيات هغه تلپاتې سيند دی چې د ملتونو د تاريخ له غرونو سرچينه اخلي، د انسان احساسات او عواطف په څپو راولي، او د نړيوال انساني تفاهم په سمندر کې خپل ابدي سفر ته دوام ورکوي. نړيوال داستاني ادبيات د انسان د ګډ تمدني انديز او فکري ميراث يوه پراخه برخه ده، او پښتو داستاني ادبيات د همدې انساني ميراث ځانګړی، ژبنی او فرهنګي غږ دی.
ښاغلی پروفيسور استاد محمد بشير دوديال د پښتو ژبې او ادب په غوړېدلي ګلبن کې د پوهې او فرهنګ له مخکښو او ځلانده څېرو څخه دی، د خپلو علمي، څېړنيز، تحقيقاتي او ادبي ليکنو، ګټورو، اغېزناکو نښيرونو(آثارو) له لارې يې د پښتو ژبې او ادب ډګر تل تود او ښېرازه ساتلی دی. ده خپل ارزښتناک نښيرونه(آثار)داسې انځور کړې دي، چې د هر لوستونکي او اورېدونکي په ذهن او زړه کې ښکلا، ځلا او مينه راپاروي او ترينه خوند او پند اخلي.

پوهاند استاد محمد اسماعيل يون د علم او ادب هغه ځلېدونکی ستوری دی، چې د خپلو اغېزناکو او ګټورو نښيرونو(آثارو) له لارې يې د پښتو ژبې او ادب غوړېدلی ډګر تل روښانه او ځلانده ساتلی دی.
دی په خپله يوه ليکنه کې د پوهاند استاد دوديال د علمي او ادبي ستې په تړاو داسې وايي:
((محمد بشير دوديال يو کره او په ټول پوره ليکوال.
محمد بشير دوديال د افغانستان د هغو ليکوالو له جملې څخه دی چې د مانا او محتوا له مخې يې په ټول پوره ليکنې کړي دي ، نږدې نيمه پېړۍ يې ليکوالي کړې ، خو په ليکوالۍ کې يې کومه وقفه نه ده راغلې .
د ښاغلي پوهاند دوديال ليکنې په عام ډول پر دوو برخو وېشلی شو: ادبي او هنري ليکنې ، چې په هغو کې د دوديال صيب د لنډو کيسو ټولګې او ناولونه ، لکه:
(تانده غوټۍ ، شاهين ، د مينې ډالۍ ، مونږ ببرته خپل کلي ته ځو ، ګوندې بيا به ښې ورځې راشي) او ځينې نور اثار شامل دي او دويمه برخه يې علمي اثار دي چې ښاغلي دوديال د علمي ترفعياتو لپاره ليکلي او يا يې پر اقتصادي ، ټولنيزو او کرنيزو مسايلو ليکلي څېړنيز او تحليلي اثار دي، لکه: (د افغانستان د طبيعي سرچينو پېژندنه، حيات وحش افغانستان، اقتصادي پلان جوړونه، د کرنيزې مناسبې تکنالوژۍ ستونزې او د حل لارې، د کرنې او صنعت متوازنه وده، د اقتصادي پرمختيا تيوري او پلان جوړونه، ديموګرافي او د نفوسو تحليل، د طبيعي منابعو اقتصاد، د اقتصادي پروژو تحليل او مديريت، د اقتصاد تشريحي قاموس، د کرنې تشريحي قاموس، منطقه‌يي اقتصاد، د سازماني اړيکو مديريت، د سازماني شخړو مديريت، د مالي خطرونو مديريت، په افغانستان کې د غالۍ اوبدلو صنعت، په افغانستان کې د ګانو جوړولو هنر، په افغانستان کې هنر او ښکلي هنرونه، د افغانستان د اقتصادي او ټولنيزو پلانونو په طرحه او تطبيق کې د محمد داوود خان ونډه، د افغانستان يوه لنډه ديارلس کلنه تجربه، په افغانستان کې د خط او خطاطۍ بدلون ته کتنه، د حيواناتو او څارويو په زړه پورې نړۍ، د پروژې مديريت په عمل کې، اقتصادي سنجشونه) او ګڼ شمېر نور اثار شامل دي. په ادبي برخه يې کې طنزونه هم ليکلي او د دې تر څنګ يې يو شمېر مهم علمي او تاريخي اثار ژباړلي هم دي، په ټوليز ډول يې د اثارو شمېر تر اتيا (۸۰) عنوانو اوړي .

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندهٔ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»

د بشير دوديال د ادبي اثاروه ژبه ډېره خوږه، پسته، کره او نرمه ده، ابهام، تصنع او تکلف په کې نه شته او په علمي اثارو کې يې بيا علمي ژبه کارولې چې عام او خاص ټول خلک پرې پوهيږي .

له ټولنيز پلوه، دوديال يو ټولنيز، صميمي، ډېر مودب او مهربانه شخصيت دی، په ټېرو نږدې پنځوسو کلونو کې يې تر ډېره حده له بې ځايه او نا ضرورته ټولنيزو، سياسي او فرهنګي جنجالونو او ناندريو څخه ځان ژغورلی او خپل علمي او ادبي کار ته يې کار ويلی دی. که دا کار يې نه وای کړی نو نن به د دومره زياتو علمي او ادبي اثارو خاوند نه وای . ده په ټول پوره او کره ليکوالي کړې او په ليکوالۍ کې يې په بحراني شرايطو کې هم ځنډ او خنډ ته اجازه نه ده ورکړې . زه يې د هغو پښتنو ليکوالو په ډله کې شمېرم چې د يوه ښه کره، پوخ او په ټول پوره ليکوال اطلاق پرې کېدی شي . د لا زياتو بريالو هيله ورته لرم.))

پوهاند استاد محمد اسماعيل يون.

***

پوهاند استاد دوديال د ژور اندو فکر او عقايدو ځواکمن ليکوال، هڅاند انديال او متفکر، پياوړی کيسه او داستان ليکونکی، تکړه څېړونکی او ژباړونکی دی. پوهاند استاد دوديال صاحب دروند، با احساسه او خواخوږی شخصيت، زړه سواندی انسان، او د لويې حوصلې خاوند دی. له خپلو ملګرو، يارانو، دوستانو او مينه والو، له هيواد او هيوادوالو سره سپيڅلي او ژوره مينه لري.
پوهاند استاد دوديال زمور د هېواد له هغو انديالو او نوميالیو فرهنګپالو له ډلې څخه دی، چې خپل ټول ژوند يې علمي او فرهنګي چارو ته ځانګړی کړی دی.

پروفيسور نصيب الله سيماب د پښتو ژبې او ادب هغه پوخ، ځواکمن او غښتلی ليکوال، څېړونکی، ادیب او تکړه شاعر دی، چې د خپلو علمي او ادبي نښيرونو (آثارو) په وسيله يې د پښتو ژبې او ادب ته نه هېريدونکي او نه ورکېدونکي خدمتونه او چوپړ ترسره کړي دي. ده په خپله يوه ليکنه کې د پوهاند استاد دوديال صاحب د علمي او ادبي شخصيت په اړوند داسې کښلي دي:
((پوهاند استاد محمد بشير دوديال د افغانستان له هغو علمي او فرهنګي شخصيتونو څخه دی چې د خپل ژوند ډېره برخه يې د علم، پوهې، څېړنې، تدريس او فرهنګي خدمتونو لپاره ځانګړې کړې ده .
پوهاند دوديال د افغانستان په يو شمېر علمي او تحصيلي بنسټونو، لکه کابل، ننګرهار، خراسان او آريانا پوهنتونونو کې د استاد په توګه دنده ترسره کړې ده. همدارنګه يې په پاکستان کې د افغانانو په پوهنتون کې د کرنې، وترنرۍ، عامه علومو، اداري او پاليسۍ، ژورناليزم او اقتصاد په پوهنځيو کې تدريس کړی دی. نوموړي د افغانستان د علومو اکاډمۍ د علمي غړي، د آريانا دايرةالمعارف انستيتيوت د مشر، د ننګرهار پوهنتون د اقتصاد پوهنځي د مرستيال او د عامه اداري او پاليسۍ پوهنځي د رئيس په ګډون ګڼ علمي او اداري مسؤليتونه ترسره کړي دي. د دې ترڅنګ يې د پوهنتونونو په علمي شوراګانو، علمي ترفيعاتو، کانکور او څېړنيزو کمېټو کې هم فعاله ونډه لرلې ده.
د استاد دوديال علمي او ادبي فعاليتونه يوازې تر تدريس او اداري چارو محدود نه دي پاتې شوي، بلکې د ليکوالۍ او څېړنې په ډګر کې يې هم پراخ او ارزښتناک کار کړی دی. نوموړي شاوخوا ۸۴ کتابونه ليکلي او د پښتو، دري او انګليسي ژبو په بېلابېلو مطبوعاتو، علمي مجلو، ورځپاڼو او انلاين خپرونو کې يې نزدې ۷۵۹ مقالې خپرې شوې دي. همدارنګه يې د آريانا دايرةالمعارف لپاره ۶۲ علمي مدخلونه ليکلي دي. د دې ترڅنګ يې په ګڼو ملي او نړيوالو کنفرانسونو، سيمينارونو او علمي ورکشاپونو کې ګډون کړی او د مېلمه پروفيسور په توګه يې د ايران، هند، جرمني، پاکستان، هسپانيې، هنګري، سويس، اتريش، فرانسې او ترکيې په ګډون بېلابېلو هېوادونو ته علمي سفرونه کړي دي.
زما په اند، د پوهاند استاد محمد بشير دوديال علمي او ادبي شخصيت د هغه د ليکنو، څېړنو، تدريسي خدمتونو او فکري تجربو په مجموعه کې د ارزونې وړ دی. نوموړی د هغو علمي او فرهنګي شخصيتونو له ډلې څخه دی چې د پوهې بېلابېلې څانګې يې له يو بل سره تړلې او د ليکوالۍ، څېړنې او تدريس له لارې يې د علمي او فرهنګي بهير په پياوړتيا کې ونډه اخيستې ده. د هغه علمي آثار او فکري

هڅې د افغانستان د علمي او فرهنګي ميراث يوه ارزښتناکه برخه جوړوي او د راتلونکو نسلونو لپاره د مطالعې او څېړنې وړ پاڼګه ګڼل کېدای شي.))

پروفيسور استاد نصيب الله سيماب.

پوهاند استاد دوديال د خپل ځواکمن قلم، علمي او ادبي تحقيقاتو او څېړنو له لارې خپلو درنو او پتمنو پښتنو، پښتو ژبې، پوهې او ادبياتو ته کارنده او رغنده خدمتونه او چوپړ ترسره کړي دي. همدا وجه ده چې ما له ده سره د نورو مرکو تر څنګ دا ځل د ېوې پوره او بشپړې مرکې له لارې د نړېوال داستاني ادبياتو او پښتو داستاني ادبياتو په تړاو ځانګړې څېړنيزه او تحقيقاتي مرکه جوړه کړې ده، چې ستاسو درنو او پتمنو مينه والو پام ورته راګرځوم.

ګران او منلی پوهاند استاد دوديال صاحب زما سلامونه او درنښت ومنئ، کمو اجازه وي ، زه به خپلې پوښتنې ستاسو درانه حضور ته وړاندې کړم.

ګران مسعود صاحب تاسو او ټولو درنو مينه والو ته زه هم خپل سلامونه وړاندې کوم. ستاسو په خدمت او چوپړ کې يم.

***

مسعود: نړېوال داستاني ادبيات څه ډول راپېژنئ؟ ستاسو ارزونه د داستاني ادبياتو د مهمو ځېلونو (ژانرونو) او ډولونو لکه: «حماسه، داستان، ناول، لنډه کيسه، حکايت، افسانه او رومان» په تړاو څه ده؟ ښه به وي که د دغو داستاني ډولونو او ژانرونو د مهمو او بنسټيزو ځانګړتياوو او د موضوع د اصلي تمرکز په تړاو خپل اند او ليد راسره شريک کړئ؟

استاد دوديال:

بسم الله الرحمن الرحيم

مخکې تر دې چې نړېوال داستاني ادب باندې خبرې وکړو، ډېر لنډ او يو- دوه کرښو کې به ادبيات وپېژنو:

ادبيات هغه کلام ته ويل کېږي چې د ورځنيو خبرو په پرتله هنري ارزښت ولري. ادبي نثر هغه دی چې په ادبي او هنري بڼه ليکل شوی وي، ادبي قواعد،صنايع او د ګرامر، املا، تنقيط او انشا ټول اجزا پکې رعايت شوي وي . په بله وينا: د وييونو يا کلماتو په جامه کې د انساني افکارو، احساساتو او تجربو د ليږدولو هنر ته ادبيات ويل کېږي.

ادبيات د بشری ټولنې اړتيا او د ځوان نسل د روزنې لپاره يوه خوږه او پسته عاطفي وسيله ده. د همدې منل شوي اصل له مخې لويو ليکوالو تل د ادبياتو پر اړتيا ټينګار کړی دی .ادبيات د انسان د ذهن ترټولو اساسي او اړين فعاليت ګڼل کېږي.. ارزښت يې په دې کې دی چې ادبيات تر ټولو بڼه او داسې مهربانه بڼونکی دی چې مور ته په ټولنه کې موجود ارزښتونه، معنوي پاڼګه، د وګړو ترمنځ توپيرونه او د ټولنې ټوله تيره کولتوري ــ فرهنګي شتهمني او تجربې راښيي.ادبيات د انسان د فکر، احساس، اخلاقو او ټولنيز شعور د روزنې يوه اغېزمنه وسيله ده. ادبيات او په دې لړ کې داستاني ادبيات د ټول بشريت ګډ ارزش او د فکري فعاليت مشترک محصول دی.

اوس مو چې د ادبياتو په اړه يو څو کرښې وليکلې، رابه شو نړېوالو داستاني ادبياتو ته:

نړېوال داستاني ادبيات د نړۍ په کچه بيلابيلو ژبو او هېوادونو کې په نثر سره، هغه پام رااړوونکي نوښتيز روايتي آثار دي چې ټوله نړۍ کې نامتو شوي وي. نړېوال ادبيات (World Literature) او په اوسني مفهوم؛ د بشريت ادبي ايجاديات، په لومړي ځل په نولسمه پېړۍ کې د جرمني فيلسوف او ليکوال ګويټه لخوا د "Weltliteratur" په نوم مطرح شول، چې موخه يې د تمدنونو ترمنځ د خبرو اترو او يو بل ته د درناوي رامنځته کول و. په اوسني پېر کې نړېوال ادبيات د يوې داسې وسيلې په توګه کارول کېږي چې لوستونکو ته اجازه ورکوي د نړۍ د نورو قومونو په تاريخ، احساساتو، ويارونو، هڅو، بريالېتبونو او ټولنيزو ستونزو پوه شي. دا د ادبياتو هغه بڼه ده چې د ژباړې او کلتوري تبادلې له لارې په نړېواله کچه خپرېږي او د انسانانو ترمنځ د فکري پلونو د جوړولو دنده پر غاړه لري. نړېوال داستاني ادبيات په بيلابيلو ژبو، له بيلابيلو سيمو او هيوادو څخه د بيلابيلو ملتونو، کلتورونو او تاريخي

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندهٔ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»

دورو هغه اثار دي چې ليرې او نيږدې سيمو کې د خلکو د تجربو، د ژوند دلوړو- ژورو، د هرملت د دود-دستور او سوچونو، مادی او معنوي ارزښتونو کيسې راته کوي. نړيوال داستانی ادبيات او د هغو روايات له يوې ځانګړې سيمې او هېواد او کلتوري چاپېريال څخه اوړي او د ټول بشريت د تجربې په توګه په نړيواله کچه مورِ ته د درک او پېژندنې لاره هواروي. نړيوال داستانی ادب هغه ادبي ميراث دی چې د بېلابېلو هيوادونو د خواږيکښانو او ولسونو د کړاوونو، خواږيو، ستومانيو او د فکر طرز او د شاهانو له عياشي، لښکر او جنګونو او د عام بشريت له نړيوالو مسئلو څخه کيسې او روايتونه لري. د بشريت د دغه مشترک تخليق مهمه ځانګړنه دا ده چې د هرې سيمې د خلکو عُرف او عادات او سيمه‌ييزه تجربه په نړيواله بشري معنا راته افاده کوي.
داستاني ادبيات په ټولو هېوادو کې شته، يوه بيلګه يې د لرغوني يونان ادبيات دي چې (هومر)د بېلګې په توګه يادولای شو، يا هسپانوي لرغوني داستاني آثار، بيا همداسې راوروسته وختو کې؛ د شکسپير او جيواني بوکاچيو آثار، په هسپانيا کې د سروانتس ادبي پياوړی ميراث، دچارلز ډيکنز او فيودور داستايوفسکي، محمد درويش، تولستوی، توفيق الحکيم، کافکا، ګاربريل ګارسيا مارکز او نورو نامتو آثار.
تر ډېره پورې اروپا د داستاني آثارو مخکښه بلل کيږي، آن دا چې ناول او رومان (Roman) له ايتالوي اوفرانسوي ژبې نورو ژبو ته تللي دي. د هنريت او ادبي ښکلا او فن له پلوه د لاتيني امريکا داستاني ادبيات نامتو دي او د محتوا د ژورتيا او اغيز له پلوه روسي ادبيات نوم لري. د انګليسی، روسي، اسپانوی او فرانسوي داستاني ادبياتو ژباړې د نړۍ په ډېرو ژبو نشر شوي دي.
دا ټول د نړيوالو ادبياتو مثالونه دي. اوس نړيوال داستاني نښېرونه د نړۍ د بېلابېلو کلتورونو د ادبي اثارو يوه ګډه ټولګه ده چې له ملي او جغرافيايي پولو هاخوا د بشريت د فکري ميراث په توګه پېژندل کيږي او د بشريت د تمدن د پراخوالي او تنوع استازيتوب کوي، بېلابېل کلتورونه، ژبې، او تاريخي پس منظرونه او مهمې نړيوالې پېښې د همدغو داستاني ادبياتو له لارې څرګندېږي. د دې ادبياتو مطالعه د نړۍ د مختلفو برخو د ادبياتو د پرمختګ، کلتوري تبادلې، او ټولنيزو بدلونونو په اړه ژوره پوهه وړاندې کوي. د نړيوالو داستاني ادبياتو د ارزونې او مطالعې له لارې، مورِ کولای شو د بشريت د مشترک انساني تاريخ، ګډو تجربو، مادي او معنوي پرمختګونو، او کلتوري اړيکو په هکله پوهه ترلاسه کړو.
دا آثار د ژباړې له لارې د نړۍ ډېرو ژبو او هر هېواد ته رسيدلي او د بشريت شريک فرهنګي ميراث دی. په دې کې اسطوره، حکايتونه، لنډې کيسې، ناول او رومان راځي. دا ټول حکايتي او داستاني ادبيات هره ژبه کې مينه وال لري. داستاني ادبياتو د ادبي ذوق، دعواطفو تلطيف، د تاريخي پېښو بيان، د افکارو د تبادلې او د ژبې د بډايۍ برخو کې رول درلود او لري يې. غوره به وي داستاني ادبيات په لنډ ډول وپېژنو، بيا به يې په بيلابيلو ډولونو خبرې وکړو:
هنري نثرونه دوه ډوله دی: داستانی يا کيسه ييز نثر(لنډه کيسه، ناول، منځی داستان، ډرامه او ناول.) او غير کيسه ييز (ادبی ليکونه، ادبي انځور، تکل، ادبي راپورتاژ، ادبي يونليکونه، طنز، ادبي ځانپېژنې(پېښليک)، يونليک، خاطره ليکل او ادبي ټوټه). لومړي ډول ته داستاني ادبيات وايو.

داستاني ادبيات هر هغه ادبي(عمدتاً نثري) اثر ته وايو چې خلاقانه او نوښتيز روايت او ځانګړي عناصر لکه کرکتر، وخت، ځای، پېښې، ځانګړی جذاب او خوږ لحن او د يوې ټاکلې زاويې لرونکی وي.

پښتو يوه هغه ژبه ده چې د داستاني ادبياتو له پلوه بډايه ده. مورِ خپل فولکلور يا شفاهي ادب کې په زړه پورې نکلونه، کيسې او حکايات لرو، په معاصر دوران کې ښکلې لنډې کيسې، ناول او رومانونه هم ليکل شوي دي. عجيبه ده چې همدې معاصر تعريف سره سم او په همدې ځانګړنې او تعريف لا ډېر پخوا زمورِ نکلچيانو او انا ګانو کيسې پيل او دوام به يې ورکاو:

اورېدلي مي کيسه ده، له شاتو هم خوږه ده...

و، نه و يو پاچا و، ناست په دوکانچا و، پرتوګ يې د الچا و...!!

مېندو او انا ګانو به دغه نکلونه په ډېره ارامه او خوږه ژبه ويل، پيل به يې زياتره موزون او مُخيل و، لکه:

د خداى کړه وو، د بنده ورته کاته وو....

د حکايتونو او نکلونو له هماغه پيل څخه به يې د اوريدونکى عواطف ويښ او د نکل اورېدو ته به يې تنده شوه. په دغه پورتني تعريف کې کټ مټ همدا مفهوم پروت دى. کله چې مور او تاسو د داستاني ادبياتو دغه پورتنى تعريف لولو، کټ مټ د نکلچيانو او اناګانو هغه خواږه نکلونه او په خاص طرز يې بيان رايادېږي چې دغه تعريف کې کټ مټ بيان شوى دى. په تېره بيا؛ چې د داستاني ادب دا نړيوال تعريف لولو، شک راولويږي چې مبادا د ادب معاصرو څېړونکو چې د نړۍ سراسر کې دي، زمور زاړه داستاني شفاهي(فولکلوريک) نکلونه اوريدلي او بيا يې دا تعرف ورته کړى!؟

داستاني ادبيات ښکلي ادبي ژانرونه دي چې په هغو کې ليکوال په هنرمندي سره خيال، تفکر او فکر خپل اثر کې ځايوي. په دې کې کيسه، رومان، لنډه کيسه، حماسه، داستان، ناول، حکايت، افسانه او ډرام راځي. داستاني ادبيات د ارادې له مخې د يوې ټاکلې موخې لپاره ليکل کيږي چې د پند او عبرت، د معني ارزښتونو د ساتنې او لېږد، انګيزه ورکولو، دعواطفو د روزنې ، ښکلا، زړه راکښون او سبک له مخې خپله ځانګړنه لري. په همدې خاطر حکايت، اسطوره، لنډه کيسه، رومان او ناول خپل خپل تعريف لري.

زمور پښتو او دري حکايتونه، نکلونه او داستانونه د ښکلا او هنرمندانه بيان ترڅنګ؛ مقصد هم لري. زياتره يې د پند او عبرت، د صداقت د توصيف، د جمال او کمال د وصف لرونکي دي. لکه رودابه و زوال، آدم خان درخانى، د بُست شهزاده، يوسف زليخا... تر معاصرو رومانونو او ناولونو. د بيلګې په توګه د سليمان لايق (مردى از کوهستان)، د امين افغانپور (د خلکو د ارمان سيمبلنى)، د مصطفى جهاد(د تخت غمى) او د غوث خيبري ناولونه، د فردوسى شهنامه، د دوکتور ليوال سلسال او شاه مامه او يو شمېر نور نښېرونه چې هر يو يې د تاريخ کتاب او ورسره د ادبي ښکلا، نوښت، ځانګړي طرز، فکر او تخيُل سره مقصد او موخه لري. پورته بيلګو کې ځينې يې منظومې دي، چې اوږد داستان بيانوي. د فردوسي شاهنامه يوازې يوه حماسي منظومه نه ده؛ بلکې د تاريخ، هويت، اتلولى، اخلاقو، عدالت، واک، مينې او انساني برخليک ستر ادبي روايت دى. فردوسي د اسطورې او تاريخ له لارې د انسان او ټولنې د ارزښتونو انځور وړاندې کوي او د لرغوني آريانا او فرهنګي حافظې په ساتنه کې يې بېسارى رول لوبولى دى. سلسال او شاه مامه زمور شفاهى ادب کې د يوې فولکلوريکې افسانې يا کيسې په بڼه شته. په دې منظومه کې د موضوع، ځايونو او پېښو ښکلي انځورونه کښل شوي دي. کيسه دومره تلوسه را پاروي، چې له کتاب بل خوا مخ اړول نا ممکن کوي. په شاهنامه او سلسال او شاه مامه؛ دواړو کې زمور د ټاټوبي د بيلابيلو سيمو نومونه راغلي دي، پيام يې حماسي، وطن او د وطن شتمنيو سره مينه او د هغو ساتنه، مينه، د انسانيت درناوى، مهرباني او مېرانه ده. دا مفاهيم زياترو فولکلوريکو داستانو کې شته.

دا ټول هغه پرتمين ادبي نښېرونه دي چې په هر يوه کې د تخيُل تر څنګ زمور لرغوني ويارونه، د ولسونو کارنامې او د وطنپالنې د احساس ښکلى او عاطفي بيان شوى او هر يو يې واقعي نړۍ سره مانا لرونکي اړيکه لري. زمور داستاني ادب کې سلسال او شاه مامه چې يوه لرغونى کيسه يې رااخيستې ده

یا د (آرش کمانګیر) داستان د وطنپالنې او ملي ارزښتونو د ساتنې بیلګې دي. په دې توګه داستاني ادبیات د ادبیاتو د نورو ژانرونو ترڅنګ؛ هغه روایتي بڼکلي (عمدتاً منثور) آثار دي چې واقعي ژوند

سره ټرلی موخه لرونکی نوښتګر روایت ولري. د دغو آثارو تمرکز پر بیلابیلو سرګذشتونو، لکه؛ د شاهانو قیصې، د اتلانو کارنامې، پند، د تاریخي پېښو بیانول، جنګ، مینه، مبارزه لنډه دا چې د ژوند هره موضوع ده، آن دا چې اوس ځینو پښتو داستان لیکوالو د ساینس فیکشن موضوعات، چې داستاني ادب کې یوه بیخي نوې موضوع او سبک دی، تجربه کړی دی.

د داستاني ادب او د کیسو د اثر د ارزښت په اړه یوه بېلګه د دیني متونو یادولای شو: قرآن عظیم الشان یو شمیر مسایل د کیسو په بڼه راوستي دي، د دې فلسفه داده چې د یوې موضوع بیانول د حکایت، کیسې او روایت په بڼه ډېر اغیز کوي. د اصحاب کهف کیسه یواځې د ډېر پخواني او یونیم زرکلونو پخوا د قرآنی قصې په بڼه نه، بلکې دا چې وروستیو کلونو کې توفق الحکیم په جادویي قلم د معاصرې ناول لیکنې په فُرم کې ولیکله، د معاصر ادب یو بڼکلی داستانی اثر شو. دا نښېر ځوځو ځلې طبع او بیا به بازار کی نه موندل کېده. د هابیل او قابیل کیسه هم له پند ډکه کتابی کیسه ده او همداسې د کنعان د بنار او د یوسف کیسه. په دې ډول سره لیدل کیږي چې دیني داستاني اثارو کې زیات تمرکز په عبرت او اصلاحي بدلون راوستل شوی دی، نورو کیسه ییزو نښېرونو کې هم همدا موخه او خوند غځول شوی دی.

مخکې تر دې چې د داستاني ادب په نویو ژانرونو او ځېلونو او هغو د ځانګړنو او محتویاتو په اړه خبرې وکړو، د دغو ادبیاتو تاریخي پس منظر او وروسره ټرلي مفاهیم او بیلابیل ډولونه به په لنډ ډول وپیژنو:

- **اساطیر** د اسطورې جمع حالت دی، په اسطوره به ځکه لږ زیات تم شو چې د معاصرو داستاني آثارو تخیُلي برخه او جوړښت ورځخه خړوب شوی دی. دغه کلمه له یونانی historia (د پلټنې،موندلو او کیسې په مانا) Mythیا mythos (د شفاهی خبرو په مانا) څخه اخیستل شوې، چې اوس یې مانا او تعریف توپیر موندلی دی.

د اسطورو استعاري او سېمبولیک ارزښت ډېر د پام وړ دی، ځکه خو هره اسطوره د انسانانو د یوه ژور او لرغوني باور لپاره د استعارې په توګه کارول شوې ده. په بله ژبه: اسطورې هغه قراردادي سېمبولونه دي، چې انسانان یې د خپلو ګډو باورونو او اوهامو لپاره ټاکي، چې په خپله لنډه جوله کې یې تر شاد پرتو پراخو مفاهیمو، پېښو او اشیاوو استازیتوب وکولای شي.

نن ورځ اسطوره د داستاني ادب یو ډول دی، چې ډېر پخوا څخه را پاتې ، تر زیاته حده سپیڅلی رنګ او قدسیت لري او د یوې ډېرې حیرانوونکې او فوق العاده پیښې بیان پکې وي. حکایت او افسانې سره یې زیاتره وخت توپیر دا دی چې مذهبي عقیدې پورې اړه لري، لکه د پیغمبرانو ډېر ویاړلي او د عادي انسان له توان اوچت کارونه او خبرې. ځینې وخت اسطوره یوه خیالي، د نه منلو او « غیرواقعی » بڼه لري؛ نو استاطیر هغه روایتونه دي چې یوه بېساري اتلولي راښیي. ځرنګه چې روایات دي نو، له دې اړخه په داستاني ادب کې شمېرل کیږي. اسطورې پخوانیو انساني ټولنو کې د دوی د باورونو، وهمونو،خیالونو، وېرو، خوبونو او غوښتنو هغه افسانه یي شوې خبرې دي، چې د دوی له ریښتیني ژوند او عقیدې سره خامخا اړیکه لري. اسطورې له مبالغې سره مل وې، تخیُلي موجودات، تر طبیعت پورته یابهر ځواکونه، دطبیعت توکو ته د تجسم یا شخصیت ورکولو (Personification)هنر په کې لیدل کېدل. ډېر ځله دغه ډول شخصیت ورکول په طبیعت کې دانسانانو د بېلابېلو غوښتنو، وېرو او رواني سکون د لټون لپاره په کیسه ییز چوکاټ کې ځای مونده، چې ورو ورو په باورونو او ګروهو بدلېدل. د بیلګې په توګه د حضرت یونس هغه نکل چې ځرنګه د کب په نس کې ژوندی پاتې او بیا د

زمکې پر مخ عادي ژوند ته را وګرځېد، یوه اسطوره(غیرعادی پېښه، خو معجزې ته ورته یا د عقیدې له پلوه بیخي معجزه) ده.

نن ورځ د اسطورې لپاره دا تعریف منل شوی دی: اسطوره (Myth) هغه زاړه داستانونه دي، چې یو مهال لرغونو قومونو رښتیا ګڼل، خو اوس افسانوي شوي دي او څوک یې نه مني. ځکه مانایې د اسطوره له لغت څخه څرګندیږي، چې له Historyاو Story سره یوه ده.اسطوره یو مهال (هیستوري) وه، چې اوس یې د داستان (ستوري) ځانګړنه خپله کړې ده. نن ورځ اسطوره داستاني ادبیاتو کې ورګډه او د ملتونو د شفاهي ادب په زړه پورې او حیرانوونکې برخه جوړوي، اوس هم داسې اثار تخلیق و هست کیږي چې اسطوره یا د اسطورو بیان بلل کیږي. د اسطورو د لیږد، ژوندي پاتېدو او له یوه نسل څخه بل ته د ور رسېدو یو لوښی فولکلور دی. فولکلور د اسطورو روایت کوي او د ټولنیز ژوند په اړیکو، انګېرنو او ګډو ارزښتونو کې یې اغېز ژوندی ساتي. د داستاني ادب یوه حیراونوونکې ځانګړتیا دا ده چې په یو ځل اورېدو، بیا نه هیریږي، نو په همدې خاطر نسل په نسل ژوندۍ پایي. د ژور اغیز او په زړه پورې توب له مله ډېر لرغوني نکلونه، حکایات او اسطورې تر موږ پورې رارسیدلي دي. په لرغونو زمانو کې چې د تاریخ لیکنې مېتودولوژي لا نه وه رامنځته شوې، ګڼو لیکوالو، چې غوښتل یې تاریخ ولیکي، نو د لیکنو نیمایي برخه یې له اسطورو څخه جوړه شوې وه. په دې توګه موږ ګورو، چې ډېر ځله د تاریخ سېمبولیک روایت د اسطورو په مرسته تر موږ راسیدلی دی او دا کار د همدې اسطوره یې داستاني ادب په مرسته شوی دی، یوه بېلګه: دکربلا پېښه یوه تاریخي مذهبي پېښه ده، چې د اسلام او عربو په تاریخ کې خپل ځانګړی مکان او زمان لري. د دغې پېښې په اړه په سلګونو اسطوره یې روایتونه جوړ او د ادبی متونو په مرسته خوندي شوي دي. د اسطورو اغېز په انساني ژوند ژور دی. یو شمېر اسطورې د انسان د روزنې او متمدن کېدو منبع بلل کیږي. ګڼ تاریخي مدنیتونه په هغو باورونو کې ریښه لري، چې له اسطورو څخه رازېرېدلي دي. د هندي مدنیتونو هره دوره په اسطوره یې پېښو سره بېلېږي؛ ویدي، بودایي، اوستایي او نور مدنیتونه له اسطوره یې روایتونو څخه ډک دي. د تاریخ په اوږدو کې تاریخي روایات په اسطورو بدل شوي او اسطورو تاریخي مدنیتونه زېرولي دي. مدنیتونه په حقیقت کې د فکري او عقیدوي دورو په چاپېریال کې جوړېږي. تاریخ د بشري ټولنو د سرګذشت کیسه ده او اسطورې یې د ایډیالونو، تخیلاتو، افکارو، ارمانونو او غوښتنو تمثیلوونکي دي، ځکه خو په لرغونو مدنیتونو کې تاریخ او اسطورې سره نږدې اړیکي لري، او تر نن پورې موږ ته رارسیدلي او د تاریخ په شان ورته ګورو. اسطوره راباندې جادویي اغیز کوي، دا ځکه پېښوته یې حیرانیږو، خو ځینې وخت یې هغه د نه منلو برخې هم منو لکه د کب په ګډه کې د یونس ژوندي پاتې کېدل او د کوه طور کیسه، نو ځکه (پل ریکور) وایي : "...موږن انسان ځان له اسطورې څخه نه شي خلاصولای او نه یې هم په هماغه ظاهري شکل منلای شي. اسطوره به تل له موږ سره وي، خو موږ به بنایي انتقادي چلند ورسره وکړو..."

اسطورې یواځې شرقي روحیه نه لري او نه یواځې شرقی ټولنو کې لیدل کیږي، بلکې غربي نړۍ کې هم لرغونی تاریخ لري او ترټولو نامتو فلمونه له لرغونو اسطورو څخه ډک شوي او الهام یې ورڅخه اخیستی دی. معاصر وخت کې ډېرو ناول لیکونکو له اساطیرو الهام اخیستی او اسطورې یې د ناول په بڼه لیکلي دي، (دتوفیق الحکیم د اصحاب کهف رومان وګورئ).

پوښتنه پیدا کیږی چې اسطورې څنګه له داستاني ادب سره دومره کلکه ټرلتیا لري؟ ځواب داسې دی: د یوې ناڅرګندې راتلونکي په اړه د انسان پوښتنو، له طبیعي پېښو څخه وېرې او اوهامو انسانان مجبور کړل، چې له کوډګرو، کاهنانو، راهبانو،کیمیاګرو، جټانو اوکوچیانو، پیرانو، پالګرو (پال لیدونکو)، فیلسوفانو، مذهبي مبلغانو او ان شاعرانو څخه مرسته وغواړي، چې څه پېښیږي؟ ولې پېښیږي او د دوی راتلونکي به څه وي؟ ... د دغو پوښتنو ځواب بشریت ته ډاډ ورکاو او له اندیښنو یې ژغورل. پورتنیو مخاطبانو هم د ځوابونو د موندلو لپاره تخیُل، اسطورو او د روایتونو نقلولو ته پناه وړله او اسطورې د دوی د تخیل، تفکر او تجربو له ګډ شعور څخه را وزېرېدلې. دغه کیسه ییز روایتونه له یوه

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندهٔ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»

نسل څخه بل ته ولېږدېدل او پر ځينو يې زياتوني کېدلي، د دې لپاره چې دغه ځوابونه د قناعت ترځنګ د اورېدونکي د ښکلا خوښوني ياستيتيک (Aesthetics)ذوق هم خړوب کړي، نو د هنريت بڼه يې ورکړه چې هغه داستاني ادبيات وو. په دې ډول اسطوري د داستاني ادب د لومړنۍ ژانر په توګه تلپاتې ژوند وموند او د ادبي ارزښت په مټ تلپاتې تر نن ورځې راورسيد. دا د ادب او اديب ارزښت وروبخښل شول. د ادبياتو او اسطورو ملګرتيا له همدې ځايه پيل شوه، چې د بشري پنځونو په تاريخ کې يوه خورا لرغوني ملګرتيا ده. د اسطوري او داستاني ادبياتو د ټرون په اړه داسې هم ويلای شو:

کله چې اسطوري له مذهبونو او عقيدو څخه بېلې شي، نو خپل حضور په ادبياتو کې ساتي. د اسطوري او داستاني ادبياتو د اړيکو په اړه څېړنې ښيي، چې دواړه يو له بل پرته په بشپړه توګه نه شي مطالعه کېدلای. په ځينو بحثونو کې دواړه دومره سره نږدې شي، چې داستاني ادبيات د اسطورو د تلپاتې کېدا لپاره يواځينۍ ارزښت ګڼل کېږي. دغه نږدېوالی دوه بنسټونه لري: يو ؛ هغه ګډون چې دا دواړه يې په انساني تخيُل کې لري او يا ښه به وي چې ووايم، هغه ژور اغېز چې داستاني ادبيات او اسطوري يې پر انساني تخيُل باندې لري او دوهم؛ په داستاني ادبياتو او اسطورو کې د مفاهيمو د ګڼ اړخيزه تعبير او تفسير له مخې، چې پر بنسټ يې د بشري تاريخ په اوږدو کې د داستاني ادبياتو او اسطورو موازي حرکت تر نن پورې را رسېدلی دی او ښکه چې تر راتلونکو زمانو پورې به يې هم وغځوي. د پيير "آلبوي" په نظر: (...د ادبياتو او اسطورو تر منځ ژوري اړيکې شته، چې ان کولای شو، هغوی سره ورته وبولو او داستاني ادبيات د اسطورو ساتونکي او د تکيې ځای وګڼو).

د اسطورو د پېژندنې او يا هم د هغوی د رامنځته کېدو منطق په هر هغه ځای کې چې ګونګ او مبهم دی، د ادبياتو په مرسته روښانه کېږي، د زړو زمانو اسطورو ته د نوي اروا‌پوهنې لاسرسی هم د داستاني ادبياتو له برکته ممکنه شوې ده. ترکومه چې له داستاني ادبياتو سره د اسطوري د تړاو خبره ده، که د نړۍ پرمخ د هرې ژوندۍ ژبې د داستاني ادبياتو او فولکلور تاريخ وګورو،نو وينو چې لرغونو اسطورو په واقعيت کې ژبې او ادبياتو ته ډېرځه ورکړي او هغه يې خامخا لږ و ډېر تر اغېزې لاندې راوستې دي. اسطوري داستاني ادب ته داسې لارموندلې ده چې د هغو يوه مهمه برخه کرځېدلې ده.

اوسني ادبپوهان او ادبپوهنه د دواړو تر منځ په يو ستر توپير د بېلتون قانع دي او وايي: داسې څرګندېږي،چې له ډېر پخوا څخه خلکو پر ټولو اسطورو بارو درلود. مور دلته د خلکو په عقيدوي اړخ خبره نه کوو، بلکې موخه مو داستاني ادب او اسطوره او داستاني ادب کې د اسطوري رول او اساطيري داستان دی. اسطوره داستاني ادب ته يو تخيلي ځواک ورکوي، اسطوره په داستاني ادب کې تلوسه پيدا کوي او د لوستونکي يا اوريدونکي ذهن تحريک او تخنوي چې کيسه تر پايه ولولي يا واوري. اسطوره کيسه کې عاطفي خوځښت راولي، تخيل پياوړی کوي، د تفکر وزرې غوړوي او الوتلو ته يې لاره ښيي، د تاريخ منظري رابنيي، عواطف تلطيفوي، عدالت ستايي، حقيقت رابنيي او مور د دنيا سړو- تودو سره آشنا کوي. بشريت د همدی حماسي او ساطيري داستانو په مرسته پرمختګ وکړ او د نن ورځې بريالېتوبونه يې ترلاسه کړل. داستاني ادب کې حماسي او اسطورو د انسان فکر له ستومانی وژغوره، ښکلا يې ترسيم کړه، ښکلي پيغامونه يې راونغاړل او انسان يې د خپل رسالت په وړاندې ژمن کړ، مينه يې وستايله، کرکه يې وغندله، کينه يې ورټله او زغم يې وستايه. د مينې په لاره کې يې د قرباني درس وښود او موخې ته درسيدو لپاره يې د صبر سپارښت وکړ، وفا يې د مينې مهم عنصر وګانه او دژوند رنګارنګي يې انځور کړه. د اروپا لرغوني ادب کې د (افروريتي) او(ايډوس) د مينې داستان نامتو دی . کله چې افروريتی خپل معشوق په وينو لڑند وينې ، مندې وروهي چې ويې ژغوري، دمندو په ترخ کې د ګلبوټو اغزی يې بدن ټپی کوي او جامې يې په وينو سرې کېږي. کيسه وايي چې د ګلبوټې سپين ګلان د دغو وينو په څاڅکو سره شول، نو ځکه د ګلانو رنګ سور دی. تر نن ورځې خلک داسې انګيري چې د ګلانو سوررنګ د مينې په لاره کې د بهېدلو وينو له رنګ څخه

اخیستل شوی دی، کنه ګلان خو اصل کي سپین وو. شعر کي هم ځینې وخت داسي مثالونه شته، رحمان بابا خپل یو بیت کي اسطوره داسي بیانوي:

لاله نه دي کشته ګان دي ستا د سترګو

چې په سره کفن له زمکې را بیرون دي

او همداسي هم مورِ داسي معاصري لنډې کیسي لرو چې د لرغونو وختونو د اسطوري رنګ لري.

- **حماسه:**

دا اصطلاح ځکه دلته تشریح کوو چې یو شمېر داستاني ادبیاتو کي حماسه انځور شوی، یو شمېر نور حماسي بڼه لري، چې دغو داستاني ادبیاتو ته په لنډیز حماسه یا حماسي داستاني ادب وایي. مانا دا چې د هغو محتوا کي ممکن یوه حماسه بیان شوې وي او د کیسې په بڼه راغلې وي، نو دلته به په خپله حماسه وپېژنو چې داستاني ادب سره اړیکه لري:

حماسه په لغت کي زړورتیا ته وایي او په اصطلاح کي د وصفي شعرونو (او ځینې وخت د داستاني ادبیاتو) هغه ډول دی، چې د یوه قوم یا وګړي د پهلوانیو، مېړانې او ویاړنو کیسه په کي تمثیل شوې وي. حماسه (په عربي کي د زړورتیا په مانا) له ادبي انواعو څخه، (چې اغلب په شعر کښل شوي وي یا حماسي منظومې وي) او دا منظومې د ملي اتلولیو ، ویاړونو مېړانو، جګړو، پهلوانیو په یاد او د هغو په بیا بیانولو او توصیف کي وي. نړیوال ادب کي د هومر آثار؛ په تېره بیا د آشیل دکیسي بیان یوه حماسه ده، د امیر کرور او د شاهنامې له اشعارو را نیولې د خوشحال بابا، د غنی او لایق ترځینو اشعارو پورې ټول حماسي ادب دی. حماسي داستاني ادب هم لرو، لکه د ارواښاد غوث شهامت خیبري، عبدالرحمن پژواک، ارواښاد بینوا، نجیب تورویانا، زریاب تاریخي کیسي یا د مصطفی جهاد د تخت غمی او زیات نور مثالونه. ځینې تاریخي آثار چې په ادبي ژبه لیکل شوي یا یو شمېر خاطرات هم حماسي ادبیاتو کي راتلای شي لکه د ارواښاد د. فاراني ځینی داستان ډوله لیکنې او د ارواښاد ساهو لنډې کیسې چې د جهاد په توصیف او د مجاهدینو د حماسې په صفت کي یې لیکلې دي، یا (وینه په قلم کي) او(یوکارتوس به ځان ته ساتم). همدارنګه د جنرال سید عبدالقدوس(حماسه نبرد جلال اباد)، د تورویانا (اوشاس، فرزند رویګر، آخرین خوارزمشاه) حماسي- ادبي اثار دي. په ټوله کي؛ حماسه د داستاني ادب په پرتله، شعر کي ډېره تمثیل، ستایل، او بیان شوې ده.له دي دوو سره ورته تعریفونو څخه پوهېږو، چې حماسه د وګړیو(فردي یا جمعي) پهلوانیو او مېړانو داستاني روایت دی. په لاتین کي حماسې ته Epic وایي. لوېدیځوال د حماسي داستاني ادبیاتو پیدایښت د یوناني پهلوانانو، اساطیري اتلانو او ارباب الانواعو په پېښو پورې تړي چې دا شېر ځانګړنې لري:

۱.د کیسې په طرح کي د داسي یوه اتل شتون، چې فوق العاده ځانګړنې لري او هغه کار چې نور یې نه شي کولای، دی یې د یوه لوی ځواک په ملاتړ تر سره کوي،

۲.د عادي بشر تر توانه پورته بریالیتوب تر لاسه کول، چې بشپړول یې د نورو په توان کي نه وي،

۳.د ټاکلي زمان او مکان له محدودې څخه بهر وي او یوه پراخه عیني او ذهني زمینه ولري،

۴.د ماوراء الطبیعي موجوداتو یا د هغوی د ځواک موجودیت،

۵.د حماسي داستاني اثر د بیان سبک باید ځانګړی او تر عادي سبکونو لوړ وي، چې حماسي لحن یې د تشخیص وړ وي او په ټول اثر کي د سبک دغه ځانګړنه ولیدل شي،

۶. لیکوال یې د خپل اثر په ټول پرمختیایي بهیر حاکم او حاوي وي، په دې به پوهیږي، چې کیسه د کوم هدف خوا ته ځي.

له دې شپږو ځانګړنو څخه پوهېدای شو، چې د ادبیاتو وربوی کې اسطوره له حماسې سره څومره او کوم توپیرونه لري، اسطوره یوازې هاغه مهال له حماسې سره ګډه پوله مومي، چې له بشري ځواکه ورپورته ځواکونه یې مرستې ته راشي او یا هم دی له غیر بشري قدرتونو سره مخامخ شي، یوازې دلته هم د اسطورې شتون لازمي نه دی، غیر بشري ځواک باید خپل اساطیري ماهیت خامخا ولري. د حماسې په پورته یادو شویو ځانګړنو کې لومړۍ او څلورمه ځانګړتیا د اسطورو تداخل ته لاره هواروي. خو له توپیرونو سره سره، د اسطورو او حماسو ګډ حضور په ادبیاتو کې تر دې بریده ده، چې د دواړو د ګډې مطالعې او څېړنې اړتیا پېښیږي،کېدای شي اسطورې هیڅکله حماسي ځانګړني ونه لري، خو حماسه د اسطورو له ملګرتیا پرته نیمګړې ښکاري. یو شمېر څېړونکي خو تر دې بریده مخکې ځي چې حماسه له اسطورې څخه رازېږېدلې بولي: (حماسه له اسطورې څخه رازېږېدلې ده، اسطوره هغې روزونکي مور ته ورته ده، چې حماسه زېږوي او په خپله لمنه کې یې روزي او ستروي یې. ریښتینې او بنسټې حماسه پرته له دې چې د اسطورې له زړه څخه راووځي، نه شي رامنځته کېدای. حماسه یوازې د هغو خلکو په فرهنګ او ادبیاتو کې راڅرګندېږي، چې لرغونی تاریخ او زړې اسطورې ولري. هغه حماسې چې له اسطورو څخه نه وي زېږېدلې، ریښتینې حماسې نه دي، یوازې یې شکل وشمایل حماسې ته ورته دي).

داسې فکر هم شته، چې حماسه په داستاني ادب کې د اسطورې هنري روایت دی، په داستاني ادبیاتو کې د اسطورې انعکاس او تبلور د حماسو په جوله کې وینو. د حماسې رواني بستر په انسان کې دننه د هغو تمایلاتو له جګړې څخه جوړېږي، چې یو له بل سره مخامختیا او دښمني لري. حماسه د ناسازګاره ځواکونو جګړه ده، ډېر ځله دوه عام قالبونه یې (خیر) او (شر) یا (ښکې) او (بدي) وي. په داستاني ادب کې د اسطورو دنده هم همدا ده چې د دغو دوو سره دښمنو ځواکونو استازیتوب وکړي. په ظاهره (شر) ګټونکی برېښي، خو په پایله کې بری د (خیر) وي. په داستاني ادبیاتو کې که شر برلاسی و، نو (تراژیدي) زېږوي. عجیبه دا ده چې حماسه او اسطوره دواړه د همدې تضاد د مبارزې لیکه تعقیبوي او د دوی د اوږد مهالي تاریخي جدال هنري بیان ډېره ځله ادبیاتو کړی دی.

خوشحال بابا وایي:

خبر د دهر په مکر د روه شـــــــــــوم

دا څه چې ښاد شم یا په اندوه شوم

نه یې ښادي شته نه یې اندوه شته

دواړه فساد دی چې ښه پرې پوه شوم

زمونږ یوه فولکلوریکه کیسه کې دوه کرکترونه دي؛ یو یې (نیکی)او بل یې (بدی) نومیږي. کیسه ډېره په زړه پورې ده چې څو ځایه پکې د بدي او نیکي د خیر او شر بیلګې شته: کیسه د یوې اوږدې لارې منظره انځوروي او لږ وړاندې د بدي مزل او ورپسې د نیکي مزل بیانوي. بدی مزل کوي، یو ځای کې آسونه په غوجل کې ترلي دي، او تازیان سپي د غوجلی څخه هاخوا. بدی هډوکي آسونو او بوس تازیانو ته اچوي. کله چې نیکی رارسیږي، بوس آسونو ته او هډوکي تازیانو ته اچوي. نیکی مزل کوي او یو ځای کې ستومانه شي، نو د یوې ونې سیوري ته ډډه وهي. پاس ونه کې د یو لوی مرغه ځاله ده، ځاله کې د مرغه دوه بچي دي. نیکي لا دمه نه ده کړې چې یو مار ونې ته د ختلو هڅه کوي چې د مرغه

بچيان وخوري، خو نيکی وربانديِ ګوزار کوي او مار وژني. ببرته وني ته ډډه وهي چې پاس د شنه آسمان لمن کې مرغه د خپلې ځالې او د بچو په لوري راځي کله چې مارغه وني لاندې د مار وينې ولیدې، فکر يې وکړ چې دغه وني لاندې ناست انسان د ده بچي وژلي، هوا کې لار بدلوي له دښتې يوه تيره پنجو کې رااخلي چې وني لاندې نيکي باندې يې وغورځوي او د بچيانو غچ ورځخه واخلي. کله چې مارغه له تيرې سره را دوره کيږي، د بچيانو غچ-غوچ غږ اوري چې هغوی د حال په ژبه مور په نيکي باندې د تيرې د غورځولو څخه منع کوي، مارغه بچی روغ جوړ وليدل چې ځاله کې دي، خوشحاله شو. تيره يې هيسته وغورځوله. کله چی بچو سره ځاله کې کيني بچي يې ورته کيسه کوي چې نيکي مار وواژه . مارغه ځان د نيکي احسانمند احساسوي. دا وخت نيکی پاتې مزله ته دوام ورکوي. له دې امله چې لمر ډېر تود او دښته کې ګرمي ده، نو دغه مارغه د نيکي پاتې مزل کې د دښتې ترپايه په هغه سيوری جوړوي. د دې برخلاف؛ داچې بدی په څه ستونزو اخته کيږي، دا دکيسې بل اړخ دي. کيسه ډېره خوږه ده. د کيسې يوه بله برخه کې مرغه د نيکي ښېګڼو د ادا کولو په نيامت هغه ډېر قيمتي غمی چې چيرې يې موندلی، له هوا څخه يې نيکي ته ورغورځوي... دا کيسه څو عجيبې پېښې بيانوي، اوږده او د تلوسې لرونکې ده چې ډېرو ځايو د (خير) بری پر(شر) باندې او د نيکی ښه برخليک او بدي ته د بدو پايلو د پېښېدو بيلګې پکې دي.

په ټوله نړۍ کې حماسي او اساطيري داستاني ادب اوږد تاريخ لري. د بيلګې په توګه د حماسي ادب ترټولو لرغونی بيلګه د ګيلګمېش ليکلی حماسه ده. دا ادبي اثر د انسانانو له هغې زړې اساطيري تندې سره اړيکه لري، چې له مرګ څخه د خلاصون او تلپاتې ژوند ته د رسېدو لپاره يې لري. ګيل ګمېش غواړي په آسمانونو کې خپل نيکه (او ته نه پېژنې تم) ومومي. د ده نيکه په لوی توپان کې د بشريت نسل ژغورلی و، ببړۍ يې جوړه کړې وه او خپل پيروان او له ټولو ژوندیو موجوداتو څخه يې يوه يوه جوړه په کې له توپان څخه ژوندي وساتل. دی پر زمکه د حيات ژغورونکی شو. ګيل ګمېش غواړي له خپل نيکه څخه د تلپاتې ژوندون راز ومومي. د الياد او اوديسې ترڅنګ؛ د ګيل ګمېش د حماسي او د لوی توپان داسطورې تر منځ اړيکه په زړه پورې ده. دا د لوی توپان تلپاتې اسطوره ده(دې ته ورته کيسه د نوح(ع) د کښتۍ هم ده)،چې د ګيل ګمېش په کيسه کې د روح /روان حيثيت لري. په داستاني ادبياتو کې ګيو اسطورو خپل هويت او تلپاتې وجود د حماسي حضور له برکته ژوندی ساتلی دی. زمورادبياتو کی رودابه اوزال، او يوکارتوس به ځان ته ساتم، د آرش کمانګير نکل، د ميوند دملالي د اتلولي داستان او ډېر نور د حماسي بيلګې دي. معاصر داستاني ادب کې هم داسې بيلګې شته چې حماسي رنګ لري،

حکايات :

ټول هغه قصص، نقل قولونه او شفاهي او ليکلي روايات دي چې د پند، حکمت اوعبرت او دهغو د په زړه پورې والی له امله به خلکو يو بل ته ويل او له نسلونو نسلونو سينه په سينه را پاتې دي. زمور ولس کې حکاياتو ته نکلونه هم وايي. افغانستان کې نکل ويل او نکل اوربدل له پخوا دود و. حکايات به زياتره بوډاګانو او مجربو کسانو ځوانانو ته اورول. اروپا کی د شوالیه ګانو، کامرون او کانتريری حکايات او نکلونه د دې غوره بيلګې دي. د حکايت لغت له (محاکات/ mimesis) څخه اخيستل شوی، يعنی ورته والی يا مشابهت. حکايت د بوختيا لپاره يو ډول لنډه کيسه ده چې اخلاقی موخې پکې وي. دا داستاني فورم ځانګړی جوړښت، پېښې، کرکتر/ کرکترونه ، انځور او بيلابيل عناصر لري. د حکايت دپند او زده کړې وړ پايله د حکايت په آخره کې راوړل کيږي. ټول حکايتونه او نکلونه د انسانانو په اړه نه دي، او نه يې کرکترونه تل انسانان وي، بلکې ژوي هم د حکاياتو يا نکلونو کرکتر کيدای شي. په حکايت کې ژوي خبرې کوي، احساسات بيانوی او عمل کوي لکه د کليله او دمنه حکايتونه، يا د انګک وبنګک حکايت او نور. پښتو حکاياتو کې د اوښ، وزې، بيزو، چرګ، کشپ او ډېرو نورو ژويو په اړه حکايات شته. دلته به يو حکايت د بيلګې په توګه راوړم چې ما وړکتوب کی له خپل بابا څخه اوربدلی و:

وای یو اوښ، پسه او وزه په لاره روان وو. مخي ته يي يوه ټانټه راغله. وزې بيړه وکړه چې لومړی يي وخوري پسه لانجه ورسره وکړه چې ټانټه بايد زما شي. دا وخت اوښ ټانټه راپورته کړه د لارې ترڅنګ يي د ديوال پر سره کښوده او دوی ته يي وويل: دا به دهغه چا خوراک شي چې لوړ قد او پياوړي غاړه لري. دا وخت يي ټانټه يوه مړی کړه او له ستوني يي تېره کړه.

دغه حکايت کي د زور، لوړ قد، جسمي توانايي او پياوړتيا انځور وينو. دا ډول حکايتونه په کليو کي زيات رواج وو. آن په جرګو او مرکو کي به حکايتونه د سرګذشت او پند په بڼه اورول کېدل او د هغو بيلګه به د قضاياوو د روښانه کولو لپاره روايت کېدله. جالبه ده چې پخوابه جوماتونو کي ځيني حکايات لکه سکندرنامه، يوسف- زليخا او ډېر نور لکه ديني متون لوستل کېدل(!)، خو که تاريخ او جغرافيه وګورو، سکندر چيرې او افغانستان چيرې! داچې سکندر او يوسف او نور تر شيخ متي او بيت نيکه ډېر مشهور دي، دا د حکاياتو په قوت دي!!

خو هېره دې نه وي چې مور زښت ډېر خواږه او تلوسه پاروونکي ملي او ولسي حکايتونه هم لرو چې سوچه زمور د خلکو مال او زمور تاريخ او جغرافيې پورې اړه لري. په دغو ګڼ شمېر حکايتو کي د پند، عبرت او تجربو خبرې شته. له بده مرغه مور ټول حکايتونه ثبت کړي نه دي، زياتره يي هېر شول. حکايتونه په حقيقت کي تعليمي او روزنيز روايتونه وو. زياترو حکاياتو کي به طنز او هجو هم وه. ځيني به د خندا او ټوکو په بڼه روايت کېدل. عجيبه ده چې اروپايي هېوادو کي يي له پخوانيو حکايتونو او نکلونو د ماشومانو لپاره کارتوني فلمونه جوړ کړي دي، او آن دا چې اوس هم مصورو روزنيزو کتابو کې ډېر پخواني حکايتونه راوړل کيږي. د خپګان خبره ده چې مور ډېر په زړه پورې حکايات او پخواني نکلونه هېر او ثبت مو نشو کړای. اټکل کيږي چې اوس به هم هغو کليو کي چې تلويزيون او دا نوري تکنالوژيکي بوختتياوي نشته، نکلونه به وي. حکايات د معاصرو داستانی ځېلونو په پرتله تخنيکی او فنی جوړښت نه لري، استيتيکی اړخ يې هم د پام وړ نه وي، خو روايت يې د يوه مقصد لپاره وي.

- **افسانه:** د يوې نه باور کيدونکې پېښې يا شخص په اړه له واقعيت څخه لېرې روايت دی.

د عوامو په ژبه افسانه هغه څه ده چې خلکو له خپل ځانه راجوړه او ريښتيانی او واقعی نه وي. خو د عوامو په نزد اسطوره له افساني سره يو شان بلل تېر وتنه بلل کيږي، دا ځکه چې دوی د يو شمير پيغمبرانو، مذهبي لاررښوونو او عرفاوو معجزه يی روايات اسطوره بولي چې د هغوی د عمل او عقيدې مصداق يي ګڼي. په زړه پورې داده چې حکايتونو تر اسطورو او افسانو زيات رواج موندلی دی. ډېر حکايتونه د ژويو، پيريانو، شيطانانو په اړه دی، چې خبرې هم پکې کوي او عمل، فکر، قضاوت او رول لوبول يي د انسانانو په شان وي، دا ټول خلکو منلي او په مينه ورته غوږ ږدي، له افساني او اسطوري يي جلا بولي. حکايتونه له تاريخي پلوه د اسطورو، افسانو او معاصرو داستاني ژانرونو ترمنځ موقعيت نيسي. داسې نده چې داستاني ادبيات يواځې همدې فُرم کې پاتې وي، بلکې پخوانيو حکاياتو، حماسو، اسطورو او افسانو په ولسي سندرو متلونو او لنډيو کې ځان څرګند کړی دی. د کونړ غلام مامد، فرحت په تبې تور ولسی سندره ، شيرعلم او ميموني، تورە، رادو، علم ګنج در ګرفت، چو به ميدان آيی ميدانيم، او نورو د دی مثال کيدای شی.

يوشمېر لنډې هم يوه تاريخي کيسه لري دا يې بيلګې دي:

چې د خالو لښکري راغلې زه به ګومل ته د خپل يار ديدن ته ځمه

دا لنډی څه باندې زر کاله(د محمودغزنوی) د وخت يوه کيسه لري،

يا: خال به د يار له وينو كښېږدم چې شينكي باغ كې ګل كلاب وشرموينه

دا لنډۍ د افغان- انګليس دجنګ يوه حماسه بيانوي. د ملی اتلانو نومونه چې چاربيتو او لنډيو كې ياد شوي، هر يو يې يوه كيسه او داستان لري. زيات شمېر متلونه هم د يو ځانګړې داستان لرونكي او د يوې پېښې له كيسې جوړ دي، لكه:

تركاني د بيزو كار نه دی،

چې بدګرځي، بد به پرځي،

چې خوب كوي، مينه يې نركټی زيږوي،

هوښياره مرغۍ دوو لومو كې نښلي،

غل هم وايي خدايه، مل هم وايي خدايه،

ناصرخان او سره يې اوښان،

چې نه كار هلته څه كار؟!

دنيا چې پر خره بار كړې، خيرالله خان سی،

د غريب سړي د خيرات په ورځ غوا وركه وي،

دمې نخا نشوه كولای، ويل يې زمكه كړه ده!

نيم پټی يې وخوړ واى مړه ده!

الحمدو هغه ده، خو خوله دی ملا شاګل غواړي،

بنامار مومن خان مړ كړ، توره هرځوک سره كوي چې ما مړ كړ،

قصابان چې دېر شي، غويي مردار شي،

... سلګونه داسې متلونه شته چې له په زړه پورې كيسو جوړ او د پند او عبرت لپاره راپاتې دي. دغه پورته متلونه هر يو يوه كيسه لري، چې له مفهوم او لنډيز يې متل جوړ شوی، خو ټول متلونه هرومرو كومې كيسې او سرګذشت سره تړاو نه لري، بلكې عمومي دي لكه:

ژرنده كه دپلار ده ، هم په وار ده،

زمكه هغه سوځي چې اور پرې بليږي،

مه كوه په چا چې وبه شي په تا او نور.

په دې توګه داستاني ادب يواځې د كيسې، نكل، حكايت او افسانې په فرم كې نه، بلكې د منظومو او په نورو بڼو، يا اقلاً د هغو په سيوري او د هغو اغېز كې هم شته، آن دا چې متلونه له يو شمېر كيسو

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندهٔ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»

راجوړ شوي دي. دا هم لکه اسطوري او حکايات له لرغونو وختونو سره تړاو لري، خو معاصر داستاني ادبيات ځانګړی تعريف او تخنيک لري. معاصر داستانی ځېلونه لنډه کيسه، ناول، رومان، يونليک او آن ځيني وخت اوتوګرافي او خاطرات هم کېدای شي. هريو به جلا جلا وپېژنو:

- **لنډه کيسه** د داستانی ادبياتو يو بل په زړه پوري فُرم(ځېل) دی.

دا په حقيقت کې د معاصر وخت نکل او حکايت دی چې ځانګړی هنري او تخنيکی جوړښت لري. دا يواځې په دې خاطر نه چې لنډه کيسه(داستان کوتاه/ short story) لنډه وي او له څلور يا پينځه زره کلماتو زياته نه وي، بلکې مهمه دا چې لنډه کيسه ځانګړی جوړښت او خاص عناصر لري. د لنډې کيسې ليکل د ليکوالي پوره تجربه او مهارت غواړي. لنډې کيسې ته يوه کره طرح او پلات غوره کول، د مناسبو کرکترونو، ديالوګ، د پېښو پرمخ بيول، د ديالوګونو او منظرکشي کوتلی تاثير، رمزيت (سمبوليکوالی) او د موادو فني او هنرمندانه اوډنه ضروري شرطونه دي. ځومره چې کيسه او هر داستاني اثر تلوسه پاروونکي وي، کياميابه بلل کيږي. د داستاني اثر پيل، منځ او پای د يوې انتباهي او هيجاني پايلې لرونکی وي. هيجاني پايله هغه وخت ايجاديږي چې کيسه له پيل څخه منطقي پلاټ، هيښوونکي پېښې او منطقي بيان، په زړه پوري ديالوګ اوکافي منسجم او له ولولو ډک سکښت ولري. د کيسې پلاټ (جوړښت) د احساساتو، فطري درک او ايډياوو څخه جوړيږي، په دې کې تجربه او د ليکوال حسی درک مهم دی.

د لنډې کيسې لپاره د کرکترونو(شخصيتونو) مناسب غوره کول، پېښې او کشمکش ايجادول او د کيسې ِغوټه او د اوج مرحله کی دغوټې پرانيستل لوی هنر دی له تخنيکی پلوه هر عنصر خپل ځای لري. لنډه کيسه د ناول او رومان په پرتله لنډه وي، دا يو داسې روايت دی چې په هنري بڼه، ادبي ژبه او طبيعی ښکليوايماژونو سمبال شوی وي. له دې امله چې دا داستاني فُرم د نوي او صنعتي عصر لاسته راوړنه ده، نو پيغام يې هم مترقي، نوی او انساني دی. لنډه کيسه يواځې د عادي خبرو په شان د پېښو بيان نه دی، بلکې له تخنيکی پلوه يو بل سره تړلي عناصر لري. په همدې خاطر لنډه کيسه اغيز لري، کيف لري، زړه راکښونکي ده، لوستونکي او اوريدونکيې ورځخه خوند اخلي، ورځخه متاثر کيږي، احساست را پاريږي او فکر کولو ته اړ کيږي. دا هغه وخت چې د دغه داستاني فرم په چوکاټ کې طرح(plot)، شخصيت(chracter)، منظرکشي(image)، اوج او غوټه پرانيستل رعايت شي. د بڼې کيسې پلات تلوسه پاروونکی وي او انساني مزاج او روان(psychology) يې بڼه خوښوي. تخنيکی او فنی لنډه کيسه چې يواځې بريالی ليکوال يې ليکلای شي، يو څو ځانګړتياوې لري:

۱. پلا ت دومره منسجم وي چې پېښې په منطقي تسلسل له پيل څخه تر اوج او بيا پای پورې پاشل کيږي نه، بلکې په مطلوب ډول د يوې اخلاقی پايلې په لرلو پای مومي،

۲.د بڼې کيسې پيل کولای شي لوستونکی داسې راجلب کړي چې سم له پيل کولو سره نور هر کار پريږدي، ترڅو کيسه پای ته ونه رسوي، بل خوا سترګې نه اړوي،

۳. کرکترونه دخپل رول سره سم کړه وړه، خبرې اترې او اکتونه ترسره کوي. هر کرکتر د يو ټاکلی نقش لپاره کيسه کې ځايول کيږي. لنډه کيسه يو ټکی اضافی څه نشي منلای،

۴.دکيسې نوم، پيل، ديالوګ او د پېښو انځورول بايد داسې ترتيب شي، چې مصنوعي بڼه ونه لري، د منلو وې او ترټولو مهم دا چې تلوسه پاروونکی وي،

۵.د کيسې پای بايد دومره عالي او اغيزناک وي چې اثار يې د لوستونکي ذهن کې د ده د ژوند ترپايه پاتې شي. د کيسې په پای کې بايد يو پيغام وي.

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندهٔ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»

➢ ناول

هغه داستاني ژانر دی چې له نولسمې پیړۍ راوروسته یې د زښت زیاتو لوستونکو پام راواړاو او د داستاني ادب نړۍ یې لا زیاته ښایسته او رنګینه کړه، ناول د ایټالوي ژبې له ناوله(Novella) څخه جوړه شوې کلمه ده، په لغت کې نوي، تازه، په زړه پورې، عجیبه، ښایسته او ښکلي شي ته ویل کیږي او په ادبي اصطلاح کې هغې اوږدې کیسې ته ویل کیږي چې د ژوند پر محور چورلي. ناول هغه نثري کیسه ده چې موضوع یې انساني ژوند وي او لیکوال پکې د ژوند بېلابېل اړخونه په پوره او ځانګړي ترتیب سره وړاندې کړي. وروسته بیا د ایتالیایی ژبې (ناوّلا) څخه فرانسوي ژبې او بیا فرانسه کې هم و پېژندل شو . په دې توګه ناول ټولو اروپایي ژبو او بیا دري او پښتو ته راغلی دی. نن ورځ مورږ دري پارسي او پښتو ژبو کې ښکلي ناولونه لرو. ناول د لندې کیسې په پرتله لوی او سلګونه پاڼې وي لکه د تولستوی (جګړه اوسوله) چې دري ټوکو کې پښتو ته ژباړل شوی دی. په کیسه ییزو ادبیاتو کې د ناول نوم د لومړي ځل لپاره جیمز هانري خپلو کیسوته له فرانسوی ژبې څخه غوره کړ. ناول رومان سره ورته والی لري، خو د محتوا او ځینو ځانګړنو له مخې توپیر هم ورسره لري. په ټوله کې حکایت، نکل، کیسه، ناول او رمان ټول داستاني ادبیات دي. ناول لکه لنډه کیسه کرکترونه، ټاکلې پلات، دیالوګونه، چاپیریال، مرکزي پېښه او خوندور او حیرانوونکی پای لري.

➢ رومان

رومان فرانسوي کلمه ده،په ځینو فرهنګونو کې یې معنا خیالي داستانونه یاکیسي اوپه ځینو کې د مینې او محبت کیسي راغلي دي. په ادبي اصطلاح کې هغه داستاني اثر ته ویل کیږي چې له ناول څخه اوږد وي، د ژوند ډېرې او بیلابیلې کړۍ او لړۍ یې منعکس کړي وي او د بیلابیلو پېښو انځور په ادبي قالب کې ځایوي. داستاني ادب کې مهم ځای لري، چې د شکل یا جوړښتله پلوه له ناول سره زیات فرق نه لري، یوازې د مضمون یا موضوع په ټاکنه او د واقیعتونو په څېړلو کې توپیر لري. هغه داچې: په ناول کې تر ډېره پورې واقعینونه د علمي او منطقي اصولوله مخې بیان او څېړل کیږي،خو په رومان کې په تخیلي ډول، مانا دا چې کوښښ کیږي چې خیالي پېښې لوستونکو ته په رښتینې یا انځوریزه-ریالیستیکه بڼه وړاندې کړي. په لومړیو وختونو کې رومان هرې هغې اوږدې کیسې ته ویل کېدل، چې مضمون به یې مینه او رومانس و. خو په وروستیو کلونو کې رومان پراختیا وموندە. د ژوند هر ډول مسایل په کې ځای شول. د نورو کیسه ییزو ادبي ژانرونو په پرتله په رومان کې پېښې په خورا مفصل شکل وړاندې کیږي. همدارنګه په رومان کې د پېښو، مکالمو او کریکټرونو شمېر ډېر زیات وي. د رومان د پراخې لمنې له کبله نولسمه پیړۍ او د شلمې پیړۍ پیل کې یو شمېر سترو لیکوالو دغه قالب ته مخه کړې وه، چې د دوی له منځه د تولستوی، تیکېري، شولوخوف، بلزاک، چارلزډیکېنز، کافکا، ګابریل ګارسیا او نورو نومونه د یادولو وړ دي. اوس هم نړۍ کې ښکلي رومانونه لیکل او خپریږي. دغه نثري ادبي ژانر د جوړښت او موضوع له پلوه په بېلابېلو ډولونو لکه د موضوع له پلوه؛ ښوونیز رمان، اجتماعي (Sociological) رومان، رواني (Psychological) رومان، محلي، نړېوال او تاریخي رومان او د جوړښت له مخې د مفکوروي، د شخصیت رومان، د پېښو رومان اوروایتي رومان ویشل کیږي.د رمان موضوعات زیاتره تخیلی او د مینې او یوځه هم د خلکو له ورځنې ژوند بهر یا لږ پېښېدونکي وي. په اروپاکي رومان د ناول په پرتله زیات لرغونتوب لري. دواړو د خلکو په ویښتابه کې مهم رول لوبولی او د اروپا زیات خلک یې په مطالعه روږدي او بوخت کړي دي.

قدرمن اینجنیزصاحب پورته نسبتاً تفصیلي ځواب ستاسو د لومړۍ او څو اړخیزه پوښتنې د روښانه کولو په خاطر ولیکل شو چې د نړیوال داستاني ادب، د داستاني ادبیاتو د پېژند، داستاني ادبیاتو سره د اړوندو نورو مفاهیمو او د داستاني ادبیاتو د ډولونو په اړه و. د پوښتنې په ځواب کې مو په

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندۀ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»

کرونولوژیک ډول له لرغونو وختونو تر معاصر وخت را ورسیدو. ورسره څو بیلګې د وضاحت لپاره لیکل شوې دي.

مسعود: تاسو د نړېوالو داستاني ادبیاتو، تاریخي بهیر، سرچینې او مهم پراوونه څنګه ارزوئ؟
استاد دودیال: داستاني ادبیات د ادب په زړه پورې برخه ده، په دې ټوله موده کې یې د زیاتو خلکو پام ور اړولی دی. داستاني ادبیات ورځپاڼو، ذوقي مجلو، د ښوونځیو کتابونو، د عسکري او نظامي تعلیماتو رسالو، دیني وعظونو، د سیاسي لیډرانو ویناوو او ډېرو نورو ځایونو کې راغلي، معاصر وخت او د فلم او سینما له جوړیدو وروسته زیات شمېر فلمونه وربانديِ جوړ شوي، شاعرانو یې حماسي او اسطوري شعر کې بیان کړي دي او متلونو، د لویانو وجیزو، لنډیو او د پند او نصیحتونو برخو کې یې یادونه شوې ده . آسماني کتابو هم کیسې رااخیستي دي. نکلونه او کیسې آن د تاریخ لومړنیو نښو څخه رادېخوا پیل شوي دي. پوښتنه پیدا کیږی چی تاریخ کله پیل شو؟
تاریخ پر تیرو، د ونو پر ډډونو او د سمڅو پر دیوالونو له ا نځور شویو کرښو، خاطراتو او یادګارونو څخه را پیل شوی، چې پخوانیو انسانانو یا په آګاهانه یا ناآګاهانه ډول دا کرښې او انځورونه کښلي وو. تاریخ د لومړني خط او انځور له کښلو څخه را شروع کیږي، ښایي هغو وختونو کې به په سمڅو، ډبرو او دیوالونو انځور کښل کوم مهم کار نه و، خو نن ورځ دا آثار فوق العاده اوچت ارزښت لري. عجیبه او جالبه ده آیا هغوی پوهېدل چې د دوی له دغو نښو ، ساده انځورونو، کرښو وړو رسمونو او ګډوډو خطونو به یو وخت کیسې جوړې او دومره به اهمیت ومومي چې د تاریخ پیل به وګرځي؟ آیا ابن بطوطه په دې باندې خبر وو چې د ده د یونیلیک کیسه به د نړۍ په کچه مشهوره شي او څومره به د لرغونپوهانو لپاره اهمیت ولري؟ خو نن موږ ګورو چې دا ټولې زړې کیسې راته ارزښت لري او لازیات نور دا ډول کیسې او داستاني اثار هم پلټو. دا د دې لپاره چې همدا ساده او لومړني آثار او انځورونه د لرغونپوهانو، انتروپولوجی او اتنوګرافي د کار مواد جوړوي، دا ټول د تاریخ د پیل مواد دي او علمي څېړنو کې اهمیت لري. وروسته چې لیکل او د الفبې توري جوړ شول، نو د لرغونو وختونو کیسو او خاطراتو، لا زیات اهمیت وموند. په دې لړکې کیسې او نکلونه ځانګړی ځای لري.
له تاریخي پلوه لومړني داستاني ډوله آثار له میلاد څخه څلور پېړۍ مخکې یونان کې لیدل شوي دي، په مصر کې هم کیسو ته ورته سرګذشتونه ثبت شوي دي. وروسته بیا د (ګریکو رومن) دوران کې د نامتو مخورو څېړو د ژوند کیسې ثبت کیدلې او خدمات یې ستایل کېدل. په منځنیو پېړیو کې د مذهبي لویو ستو کیسو لیکلو ته پام واوښت. داستانی لیکنې او خاطره ډوله نکل لیکل له لرغونو وختونو دود وه او ده. په نړۍ کې مشهور او نامتو داستاني آثار شته چې د پېړیو په تېرېدو سره بیاهم په زړه پورې او ډېر لوستونکي لري. لکه: د ابن خلدون، ابن بطوطه، د سوفی نړۍ، د چینایي نړۍ ګرځیدونکو تاتش او د هیوان تسنګ، ناصرخسرو، داستان ډوله سرګذشت او د سفر خاطرات، د سینوهه لیکنې نړۍ کې نوم لري او پښتو ته هم ژباړل شوي، د دغو کیسو خوږوالی دومره اغیزناک دی چې لوستونکي ِغواړي چې دا هر یو لوی کتاب په یوه دمه ولولي، همدا د یوه بریالي داستاني اثر بریالیتوب دی چې لوستونکی وتخنوی او د پای ته روسول انګیزه ورکړي. سینوهه تر ټولو زیات لوستل شوی، پښتو ژباړه یې افغانستان کې هم د پام وړ ګرځېدلې ده. په دې تاریخي بهیر کې اوس موږ معاصر ادب کې هم داستاني ادبیات لرو.
د معاصرو ادبیاتو په تعریفونو کې د داستاني ادب ژانرونه تعریف او فنی – تخنیکي اړخونه وښودل شول، خو خلک خاطرات او یونلیک هم د کیسو په مینه لولي. د انسان ذهنی ځانګړنه داده چې سرګذشت اوربدل ورته په زړه پورې وي او غوږ ورته نیسي. په (۱۲۱۲م.)کې د برتانوي نړۍ ګرځېدونکي چارلزماسون اوږدې داستان ډوله لیکنې چې زموږ د هېواد تاریخي ځایونه یې لیدلي، په تېره بیا د هډې، میرزکي او توپ درې عجیب خاطرات یې لیکلي دي او نور دا ټول اوس ډېر معتبر تاریخي اسناد دي. د تاریخي داستاني ادبیاتو په لړ کې مو د ګیل ګمیش، هومر، سروانتس او نورو

بېلګې مو لږ مخکې لومړۍ پوښتنه کې یاد کړل. آسماني سپېڅلي کتابونه او هغو کې راغلي قصص هم د نړېوالو داستاني ادبیاتو، تاریخي بهیر رابنیي. په تېره بیا چې دا سپېڅلي کتابونه د نړۍ په ډېرو زیاتو ژبو ژباړل شوي دي او آن له هغو څخه په الهام اخیستو نور داستاني آثار وکښل شول. که له تاریخي پلوه وګورو، د داستاني ادبیاتو تاریخي بهیر او پراوونه په لنډ ډول داسې لیکو:

الف) دلرغوني دورې داستاني آثار : په دې دوره کې اساطیري داستانونه او کیسې، حماسه، ولسي نکلونه،عامیانه شفاهي کیسې او دیني روایتونه راځي (لکه ګیلګمش او ایلیاد حماسه، د سینوهه لیکونه...)،

ب) د کلاسیکې دورې داستاني ادبیات(منځنۍ پېړۍ) دا تر ډېره اخلاقي، مذهبي او بیا فلسفي محور پورې تړلي وو. دا وخت د رومانتیزم لومړنۍ نښې داستاني ادب کې ښکاره شوې، مارسل پروست، مالرو او نور د دې دورې بېلګې دي.

ج) د رنسانس دوره او معاصر ادب؛ په تېره د لنډې فني کیسې، ناول او رُمان د رامنځته کېدو مهال: د «دن کیشوت» داستان چې (سروانتس) په اوولسمه پېړۍ کې لیکلی ، د نن ورځې د رومان او مډرن داستاني ادب پیل دی. البته یو بل پراو هم شته چې هغه د نولسمې پېړۍ د روښانتیا دوره ده، ځینې ادبي څېړونکي یې څلورم پراو بولي، ځینې نور یې د رنسانس دورې دوام بولي. دا نو د رومان د ځلا او ښکلا دوران یا عصر دی. همدا وخت داستاني ادب کې د رئالیزم او رمانتیزم ادبي مکتبونه رامنځته او تفکیک شول، دې پسې نور و ادبي سبکونو وده وموندله لکه سوررياليزم، جادویي ریالیزم، فوتوریزم او دا نور چې تر اوسه دوام لري. د همدغه پراو لومړني لیکوالان تولستوی، داستایوفسکی او بالزاک بللای شو چې ناول او رمان لیکل یې اوچت پراو ته و رسول.

د) مډرن(معاصر- اوسمهاله) داستاني ادبیات: په دې پراو کې لنډې کیسې، ناول او رومان خپل ټاکلي تعریفونه وموندل، داستاني ادبیات د نامتو او تجربه لرونکو لیکوالو له خوا کره شول، یوې فني مرحلې ته راغلل، منځپانګه کې یې سایکالوژیکي اړخونه، استیتتیک اړخ او ریښتیاني رومانیت ځای ونیو. ساینس فیکشن، کوډګر ریالیزم ، د بشري ټولنو د کړکیچنو شرح، د تاریخي پېښو شننه، دخپلواکې ارزښت موندنه، طبیعت ته نږدې کېدل، ښکلا خوښول او ښکلا ایجادول، د خلکو بیداري او سیاست یې په لفافه کې یوه ځانګړتیا ده. تاریخي داستاني ادبیات پرون ورځ له نن سره تړي. معاصر یا اوسمهالي داستاني ادب خلک کار، کتاب، تفکر او مطالعې سره عادت کړل، د دوی عواطف او د ښکلا خوښوني ذوق ته یې روزنه او پالنه ورکړه، د دوی رواني غوټې او ګرومونه یې اسانه کړل، جهان دیده یې کړل او د کتاب له مخې یې په نړۍ وګرځول... اوس چې څوک الوتکو ، بېړیو او ټرنونو کې ساعتونه ساعتونه سفر کوي، خامخا د رومان، ناول یا لنډو کیسو کتاب ورسره وي، د یوې غوره تفریح ، روحي تسکین او بوختیا په توګه یې لولي.

نن ورځ لنډه کیسه لیکل، ناول او رومان لیکل یو نامتو او د خلکو د خوښې ادبي ژانر پورې اوچت شوی دی. وروسته تر اووه لسمې پېړۍ لنډه کیسه، رومان او ناول په نوې بڼه دود شول. دا وخت د معاصرو داستاني ادبیاتو د بنسټ ډبره کېښودل شوه. دغه ذکر شوی تفصیل د نړېوالو داستاني ادبیاتو، تاریخي بهیر څرګندوي. په افغانستان کې اوسنۍ لنډې کیسې، زمونږ له نکلونو د سره یو څه اړخ لګوي، په اوسني وخت کې ډېر لیکوالان لرو چې لنډې کیسې لیکي. د خوشحالي ځای دی چې د لنډو کیسو او ناول برخه کې بڼه لیکوال لرو لکه؛ سلیمان لایق، امین افغانپور، دوکتور اکرم عثمان،ایمل پسرلی، عبدالوکیل سوله مل شینواری، ره نورد زریاب، اکبر بری، اکبرکرګر، ارغند، کامله حبیب، محمود نظري، محمد صدیق پسرلی، زرین انځور، غوث خیبري، شریفه شریف، سعدالدین شپون، ببرک ارغنند، پسرلی، تراب، ابراهیم سپېڅلی، نصرت ارمان او ډېر داسې نور یادولای شو.

مسعود: د نړېوالو داستاني ادبياتو مهمې ځانګړنې، بنسټيز او رغوونکي توکي او عناصر څه دول څېړئ؟

استاد دوديال: نړيوال داستاني ادبيات د بشريت ګډه معنوي شتمني ده. د دې ادبياتو په هستولو او تخليق کې ډيرو ليکوالو او د هر ملت قلموالو برخه لرلې ده. د دغو ادبياتو د رامنځته کوونکو لويه برخه ژمن او رسالتمن ليکوال وو. د دوې داستاني نښېرونو کې نه يواځې ادبي غنا، بشريت ته انساني پيغامونه او د ښکلا خوښوني او ښکلا انځوروني هنر شته، بلکې له فني او تخنيکي پلوه خپل عناصر او رغوونکي توکي لري. زياتره يې د انساني عالي ارمانونو، ډېوهې او نياو خورولو، د ملتونو د ويړونو د يادولو، د اخلاقو او عالي انساني سجاياوو ترويج او توصيف، آزادي او وطن سره د مينې، له خپل ټاټوبي دفاع او ساتنې، زړورتيا او شجاعت ته د درناوي منځپانګه لري. نړيوال داستاني ادبيات د ځوان کول لپاره د الهام سرچينه ده. زياتره دغه آثار ډېر غوره معلومات هم لري، ساينس فيکشن داستاني ادب د بشريت نبوغ ته وده او پياوړي انګيزه ورکړه او ننني کشفيات د همدغو داستاني ادبياتو برکت دی. د معاصرو داستاني ادبياتو رغوونکي توکي او عناصر دا دي: يو يا څو کرکترونه(شخصيتونه)، پېښه (چې طبعاً استثنايي او هيښوونکې وي)، دعلت او معلول ښودل، راوي، د ليد ځانګړی لوری(چې د ليکوال آرمان پورې اړه لري)، طبيعت انځورول، فضا جوړول، ايماژونه او خوندور متلونه، تخيُل او وجيزې يا تاريخي روايات پکې راوړل. دغه عناصر عمومی مقالو او معلوماتي او خبري ليکنو کې نشته. تخيل او ايماژ د دغو آثارو مهم عناصر دي.

مسعود: په نړېوالو داستاني ادبياتو کې مهم، نوموتي او پېژندل شوي ليکوال او استازي، چې د خپلو اغېزناکو او ګټورو نښيرونو(آثارو) له لارې له مهمو مخکښانو څخه ګڼل کېږي دا دي: «هومر- هېواد يونان»، «جيواني بوکاچيو- هېواد ايتاليا»، «ميګل د سروانتس- هېواد هسپانيه»، «چارلس ډيکنز- هېواد انګلستان»،«فيودور دوستويفسکي- هېواد روسيه»، «لئو تولستوی- هېواد روسيه»، «آ ندره مالرو- هېواد فرانسه»«ميخائيل شولوخوف- هېواد روسيه»، «ويليام سامرست موام - هېواد انګلستان»، «انتون چيخوف- هېواد روسيه»، « ايف. سکاټ فيټزجرالډ - هېواد امريکا»، «فرانز کافکا- هېواد چک»، «خورخه لويس بورخيس- هېواد ارجنتاين»، « مارسل پروست- هېواد فرانسه» او «ګابريل ګارسيا مارکيز- هېواد کولمبيا». ښه به وي که تاسو په دغو برخو کې: (د ليکوال ژوند او ادبي شخصيت، ادبي او تاريخي دوره، ادبي سبک او هنري ځانګړنې، مهم داستاني نښيرونه(آثار)، د نښيرونو(آثارو)تحليلی ارزونه، پر نړېوال ادب د دوی د نښيرونو(آثارو) اغېز،) د دغو نوموتو ستو په تړاو خپله ارزونه راسره شريکه کړئ.

استاد دوديال: هومر (Homer) : د لرغوني يونان د دغه ړوند شاعر او داستان ليکونکي د ډېر زيات شهرت سره سره، د ده د ژوند په اړه کره او پوره معلومات نشته ، خو د لرغوني يونان دوه ستر حماسي آثار (ايلياد Iliad) او (Odyssey)د ده منظوم آثار دي چې د تاريخ لوی ادبي آثار ګڼل کېږي او د ده نوم يې تلپاتې کړی دی. د ژېپوهنې او تاريخ څخه ښکاري چې دغه اشعار له ميلاد څخه اته پېړۍ مخکې د کوچنۍ آسيا لويديزو سواحلو کې د يونان په يوه کوچني ښار کې ليکل شويدي. هومر پورې اړوند دغه دواړه حماسي آثار له هغو افسانوي پېښو سره تړاو لري چې اټکل کېږي چې له هغه زمان څخه به څلور پېړۍ وړاندې شوی وي. د بېلګې په توګه ايلياد د تروا (Troy)د جګړې په وروستي کال کې چې د يونانيانو او دغه کوچني ښار د اوسېدونکو ترمنځ شوې وه، ليکل شوی او اوديسه هغه نکل دی چې د تروا له جګړې څخه د يوناني اتل اوديسه د بريالي راستنېدو په اړه ليکل شوی. ايلياد د لويديځ ادب ترټولو لرغونی اثر دی. ويل کېږي چې ممکن دغه اثر به له اوديسه څخه څو لسيزې وړاندې ليکل شوي وي. د هومر دغه دوه نامتو آثار له ميلاد څخه يونيم سل کاله مخکې د سکندريې د کتابتون د رئيس له خوا خوندي شوي دي چې تر نن ورځې پورې زمونږ په واک کې دي. **هرودت** (Herodotus)داسې فکر کاوه چې هومر به له ميلاد څخه نهه پېړۍ مخکې (له ميلاد څخه مخکې په (۸۵۰) کال کې ژوند کاوه) او ډېر ښايسته چنګ يې غږولای شو. ځينې نور څېړونکي بيا وايي چې هومر له ميلاد څخه اووه پېړۍ مخکې ژوند کاوه. **اوليور** (Oliver Tap Lin)په دې باندې ډاډه دی چې هومر له ميلاد څخه مخکې د (۶۵۰-۷۵۰) کلونو تر منځ ژوند کاوه. دا ځکه چې د اوسنيو

څېړونکو د څېړنو پايلې دا خبره ثابتوي.له ايلياد او اوديسيې پرته (Homeric Hymns)په نوم د يو شمېر نسبتاً روحاني لنډو اشعارو مجموعه هم چې د بېلابېلو خدايانو د جشن له امله ويل شوي وو، د حماسي سبک د لرلو له امله هومر ته منسوبه بلل شوې ده. پوهان په عمومي توګه په دې هکله په يوه خوله دي چې د هومر حماسي اشعار (الياد او اوديسه) په شفاهي بڼه (نه په ليکلي بڼه) په ميراث راپاتې دي، دا ځکه چې د شفاهي ادبياتو بنسټيزې ځانګړتياوې او فورمول پکښې ليدل کيږي. هومر د يوناني ادب پلار و. ډرامه، تاريخ ليکل او آن فلسفه او خواشينونکي او خندونکي پېښې د هومر په حماسه کې راغلي دي او دا ټول هغه تخنيکونه وو چې نومورې ورځخه کار اخيستی دی. د لويديځ د ادبياتو حماسه بولو شاعران زياتره له هومر څخه اغېزمن وو. آن دا چې ايټاليوي نامتو شاعر **دانته اليګيري** (Dante Alighieri)باندې يې هم اغېزه ښکاري. د هومر له آثارو څخه د انګليسي ژبې په ژباړو کې د **جورج چپمن** ((George Chapman(۱۶۱۶)نسخه، ايلياد د (۱۷۱۵- ۱۷۲۰) او اوديسه (۱۷۲۵ –۱۷۲۶) آثار ليدل کيږي چې د کلاسيکو اثارو تر نامه لاندې د **الکساندر پاپ** (Alexander Pope) له خوا رامنځته شوی دی. په معاصرو انګليسي ژباړو کې بېلابېلې ليکنې شته لکه: د امريکايي شاعر **ريچموند** (Richmond Lattimore۱۹۵۱ -۱۹۶۷) ټکي په ټکي ژباړه. د **رابرت فيټز جرالد** (Robert Fitzgerald۱۹۶۱ -۱۹۷۴) ژباړې، او د امريکايي شاعر او ژباړونکي **رابرت فګلز** (Robert Fagles) د ايلياد د ۱۹۹۰م. کال او د اوديسه د ۱۹۹۶م. کال ژباړې او د **ستنلي لومباردو** په نوم د **کنزاس** (Kansas) د پوهنتون د يوه کلاسيک پروفيسور د ايلياد ۱۹۹۷ کال او د اوديسه ۲۰۰۰ کال ژباړې.

د هومر آثار د لرغوني يوناني شعرونو بېلګې دي چې نړيوال نوم او له پېړيو پېړيو راهيسې پر خلکو جادويي اغيز لري، خلک يې ډېر خوښوي او د لوستلو ليوال يې دي. د هومر آثار د ده د ژوند پرمهال ندی چاپ شوی او نه هغه وخت د ليکلو او چاپ وسايل و، بلکې په شفاهي بڼه له يونسل بل ته ليږدلو شوي دي، ترڅو چې دا دی زرګونه کاله وروسته د ده له مړيني اوس زمور په واک کې دي. نړيوال په دې باور دي چې دا شعرونه د نالوستو شعر ويونکو له خوا له ميلاد مخکې په اتمه او اوومه لرغوني پېړۍ کې چې يوازې ژبنی ادب موجود و، يعنې له ميلاد څخه شاوخوا اته نيمه سوه کاله پخوا ايجاد او د يوه فرهنګي ميراث په توګه مور ته را پاتې دي. نومورې د يونان لومړنی حماسه ويونکی بلل کيږي. داسې هم ويل کيږي چې هومر ړوند و؛ ځيني نور بيا وايي چې د بوډاتوب تر وخته روغ و، خو د عمر په وروستيو کې يې خپل ديد له لاسه ورکړی و. د هومر ويناوو او ادبي تخليقاتو په يونان کې ډېر اغيز درلود، چې لامل يې اخلاقي محتوا ، پند، نصيحت او د ژوند لپاره ګټوري مشورې وې. دغو اوصافو د ده اثارو ته د مذهب تر کچې د درناوي دريځ ورکړی و . مشهور مورخ **هېروديتس** په دې باور و، چې نومورې اصلاً آسيايي نژاده و. د يونان په پراخه زمکه او د يونان ډېرو کليو او سيمو کې د هومر د زېرېدو دقيق ځای هم نه دی معلوم؛ د يونان مختلفو سيمو اوسېدونکي دعوه لري، چې نومورې د هغوی په ښار کې زېرېدلی و.

د هومر تر ټولو مشهور آثار (ايلياد او اوديسه) نومېږي، چې تر ډېره د هغه وخت د خلکو افکار او عقايد ورځخه معلومولای شو. دا اثر د ارزښت له مخې له **سينوهه** سره برابر شمېرل کيږی. د هومر دغه آثار د تاريخي شهرت له امله ګنو ژبو ته ژباړل شوي دي. لکه چې وويل شول ، دا هغه وخت په ليکلی بڼه نه وو، بلکې خلکو له دغو اثارو سره د مينې په خاطر نسل په نسل لکه زمور د پښتو ژبی د لنډيو او نکلونو په شان خپلو سينو کې ژوندي ساتلي دي او زمور د لرغونو متلونو په شان تاريخي پېښې رابښيي. په شفاهي بڼه دا معنوي زېرمه ډېر وروسته د بېلابېلو خلکو له خولې راټوله او منظمه شوې ده. زمور لنډيو سره يې توپير دا دی چې زمور زيات شمير لنډی ، پخواني نکلونه، حکايات ، اساطير او شفاهي ادب هېر يا د طبيعي او ټولنيزو ناخوالو او پېښو له امله خاورو لاندې شول او ټول مو ثبت نشو کړای، خو يونانيانو ټول ثبت او راټول او نن ورځ وربانديې ويارې.

لکه چې وویل شول، د هومر دوه ادبي منظوم داستانونه چې ایلیاد او اودیسې نومیږي په ټولو نړیوالو ژبو باندې ژباړل شوي. دغه داستانونه نړیوال شهرت لري. د هومر د اثارو سره د خلکو مینه او هغو ته یې پام شپږ کاله مخکې له میلاد نه پیل شوی ده، دېرو مینه والو به یې شعرونه په یادي زده کول، دېرو پلویانو به یې د ده په شعرنو باندې مجلسونه جوړول او د دغو شعرونو له ویلو څخه به یې خوند اخیست. د لومړي ځل له پاره هغه چا چې د هومر اشعار راټول او په دېر ښکلي خط یې ولیکل، هغه **(اریستارکوس)** د اسکندریې د کتابتون رییس و. ده یو سل پنځوس کاله د میلاد نه مخکې دوه کتابونه راټول کړل چې تر اوسه پورې دغه با ارزښته ادبي اثر د امانت په توګه پاتې دی.

المانې پوه او محقق **فریدریک اګوست ولف** (۱۷۵۹م.- ۱۸۲۴م.) لیکلي دي : (...هومر د ایلیاد او اودیسې اهمي برخې لیکلي دي، خو نورو شاعرانو وروسته په هغه کې نور څه ورزیات کړي دي. ..). اګوست ولف نور توضیحات هم لري، چې دلته ورځخه تیریږو.

د ایلیاد او اودیسې ارزښت په دې کې دې چې د لرغوني یونان کلتور، تاریخ، جغرافیا، خلک او ژوند را پیژني. دا هغه دوه منظوم یوناني داستانونه دي چې د هومر د شعر ترځنګ؛ د عام ولس افکار هم ځغلیدلي دي . یوه داسې نظریه لا هم شته چې وایي دا منظوم داستانونه په پخوا زمانه کې جوړ شوي دي او هومیر هغه په یاد کړي وو. او هرځای کې به یې ویل : د یونان په ادبي تاریخ کې د (قهرمانانو عصر) په نامه یوه زمانه قید ده چې دا داستانونه هم د هغه عصر بیانونکي دي او دا عصر د ویاړ او افتخار زمانه بلل کیږي ، ځرنګه چې په دې داستانوکې د لرغوني یونان ولس قهرماني او د قهرمانانو کارنامې ستایل شوي دي، نو د ښې ډېرې زمانې له پاره د مقدساتو په جمله کې شمیرل کیدل او همدا لمانځنه، نمانځنه او تقدیس وو چې دغه قدیمي ادبي اثار یې له هیرېدو څخه ساتلي دي . د دې داستانونو ناظم هرځوک چې و، د هومیر په شمول د خپل ولس د قهرمانانو شهامتونه او شجاعتونه یې توصیف کړي، دا د ولس مشترک ذهنیت دی، نو دا وجه وه چې ولس د هغو د اوریدو څخه خوند اخیست او وروسته نو خبره دې حد ته رسېدلې وه چې پر ټاکلو وختونو د هغو اوریدنه یو سنت ګرځېدلی و. دا د اتلانو، د یونان د مدافعانو او د جګړو بیان کوي ، ایلیاد (۲۴) برخې لري چې د جګړې وروستی (۴۹) ورځې یې د ټولو قهرمانیو له نومونو سره پکې توصیف شویدي. په دغه منظومه حماسه کې د (ترای) د کلابندۍ کیسه راغلې ده. اودیسه یو بل داستان دی چې ځلوریشت برخې لري او د (ترای) تر سقوط وروسته د اتاکا د پادشاهي څخه غږیږي . ددغه منظوم داستانونو د لهجې څخه پوره معلومیږي چې د لهجې اختلاف یې د یوه زمان محصول نه دی . د دغې منظومې کیسې لنډیز دا دی : د (ترای) د پادشاه زوی (پاریس) د یونان د پادشاه د کورنۍ یوه شهزادګی د (لیدا) لورد (بلوکس)، د (کاستر) خور او د (منیلاس) ښځه وه . په دې کې د تښتولو خبره راغلې وه. کله چې (اګاممنون) پاچا په دې کیسه خبر شو، نو غیرت یې په جوش راغی او د خپلو زورورو پهلوانانو (اچیل) او (اولیس) سره د (ترای) خواته روان شو، چې د شهزادګۍ تښتونکو ته سزا ورکړي (باید ووایو چې زمونږ کوز پښتانه آشیل د آچیل په ښه او هومرد هومیر/هیومر په ښه هم لیکي او تلفظ کوي، نو دلته مې هم په دواړو ښو ولیکل.(دودیال).

د ترای پاچا چې خبر شو هغه هم د خپلو زامنو (هکتور) او (پاریس) سره د جنګ ډګرته راغی هغه مهال چې جګړه توده روانه وه د اګاممنون پاچا او د هغه د پهلوان اچیل ترمنځ خوابدي پیښه شوه او اچیل له جګړې څخه لاس ویوست خو هغه وخت چې د جګړې په میدان کې د (اچیل/ آشیل) ملګری د (پاتروګل) د (ترای) د پاچا د زوی (هکتور) په توره ووژل شو، نو آشیل ته هم درد ورغی او د جنګ میدان ته داخل شو، ده په یوه ګوزار (هکتور) مړ کړ. د اچیل له ببرې د ترای خلک له میدان څخه وتښتېدل، په ښار ننوتل او دروازې یې وتړلې. د اګاممنون لښکر چې څومره په تمه شو، ښار خلاص نه شو او د کلابندۍ په حال کې پاتې شو. آخر یونانیانو یو چل وکړ: د لرګیو یو آس یې جوړ کړ او په هغه کې د ننه کېناستل د ښار دروازه وانانو دوی ته فکر نه شو او کله چې آس ښار ته ننوت خلک ځنې راووتل، د دروازه وانانو سرونه یې پرې کړل ښار یې پرانیست. او د ښار خلک یې ټول له

تیغه تېر کړل او د یونان شهزادګۍ یې د هغو څخه خلاصه کړه او ببرته یې خپل وطن ته راوستله . په دغه جګړه کې د یونانیانو سره د مرستې لپاره د (الپ) ټول خدایان راغلي وو او دوی آشیل پهلوان ته وسلې جوړې کړې وې. د اشیل مور هغه ته په کوچنیوالي کې په داسې اوبو کې غسل ورکړی و چې بدن یې ټول د اوسپنې شوی و، یواځې د پښې یوه بجلکه (هغه برخه چې مور په ګوتو نیولې وه) طبیعي او د غوښې وه. کله چې په جګړه کې د ټرای د پاچا زوی (باریس) په زهرو لړلي غشي د هغه خواته ورورویشته نو پر دغه لوڅه بجلکه یې وموښت او له دغه زخم څخه آشیل پهلوان مړ شو . په دغه وخت کې د اشیل له لاس څخه په لوېدلې وسله د (اولیس) او (اجاکس) پهلوانانو ترمنځ جګړه ونښته. اولیس پهلوان دنورو لښکرو څخه جلاشو او دیونان پر خوا لاړ په دریاب کې یې کښتۍ ماته شوه او ده پر یوه تخته باندې تکیه وکړه . اولیس یوویشت کاله په دریاب او ټاپوګانو کې سرګردانه و، کله به یې د سمندر له څپو سره ډغرې وهلې او کله به له (سایکلوپانو) سره په جګړو بوخت و. دی پس له یوویشت کلونو خپل وطن ته راورسید او ویې لیدل چې ښځه یې تر دغه وخته پورې ده په نامه ناسته وه .

د ټرای جګړه دایلیاد او ادیسې د داستانونو اساسي موضوع ده . تر هغه وخته پورې چې د ټرای ښار بشپړ نیول کیږي، د ایلیاد موضوع ده او تر هغه وروسته د اولیس سفر او نورې پېښې د اودیسې په داستان پورې اړه لري. ځرنګه چې په دغو داستانونو کې د یونان د ملت قهرماني ستایل او نمانځل کیږي، نو همدا وجه ده چې نوموړي اثر ته د نړۍ په ادبیاتو کې د حماسي لقب ورکول شوی دی . د ادیسې حماسه د زمان په لحاظ له ایلیاد څخه وروسته راځي. که څه هم د ادیس په داستان کې د ارباب الانواعو جادو ګرانو او اشباحو نقش ډېر جوت دی او حتی په دې نړۍ کې د یوې بلې مرموزې یا په اصطلاح (پټې نړۍ) خبرې هم په کې راغلې دي، خو سره له دې دغه حماسه د یونان د فرهنګ تاریخ او فلکلور په برخه کې ډیره بډایه ده او د لرغوني یونان د مدنیت له روښانه کولو سره پوره مرسته کوي. ځرنګه چې په ادیس کې د یونانیانو ژوند په واقعي بڼه منعکس شوی دی، له همدې امله د هومر دغه اثر د نړۍ په ادبیاتو کې د ریالیزم لومړنی اثر ګڼل کیږي . په ادیس کې د نارینه وو او ښځو ترمنځ مناسبات ،د هر یوه کار او شغل، د سولې او جګړې شرایط، برخلیکونه، جامې، وسلې، دیني معتقدات، د کورنۍ ژوند جزییات او د چاپیریال خصوصیات په ښه توګه تمثیل شوي دي، نو د معلوماتو او تاریخ سرچینه یې بللای شو . د اودیسې سبک ډیر برمیال او پرتمین دی. ادیسویس د حماسي اتل، د پوهې، زړه ورتوب او زغم بیلکه انځور شوی ده. پنسیلوپ د ده میرمن د وفا داری نمونه ده او د خپل میړه په غیاب کې د هر ډول نفسي او شیطاني وسواس سره مبارزه کوي. ادیسویس هڅه کوي چې ډېر ژر د خپلې کورنۍ غیږې ته پناه وروړي، خو جادوګران ارباب الانواع او هر ډول بلاوې په هره شپه او هر ګام کې دی له مشکلاتو او خنډونو سره مخامخ کوي، د ده وفاداره میرمن د بډایو طلبګارو سره لاس په ګریوان ده . د ده زوی (تیاماخوس) د خپل پلار د موندلو له پاره له هرې لارې څخه کار اخلي . کله چې دغه ښکلې او په زړه پورې نکل شروع شي، اوریدونکي په تلوسه ورته غوږ وي، آن ماشومان خپلې لوبې پریږدي، او بزګران او کاریګر یونانیان هم خپل کارونه بل وخت ته ځنډوي، خو کیسه هرومرو اوري.

جیواتی بوکاچیو ایتالیایی لیکوال و چې له (۱۳۱۳م. تر ۱۳۷۵م.)کال پورې یې ژوند کړی و. اروپا څوارلسمه ، پینځلسمه او شپاړسمه پیړۍ کې د اختناق او استبداد سره تنور کې وریت وه. ژمنو رونانډو او په تېره لیکوالو، د ټولنې د روښانه کولو درومند مسوولیت ته اوږه ورکړه. د هغه وخت داستاني ادبیات د مبارزې او روښانتیا ادبیات وو. په دې کې یو یې بوچاچیو و. هغه د ایتالیا د رنسانس په دوره کې د کیسه ییز ژانر پخه ستنه ودرولې. سره له دې چې یوه اشرافي ماحول کې ستر شو، خو یو وګړنیز او د ولس په درد دردمن لیکوال و چې خپلو داستانونو او کیسو کې یې د عامو خلکو او خپل ولس ژوند انځور کړ. د نوې ځوانۍ په عمر له فلورانس څخه ناپل ته ولاړ، تمه دا وه چې د خپلوانو په شان به سوداګري پیل کړي، خو ده شپږ کاله حقوق ولوستل، خو آخر کې لیکوال ورځخه جوړ شو. ده د (دانته) آثار ولوستل او د هغه په ګامونو یې ګام کېښود. د سودا ګري او حقوقو پر ځای یې ادبیاتو کې

ژور کار وکړ، خواریې يې وګاللې او د ايتاليا د کلتور او ادب دغوړېدا لپاره چمتو شو. د ناپل ښار کې په يوې شتمنې ښځې مين شو. د مينې نړۍ نور هم د ده ادبي نړۍ رنګينه کړه. پراخه ټولنيزو اړيکو او د دانته د آثارو مطالعې ده سره مرسته وکړه چې د ټولنپوهنې او اروا‌پوهنې په رازونو پوه شي، په همدې خاطر ددې ليکنو کې اروايي شننه ګورو. سايکالوجي او رواني تحليل هغه وخت يوه نوې موضوع وه. په (۱۳۴۱م.)کې يې پلار مړ شو، له دغه شتمن پلار څخه جوواني پوکاچيو ته لويه شتمني په ميراث پاتې شوه. د ده کور د هغه وخت د روښاندو د را ټوليدو ځای شو. ادبي بحثونه، کره کتنې او پرکتابونو به يې خبرې کولې. د ده لومړنی اثر(د کامرون) نومېد چې د منځنيو تيارو پېړيو غندنه يې کړې او روښانه ژوند ته د ورتګ زيرې يې ورکړې دی. لوی آرمان يې دا و چې ايتاليا د خرافاتو او کليسا له دام وژغورې او ولس ته د روښنايي، نياو، آزادۍ او عصري تعليم لاره وښيي. پوکاچيو داسې وخت کې ژوند کاو چې ايتاليا کې د عيسوي پادريانو جهل او وبا خوره وه. ده او د ده منورو ملګرو هوډ وکړ چې د سم ژوند لار ومومي او خلکو ته فاضلانه ډيوه په لاس ورکړي. دوی په لاټي ژبه څو کتابونه وليکل. د ده خوږ ملګری (پترارک) و چې هغه هم د ولس د خبر- ښېګڼې ژمن شخص و، خو په (۱۳۷۴م.)کال د پيرارک په مړينې سره پوکاچيو زښت زيات غمجن شو. له (۱۳۷۴م.) وروسته يې د خپل ژوند وروستي آثار وليکل او په بل کال يې د ايتاليا نامتو ښار، فلورانس ته نږدې د (سرتالدو) سيمه کې مړ او همالته خښ شو. په دې توګه د رنسانس د دورې د لومړيو ليکوالو په کتار کې يې نوم ځلاند پاتې دی.

ميخايل شولوخوف: د شولوخوف نوم او آثار له کلونو کلونو افغانستان کې پېژندل شوي دي. د دغه نامتو ليکوال آثار په پښتو او دري ژبو ژباړل شوي او له رومانونو څخه يې جوړ شوي فلمونه او سريالونه افغانستان کې ډېر مينه وال لرل. د نوبل د ادبي جايزې وړونکی ميخايل شولوخوف په (۱۹۰۵م.)کال زېږېدلی او په (۱۹۸۴م.)کال ومړ. هغه د شوروي اتحاد د دوران ليکوال و. له نازيانو او هلتر سره د ميهنې جګړې او بيا وروسته تر دوهم نړيوال جنګ د شوروي اتحاد د بيارغاونې د سخت او ستومانه کوونکي کار شاهد او ګډونوال و. په (۱۹۱۸م.) کې چې د (دُن) په سيمه کې مېشت او د ديارلسو کلونو په عُمر و، د دوی سيمه کې جګړه ونښته. شولوخوف پوځ کې عسکر شو. د همدغه دوران خاطراتو د ده په زياترو آثارو کې غبرګون وموند، آن دا چې د خپل يو نامتو رمان نوم يې (آرام دُن) ايښی و. دُن د دوی د سيمې د يو لوی سيند نوم هم دی. دغه حماسي رمان يې په (۱۹۲۸م.)کې پيل او په څلورو ټوکو کې يې په (۱۹۴۰م.)کې بشپړ کړ. دوه ځله يې د شوروی اتحاد د دولت جايزه او په (۱۹۶۵م.)کې يې د نوبل نړيواله ادبي جايزه وګټله. روسي ادب کې د تولستوی د (جګړه اوسوله) تر رمان وروسته دا دوهم نامتو رومان دی. په دې رومان کې کورنۍ، ټولنيز او تاريخی مسايل راغلي دي. رمُان د (ميلاخوف) د کورنۍ له کيسې پيل او ډېره برخه همدا ده، ورپسې د نړيوال جنګ لويه غمېزه او بيا د (۱۹۱۷م.)کال د انقلاب مسايل او د روسيې کورنۍ جګړه په مهارت سره راته بيانوي. هغه جګړه چې د عدالت او د وطن د ساتنې لپاره وه. د ده د داستانو اتلان خپل تجارب بيانوي. د بيلګې په توګه (ګريګوري) د لومړۍ نړيوالې جګړې د تجاربو په اړه خبرې کوي. په رومان کې يې مينه هم شته او د طبيعت د منظرو ښکلي انځورونه هم لري. بل نامتو اثر يې (نوې آباده زمکه) ده. د ده رومانونه با مقصده، متعهد(ژمن)، ريالېستيک او د رومانتيزم د خوږو او کيفيت لرونکي دي، چې د طبيعت رنګينۍ پکې له ورايه ښکاري او د موضوعاتو له پلوه يې زياتره تاريخي بللای شو .

ايف. سکاټ فيټزجرالډ (F. Scott Fitzgerald) نامتو امريکايي کيسه ليکونکی او رومان ليکونکی د (۱۸۹۶م.)کال د د سپټمبر په (۲۴) مه نړۍ ته سترګې پرانيستې دي. پلار يې ايډورډ فيټز جرالډ آيرلنډي او انګليسي الاصله و. د ده نيکونه په مريلينډ کې د لومړنيو مېشتو شويو اروپايانو کورنۍ ګڼل کېږي. سکاټ فيټزجرالډ د امريکا د ادبياتو د تاريخ يو تر ټولو مهم ليکوال ګڼل کېږي، ناولونو ته يې د ادبياتو د کلاسيکو اثارو په سترګه کتل کېږي. مشهور ناول يې (The Great Gatsby) نومېږي چې په (۱۹۲۵ م .)کال يې ليکلی و. دنومورې په خپلو ناولونو کې د امريکا ټولنه او چاپېريال په ډېر ښه ډول انځورکړې دي. جرالډ د پرينسټن پوهنتون (Princeton University) کې زده کړې کړې دي.

ده لا د محصلي په دوره کي (له جنت آخوا This Side of Paradise) په نوم يو ناول کښلی و. دا ناول د امريکا د ادبياتو د تاريخ يو خورا مهم اثر وګڼل شو. ستر ګټسبي (The Great Gatsby) يې وروسته (يعنی په ۱۹۲۵م. کال کې) ليکلی او چاپ کړی دی. د سکاټ فيټز جرالډ شخصي ژوند له لوړو ژورو ډک و. له خپلې مانديني زلدا فيټزجرالډ سره يې د ژوند کيسې او ناولونه په فرانسه او امريکا کې خلکو په ځير لوستلي. نالونه يې بيلابيل مسايل رااخلي: کورني موضوعات، سياست، ټولنه او ارواپي شننې.
په (۱۹۳۰ م.) کال د ده مېرمن (زلدا) په روحي ناروغۍ اخته شوه، يو کال يې د اروپا په بيلابيلو ځايونو کې په درملنه تېر کړل، که څه هم په (۱۹۳۱)کې روغه شوه، خو يو کال وروسته بيا په روحي ناروغۍ اخته شوه. زلدا، چې په خپله هم هنرمنده وه، هڅه کوله چې د ډارمو، ناولونو، انځورګرۍ او نورو هنري کارونو له لارې مطرح شي، خو بريالۍ نه وه. سکاټ فيټز جرالډ په (۱۹۳۹ م.)کال لاس انجلس ته لاړ چې د امريکا د هاليوډ د فلمونو لپاره سناريو وليکي. ده په دې موده کې د يوه نوي ناول په ليکلو پيل وکړ چې اصلي کرکتر يا اتل يې د هاليوډ يو ډايرکټر و، خو دا ناول يې بشپړ نه کړای شو. دی يو کال وروسته (د ۱۹۴۰ د دسمبر په ۲۱ مه) د زړه په سکته ومړ. ناولونه يې خلکو خوښ کړل ، خو هغه سناريوګاني يې چې کښلې وې بريالۍ نه وې. د ده له ستر ګټسبي ناول څخه په (۲۰۱۳ م.)کې يو فلم جوړ شو . په دې فلم کې د ليوناردو دي کاپريو په شان سترو امريکايي فلمي لوبغالو کار کړی دی. همداراز د سکاټ فيټز جرالډ د يوې کيسې په اساس (وروستی ځل چې پاريس مې وليد) فلم جوړ شوی دی. په دغه فلم کې د اليزابيت تايلر په شان د هاليوډ د سينما سترې لوبغاړې کار کړی دی.

ميګل سروانتس د اوولسمي پيړۍ هسپانوي ليکوال و. له (۱۵۴۷ تر ۱۶۱۶م.)کلونو يې ژوند کړی دی. د اسپانيا خلک، اسپانوي ژبې ته د ده خدمتونه نه هيروي او نړۍ هم د ده د داستاني ادبياتو درناوی کوي. د ده نامتو رومان " دن کېشـوت " نړېوال نوم لري. د سروانتس د ژوند ډېر کلونه په بيوزلي کې تېر شول، له همدې امله يې زيات نښېرونه پرته له چاپ او خپرېدو له منځه ولاړل، خو بيا هم د ده ستر ادبي ميراث دمره ستر و چې اوس اسپانويانو ته دمره ارزښت لري، چې په درناوی سره اسپانوي ژبې ته د سروانتس ژبه وايي. لالهاند ژوند يې درلود، په (۱۵۶۹م.)کال له اسپانيا څخه د ايتاليا د روم ښار ته ولاړ . ده د اسپانيا پلي پوځ کې پينځه کاله خدمت وکړ، خو يووخت د سمندري غلو په لاس کې ولوېد، هغوی زنداني کړ، کله چې له زندان بهر شو، ببرته د اسپانيا پلازمينې (مادريد) ته ستون شو. دا وخت يې ليکوالي ته زياته پاملرنه وکړه. په (۱۵۵۸م.)کې يې د "لاګالتها" په نوم خپل لومړنی رمان، بيايې په (۱۶۰۵م.)کې دون کيشوت دوو برخو کې وليک چې په (۱۶۱۵م.)کې خپور شو. سروانتيس په اسپانوی ژبه شعر او تر شلو زيات نندارليکونه هم ليکلي دي، خو زيات کار يې په رمان ليکلو کړی دی، چې شمېر يې دولسو ته رسيږي. وروستی اثر يې د (زيګسموندا او پرسيلزی مشتقات "Los trabajos de Persiles y Sigismunda"نومېږي چې په ۱۶۱۶ک. کال، يعنی د ده تر مړينې وروسته خپور شو. سروانتس د دن کيشوت په خپرولو کې ستونزو سره مخ شو، ځکه د وخت سياستوالو يې مخه ډب کړې وه. نومورې د خپل ژوند په کلونو کې د مقاماتو د پام وړ ونه ګرځېد، خو ولس کې يې محبوبيت درلود. له مړينې دوه پيړۍ وروسته ادب خېړونکو د ده د آثارو درناوی وکړ او (دن کيشوت) په انګلستان ډېر د پام وړ وګرځيد. پر ۱۷۸۱م. کال جان بول استاندال ټول دن کيشوت چې بيلابيلو برخو کې ليکل شوی و، يوځايی خپور کړ. د دې اثر په خپرېدو سروانتس د لرغونی يونان او روم د ليکوالو په اندازه د منښت وړ وګرځيد. اوس دن کيشوت د نړۍ په اووه سوه ژبو ژباړل شوی دی .
انتون چيخوف: ا نتون چيخوف (Anton Chekhov) د نړۍ په کچه د نوولسمي پيړۍ د تر ټولو تکړه روسي ليکوالانو، ډرامه ليکونکو او د لنډو کيسو د پلار په توګه پېژندل کېږي. هغه په مسلک کې ډاکټر و، خو ادب ته يې داسې ببساري او رېښتيني شاهکارونه وړاندې کړل چې د نړۍ د لنډې کيسې او تياتر په تاريخ کې يې لوی انقلاب راوست. چيخوف په ۱۸۶۰ م. کال کې په روسيه کې زېږېدلی و. د هغه کورنۍ په مالي توګه ډېره غريبه وه، خو بيا يې هم وکولای شول خپلې زده کړې سرته ورسوي. د

چیخوف لومړنۍ زده کړې دا وې چې په مسکو پوهنتون کې یې د طب پوهنځی ووایه او طبیب شو، خو ډېره مینه یې ادبیاتو، په تېره داستاني ادب سره وه. هغه به تل ویل: "طب زما قانوني ښځه ده او ادبیات مې معشوقه ده." هغه اکثرا د غریبو خلکو وړیا درملنه کوله. د چیخوف د آثارو ځانګړتیا دا وه چې په زیاترو داستانونو او ډرامو کې یې لکه د ده د دوران د نورو لیکوالو په شان، پاچاهان او افسانوي اتلان نشته؛ د دې پرځای د انتوان چیخوف د آثارو اتلان عام خلک، بزګران، ښوونکي او مامورین دي. انتون چیخوف سره له دې چې په مسلک کې ډاکټر و، خو ادب ته یې داسې ښپساري او ربښتیني شاهکارونه وړاندې کړل چې د نړۍ د لنډې کیسې او تیاتر په تاریخ کې یې لوی انقلاب راوست. له اقتصادی پلوه د چیخوف ژوند متوسط حد کې و، په بزګرانو، ښوزلو، کلیوالي محرومو خلکو ډېر مهربان و. د ده داستاني آثارو د ښاري خلکو پام ښوزلو او بزګرانو ته واړاو. ورو ورو د کلیو آبادي او بزګرو سره مرسته د وخت موضوع شوه. سره له دې چې چیخوف ډېر بودا نه و، خو د نري رنځ (تي بي) په ناروغۍ اخته او په ۱۹۰۴ کال کې په ۴۴ کلنۍ عُمر په ځوانۍ کې مړ شو. زیات شمېر آثار یې پښتو ته ژباړل شوي دي. نامتو اثر یې چې پښتو ته ژباړل شوی، څورب او خوار نومیږی. په دې اثر کې د ټولنیزو طبقاتو ژوند او توپیر ښودل شوی دی.

ویلیام سامراست موام: انګلیسی داستاني ادبیاتو کې، موام یو نه هیریدونکی نوم دی. ویلیام سامراست موام اصل کې داستان لیکوال و، د داستاني آثارو تر څنګ یو نامتو نندارې لیکونکی هم و. موام په فرانسه کې د پاریس په ښار کې هغه مهال وزیږید چې پلار یې هلته د انګلستان په سفارت کې کار کاو. نوموړي له ۱۹۶۵ تر ۱۹۷۴م. پورې یعنې لس کاله فرانسه کې ژوند وکړ. ډېر ژر یې پلار ومړ او دخپل تره تراس لاندې چې یو روحاني سړی و، د کنت په ښار کې وروزل شو. په دیارلس کلنۍ کې یې د (کنتربري) په سلطنتي کالج کې زده کړې پیل کړې. وروسته بیا د هایدلبرګ پوهنتون ته ولاړ او له هغه ځایه لندن ته ولاړ او هلته یې د طبابت په څانګه کې زده کړې وکړې. د ده په ډیرو آثارو کې د دغو پېښو او د وختونو خاطرات ترسترګو کیږي. په دې لړ کې دده لومړنیو آثارو لکه د لیزا آو لمبث رومان (۱۸۹۷م.) او د (بانو کړیداک) رومان، چې په ۱۹۰۲ کې چاپ شول، د ده نوم وځلاو او داستاني ادب کې یې ډېر شهرت ګټلی و. همدا نوم او شهرت ددې لامل شو چې طبابت پریږدي او ادبیاتو ته مخ واړوي. (انساني مرئیتوب -۱۹۱۵م.) دده شهکار بلل کیږي او دده د معنوي او فکري حال ښه بیانوونکی دی. دا رُمان د اروپا د رومانتیزم د سبک یوه ښه بیلګه ده. دغه اثر ده ته ډېر بری ورپه برخه کړ. له دې وروسته موام په سفرونو پیل وکړ، له اروپا څخه لرې ختیځ ته او بیا امریکې ته ولاړ. په لومړۍ نړیواله جګړه کې د یوه پټ سازمان په تشکیل کې روسیې ته ولاړ، وروسته تر جګړې څخه د فرانسې په جنوب کې میشت شو. سامراست موام د خپلو سفرونو او تجربو څخه خپلو آثارو کې ډېره ګټه اوچته کړه. د ده همدغو سفرونو نوموړی د نړۍ نورو هیوادو سره نژدې کړ. موام په لومړیو کې د خپلو رومانونو له املې د خلکو پام ځانته واړاو، وروسته یې نندارې لیکونو هم د خلکو پام راواړاو. د موام تر ټولو غوره داستان(میاشت او شپږ پنسی) نومیږي چې د فرانسوي نامتو انځورګر ګوګن له ژوند څخه یې الهام اخیستی دی.(اشندن) یې بل اثر دی چې زیاتره پکې د لیکوال تجربې راغلي دي چې په لومړۍ نړیواله جګړه کې یې په روسیه کې د انګریزانو د پټ مامور په توګه دنده ترسره کوله."ورږي او ممیز" (۱۹۳۰)،"کاتالینا" (۱۹۴۸م.) او داسې نور یې داستانونه دي او نندارې یې هم د خلکو د پاملرنې وړ وې. د موام ډېر ښه نندار لیکونه دا دي: لیډي فردریک(۱۹۱۲م.)، زمونږ مخکښان(۱۹۲۳م.) انجمن(۱۹۲۱م.)، لیک(۱۹۲۳م.) او داسې نور. د موام ډېره وړتیا په لنډ داستان کې ده. د هغه د لنډو داستانونو شمېر ډېر دی. د دغه لیکوال د لنډو کیسو ټولګه په ۱۹۵۱م. کال کې خپره شوه. د همدې ټولګې له څو داستانونو څخه نندارې جوړې شوې. موام یو شمېر مقالې هم لیکلې دي. د مقالو یوه ټولګه یې چې نوم یې (د یوه لیکوال یادونې) و، په پینځو ټوکو کې په ۱۹۴۹م. کې خپره شوه.

لیو نیکولایویچ تولستوی : (Leo Tolstoy)د نړۍ او روسیې د معاصر تاریخ یو تر ټولو ستر، نامتو او اغېزناکو لیکوالانو او فیلسوفانو څخه دی. د هغه ببساري حماسي او ریالیستي شهکارونه د نړۍ په ادبیاتو کې ځانګړی ځای لري. لیو تولستوی د ۱۸۲۸ م. کال د سپټمبر په نهمه نېټه د روسیې په «یاسنایا پالیانا» سیمه کې په یوه بډایه او اشرافي کورنۍ کې نړۍ ته سترګې پرانیستي وې. په ماشومتوب کې یې مور او پلار له لاسه ورکړل نوره پالنه یې عمه وکړه. د کازان په پوهنتون کې یې د ختیزو ژبو او حقوقو په ځانګه کې زده کړې پیل کړې، خو د پوهنتون رسمي او وچ سیستم یې خوښ نه شو او نیمګړی یې پرېښود. د پوځي خدمت سره د لیوالتیا او هلته د ده لپاره د اړتیا له مخې د روسیې په پوځ کې شامل شو. دا وخت تولستوی پوخ ځوان او څه ناڅه د لیکوالي په فن او هنر پوهېدلی و. کله چې د قفقاز او کریمیې امنیتي پېښې رامنځته شوې، په جګړو کې یې ګډون وکړ، چې د جګړې دغه په سترګو لیدلې تجربې د هغه د راتلونکو سترو لیکنو بنسټ وګرځېدې. پوځي چاپېریال د ده فکري بدلون کې رول درلود. سره له دی چې تولستوی په یوه اشرافي چاپېریال کې د ځوانۍ عمر ته رسیدلی و، خو ساده ژوند یې غوره کړ. تولستوی د ژوند په منځنیو کلونو کې له یو ژور روحي او فکري بحران (Spiritual Crisis) سره مخ شو. هغه له عیاشۍ او خپلو اشرافي شتمنیو لاس واخیست، ساده جامې به یې اغوستې، د بزګرانو په څېر یې په پټیو کې کار کاو. ادبیاتو او لیکوالۍ سره یې مینه وه، چې مهم اثر یې (جګړه اوسوله) ده. دا اثر په دریو ټوکو کې پښتو ته هم ژباړل شوی دی. دغه رومان ډېر زیات کرکټرونه او د پېښو بېلابېل ځایونه لري او د رمان د کیسې موده هم ډېره اوږده انځور شوې ده. په دې لوی رُمان کې زښته ډیرې پېښې راغلي دي، کورنۍ، رسمي مسایل، کلیوالی ژوند، ښاري چاپېریال، وچه او سمندر، تاوده او خوندور اوړي او سړه ژمي، جګړې، سوله او د ژوند نور اړخونه یې په ښکلي قلم او په تلوسه پاروونکي توګه کښلي دي. ده د فرانسې او روسیې ترمنځ جګړه انځور کړی ده. دا یو تاریخي رومان دی. (جګړه او سوله) د پښتو ژبې او نورو سلګونو مهمو نړیوالو ژبو ترڅنګ، په دري هم ترجمه او ایران کې څو ځله خپور شوی دی. دې ته دمینې، دروغو، خیانت، صداقت ، رښتینولی، ساده والی او محبت داستان ویل شوی دی. د زیات شمیر کرکټرونو د بیخی زیاتو دیالوګونو په ترڅ کې یې د روسیې د تاریخ ، ټولنې او فرهنګ ښه پېژندنه کړې ده، چې د نړۍ یو پیچلی رومان یې بللای شو.

آندره مالرو: فرانسوي نامتو رومان لیکونکی دی. په زړه پورې ده چې د داستاني ادبیاتو یو شمېر نامتو څېړې، رُمان او ناول لیکونکي په سیاست کې هم مخکښ او په ټولنیزو چارو کې ښکېل کسان وو . په دې کې یو هم همدا آندره مالرو دی چې دخپل وخت نوښتګر رومان لیکونکی، کره کتونکی او سیاستوال و. نوموړی پر ۱۹۰۱م. کال ډپاریس په ښار کې په یوه شتمنه کورنۍ کې نړۍ ته راغی. له منځنۍ دورې زده کړو وروسته، د پاریس د ختیزو ژبو مدرسه کې د سانسکریت ژبې او نورو ختیزو ژوندیو ژبو په ځانګه کې شامل شو. په اتلس کلنۍ کې یې په بیلابیلو خپرونو کې لیکنې پیل کړې. د ده لومړني داستانونه ژور تخیُلي او تمثیلي وو چې د ریالیستیکو آثارو په پرتله، د سوررریالیزم او کوبیزم اغیزې وربانديې ښکاریدې. دغه ادبی مکتب هم د ریالیزم او رومانتیزم په شان خپلې ښکلاوې لرلې. مالرو په ۱۹۲۳م. کې له خپلې میرمن او یوې دلې لرغونپیژندونکو سره د ختیځ په لوري سفر وکړ او د کامبوچیا په ځنګلونو کې یې د لرغوني تمدن نښې پیدا کړې او په یو شمیر زړو مزدکونو کې یې ښکلي انځورونه ومومدل. یو ځل ددغه ډول آثارو په غلا ونیول شو او دري کاله بندي شو، خو دخپل ژوند د ملګري او یو شمیر لیکوالو په وساطت بیرته خوشې او د قاضي حکم بدل شو. هند او چین کې یې د څه مودې په تیرولو او د خلکو د بیوزله ژوند په لیدلو او د ځپېښاک او ښکېلاک د ظلم په احساسولو سره یې د بشر د حقونو په دفاع لاس پورې کړ او د یو شمیر مجلو او اخبارونو په خپرولو یې پیل وکړ. آندره مالرو د ویښتیا او روښتیا د موخو لرونکو مقالو په لیکلو، له سیمه ییزو انقلابیونو سره مرسته وکړه. مالرو څوکاله د پاریس او لرې ختیځ ترمنځ تګ راتګ کاو. د چین له انقلاب سره یې مینه وښوده او د چین د رهبرۍ لپاره په یوه دولس کسیزه پلاوي کې غوره شو، خو کله چې(چیانګ کای- شک) پر کمونستانو بریالی شو، مالرو بیرته د لرغونپیژندنې په چارو بوخت شو او د افغانستان او ایران له لارې

فرانسې ته ولاړ. له ختیځ سره د مالرو پیژندګلوي د دې لامل شوه چې دغو خلکو سره اړیکې زیاتې او د ښکیلاک پرضد د دوې مبارزې انځور کړي. ده د استعمار په ضد خپل افکار(دلویدیځ وسوسه)(۱۹۲۶م.)، سوبمن(۱۹۲۸م.) سلطنتي لاره(۱۹۳۰م.) او د بشر وضعیت(۱۹۳۳م.) کلونو په آثارو کې وښودل.
کله چې جرمني کې هتلر واک ترلاسه کړ مالرو کمونستانو سره شو او له فاشیستي ضد غورځنګ سره یو ځای یې فعالیت پیل کړ. په ۱۹۳۲م. کې د انقلابي هنرمندانو او لیکوالو ټولنې سره یوځای شو. د نازیزم په وړاندې د مالرو غبرګون د سپکاوي دوران(۱۹۳۵م.) په اثر کې اوچته ښکاري.
مالرو په ۱۹۳۷م. کال اسپانیا ته سفر وکړ او هغه هوایي ځواک سره یې مرسته پیل کړه چې جمهوري غوښتونکو جوړ کړی و او په جګړه کې ورګډ شو. څو میاشتې وروسته ټپي شو او بیرته فرانسې ته ستون او د "هیله" په نوم یې یو رومان ولیک. مالرو د فرانسې د مقاومت په غورځنګ کې د یوه نظامي افسر په توګه ګډون وکړ او د نازیانو په وړاندې یې جګړه وکړه. په دې جګړه کې ونیول شو، خو بیرته وتښتېد. ده د خپل هیواد د اشغال د ورځو تجربې(د ملائیکې لرونکې بیرې) په رومان کې بیان کړي دي.
مالرو په فرانسه کې د جنرال دوګول د واکمني پر مهال د اطلاعاتو او کلتور د وزیر په توګه وګومارل شو، خو کله چې په ۱۹۴۶م. کې دوګول د جمهوري ریاست له دندې لرې شو، مالرو هم له دندې لاس واخیست. کله چې دوګول دوهم ځل واک ترلاسه کړ، مالرو یو ځل بیا د اطلاعاتو وزیر شو. وروسته په فرانسه کې د ملت د ټولنې د ګوند د اجرائیه پلاوي غړی شو او ددغه ګوند د اطلاعاتو په څانګه کې یې فعالیت پیل کړ چې د جنرال دوګول د حکومت ترپای پورې د ده کلک ملګری او شخصي دوست پاتې شو. د جنرال دوګول تر استعفا وروسته مالرو د خپلو یادداشتونو په تنظیم کولو پیل وکړ او (د خاطراتو ضد) کتاب یې په ۱۹۶۷م. کال کې خپور شو.
مالرو د خپل عمر په پای کې رومان لیکل پریښودل او د هنر په اړه یې یو شمیر آثار خپاره کړل. په دغو آثارو کې: د (خیالي موزیم)، (د هنر اړواپوهنه)، (دهنر رامنځته کول)، (د چوپتیا غږ) او (د خدایانو مسخ) نوم اخیستلای شو. د مالرو بشپړ آثار په اوو ټوکونو کې په ۱۹۴۵م. کال کې په ژنیو کې خپاره شول. مالرو د پینځه او یا کالو په عمر د تنفسي ناروغۍ له کبله پاریس ته نژدې په ۱۹۷۴م. کال یوه روغتون کې سا ورکړه.

چارلز دیکنز: چارلز دیکنز د ۱۸۱۲ م.کال د فبروري په اوومه د انګلستان په پورټسموت سیمه کې زېږېدلی و. ماشومتوب یې له سختیو ډک و. د دیکنز کورنۍ د اقتصادي ستونزو سره مخ وه. کله چې د هغه پلار د پورونو له امله زنداني شو، چارلس مجبور شو چې په دولس کلنۍ کې د بوټانو د تور رنګ جوړولو فابریکه کې د کارګر په توګه کار پیل کړي، دا یو دروند او ستومانه کوونکی کار و، ځکه هم د کار ساعتونه زیات وو، هم د کیمیاوی موادو ترکیب، د ماشینونو غږ او د فابریکې زوړ سیستم ځوروونکی وو. دغې ترخې تجربې د هغه پر راتلونکو اثارو ژور اغېز وکړ.
دیکنز د لیکوالي د استعداد له مخې د قلم نړۍ ته مخه کړه، چې دا وخت قلموال د ګوتو په شمار وو. چارلز دیکنز لومړی د یو خبریال او د پارلمان د راپورټر په توګه کار پیل کړ او وروسته یې کیسې او ناول لیکلو ته مخه کړه. د چارلز دیکنز ناولونه په لومړي ځل په میاشتنیو یا اوونیزو جریدو کې د برخو برخو(Serialقسطوار) په بڼه خپرېدل. د هغه ځینې خورا مشهور شاهکارونه دا دي:
اولیور ټویسټ (Oliver Twist)؛ دا ناول د یو بې کوره یتیم ماشوم ژوند انځوروي چې د لندن په کوڅو کې د غلو له ډلې سره مخ کیږي. په دې نښې کې د ماشومانو د کار د استثمار او بېوزلۍ په اړه بحث شوی دی.
ډېویډ کاپرفیلډ (David Copperfield)؛ دا تر ډېره بریده د دیکنز خپل ژوندلیک ته نږدې ناول دی، چې د ډېویډ په نوم د یو هلک د ماشومتوب، سختیو او بالاخره د یو بریالي لیکوال کېدو کیسه کوي.

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندۀ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»

د دوو ښارونو کيسه (A Tale of Two Cities)؛ دا يو تاريخي ناول دی چې پېښې يې په لندن او پاريس کې د فرانسې د انقلاب پر مهال رامنځته کيږي. دا د نړۍ له تر ټولو زيات پلورل شويو کتابونو څخه دی.
لويي هيلي (Great Expectations)؛ د "پيپ" په نوم د يو يتيم هلک کيسه ده چې غواړي په ټولنه کې يو معزز او شتمن سړی (Gentleman) شي. دا ناول د شتمنۍ، مينې او طبقاتي موضوعات څېړي.
د کرسمس سندره (A Christmas Carol)؛ د "ايبينزر سکروج" په نوم د يو کنجوس او بې رحمه سړي مشهوره کيسه ده چې د کرسمس په شپه د روحونو په لېدو سره د هغه په ژوند او اخلاقو کې بدلون راځي.د چارلس ډيکنز اثار د ځانګړو کرکټرونو، طنز، او د غريبو خلکو د حقونو د دفاع له امله تر ننه پورې د نړۍ په کچه لوستل کيږي او څو سينمايي فلمونه هم ترې جوړ شوي دي. چارلس ډيکنز د ۱۸۷۰ م. کال د جون په نهمه د ۵۸ کلونو په عمر نړۍ سره مخه ښه وکړه.

فيودور داستايوفسکي: داستايوفسکي د ۱۸۲۱م. کال د نومبر په يوولسمه په مسکو کې نړۍ ته سترګې پرانيستې. د روسيې يو له تر ټولو سترو او اغېزمنو ليکوالو څخه و، چې په خپلو رواني او فلسفي رمانونو کې يې د بشري روح ژوري، اخلاقي ستونزې او د آزادۍ مسايل وڅېړل. د هغه ژوند له ستونزو، جلاوطنۍ او ځينې وخت بيوزلۍ ډک و، روغتيا يې هم ښه نه وه، خو په ادبياتو کې يې تر ټولو ستر شاهکارونه وپنځول. دی. داستايوفسکي د سياسي فعاليتونو له امله په ۱۸۴۹ کال کې ونيول شو او له مسکو څخه سيبرياته جلاوطن شو، هلته يې څو کلونه په سختو شرايطو کې تېر کړل. له دې امله چې جلاوطنۍ کې راز راز خلکو سره اخته شو، هغوی سره به په قمار هم بوخت شو، قمار کې يې ځو ځله بايلوده. د همدغو دردونو او تجربو له لارې يې د انسان د زړه تر ټولو تور او پټ رازونه وليکل. د ده لومړنی رمان د پرله پسې ليکونو په ښه ليکل شوی و چې دهغه وخت نامتو کره کتونکي، ويساريون بلينسکي ډېر زيات خوښ کړ. بلينسکي دومره خوشحاله شو، چې د دغه رمان په لوستو سهار وخته څلور بجې چې لا پوره رڼا نه وه، د ستاينې لپاره د داستايوفسکي کورته ورغی. داستايوفسکي ليکنو ته دوام ورکړ او بېلابېل رمانونه يې وليکل لکه:
جنايت او مکافات (Crime and Punishment): د يو ځوان (راسکولنيکوف) کيسه ده چې د يو چا په وژنه لاس پورې کوي، وروسته د ضمير له عذاب سره مخ کيږي. کارامازوف وروڼه (The Brothers Karamazov)د هغه وروستی او تر ټولو ژور فلسفي کتاب دی چې د ايمان، اخلاقو او د خدای او انسان په اړيکه بحث کوي.ابله (The Idiot): د پرنس ميشکين په نوم د يو داسې صميمي او پاک انسان کيسه ده چې په يوه بې رحمه او مادياتو غوښتونکې ټولنه کې تباه کيږي. تر زمکې لاندې يادښتونه (Notes from the Underground): يو فلسفی او د ژبې او بيان له پلوه تونده اثر دی چې د عصري انسان يواځېتوب او رواني پېچلتياوې انځوروي. قمارباز (The Gambler): د قمار د بدې پايلې او په دغه عادت د روږدي انسان د شخصيت نيمګړتياوې بيانوي. رڼې شپې (White Nights): يوه لنډه، خورا لطيف و احساساتي مينه ناکه کيسه ده. له دې امله چې ليکنو کې يې ترخه سياسي او ټولنيز واقعيتونه و، نو ځينې وخت سانسور سره مخامخ کېد. د ده (ترزمکې لاندې يادښتونه) رومان نهه برخې چندان د پام وړ ونه ګرځېد، خو کله يې چې لسمه برخه خپره شوه، سانسور شو، ځينې واقعيتونه يې د طنز په ژبه ويلي دي. د جوزف فرانک په وينا؛ په اوسنيو ادبياتو کې د ده د رمانونو لوستونکي دومره زيات دي چې ساری يې کم دی. د ده دا کتاب هغه وخت بشپړ شو چې د ده لومړنۍ مېرمن مړه شوې وه.
بل رومان يې (جنايت او مکافات) هم خوږه او له تلوسې ډکه کيسه لري. د داستان مرکزي اتل، راسکولنيکوف، دوو لارو کې حيران او سربداله دی. داستان په پترزبورګ ښار کې پېښ شوی دی، چې نيمايي برخه کې وختونه ببرته شاته ځي. د دې رمان جوړښت داسې دی چې له نيمايي پېل شوی دی؛ نيم وړاندې ځي، نيمايي کې بيا ببرته شاته ځي. پينځم څېرکی د راسکولنيکف د ماشومتوب نکل رااخلي. د راسکولنيکوف د ژوند پېښې عجيبې او ټول رومان د انساني روحياتو شنونکی دی. د انسان دننی رواني وضعيت د جرم، بيوزلي، ستونزو او نورو ناوړه حالاتو کې بيانوي. په پای کې

راسکولنیکف د یو جنایت له ترسره کولو پښیمانه کیږي، پر زمکه پریوځي تندی په خاورو ږدي، توبه باسي او اعتراف کوي.
قمارباز هم په زړه پوري دی. دغه رومان وروسته تر خپرېدو یو نړیوال نښېر وپېژندل شو. دا ځکه چې یواځې د یو هیواد او یو ملت کیسه نه ده، بلکې په مجموع کې د انسان روحی حالات ښیي. د هر انسان غبرګون د ستونزو پر مهال بیانوي.
کمعقله یې بل رومان دی چې ایران کې د(ابله) په نوم ژباړل شوی دی. په دغه رمان وروسته تر خپرېدو جوزف فرانک کره کتنه کړې ده او هغه یې د داستایوفسکی د نورو آثارو په پرتله یو منفرد او ځانګړی اثر بللی دی. کره کتونکي وایي چې په دې رمان کې لیکوال ډېر صمیمی دی او خپل سپیڅلي عقاید یې بیان کړي دي. په خپله داستایفسکي هم خپل دغه رومان خوښ کړی دی.
بل رومان یې پېرانیان نومیږی چې ایران کې د(جنزده ګان) په نامه ژباړل شوی دی. لیکوال خیالي کرکترونه جوړ کړي، چې هر کرکتر یو ټولنیز- فرهنګي سمبول او مفکوره وه، ټول رمان د هغه وخت د روسیې د ټولنې واقعیت ښوده. د رومان دغه نوي او جالب جوړښت د خلکو په شعور او پوهه اغیز درلود. رومان کې خیالي سمبولونه دومره واقعي کیږي چې د یوې اسطورې تر بریده رسیږي. د پېریانیانو (جن زده ګان)د رُمان دوه بُعدونه(ادبي-فرهنګي) د ټولنې ویښتیا او اصلاح کې اغیزمن وو.
کارامازوف وروڼه: دغه رومان ایرانیانو پارسي کې په برادران کارامازوف ژباړلی دی. دا رومان په دولسو کتابو کې د داستایوفسکی یو لوی او مهم رومان دی. دري کرکترونه یې آلیوشا کارامازوف (تازه‌کار)، ایوان کارامازوف (بې‌ایمان) او دیمیتری کارامازوفِ یو سرتیری دی. لیکوال د مسیحي ایمان او عقل کشمکش او تضاد ښکاره کوي. د کیسې یوه برخه کې ایوان د (یهودی-مسیحي) خدای په وړاندې پاڅون او د مظلوم او خواریکښ انسان پلویتوب کوي. یوه بله برخه کې مسیحیان نیاو ته ځیر کوي. لیکوال انجیل یوحنا کې انساني کرامت او عدالت ته زیات پام کوي، او آن نیوکه کوي، د داستان اصلي اتل آلیوشا ده. دغه رومان د تراژیدو واقعیتونو بربنډول دي. فیودور داستایوفسکي د ۱۸۸۱م. کال د فبروري په نهمه په سن پترزبورګ کې ومړ.

کافکا: فرانتس کافکا د ۱۸۸۳ م. کال د جولای په درېیمه په پراګ (اوسني چیک جمهوریت) کې په یوه یهودي کورنۍ کې زېږېدلی دی. ویل کیږي چې پلار یې یو توندخویه سړی و. د پلار کلک او بې رحمه چلند یې په روح او روان ژور اغېز وکړ، چې د هغه په ډېرو لیکنو کې یې رواني غبرګون ښکاري. نومورې په حقوقو کې تر دوکتورا پورې لوړې زده کړې وکړې او د بیمې په یوه اداره کې یې کار کاوه. مشهور آثار یې دا دي:
مسخ چې په جرمني ژبه د(Die Verwandlung) په نوم دی؛ د ده تر ټولو مشهور اثر دی، مسخ ناول په ۱۹۱۵ م.کال کې خپور شو. کیسه د «ګرګور سامسا» په نوم د یو کارمند ده چې یو سهار له خوبه په داسې حال کې راویښیږي چې په یوه لویه حشره بدل شوی وي. دا د ناول او رومان لیکنې تاریخ کې ېو بیساری نوښت او تخیُل دی. کیسه ډېره حیرانوونکي، ویروونکي او د پیغام لرونکي ده. دا رومان همدا اوس هم جرمني کې زښت زیات لوستونکي لري، تقریباً هر جرمن دا رومان یو ځل لوستی دی.
محاکمه (Der Prozeß)؛ د یوه سړي کیسه ده چې بې له دې چې خپل جرم وپېژني، د یو پېچلي او مبهم قضایي سیستم له خوا محاکمه کیږي(د دغو نالونو په بهرنۍ ژبه نومونه ټول جرمني ژبه ده).
قصر (Das Schloss)؛ د یوې نابشپړې لیکنې په توګه پاتې شو چې د یو سړي بې ګټې هڅې د یوه نامعلوم واک او قصر سره د اړیکې نیولو لپاره انځوروي.
پلار ته لیک (Brief an den Vater)؛ یو شخصي او ژور عاطفي اثر دی چې د پلار او زوی ترمنځ ترینګلی اړیکه په کې څېړل شوې ده.
(۱۹۲۴-۱۸۸۳) د شلمې پیړۍ یو له تر ټولو لویو او اغېزمنو جرمني ژبو لیکوالو څخه دی چې په پراګ کې زېږېدلی و، د جرمني ژبې ترځنګ په چکی ژبه هم پوهېده. لیکنې یې په آلمانی- پراګ (هغه ژبه چې یهودی او مسیحی آلمانی اقلیتونوور باندی خبرې کولې) وې. ده- آلمانی پراګ ژبه د

هغه وخت د آلمان تر دودیزې آلمانی غوره وبلله او داسې یې وکارولە چې تر ده مخکې چا وربانده لیکنې نه وې کړی. دا په ژبه کې ددە یو ځانګړی مهارت و. دغه مهارت د ده آثار یو ځانګړي دریځ ته اوچت کړل. لوستونکی اړ دی چې د ده د آثارو لوستلو کې ډېر ځیر شي او په هره کرښه او هر ټکي کې دقت وکړي. د بیلګې په توګه د ګرګور سامسا لپاره چې څه پېښیږي، حیرانوونکي دي.د ده په آثارو کې یوازیتوب، اضطراب، او د انسان بېوسي د پېچلو او نامعلومو ځواکونو په وړاندې انځور شوي دي؛ چې دغه ځانګړی اوس په ادبیاتو کې د «کافکایي سبک» په نوم یادیږي. کافکا د ۱۹۲۴ م.کال د جون په ۳ د توبرکلوز (سږو ناروغۍ) له املە په اتریش کې وفات شو.

خورخه لویس بورخیس (Jorge Luis Borges): د شلمې پېړۍ د نړۍ تر ټولو نامتو او اغېزناکو ارجنټاینې لیکوال، شاعر او فیلسوف ټېر شوی دی. ، په ۱۸۹۹ م. کال کې په بوینوس آیرس کې زېږېدلی و. د هغه کورنۍ لوستې او د کتابونو مینه واله وه، ځکه یې د ماشومتوب راهیسې له کتابتون سره مینه پیدا شوه.په ځوانۍ کې له خپلې کورنۍ سره اروپا ته لاړ او په سویس کې یې زده کړې وکړې. هلته یې څو ژبې (جرمني، فرانسوي او انګلیسي) زده کړې. بورخیس د ځوانۍ په عمر له یوې ارثي ناروغۍ کړېده، چې له املە یې په خپل ځانګړي سبک لیکنو او کیسو کې د فلسفې، تصوف او افسانو په پیوند او یو ځای کولو سره، په نړیوال داستاني ادب کې یوه نوې بڼلګه رامنځته کړه.دلته د هغه د ژوند او مهمو آثارو یادونه کوو:
د (Labyrinths) په نوم اثر کې هغه نړۍ ته د یو پېچلي لابراتوار په توګه کتل. د دې عنوان مفهوم ناپایه کتابتونونه ژباړل کیدای شي. هغه تصور کاوه چې کاینات په اصل کې یو لوی، بې پایه کتابتون دی. د نړۍ په هرځه کې یې یوه ژوره فلسفه او هره پېښه یې یو کتاب بلل. نړۍ یې یوه لابراتوار سره ورته بللە.په آثارو کې یې هنداري او د انسان د هویت دوهګونوالی ډېر تکراریدل، فلسفه او فلسفي ژورو مفاهیمو ته یې پام و، وخت یې د ژوند او نړۍ عجیب عنصر بالله؛ ځغلي او نه دریږي. د وخت د مفهوم، برخلیک او خوبونو په اړه یې فلسفي پوښتنې رابرسېره کولې.
ورخیس اوږده رومانونه نه دي لیکلي، خو ژور او فلسفي مفاهیم یې ښودلي دي؛ د هغه شهرت په لنډو کیسو، مقالو او شعرونو کې دی. د هغه تر ټولو مشهور کتابونه دا دي:
فکشنونه (Ficciones): دا د هغه تر ټولو نامتو د لنډو کیسو ټولګه ده چې د نړۍ په ادبیاتو کې یو ماسټرپیس ګڼل کیږي.
الف (The Aleph): بل مشهور کتاب دی چې په کې د کایناتو د پټو رازونو او فلسفي مفاهیمو په اړه جادویي کیسې لیکل شوي دي.
د بابل کتابتون (The Library of Babel): یوه مشهوره لنډه کیسه ده چې نړۍ د داسې یو کتابتون په توګه انځوروي چې ټول ممکنه کتابونه په کې شته. بورخیس له رومانونو پرته یې ګڼ شمېر فلسفي مقالې او ژور احساساتي شعرونه هم خپاره شوي دي.
مارسل پروست: د فرانسې نامتو معاصر لیکوال دی چې بشپړ نوم یې والنتین لویی ژرژاوژون (Valentin Loui Georges Marcel Proust) دی. نوموړی د ۱۸۷۱ م. کال د جنورۍ په لسمه نیټه د پاریس ښار ته نژدې د اوتوی په سیمه کې زیږېدلی دی. له پلار څخه کاتولیک او د مور له خوا یهودي دی. پلار یې طبیب و او بډای سړی و. شوخ طبیعت او ادبیاتو او هنر سره مینه یې له مور څخه زده کړې وه، خو د جسمي ناتوانۍ او ناروغۍ له کبله یې د ځواني عمر په کور کې تیر شو او ډېر وخت یې فکر کولو ته ورکړ. د ځواني په کلونو کې یې له اړوپوهنې، فلسفې او ادبیاتو سره مینه وه، خو د فلسفې په پرتله یې داستاني ادبیات ډېر خوښېدل، دا ځکه چې ده فکر کاو چې داستاني ادبیات کولای شي چې فلسفې ته ښکلې جامې وړاغوندي او د تخیُل په مرسته هغه وځلوي. هغه له ۱۹۰۳ څخه تر ۱۹۰۵ م. کلونو پورې مور او پلار له لاسه ورکړل چې له هغوی څخه ښه ډېره شتمني ورته پاتې شوه. پروست په ۱۸۸۰ م. کال، یعنې د ځوانۍ پر مهال په تنفسي ناروغۍ اخته شو، خو سره له دې یې هم د یوه نوي رومان په موضوع باندې فکر وکړ. دغه رومان یواځې د مینې او جوړو شویو

پیښو کوم داستان نه، بلکې ډیرې ټوکې او خواږه بیانونه هم لري. هغه غوښتل چې ادبي اثر ته فلسفي مضمون پیدا کړي. څو ځله پاریس ته ولاړ تر څو هلته ودانی، منظرې او د لمر پریوتل خپل ذهن کې انځور کړي. هغه زاړه کتابونه وکتل او د فرانسې د پخوانیو وختونو په ټراو د پوهېدو په خاطر یې موزیمونه وکتل. (د ورک شوي مهال په لټون کې) یې یو رومان د یوولسو کتابونو یو غورچاڼ دی چې پرلپسې، خو جلاجلا موضوعات لري، دا د شلمې پیړۍ یو ډیر ښه رمان دی. په ۱۸۸۲ م. کال کې د روسیې ښوونځی ته ولاړ او په ۱۸۸۶ م. کې په شانزلیزه کې د لهستان د یوې اشرافي کورنۍ له لور (مرى دو بنارداکی) سره آشنا شو چې د د ورک شوي مهال په لټون رومان کې د ژیلبر سوان یوه الګو وه. د ۱۸۸۸ – ۱۸۸۹ م. کلونو په ترڅ کې د فلسفې څانګه کې شامل شو چې د دغې څانګې منشي (مارى الفونس دایو) د ده په فکري روزنه باندې ژوره اغیزه وکړه. نومورې د دغه دفتر له ادبي خپرونې Revue Lilas سره قلمي همکاري پیل کړه او په دې توګه یې له اشرافو سره پیژندګلوي او تګ راتګ پیل شو او د ۱۸۸۹ م. کال د نوامبر په میاشت کې یې ادبي دیپلوم ترلاسه کړ. د ۱۸۸۹ م. کال په نوامبر کې د پروست د خدمت دوره پیل او د سرتیرې په توګه دغې دورې ته شامل شو او بیا یې په همدې کال د پاریس د حقوقو په پوهنځي کې نوم ولیک او په ۱۸۹۱ م. کې یې د حقوقو پوهنځي تر څنګ د سیاسي علومو پوهنځي په لوستنو کې هم ګډون کاو. په همدې کال د ژیلبر سوان له یوې بلې الګو (ژان پوکه) سره آشنا شو. په ۱۸۹۲ م. کال کې د پروست پوره ادبي فعالیتونه پیل شول او د Banquet له خپرونې سره یې کار پیل کړ. په دغه خپرونه کې یې پینځلس مقالې خپرې شوې وروسته بیا همدا مقالې د خوښیو او بیا دوباره ورځو په کتاب کې خپرې شوې. له اشرافو سره په ناسته ولاړه کې له کنتس لور دوشینه (د دوشس دوګرمانت) سره آشناشو. په ۱۸۹۳ م. کال کې یې له (کنت اوبر دومونتسکیو) سره وپیژندل چې دا مهال یې (د بې اعتنا) رُمان ولیک. د همدې کال د اکتوبر په لسمه نیټه یې په حقوقو کې لسانس ترلاسه کړ. په ۱۸۹۴ م. کې یې د پاریس شاوخوا د فوبورسن ژرمن د اشرافو مجلسونو او میلمستیاوو ته تګ راتګ پیل شو او د سوربن په پوهنتون کې یې په ادبیاتو کې له دارلو سره لوست پیل کړ او په دې څانګه کې یې هم لسانس ترلاسه کړ. په همدې کال کې یې د مانسه له زده کوونکې ونزویلایي ځوان او موسیقی پوه (وینالدوهان) سره آشنایي وشوه. په ۱۸۹۵ م. کې یې د ادبیاتو لسانس واخیست او دې پسې په پاریس کې د مازاران په کتابتون کې د کتابتون د مدیر د مرستیال په توګه د کار موندنې مسابقه کې ګډون وکړ او بریالی شو. له ادبي خپرونو سره یې خپلې همکارۍ ته دوام ورکړ. په ۱۸۹۶ م. کال کې یې د معاصر ژوند په خپرونه کې د بې اعتنایي رُمان چاپ شو، د همدې کال د جنورۍ په دیارلسمه یې د خوښیو د ورځو په نوم کتاب خپور شو. د دغه کتاب سریزه آناتول فرانس لیکلې وه او انځورګر یې ماولن لومر و. په ۱۸۸۹ م. کې یې د انګریز هنر پیژندونکي جان راسکین له آثارو سره مینه پیدا شوه په همدې کال یې د د تورات ژباړه پیل کړه. په ۱۹۰۰ م. کال کې د مازاران کتابتون له کار څخه ووایستل شو چې بیا یې په ۱۹۰۲ م. کې د تورات ژباړه پای ته ورسوله چې په ۱۹۰۴ م. کې ژباړلې تورات خپور شو. په ۱۹۰۳ م. کې یې د فیګارو ورځپاڼې ته د پاریس د سالونونو په اړه مقالې ولیکلې ، دا وخت د ناروغې له امله په روغتون کې بستري شو. په ۱۹۰۶ م. کې د هوسمن په بولوار کې میشت شواو په ۱۹۰۸ کې یې د لټون د اثر لیکل پیل کړل. په ۱۹۰۹ م. کې یې ګرځېدل راګرځېدل پرېښودل او لیکنو ته په پرلپسې ډول کښیناست چې د (عشق سوان) اثر یې همدا مهال بشپړ کړ. په ۱۹۱۲ م. کې یې د (لټون) د اثر ځینې برخې د فیګارو ورځپاڼه کې نشر شوې. وروسته تر ډیرو هلو ځلو څخه یې د ورک شوي مهال په لټون رومان په دریو ټوکونو کې چاپ کړ. په ۱۹۱۶ کې مارسلی پروست له (برنارګراسه) خپرندویه موسسې څخه ووت او د خپل اثر د دوهم ټوک د خپرولو حق یې ګالیار خپرندویه موسسې ته ورکړ. په ۱۹۱۸م. کې یې د ژاک امیل بلانس د لیکنې لپاره سریزه ولیکله، په جنورۍ کې یې (د پیغلو سیورۍ) او د Pastiches et Melamges د مقالو ټولګه خپره شوه چې د نوامبر په میاشت کې یې دغه اثر ادبي جایزه وګټله او د ده نوم یې په ټولو وپېژاند او نامتو لیکوال شو. د پروست لیکنې د ځینو اړخونو له پلوه د اروپوهنې تومنه لري چې د لیکوال د دوران او ټولنیز وضعیت اغیز وربانديې ښکاري. د ده د کتابونو پینځم او شپږم

ټوک د (دګارمانتانو د تيريدو لاره) نومېږي چې د طبقاتو په ټړاو معلومات لري. د کتابونو نهم ټوک يې د يوه نارېينه بېرحمانه مينه توصيف کوي. دغه نارينه ځواکمن، واک غوښتونکی، خود خواه او دمدمي مزاجه دی چې په اثر کې په همدغو صفتونو ښودل شوی دی، نهم او لسم ټوک پخوانيو وختونو ته ورګرځي او مارسل غوښتي چې هغه نړۍ يې چې په نهم ټوک کې نړولې ده، بېرته يې ودانه کړي چې په يوولسم ټوک سره دغه لوی شهکار پای ته رسېږي. هغه ټولنه چې پروست انځور کړې ده، داسې يوه ټولنه ده چې اشراف او منځنۍ طبقه وګړي په هغې کې ژوند کوي. د منځنۍ طبقې وګړي د انقلاب له وخته د اشرافو په کچه هوسا او ښه ژوند لري. همدغه ټولنيز علت و چې پروست هغوی له روحي پلوه وڅېړل. په دې نړۍ کې تر ټولو اعتباري قانون هغه دی چې پروست خپل (د پيغلو سيوری) کتاب کې ښودلی دی. پروست دغه قانون ته د کالېدو سکوپ ټولنه نوم ورکړی چې د دوامداره تحول او بدلون قانون دی يعنې هيڅ شی ثابت نه دی او د وخت په تېرېدو سره د نن ورځې ټول اټکلونه له منځه ځي او نوي قضاوتونه د هغو ځای نيسي.

ګابرېل ګارسيا مارکيز: د کولمبيا ادبياتو، په تيره داستاني ادب نړيوال نوم ګڼلی دی. ګابرېل مارکېز د کولمبيا له مخکښو ناول ليکوالانو څخه دی. د داستاني ادبياتو کره کتونکي او څېړونکي د کولمبيا داستاني ادبيات او په ځانګړې توګه د ګارسيا مارکيز رومانونه د کولمبيا د ادبياتو تر ټولو مهم نړيوال استازی ګڼي. د هغه ناولونه د تاريخ، سياسي شخړو، فردي حافظې او ټولنيزو بدلونونو موضوعات څېړي (سل کاله يوازيتوب) يې له مهمو اثارو څخه دی. د کولمبيا ادبيات او له هغې ډلې د مارکيز داستانی ادبيات او اثار د نړۍ ګڼو ژبو ته ژباړل شوي او په نړيوالو ادبي محافلو کې يې پراخ شهرت موندلی دی. د هغه د فکري ژوروالي او ادبي کچې له امله د نوبل د جايزې وړونکی شو. د دغه هېواد داستاني ادب نه يواځې دا چې د ريالېزم، بلکې د جادويی ريالېزم او فوتو ريزم بېلګې دي.
د داستانی ادبياتو د پورته بېلګو او ليکوالو د ژوند ليکونو څخه جوته شوه چې داستاني ادب پوره تجربې، پراخه نړۍ ليد، آفاقي مطالعې، روانپوهنې، رياضت او ښکلاپېژندنې سره آشنايي او د قلم او ليکوالي مهارت ته اړتيا لري.
مسعود: ستاسو په اند د نړيوال داستاني ادب د ښه پېژندلو، څېړنو او ارزونو لپاره کومو مهمو پراووتو او د کومو نومياليو، پېژندل شويو ستو مهمو او اغېزناکو نښيرونو(آثارو) ته بايد ځانګړې پاملرنه وشي؟

استاد دوديال: نړيوال داستاني ادبيات دبشريت لويه خزانه ده. په تېره بيا له کلاسيک دور وروسته کله چې رومانتيکي ناولونه او رومانونه وليکل شول، دغو ټولو کې د طبيعت د ښکلا ستاينه، آزادي، نياو، انساني لوی آرمانونه او د علمي لاسته راوړنو انځورول له ورايه ښکارېدل، دغو ادبياتو د منځنيو پېړيو توري دورې ته د پای ټکی کېښود او روښانتيا او رونټيا يې راوستله. د اتلسمې پېړۍ د داستاني ادبياتو ايجادګر، نه يواځې دا چې ادېبان وو، بلکې زياترو فلسفي افکار لرل، له اروا‌پوهنې او ښکلا پېژندنې خبر وو، بشري حقونو، سولې، تساند او زغم ته ژمن وو او په تاريخ، سياست، اقتصادي او ټولنيزو مناسباتو پوهېدل. د دوی آثارو کې سايکالوژيک مسايل او د انسان د اروا تحليل له ورايه ښکاري. دا چې پوښتنه مو کړې ده چې د کومو نومياليو، پېژندل شويو ستو مهمو او اغېزناکو نښيرونو(آثارو) ته بايد ځانګړې پاملرنه وشي، يو څو بېلګې به يادې کړو: پوشکين، آرنست همينګوی، هوګو او تولستوی هغه ليکوال دي چې ټوله نړۍ ورته درناوی لري. د دوی آثار افغانستان کې په دری/پارسي او ځينې په پښتو ژبه شته. د آرنست همينګوی بوډا او سمندر پنځوس کاله پخوا امين افغانپور پښتو کړی و، د تولستوی جنګ اوسوله پېنځلس کاله مخکې لطيف بهاند پښتو کړ، دغسې اناکارنينا او بيا د ګورکي، هوګو او چيخوف آثار...، دې سره يو څو نور د ګوتو په شمار ژباړل شوي ناولونه لرو، موخه مې دا ده چې د نړۍ لوی ادبي شهکارونه مورِ خپلو ژبو ته ندي ژباړلي، يا مو د ګوتو په شمار ژباړلي دي. له بلې خوا زمورِ خپلو ژبو باندې ليکل شوي ناولونه هم کم دي. په کار ده چې د خپلو ليکوالو اوپه خپلو ژبو د ليکل شوېو ناولونو خېړېدا ته پام وشي او د جين آير کتاب چې د

شارلوت برومته په نوم دی، د موبی دیک ناول، د ګابریل ګارسیا ناولونه، د تولستوی جنګ اوسوله او اناکارنینا(ژباړونکی ل. بهاند)، د زانو وختي راتګ، ژوبن(ژباړونکی میرزاعلم حمیدی)د غاښی ډزه(ژباړونکی زیور) او داسي نور آثار ولولو. تر ډیره پوري افغانستان کی د ایراني ژباړونکو او خپرندویانو له خوا ژباړل شوي داستاني نښپرونه لرو، خو پښتو ته په معیاري ژبه ژباړل شوي نړیوال ادبیات بیخي لږ دي. له نیکه مرغه اوس بریښنایي تکنالوژي دي برخه کي ډیرې آسانتیاوې برابرې کړي دي چې د نړۍ نامتو داستاني آثار ولولو. د دې مانا دا نه ده چې موږ د خپلو لیکوالو آثار او کتابونه هېر کړو، دا هم لویه خبره ده چې په پښتو ژبه لیکل شوي ناولونه ، لنډې کیسې او رمانونه ولولو او تر بهرنیو آثارو مخکې، لومړی د خپلو لیکوالو آثار وپیژنو. خو واقعیت دا دی چې ډېر کم خلک مو نصیر احمد احمدي پیژني ، د شپون، زریاب، خیبري او نو رو درنو لیکوالو ډېر خواږه او ښه نالونه شاید دېرکمو کسانو لوستي وي. علت دا دی زموږ زیات شمېرخلک متاسفانه کتاب نه لولي، ادبي او هنرې ذوق نه لري، د سواد کچه یې ټیټه او مطالعې سره عادت نه دي. دې برخه کې موږ لازم کار نه دی کړی.

موږ او زموږ همزولو په کاغذی ښه چاپ ناولونه لوستل؛ هغه به مو هم په ډېرو ستونزو موندل، ځینې به مو امانت رااخیستل. د الیکین رنا او د مني او ژمي پیتاوي ته به مو لوستل، نوځکه به یې خوند زیات و. اروپا کې خلک ناولونه د سفر پرمهال ترن کې لولي هم یې د سفر ستوماني هېره شي او هم د مطالعې خوند ډېر زیات وي. زموږ ځوان کول نه لکه زموږ د دوران په شان مطالعې سره مینه لري او نه لکه د نورې نړۍ د خلکو په شان داستاني ادبیات پیژني. په همدې خاطر مطالعې سره روږدي نه دي، آفاقی معلومات یې کم، د لغاتو دایره یې محدوده، سوچ او تفکر یې منزوي، د استدلال قوت یې پخ، له تجربو بی برخي او مهارتونو کې بې نوښته او بېخونده دي. باید له دې حالته راووځو.

مسعود: تاسو د داستاني ادبیاتو منځپانګه، موضوع، اصلي مفکوره، پیغام، ادبي او هنري ارزښت څه ډول ارزوئ؟

استاد دودیال: دا سمه ده چې ادبي آثارو کې تخیل، ایماژونه، مینه او ښکلا ستاینه وي، خو نه هېروو چې زیاتره ادبي آثار روزنیز، هڅوونکي، معلوماتي، تاریخي او ساینسي اړخ لري، ذهني او فکري تمرکز زیاتوي، عواطف ویښ ساتي او امید او اراده بخښونکي هم دي. داستاني ادبي ژانرونه؛ له شفاهي روایاتو، تر فولکلوریکو نکلونو او بیا تر معاصرو تخلیقاتو پورې د پند او عبرت، د انساني عالي افکارو، تجربو او مبارزاتي روحیې لرونکي دي. د پښتو معاصرو داستاني ادبیاتو یو اړخ ژمنیتا ده. د پښتو داستاني ادبیاتو هنري ارزښت اوچت دی. کېدای شي، د څومره والي له پلوه به زموږ د داستاني ادبیاتو د کتابونو او لیکوالو شمېر کم وي، خو د هنریت او څرنګوالي له پلوه ارزښتمن دي.

مسعود: کیسه، رومان او ناول مو روښانه کړ، خو زیات خلک، په تېره بیا عوام د تاریخ لوستونو او بحثونو ته هم دکیسې په سترګه ګوري، آن یو شمیر پوه خلک خاطرات لیکل، واقعه نګاري(پېښلیک) او آن نوستالیژې هم (کیسه او داستان)بولي ! نو مخکې تر دې چې د داستاني ادبیاتو په اړه بحث دوام وموميږ، ښه به وي که تاسو لومړی د تاریخ، پېښلیک، ژوندلیک، خاطره او ورسره نوستالیژې په ټراو خپل مالومات راسره شریک کړئ. د دغو برخو پېژندنه په زړه پورې ده.

استاد دودیال : داستاني ادبیات مو په پیل کې تعریف کړل، خو دغه پورته څلور- پینځه مفاهیم چې داستاني ژانرونه(ځېلونه) نه دي، خو پوهېدل وربانده ضرور او په زړه پورې دي، په کار ده چې ویې ویژنو:

تاریخ یو نا داستانی اثر دی چې پخوانۍ پېښې ثبت، تشریح او راته تفسیر کوي. تاریخ کې تخیُل او د لیکوال عواطفو ته ځای نشته، بلکې د سرچینې، لاسوندونو، عینی شواهدو، ځایونو، نېټې او د عواملو، علتونو اوپایلو په ښودلو مستندات دي.

په بله وینا: تاریخ هغه مستند، زموږ له ذهني نړۍ بهر(تېر واقعات) او په شواهدو متکي علم دی چې ګڼ شمېر سرچینې، د تېر وخت د پېښو د بیان د سپیناوي لپاره کاروي. تاریخ ښکلا نه توصیفوي، نه هم ښکلا ایجادوي، عواطف هم نه تلطیفوي. نه هیروو چې کېدای شي یو لیکوال یوه تاریخي پېښه د خپل

داستان یا ناول سوژه کړي او وربانديِ داستاني اثر وليکي، دې ته (تاريخي ناول) يا (تاريخي لنډه کيسه)ويل کيږي. دا ډول ناول او کيسه تاريخ نه دی، بلکې موضوع يې يوه تاريخي پېښه ده. د اروابناد غوث خيبري دري ناولونه، تاريخي او ډېر ښکلي ناولونه دي. د اروابناد اکرم عثمان (کوچه ما) هم همدې ته ورته کتاب دی. د زرياب (آوازی از ميان قرنها)، د مصطفی جهاد (د تخت غمی) او د احمدي (نيکه) او يو بل نوي ناول (ګوندې بيا به ښې ورځې راشي) هم تاريخي ناولونه دي، خو دا يو هم تاريخ نه دی. تاريخ هغه دی چې پورته مو تعريف کړ.
پېښليک په مقطعی ډول د يوې يا څو ځانګړو پېښو ثبت او ليکل دي، چې موخه ورځخه تاريخ، داستان يا خاطره نه، بلکې د يوې پېښې بيانول دي.
خاطره: زمونږ په حافظه کې د يوې شخصي مهمې ، خوږې، ترخې، استثنايي، ښکلې يا خواشينی کوونکې پېښې کلک ضبط او ثبت چې ځانګړو حالاتو کې رايادې شي. د هرچا خاطره د هغه خپل خصوصي ژوند پورې اړه لري. ټول ليکل شوي آثار وروسته تر نشر د ټول ملت او ژبې شتمنی او ملکيت ګرځي، له خپل ليکوال څخه د جلا معنوي ارزښت حيثيت پيدا کوي، دکاپی رايت حق لاندې راځي. خاطراتو ته د تېر وخت منظرو، بڼونو او چمنونو ته سفر کول هم وايي، چې ليکوال يا د خاطرې بيانوونکی يې په ذهني ډول ترسره کوي. آن دا چې د دې بڼ او چمن اغزي هم ورته ښکلي او خاطره ليکونکي ته خوږه وي! کيدای شي خاطره ليکل لکه يونليک، ناول او رومان ليکل يو ادبي ژانر پورې اوچت شوي وي، خو داستاني ادب نه دی، آن هغه د لاشعور ژورو ته لويدلي انځورونه چې په ځانګړي حالت کې د يوې قريني په ليدو رايادېږي او د شعور او حافظې سطحې ته راشي، خاطره ده. ځيني وخت خاطرات لکه کمياب او انتيک قيمتي لرغوني اجناس، تاريخي ارزښت پيدا کوي، خو کيسه ييز ځېلونه نه دي. يونليک هم داستاني ادب نه دی. يونليک د لارې د مزل کټ مټ بيان دی چې تخيل، ښکلا ستاينه، منظره کښل او ادبي صنايع پکې نه وي.
د خاطره او يونليک ليکلو ترڅنګ اوتوبيوګرافي (ژوند ليک ليکل) هم بهرنيو هېوادو کې د ليکوالی يو شخصي احوالو پورې اړوند، ناهنري بيان کې حسابيږي. بيوګرافي ليکنه کې يو څوک د خپل ژوند، ليدلي حالات، خپل نوښتونه او هڅې او شخصي ژوند کې مهمې پېښې راغونډوي .، خو دا هم لنډه کيسه، ناول يا رومان نشي کېدای.
نوستالېژي (nostalgia) هم کيسه، داستان يا ناول او رومان نه دی، بلکه دا د تېر دوران، د خپل کلي، ښوونځی، پلرني کور، پخواني دوران، د وطن او پخوانيو دوستانو د يادون يو غمجن- خوندور احساس دی چې پخواني وختونه، د هغه مهال چاپېريال، د هغه وخت مشران، کشران، دود-دستور او يادونه تازه کوي، له حسرت، ارمانونو، او مينې سره يوځای وي. خاطرات که د پند، عبرت او تاريخی پېښو د فهم په موخه وي، نوستالېژي بيا د تېرمهال غمجن عاطفي احساس او زياتره ويارونه، بريالېتوبونه او ولولې رانغاړي. ليکوالان؛ په تېره بيا د داستاني ادب ليکوال او مينه وال ټول عاطفي خلک او د نازک احساس لرونکي دي، د دوې عاطفي حافظه (emotional memory) نظر نورو خلکو ته ډېره فعاله او دوی ته دا انګيزه ورکوي چې د نيکيو، لطف او مهربانيو او ښکلاوو مننډوی او احسانمند اوسي، خو له تاوتريخوالي، ناځواني، بديو او دوکې ځانته د ګيلو او شکايت حق هم ورکوي.
مهمه دا ده چې خاطره ليکل، بيوګرافي ليکل، تاريخ، پېښليک او يونليک هم د ليکلو مهارت او پياوړی قلم غواړي. په دې کې ادبي صنايع، تخيل، هنريت، منظرکشی او ښکلا ايجادول او ښکلا ستايل حتمي شرطونه نه دي.
تاريخ د ځيرنې اصولو او ميتودولوژی ته اړ دی، خو خاطرات، يونليک، نوستالېژي او پېښليک کوم ټاکلی چوکاټ او ميتود نه لري، داستاني ادبيات خپل ځانګړی فني- تخنيکي ځانګړنې او اوصاف لري، چې ليکنه کې رعايت نشي، هغه ليکنه نه داستان دی، نه ادب، نه تخليق او نه به ښکلا ولري او نه هنريت. په دې توګه هر تاريخ ليکوال او خاطره ليکونکی داستان ليکونکی نه دی، اما هغه ليکوال چې ممارست لري، د ليکوالی رياضت يې ګاللی وي، داستاني ادبياتو باندې پوهه ولري، ممکن ډېره ښه خاطره، نوستاليژی، يونليک او پېښليک وليکلای شي.

یو بل ډول هنري نثر هم لرو، چې هغې ته ادبي ټوټه وایو. دا ډول هنري نثر د ایماژونو او منظرو، ادبي ښکلا، خوږو احساساتو، ځانګړي کیفیت او د اغیزمن کولو ظرفیت او لنډ پیغام لري، خو نه لنډه کیسه ده نه کوم بل داستاني اثر. دا ژانر یووخت فرانسه کې دود شو، یو شمېر نورو هېوادو او افغانستان کې هم مطبوعاتو کې را ښکاره شو، خو اوس ډېر نه لیدل کیږي. ډرامه هم په حقیت کې کیسه ده، خو د لنډې کیسې، ناول او رمان سره توپیر لري. مورږ دلته تر ډېره لنډه کیسه، ناول او رُمان باندې خبرې کوو.

مسعود: ستاسو په اند، د داستاني ادبیاتو د ښه جوړښت او اغیزناک ادبي او هنري بیان لپاره یو لیکوال باید له کومو ښېلابېلو مهمو ادبي او هنري لارو چارو او وسایلو ځخه کار واخلي؟

استاد دودیال: له نولسمې پیړۍ را دېخوا ناول لیکنې ګړندی پرمختګ وکړ، د کمیت او کیفیت له پلوه لوړ برید ته ورسیدل. ناول خلکو ډېر خوښ کړ. په تېره بیا اوس امریکا او اروپا کې د لیکوالانو زیات تمرکز په ناول او لنډې کېسې لیکلو دی، خو دا هسې یو(شوق) نه دی، دا مطالعه ده، تجربه ده، د خلکو، چلندونو، خبرو، غوښتنو او کړنو-غبرګونونو لیدل ، ارزول او تجزیه او تجربه کول دي، د ښکلا پنځول لنډه دا، چې دا یو ریاضت ده. داستاني ادبیات د ادبي ژانرونو ښکلی، جذاب،خو پیچلی او له رازونو او رموزونو ډک فورم دی.داستاني آثار هریو خپل جوړښت، عناصر او اوډون لري. که د اثر(لنډې کیسې، ناول او رومان) موضوع او سوژه (تاریخي، واقعیتي، فکري، اخلاقي، رومانتیکي/ د مینې، پولیسي، ټولنیز، جاسوسي، سیاسي، ساینسي، ارواپي یا سایکولوجیکال) وي او که ځومره هم یو بل سره توپیر لرونکي وي، خو د داستاني اثر عناصر او فني تخنیک باید یې رعایت شي. لږ مخکې مو د نړۍ نامتو ناولونه او دهغو لیکوال وښودل، د دوې ناولونه ښېلابېلو سبکونو او بیلابیلو موضوعاتو کې وو، خو هنریت او تخنیک په ټولو کې وو. د داستانی اثر جوړښت ممارست او تجربه غواړي، باید د لویو لیکوالو آثار مو لوستي وي، کرکټر موپیژندلی وي او د هغه ځای ورک نه کړو، دیالوګ د چاپېریال سره برابر وي او پېښه معقولیت ولري:

یو ښه ناول، رُمان یا لنډه کېسه کې طرح(پلاټ)، کرکټرونه، پیغام، خبرې اترې(دیالوګ)، منظر کشي(ایمژونه)، غوټه پرانیستل، تلوسه او احساس له مهمو ځانګړنو ځخه دي. همدا د داستاني اثر عناصر دي. نوښت لرونکی لیکوال باید په ښه پیل او پای، د داستاني اثر د بیانولو په ادبي- داستاني ځانګړې ژبې، هنریت، د نویو ترکیبونو او اصطلاحاتو په راوړلو، له کلیشه یې او تکراري خبرو ډډه وکړي، د مانا لرونکو لنډو جملو په راوړلو، په اړوند ځایونو او د اړتیا له مخې د شعر، متلونو او یا لنډیو په راوړلو کېسه نوره هم ښکلې کېدای شي.

مسعود: داستاني ادبیات یوازې د پېښو بیان نه دی؛ ژبه او سبک هغه څه دي چې ساده پېښه په ادبي او هنري نښیر(اثر) بدلوي.تاسو په داستاني ادبیاتو کې د ژبې او ادبي سبک مهمې ځانګړتیاوې او اغیزناک ادبي او هنري ارزښت څه ډول ارزوئ؟

استاد دودیال: ښه خبره مو وکړه. داستاني اثر یواځې د پېښې بیان نه دی، بلکې د بیان د طرز ژبه هم مهمه ده. بریالی لیکوال د ژوند مسایل او تجربې په هنرمندانه ژبه او روان عاطفي نثر بیانوي، دغه ډول نثر ژبې ته ښکلا ورکوي، ژبه صیقل کوي او د ژبې وړتیا اوچتوي. دا چې ځینې ژبې اوچت ظرفیت نه لري، صیقل شوي نه دي، علت یې همدا دی چې نثر ته یې کار نه دی شوی. پښتو نثر کې په دې برخه کې تر ټولو مخکې د روانښاد اُلفت نوم مخې ته راځي. که (غوره نثرونه) پرانیزو، په لوستلو به یې زمور تنده ماته نشي، په همدې خاطر نن د هرچا کور کې د الفت کتابونه شته. پښتو داستاني آثارو کې د شپون، افغانپور، مهدي شاه او عصمت قانع نثر او سبک خلک خوښوي، دري/پارسي داستاني ادب کې د داکتر اکرم عثمان، ره نورد زریاب، ببرک ارغند، اسدالله حبیب سبک او لیکنه ډېره خوږه ده. دا چې زمور ژبه یوځه (زیږه) پاتې ده او د بیان، لغاتو، ایماژونو، تشریح او قلم چلولو وربوي راته لنډ-تنګ ښکاري، علت یې دا دی چې مور همدې ټکي ته پام نه دی کړی. داستاني ادبیات هغه وخت دا خوند او صفت پیدا کوي چې ولس ته مراجعه وکړو، د خلکو خبرې د همدوی په ژبه واورو، دوی ته غوږ ونیسو ، د ښکلو لغاتو، بیان، د جملاتو د سکښت زیرمه ومومو، مطالعه وکړو او کتاب ولولو. د شپون د داستاني آثارو خوند او پایښت همدې کې و چې له ولس ځخه یې زده کړه کړې وه. عوام او د

دوی ژبه زمور ترټولو لویه ټومنه، مرجع او پانګه ده. روسان وایي پوشکین زمور ژبه بډایه، خوږه، آسانه، نړیواله او د پوهاوي او لیک وړ کړه. دا ریښتیا ده. د پوشکین خدمت ادبیاتو ته نه هیریدونکی دی، مور پوشکین او د هغه د داستاني آثارو په شان آثارو ته اړ یاستو.
دا چې د یوه ښه او اغیزناک ناول د ځانګړنو پوښتنه مو کړې ده، په لنډه توګه به د یوه ناول د جوړوونکو عناصرو پېژندنه وکړو. کله چې دا ټول عناصر موجود او په روانه- خوږه ژبه یې سکښت موندلی وي او د ناول ټوله کیسه بیان کړي، نو خوند او صفت پیدا کوی. دا عناصر به دلته یو یو ووایو:
۱.**د ناول کیسه او د هغې طرح او پلاټ** : دا د ناول بنسټ دی . کیسه باید زړه راکښونکې وي. کیسه کې پېښې او واقعات یو بل پسې راځي. اوس داسې ناولونه هم لیکل کیږي چې کیسه یې ځرګنده نه وي، خو ناول داسې روان وي چې لوستونکی نه په ځان خبر وي، نه په شاوخوا . ناول په جادویي ژبه لیکل شوی او پای مومي، دا نو جلا هنر دی، لکه د ګوګول مشهور ناولDead Soul کې اصلاً دکیسې ستون فقرات نشته. دا نو نوښتونه دي. ځینې کیسې له منځ ځخه پیل کیږي، ځینې پېښې مخکې وخت ته ورګرځي، نورې وروسته راځي.
۲. **ناول کې د پېښو معقول او منطقی اړیکې**: د پېښو جوړښت او یو بل پسې یې داسې راوستل چې یوه پېښه د بلې منطقی زیږنده وي. دا د ناول سیکم جوړوي. شرط دا دی چې د پېښو خام مواد ښه پاخه شي. یو شمېر امریکایی ناول لیکوالو دا مسئله مهمه نده بللی.
۳. **کرکتر یا کرترونه**: د ناول کرکتر او کرکترونه یا اصلی او فرعی اشخاص چې کیسه پر مخ بیایي او پکې لوبیږي، باید هنرمندانه ولوبول شي. په ناول کې مور په خپله د کرکتر له کړو-وړو، خبرو- اترو هغه پېژنو . د کرکترونو انځور شوې ځیره ، د دوی حرکات او سکنات را پېژني. د اروایي شننې ناولونو کې د کرکترنو یا اشخاصو په ځای انساني احساسات، عواطف، جذبات، نفسیات او د هغۀ د اندرون د دنیا ولولې او انفُسونه خوځنده وي. ځینو ناولونو کې د انسان په ځای ژوي د کرکتر یا شخصیتونو رول لوبوي.
۴.**دیالوګونه:** ښه او هنرمندانه دیالوګ د داستاني ادب موتور دی. د کرکترونو ترمنځ خبرې- اترې د ناول د پېښو د پرمختګ او د کرکترونو او د چاپېریال پېژندنه کوي، د پېښو د لاملونو په پوهېدنه کې هم اهمیت لري. د دیالوګ له مخې د کرکترونو اجتماعی موقف، پوهه، رواني اوصاف او ډېر نور خصلتونه پېژندلای شو.
۵. تلوسه: د لوستونکي او اوریدونکي ټول فکر او پام د کیسې دوام ته او د پېښو په کشمکش سره د لوستونکي د تندې ایجادول یو بل هنر دی. ښه suspense لوستونکی/ اورېدونکي ته د پوښتنو د پیدا کیدو حیرانتیا، تلوسې او ډېر ژر د ناول په پای باندې د خبرېدو بېړه رامنځته کوي او لوستونکی/ اوریدونکی لازیات تمرکز کوي چې کیسې ته دوام ورکړل شي. مهارت دی کې دی چې لیکوال دا حیرانتیاوې ، د ناول د پای لپاره اندېښنه او سودا د شک او د حیرت فضا تر اخره همداسې تلوسه پاروونکي وساتي.
۶. ایماژونه: د چاپېریال انځورول او منظر کشي او د ښکلو کلماتو او الفاظو او د خیال په قوت ښکلا ترسیمول او تخلیق کول ناول کې لوی هنر دی.
۷. **ارزښتونه پېژندل او د ژوند فلسفه**: معاصر ژوند ډېرې ځانګړنې او انساني غوښتنې او اړیتاوې یوبل سره توپیر لري. مازلو د انسان اړتیاوې په یو هیرارشي کې ښودلي دي، هغو کې د فزیالوجیکي اړتیاوو تر څنګ نورې اړتیاوې هم شته، یعنی مالي اړتیاوې، دوستان، ټولنیز حیثیت او موقف، د ژوند فلسفه او نور چې کرکتر او آن په خپله لوستونکي د هغو د پوره کېدو آرمان او تنده لري، دا ورته د ژوند د یوې مسئلې یا ډېرو مسئلو ښۀ او بد اړخونه او د هغو عوامل او پایلې را مخته کوي. دغې ته د ژوند فلسفه وایي.
دغه پورته ذکر شوي عناصر نه یواځې ناول کې، بلکې په ټولو داستاني آثارو کې مهم دي. لنډه دا چې ناول او نورو داستاني ځېلونو کې نور ټکي ژبه او د بیان طرز چې تاسو ورته اشاره کړې، د

احساساتو او ولولو راپارول، عجيبه او استثنايي پيښې، او په پای کې اوج او غوټه پرانيستل دا ټولې ځانګړتياوې او اغېزناک ادبي او هنري ارزښت لري چې تاسو يې پوښتنه کړې ده.
مسعود: ادبي صنايع هغه هنري او مهمې لارې دي چې ليکوال پرې خپله ژبه ښکلي، اغېزناکه او هنري کوي. په ادبي داستانونو کې ډېرې کارېدونکي ادبي صنايع دا دي: تشبيه، استعاره، کنايه، مبالغه، تشخيص، تکرار، تضاد او انځورګري. ښه به وي که تاسو د دغو ادبي صنايعو او د دوی د مهمو ځانګړتياوو په ټراو رڼا واچوئ.
استاد دوديال: ادبيات په ادبي صنايعو له عادي وينا توپير مومي. هر ادبي صنعت د ادبي اثر د ودانۍ د خښتې حيثيت لري. لکه هغسې چې ادبي صنايع په شعر کې پېژندل شوي دي، په داستاني ځېلونو کې هم مهمې دي. که د شپون داستاني ليکنې وګورو، سراسر يې ادبي صنايع، په تيره تشبه، استعاره او کنايه کارولې ده. دا صنايع آن زمونږ ولسي نکلونو او کيسو کې شته. د بيلګې په توګه د فرهاد او شيرينو نکل به رايادوو: فرهاد د شيرينو په سپارښت او د مينې د يو شرط په توګه فرهاد ته د غره د کيندلو وايي. فرهاد په تېشه يو کلک او لوی غر سوری کوي. البته داستان له پيل څخه ترپايه ډېر خوږ، د تلوسې لرونکی، له پېښو او ادبي صنايعو ډک دی، دا چې پای يې څومره تراژيد دی، دانو يو بل هنري کمال دی. دغه د غره سوري کول په تيشه مبالغه بريښي. په ډېرو ولسي کيسو کې د چالاک او دوکه مارو خلکو تشبه کول له ګيدړې سره ، د زوړرو خلکو تشبه له زموږ سره، همتناک خلک له ګربت سره او داسې نور تشبيهات وينو. معاصرو کيسه ييزو نښېرونو کې هم دا ټول ادبي صنايع وينو.
مسعود: تاسو د بشپړو داستاني ادبياتو د ادبي تحليل، تفسير، اکاديميک او علمي ارزوني او څېړني، علمي، ادبي او مسلکي کره کتنې او نقد په ټراو څه ليد لرئ؟
استاد دوديال: قضاوت او مُنصفانه حُکم کول ډېر درومند مسوولیت دی. يو عادل قاضي تل ځان تر فشار لاندې احساسوي، دا ځکه چې قضاوت کې د بېخبرۍ، بېړۍ، پلويتوب، ناځرګند حکم او پرېکړې څخه وېره کې وي. کره کتونکی قاضي نه دی، خو هغه څه چې کره کولو کې مخې ته ورځي، کټ مټ قضاوت کولو او رڼولو ته ورته دي. نو د داستاني ادبياتو او ادبي نښېرونو د کره کتنې مهم معيارونه دا دي:

- په پراخه نظر، منصفانه او په ناپېلي بڼه ارزونه: کره کتونکی بايد له شخصي تعصب، کينې، دوستۍ او دښمنۍ پرته، اثر د معيار او عدالت په تله وسنجوي.

- کره کتونکی بايد په ژبپوهنه، ادبي تيوري او هنري تلازماتو کې لوی لاس ولري او د آفاقي معلوماتو لرونکی اوسي. داستاني ادبياتو، ادبي سبکونو او په نامتو آثارو (ناول، رومان، لنډې کيسې) کې پوهه او بشپړه مطالعه لرل کره کتنه کې مهم دي. کره کتونکی بايد دا وړتيا ولري چې د يوه ښه ناول، رومان يا لنډې کيسې په فني اړخونو خبرې وکولای شي او خپلواک نظر و ليکلای شي،

- کره کتونکی بايد مخکې له نقد څخه اثر په پوره دقت او ژور ليد ولولي او د ليکوال په اصلي مفکوره ځان پوه کړي.

- کره کتونکی بايد فيلالوژيک صلاحيت او د ژبې د اسلوب ارزولو وس ولري: ښايسته او تشريح کوونکې غونډلې جوړل، د کلماتو انتخاب، د مناسب متن جوړښت، د بيان رواني او د ليکوال ځانګړی طرز بيان بايد وڅېړل شي. داستاني ادبيات د ديالوګونو، منظرکشي، روايت، د لوستونکی د احساس او عاطفې تخنولو، د تلوسې ايجاد او نورو هنرمندانه باريکيو سره سروکار لري چې دا د ژبې اسلوبو پورې اړه مومي، چې کره کتونکی بايد ورڅخه خبر وي.

- په اثر باندې د کره کيدونکي موضوعي احاطه: ښه کره کتونکی د داستاني اثر موضوع څېړي. هره موضوع او سوژه ځانګړې پېښې، ديالوګ، مناسب کرکټر او ژبه غواړي. کره کتونکی په دې غور کوي چې آيا ليکوال، له موضوع سره سم دغو ټولو اړخونو ته پاملرنه کړې ده که نه.

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندهٔ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»

- پرانيسيې علمي او عالمانه تګلاره لرل: کره کتنه بايد په پراخ نظر د احساساتي خبرو پر ځای پر منطق، دليل او د ادب پرمختللو اصولو باندې ولاړه وي. کره‌کتنه لوستونکي ته څرګندوي چې د اثر(نښې) اساسي فکر څه او څه ډول القا شوې دی، کومې هنري ځانګړتياوې شته او کومې هنری او ادبي ځانګړتياوې نشته، له کوم فلسفي او ادبي مکتب سره اړيکه لري او د خپل وخت په فکري او تولنيز بهير کې يې ځای څه دی. په دې توګه کره‌کتنه يو داستاني اثر نور هم اصلاح او ځلوي. د کره کتنې د برنامو او غونډو جوړلو د ليکوالانو او څېړونکو فکري افق پراخوي. هغوی کولای شي خپلې ادبي تجربې له يو بل سره شريکې کړي. د يوه داستاني ادبي اثر د کره کتنې د پورتنيو اصولو او قواعدو په پام کې نيولو سره به د لته ښه کره کتنه داسې را لنډه کړو:

که کره کتونکی د داستاني آثارو د کره کتنې پر وخت د يو ناول ښيګڼې وينې او هغه بيانوي، دې سره که څه نيمګړتيا هم ورته تر سترګو کيږي، نو دوهم ګام کې يې کمزوري او خام ټکي هم بايد په ډېر هنر او صميمی توګه سره بيان کړل شي، چې دا ناول د دغو خاميو درلودونکي دي. او هغه په دغو، دغو دلايلو سره . په درېيم ګام کی يې که د هغو د يادوو شوو نيمګړتياوو او خاميو د حل لاره وړاندې شي، غوړي لاغوړ. په کره کتنې کې بحث پر اثر متمرکز کول ضرور دي، نور مسايل لکه د ليکوال شخصي حريم، د هغه خصوصي ژوند او نور مسايل يادول او ورګډول ضرور نه دي. مانا دا چې، کره کتونکی بايد د ليکوال شخصي ژوند او حريم ته له ورننوتلو ډډه وکړي او يوازې پر خپله اثر (ناول، رمان، کيسه) تمرکز وکړي.

مسعود: ښه به وي که د داستاني ادبياتو او واقعي پېښو توپير راته په ګوته کړئ؟
استاد دوديال: ډېر خلک دا مني چې کيسه يو واقعي سرګذشت دی چې په هنري پيرايه او ادبي- تخيلي انداز سره ليکل شوی وي. زياتره په افسانو د واقعيت تر بريده باور کوي. دا هم د منلو ده چې ډېر داستاني آثار واقعي پېښې شوي دي، ډېر ناولونه د تاريخي پېښو پر بنسټ ليکل شوي دي، خو ليکوال په تخيل، ښکلي کولو، ادبي پيرايه، هنري پرداس، ادبی صنايعو او ايماژونو او د قلم په مهارت توصيف او ښکلي کړي دي. معمولاً عادي خلک واقعي پېښې هغسی بيانوي، لکه څنګه يې چې ليدلي دي، تاريخ ليکوال يې د تاريخي قضاوت، نيټو، اسناد او شواهدو ، دليل، پايلو، جغرافيايي موقعيت، دليل و مدلول، اثراتو او د عاملينو په ښودلو ثبتوي، خو يو داستاني اثر ممکن کاملاً تخيلی وي، يو بل ممکن په واقعي ډول پېښې شوې وي، خو ليکوال د خپل تخيل او هنر په ښکلا له سره پنځولی وي. عجيبه ده چې هيڅوک د لندې کيسې، ناول يا رومان د پېښو شواهد او اسناد نه غواړي، بلکې په خوند يې لولي او د داستاني اثر د ليکوال له قلم سره يو ځای په تلوسه او پارېدلو احساساتو او تنده روان وي(په دې شرط چې داستانی اثر ريښتيا هم ښکلی وي). البته د روميو او ژوليت، ليلا او مجنون، آدم او درخانی، يوسف زليخا او ډېر نور داستانونه تاريخ کې راغلي او واقعي ښودل شوي دي، خو مور د داستاني آثارو په توګه لوستي دي چې د ليکوال د قلم او تخيل په قوت ورته ښايسته ښه ورکړل شوي او د مطلق روايت څخه، د ادب په ګانه سمبال زمور مخې ته ايښي او دا ښه يې ډېره ښکلې، اغيزمنه او خوندوره ده.
مسعود: د داستاني نښېرونو(آثارو) په ليکنه کې سياست او مذهب، سياسي او مذهبي لاملونه يا فکتورونه د يوه داستان پر منځپانګه، سکالو، موضوع او مضمون څه اغېز لري؟
استاد دوديال: په زړه پوري پوښتنه ده. سياست، تاريخ او مذهب او دا دری لاملونه د داستاني آثارو د ليکلو په اراده او مقصد، د دغو آثارو پر منځپانګه او آن د هغو په موخه او ښه تاثير درلود او لري يې. له دې امله چې رومان او ناول نولسمه او شلمه پېړۍ کې د ليکلو د فن او تخنيک، د چاپ او نشر، د لوستونکو د شمېر او مينه والو له پلوه لوړ پراو ته ورسېدل، يو علت يې سياسي مسايل وو. ډېر سياستوال خپله د ناول ليکوال وو. ډېر ناولونه او رمانونه سياسي روزنې ته وقف شول. همداسې هم تاريخ سره يې اړيکه نه هيروو. اروښاد قتيل د کيسو د يو کتاب سريزه کې ليکلي و: (تاريخ په کيسو کې او کيسې په تاريخ کې دي). دا ډېره پخه خبره ده. سياست هم د تاريخ مهمه برخه ده.

سیاسي کیسه ییز ادبیات هغه دي چې هغو کې د داستاني کرکترونو بوختیا، ستونزه، دیالوګونه او آرمانونه سیاسي او د حاکمیت او قدرت په اړه وي. په دغه ډول نښېرونو کی د سیاسي ځواک مناسبات او د سیاسي اشخاصو فکر او آن دا چې په اشرافیت، حاکمیت او سیاسي رجالو نیوکې ځای شوي وي. په لویدیزه نړۍ کې لومړني داستاني اثار لکه " د سروانتس دون کیشوت" چې لومړنیو رومانونو کې شمېرل کیږي، د سیاسي فکر په لړلو لیکل شوی و. دغه اثار چې په سیاسي زړورتیا لیکل شوي، د اروپا د اوولسمې پیړۍ د فیوډالي اشرافیت زوال او د یوې نوې ټولنیزې طبقې را څرګندیدل او واک ته درسیدل بیانوي. دا ډول داستاني آثار او دا ډول سبک د ټولنیزو بدلونو سره تړلی وو. د ادبیاتو او سیاست او په داستانی ادب کې سیاسي انځورونه او آرمانونه، نوی بحث نه دی. په ټوله نړۍ کې یې لرغونتوب، د زاړه یونان دوران پورې رسیږي. آن د اپلاتون آثارو کې د سیاست څرک ښکاري. وروسته بیا نورو دورو کې هم یو شمېر لیکوالو لکه؛ ژان ژاک روسو؛ دواړه، یعنی هم سیاست او هم ادب پام کې نیولي وو. د روسو رُمان کې ټولنیز او سیاسي مسایل وو. ورپسې برتراند راسل او ژانپل سارتر، خپلو فلسفی او سیاسی - ټولنیزو عقایدو ته په پاملرنه ، نوي رُمانونه ولیکل، چې سیاسي اړخ یې درلود. دوی د خپل وخت سیاسي او ټولنیزې څېړې وې، چې د نوبل جایزې ګټونکی هم شول. که افغانستان کې د ادب او سیاست دشریک کېدو خبره کوو، هم پخوا وختونو ته ور ستنیږو. نوي دوران کې(له نیمې پیړۍ را دېخوا)؛ د پیرروښان، خوشحال بابا او نورو اثار په ښکاره سیاسي اړخ لري. له سل یو نیم سل کلونو را دیخوا د مشروطه غورځنګ او ویښ ځلمیانو لیکنې او ادبي آثار سم نیمایي سیاسي وو. د مهدي شاه مهدي لنډې کیسې له ورایه د سرخپوشانو او خدایي خدمتګارو سیاسی آرمانونه ځلوي، د اروښاد غوث خیبري کیسه ییز نښېرونه تاریخی - سیاسي دي، ...په دې توګه ګورو چې د انسان د ژوند یوه برخه سیاست دی، نو خامخا ادبیاتو او په تېره بیا داستاني ادب کې یې څرک له ورایه ښکاري.

د اروپا د ګړندیو سیاسي بدلونو په بهیر کې دا ډول لیکوال او سیاسي رُمانونه او ناولونه (د خلکو د فکري او معنوي لارښوونکو) په توګه وپېژندل شول. دغو سیاسي داستانو او ناولونو نه یواځې ټولنه بدله او خلک یې تنویر کړل، بلکې حاکمیتونه اوسیاسیون یې سمون ته اړ کړل، د بیداري او ټولنیز عدالت د ټینګښت برخه کې یې ژمنتیا ترسره کړه.

له ځلویښتمې لسیزی وروسته تر شپیتمو کلونو افغانستان، خصوصاً کابل کې د ناول او لنډو کیسو کتابونه او آثار لوستل زیات شول. هغه وخت او همدا اوس هم زیاتره ایراني کتابونه کابل ته راتلل او اوس هم شته . په هغو کې د علی اشرف درویشان «۱۸مه شمېره خونه » د رضا براهنی « زما د هیواد رازونه » یادولای شو. رضا براهنی افغانانو ته یو پېژندل شوی نوم و. په نوره نړۍ کې امیل زولا، برتولت برشت، جورج اورول، ماکسیم ګورکی، نیکوس کازانت زاکیس او جان اشتاینبک د سیاسی داستانونو نامتو لیکوال وو. افغانستان کې د ماکسیم ګورکي (مور) ناول او د جورج اورول (ژوبن) دېر لوستل شوي سیاسي ناولونه دي. نو نامتو رومانونه او ناولونه سیاسي دي لکه مور، ژوبن او نور. آن زمور هېواد کې د نور محمد تره کي داستاني آثار او ایران کې د بوف کور په شان آثار په ناسیده توګه سیاسي اړخ لري(سره له دې چې بوف کور روان تحلیلی هم دی). سیاستوالو خامخا ناولونه او رومانونه لوستل او اوس یې هم لولي. د امریکا د متحده ایالاتو له مخکني ولسمشر اوباما څخه وپوښتل شول چې ۲۰۲۶ م. کال کې مو تراوسه څو کتابونه لوستي؟ هغه وویل اته کتابونه، چې شپږ یې ناولونه وو. دېرو سیاستوالو خپلو ویناوو کې د نړیوال ادب د اتلانو او کرکترونو یادونه کړې ده. انګلیسي او روسي ادبیاتو کې زیات شمیر سیاسی ناولونه خپاره شوي دي، یو شمېر ترکي ناولونه هم سیاسي دي، آن د عزیزنسین یو څو طنزی داستانونه سیاسي دي او په عربي داستاني ادبیاتو کې به د نجیب محفوظ نوم واخلو، د بیلګې په توګه د ده په قلم د(بین القصرین) په نوم لیکل شوی ناول یو غوره نښېر دی چې د نړۍ په څو ژبو ژباړل شوی او دېرو هیوادو کې لوستل شوی دی. همداسې هم مذهبي آثار داستاني ادب سره اړیکه څه چې، بیخي داستاني ادب د مذهبي روایاتو او نصوصو سرچینه او الهام بخښونکی دی. د آسماني دریو نورو منسوخو کتابو(زبور، تورات او انجیل) څخه به تیر شو، همدا قصص القرآن به وګورو چې څومره لیکوالو ورڅخه سوژې اخیستي دي. له بلې خوا د داستانی اثارو

نثر د خپل اغيز له مخې د پام وړی دی، نو ځکه قران شريف کی ډېر د پند مسايل د قصو او داستان په بڼه راغلي دي لکه: د حضرت يوسف کيسه چې د ورونو د رخې له امله څاه ته وغورځول شو، د موسی او فرعون نکل يا کيسه چې موسی د بنی اسرائيلو د ژغورلو په خاطر د فرعون د ظلم په وړاندې پاڅون وکړ. دې کيسه کې د معجزی برخه يې په زړه پورې ده. د نوح(ع) نکل چې خپل قوم يې د نيکۍ لورې ته دعوت کړ، خو هغوی و نه منله، پايله کې صالح خلک وژغورل شول، ګمراهان اوبو کې ډوب شول. مصر ته د ابراهيم سفر ، د سارا کيسه او بيا د هاجرې کيسه، د ملکه سبا او د هغې د تخت کيسه او حضرت ايوب ته يې راتلل....دا کيسې ټولی دينې دي او د پند او عبرت دي. هندي ادب کې د حضرت محمد (ص) د حج الوداع کيسه، اروپايي داستاني ادبياتو کې د داود (ع) يا بی بی مريم حکايات، عبراني مذهبي آثارو کې نکلونه او عربي ادب؛ په ټېره بيا د نامتو کيسه ليکونکي توفق الحيکم د آثارو انګيزه او د الهام او سوژې سرچينه مذهبی سپېڅلي متون دي.

مسعود: د داستان، لنډې کيسې، ناول او رومان ترمنځ د پراخوالي، منځپانګې، موضوع، جوړښت، ټولنيز ارزښتونو، اخلاقي انځورونو، ادبي او هنري بيان له مخې مهم او بنسټيز توپيرونه څه دي؟

استاد دوديال: لنډ داستان يا لنډه کيسه لکه چې له نوم څخه يې ښکاري، لنډه داستاني ليکنه ده. ممکن يوه لنډه کيسه يواځې نيمه پاڼه او نهايتاً دوه - درې پاڼې وي. رومان بيا يو اوږد داستان دی چې سلګونه پاڼې کيږي.خو ناول تر رومانه لږ لنډ او تر لنډ داستان او منځنۍ کيسې زيات اوږد وي. د ناول څانګړنه دا ده چې په يوه نوي انداز له پېښو، وګړو او د دوی ژوند سره د حيرانونکو ټرلو مسايلو بڼه انځور وړاندې کوي.

داستان په دري ژبه کې يوه عامه اصطلاح ده، د يوه سرګذشت او پېښې بيان ته داستان وايي. له دې امله چې لنډه کيسه(داستان کوتاه)، ناول، رومان ټول همدا څانګړنه لري او په نثر سره ليکل کيږي، نو ځکه ورته داستاني ادبيات ويل کيږي. لنډه کيسه، ناول او رومان يوبل سره توپير لري:

لنډه کيسه يو نوی ادبي نثري ژانر دی، چې په لنډ وخت کې پر يوه واحده پېښه يا کرکټر راڅرخېږي. د لنډې کيسې تاريخچه له شفاهي نکلونو او پخوانيو کيسو څخه سرچينه اخلي، خو اوس څانګړي فني او ښکلاپوهنيز اصول لري. لنډه کيسه د ژوند د يوې څانګړې برخې، پېښې يا احساس هنري انځور دی. د دې لمن لنډه وي. لوستونکی يې په لنډ وخت (له دېرشو دقيقو تر دوو ساعتونو) کې لوستلی شي. اساسي څانګړتياوې يې لنډوالی، کم حجم او کرکتر/ کرکترونه او ديالوګ/ ديالوګونه پکې محدود وي او اضافي توضيحات نه لري.د پلاټ (جوړښت) له پلوه؛ پيل، منځ او پای لري. پېښې په کې په منطقي توګه سره تړلې وي. څانګړی کرکټر (شخصيت) ټاکلی مرکزي رول لوبوي.يو کوټلی او څانګړی تأثير پر لوستونکي پرېږدي. د لنډې کيسې ټولې پېښې په يوه مشخص ځای او وخت کې تر سره کيږي.

ناول/نوول دلاتيني ژبې کليمه ده لغوي مانايي نوي، تازه اوعجيبه څيز دی. په ادبي اصطلاح کې هغې ادبي نثري کيسې يا داستان ته وايي چې له لنډې کيسې څخه لويه او له رومان څخه لنډ وي. په ليکنې چوکاټ کې پېيلې طرح، اصلي او فرعي کرکترونه، مکالمې او د کيسې پيل، منځ اوپای لري. له لنډې کيسې سره يې توپير په دې کې دی چې هم په کې پېښې په تفصيل سره بيانيږي او هم يې کرکترونه زيات وي. ناول د لنډې کيسې په پرتله يوه اوږده موضوع رااخلي، ډېرې صحنې لري او د کرکټرونو شمېر يې له يوه څخه زيات وي. داستاني نثر کې ناول هغه په هنري او ادبي ژبه کښل شوی کېسه ده چې موضوع يې له انساني ژوند سره په داسې تار پېيلې وي چې د ژوند بېلابېل اړخونه پکې په مسلسل ډول وړاندې شي اومور په يو نوی سفر روان، نوي خلک او نوي ځايونه را وپېژني، هيښ موکړي، يوځه را زده کړي...، خو لنډه کيسه د ژوند يوه شيبه راته انځوروي. د دې دوو توپير داسې دی چې: ناول ټوله ګلبوټه را ته بيانوي، خو لنډه کيسه په ټول بوټي کې يواځې يوګل رااخلي او د هغه ټول ښايست راباندې ويني، د ټول بوټي او يوه ګل تر منځ توپير شته. د لنډې کيسې او ناول هم همدومره توپير دی. همدارنګه ناول د هغو انساني جذباتو او احساساتو بيان کوي، چې په اظهار سره يې په نورو

انسانانو کې همدردي پيدا شي. مهمه دا ده چې د ادبي نثر په بڼه خوږ ليکل شوی وي او د کرکټرونو د رښتيني ژوند يوه برخه د تخيل په هنداره کې وړاندې کوي، نو ځانګړتياوې يې دادي:

د ناول اتل هرې عجيبې او استثنايي پېښې سره مخ کيدای شي او هر څه پکې شوني دي. ليکوال کولای شي چې يوه کوچنۍ موضوع په سلګونو پاڼو کې د په زړه پورې ويونو په واسطه ځای پر ځای کړي؛ کولای شي خپل هر تخيل ته حقيقي بڼه ورکړي، د ساري په توګه، داسې تخيلي نړۍ جوړه کړي چې هلته بې روحه توکي خبرې وکولای شي، انسانان ګونګيان شي. په ناول کې د يو موجود بدلېدل په بل موجود اسانه کار دی، مړي پکې ژوندي کېدای شي او داسې نورې کړنې پکې ترسره کېدلای شي، خو په دې شرط چې ليکوال وکولای شي په بڼه توګه لوستونکی د دا ډول غير معمولي پېښو منلو ته اړباسي. د ناول بله ځانګړنه ريالېزم يا رښتينولي ده، يعنې موضوع يې له رښتني ژوند سره مستقيم تړاو لري او په رښتنو پېښو وځرخي، خو لنډه کيسه او رومان کې دا مهمه نه ده. درېيمه خبره دا ده چې د ټول پلات په پرتله کرکټر ته ډېره پاملرنه کېږي.

زياتره ليکوال وايي چې ناول کې د اروا پېژندنې برخې ته هم پاملرنه کېږي، يعنې هڅه کېږي چې د کرکټرونو ذهني اندېښنې او داخلي غوښتنې خلکو ته رابرسېره کړي او هغوی پرې پوه کړي. يا په بله وينا په ناول کې له باندنۍ نړۍ سره د کرکټر د ښکاره چلند تر څنګ د هغه دننۍ نړۍ هم لويه برخه لري.
رومان هم د ژوند مسايل او تجربې په ښکلي داستاني ژبه او روان عاطفي نثر بيانوي، خو ناول تر رومانه لږ لنډ او تر لنډ داستان او منځنۍ کيسې زيات اوږد وي. د ناول ځانګړنه دا ده چې په يوه نوي انداز له پېښو، وګړو او د دوی ژوند سره د حيرانونکو تړلو مسايلو بڼه انځور وړاندې کوي.
داستانی نثر کې ناول هغه په هنری او ادبی ژبه کښل شوی کېسه ده چې موضوع يې له انساني ژوند سره په داسې تار پېيلي وي چې د ژوند بېلابېل اړخونه پې په مسلسل ډول وړاندې شي اومور په يو نوي سفر روان، نوي خلک او نوي ځايونه را وپېژني. ناول اروپا کې زښته زيات مينه وال لري. هرکال سوونه عنوانه ناولونه خپرېږي او خلک وربانديې رامات وي .
خو رومان بيا ناول سره توپير لري: رومان په نثري ادبي ژانرونو کې يو مشهور ژانر دی. د رومان په اړه ويل کېږي، چې دا کلمه د فرانسوي ژبې ده. معناوې يې "خيالي داستانونه او يا هم د مينې کيسې" ښودل شوي دي. په ادبي اصطلاح او توضيحي توګه ويلای شو، رومان هغه نثري ادبي ژانر دی، چې په کمې لحاظ له ناولونو اوږده وي. په موضوعي اړخ کې يې ګڼ شمېر مسايل راتللای شي. په رومان کې هڅه کېږي، چې بېلابېل موضوعات په هنري شکل وړاندې او منعکس شي. هغه ځوانان چې د لنډې کيسې، ناول او رمان د ليکلو اراده لري، بايد دا توپيرونه وپېژني. پآيله کې ويلای شو چې لنډه کيسه له ناول او رومان سره يواځې د لنډوالی توپير نه لري، بلکې د جوړښت له پلوه هم ورسره توپير لري، ناول د لنډې کيسې په پرتله يوه اوږده موضوع او صحنې لري او د کرکټرونو شمېر يې له يوه څخه زيات وي. همدارنګه ناول د هغو انساني جذباتو او احساساتو بيان کوي، چې په اظهار سره يې په نورو انسانانو کې همدردي پيدا شي. مهمه دا ده چې د ادبي نثر په بڼه خوږ ليکل شوی وي او د کرکټرونو د رښتيني ژوند يوه برخه د تخيل په هنداره کې وړاندې کوي. لنډه کيسه کې پېښه تر کرکټر ډېر وړ وي، ناول کې په کرکټر ډېر تمرکز وي. په آخره کې به ستاسې د پوښتنې د پوره ځواب لپاره د لنډې کيسې او ناول د توپيرونو لرلو ترڅنګ ورته والی هم ياد کړو، يعنې د داستان، لنډې کيسې، ناول او رومان ترمنځ د پراخوالي او لنډوالی توپير شته، خو د منځپانګې، موضوع، جوړښت، ټولنيزو ارزښتونو، اخلاقي انځورونو، ادبي او هنري بيان له مخې مهم او بنسټيز توپيرونه پکې کم دي، ځکه دا ټول هنري او ادبي ايجاديات دي. د نوي‌عصر غوښتنه دا ده چې د ادبياتو په دايره کې بايد هغه څه وليکل‌شي په سم، علمي او مدرن لوري د نوي‌نسل په لاربښونه کې اغيزناک وي. په دې لړ کې داستاني ادبيات بايد نوي‌نسل ته د ټېرونسلونو د مثبتو تجربو يوروښانه انځور په مخکې کېږدي او داسې ډيوه په لاس کې ورکړي چې نوي نسل ته د پرمختګ لاره روښانه کړای شي.

مسعود: ښه به وي که تاسو د حکايت، افسانو او نکلونو ترمنځ د پراخوالي، موضوع، منځپانګې، جوړښت، ټولنيز ارزښتونو، اخلاقي انځورونو، ادبي او هنري بيان له مخې مهم او بنسټيز توپيرونه راته په ګوته کړئ؟

استاد دوديال: زمور د ښکلي او قيمتي فولکلور بډايه برخه يعني نکلونه او حکايات زياتره د معاصرو لنډو کيسو په اندازه پراخوالی لري. زياتره نکلونه به په يوه شپه کې ويل کېدل او پای ته رسيدل، خو يو شمېر نور به څو څو شپو کې ويل کيدل لکه د نيکي او بدی نکلونه يا د نيمبولا- تيمبولا اوږده کيسه، خو حکايتونه به ډېر لنډو. ولسي نکلونه د موضوعاتو او منځپانګې له مخې اوچت روزنيز او معنوي ارخ لري. زمور ولسي نکلونه ډېر ښايسته او زړه راکښونکي بيان او ژبه او تلوسه پاروونکي پېښې لري. ښايي د معاصرو داستاني ادبياتو عناصر، سکښت او د ليکلو او لوستلو د هڅو تومنه به هماغه زمور د نيکونو نکلونو څخه سر چينه رااخلي (؟!). له نېکه مرغه پښتو معاصري لنډې کيسې، ناول او رومان د موضوع، جوړښت، ټولنيزو او اخلاقي ارزښتونو، ادبي او هنري بيان له مخې د ستايلو وړ دي.

مسعود: پښتو داستاني ادب له شفاهي ولسي روايتونو څخه تر معاصر ناول او لنډې کيسې پورې بډای بهير لري. تاسو د «پښتو داستاني ادب تاريخي بهير» سرچينې او مهم پراوونه څه ډول ارزوئ؟

استاد دوديال: د پښتو شفاهی ادب(فولکلوريکو ادبياتو) ډېره برخه نکلونه، حکايات او کيسې دي. د پښتو داستاني ادبياتو بهير له شفاهی بڼې بيا تر معاصرو ژانرونو پورې بډای، حيرانوونکی او ډېر په زړه پورې دی. زمور فولکلوريک ادب کې هغه کيسې زياتې دي چې ژوره روزنيزه، حماسي او وطن سره د مينې او فداکاري منځپانګه لري. حيرانوونکي دا ده چې زياتره دغه کيسې له ويارِ، پرځان ويساوالي، ولولو، اتلولیو، ميرانې، زړروتوب او د نيکی او خير له پند او عبرت ډکې دي. د همدې کيسو اهميت په کتو پښتانه يو متل لري:

(څوک پيسې ګټي و څوک کيسې!)

دا "ګټل" ژوره مانا لري. له کيسو ګټلو څخه يې موخه د پښتو داستانو هغه پياوړی او ويارِمنه محتوا ده چې د نېکو خلکو، ملي اتلانو، د وطن د ساتنې سرسپارليو سرتېرو، د کار او رغاونې د اتلانو او د جرګو- مرکو د پټمنو مشرانو، سياسي نامتو لارښوونکو او نورو په اړه دي او سينه په سينه له يوه نسل څخه بل نسل ته ليږدېدلي او نوي نسلونه وربانديِ ويارِي او هڅه کوي چې ددغو کيسو اتلان او مثبت کرکترونه ځانته الګو وګرځوي.

زمور د خلکو د تجربې له مخې کيسې له هغه چا راپاتې دي ، يا د کيسو اتلان هغه کسان وو چې د اخلاقو، ځوانمردي، فداکاري، وطن سره د مينې او غوره اوصافو بيلګه وو. دا ډول يو څو کيسې د مثال په توګه د (ملي هينداره) کتاب کې شته .اروښاد محمدګل نوري په دغه کتاب کې د شفاهی ادب يو څو کيسې راوستي دي. دلته به د بيلګې په توګه د فتح خان نکل ياد کړم:

فتح خان کالبس کې د پت او ناموس د ګټنې يوې معرکې ته روان و، دا يوه قرباني وه، خو د مور له زړه يې يو خدای خبر و، نو کيسه داسې پيليږي: ....پتې خان خبر سو، چې مور يې راغلې ده، په پالنې دروازه کې ولاړه ده، نه دی پريږدي، د کالبُس دوې دروازې وې، فتح خان پربله دروازه ځني ووت، چې مور يې خبره سوه چې فتح خان پر بله دروازه ووت، نو يې ناره وکړه:

که دوې دي لويه خدايه د کالبُس دروازې دوې دي

پر دا يوه مې فتح وځي پر دا بله يې د مور سوي ناري دي...

د دغو داستانونو پيل ډېر تلوسه پاروونکی دی. د يو کامياب داستاني اثر ځانګړنه بايد همدا وي چې بيلګه ييز کرکترونه، ديالوګ، پېښې او تلوسه ولري. زمور ډېر لرغوني ولسي داستاني ادبيات همدا ځانګړنې لري.

يوه پښتو څېړونکي ختيځپوه يوځل ليکلي وو، چې که د پښتو ژبې نور هېڅ ليکلي ادبيات نه دي راپاتې، يوازې لنډۍ، ولسي نکلونه او همدغه د ملي هنيداره کيسې يې هم بس وې، چې له فرهنګي پلوه د نړۍ د بډايو ژبو په کتار کې ودريږي. خو که مور همت کړی وای او له شفاهی/ ولسي داستاني ادب د نن ورځې تر معاصر داستاني ادب پورې مو ټول ضبط و ثبت کړی وای، اوس به مو يوه لويه زيرمه

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندهٔ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»

لرلای، بیا هم غنیمت خبره ده چې د ملي هینداري په شان یو اثر لرو، دغه کتاب کې ثبت شوې داستاني شفاهي کیسې د پښتنو په ګډه ملي حافظه کې د دوی د لرغونیو تمدنونو له میراث او معنوي ارزښتونو څخه هغه راپاتې خزانه ده، چې په کمو تمدني حوزو کې یې داسې سوچه ولسي بېلګې موندلای شو. ملي هینداره په پراخه پیمانه د بهرنیو پښتوځېړونکیو او ختیځپوهانو لپاره پامور کتاب دی. پښتو ملي کیسې او شفاهي نکلونه نه یوازې دننه په هېواد کې هېوادوالو خوښې کړي دي، بلکې د خارجي مستشرقینو توجه یې هم جلب کړې ده او په ځینو خارجي ژبو ترجمه شوي هم دي. په پښتو داستاني ادب کې له اوږدې مودې را دې خوا په کرونولوژیک ډول له تاریخي پلوه له اساطیري دوران څخه تاریخي زماني ته د پښتنو د تکاملي مزل تګلوری موندلای شو. دغه د لرغوني او اوږده تاریخ لرونکې کیسې د مینې، هجران، کار او خواریو، له وطن څخه د دفاع، اساطیرو او نورو مسایلو لرونکې دي. د مینتوب او رومانتیک اړخ لرونکی یو څو نامتو کیسې دا دي: ښادی او بیبو، زبزبانه ښاپیرۍ، مومن خان او شیرینو، فتح خان بړیڅي یا فتح خان او رابیا، خوشکیار او شاترینه،دلۍ او شهو، ادم خان او درخانۍ انار ژړان او سېب خندان، لمبولا یا نیمبولا او نورې. ځینې نورې یې اساطیري، یو شمېر حکایتونه او ځینې یې د مهمو پېښو بیانوونکی دي چې تاریخي عظمت لري، څه کیسې پکې د ژویو د کرکټرونو په مرسته لوبیږي، چې فابل (د ژویو په ژبه کیسې) ته ورته دي.
زمور فولکلوریکې کیسې، حکایتونه او نکلونه لا هم هغسې ندي پېژندل شوي، کوم چې نورو هېوادو خپل فولکلور څېړلی او پیژندلی دی. د خواشیني ځای دا دی چې د فولکلور دغه برخه(نکلونه او کیسې) هېرې شوې. اوس هغه بوډاګان او اناګاني نشته، چې دا ډول نکلونه به یې ویل. یواځې د اروښاد محمدګل نوري په قلم راټولې شوې څو بېلګې یې لاس کې لرو. که مور دغه برخه کې غافل نه وای او د فولکور د ثبت او ضبط یوه پیاوړې اداره مو لرلای، اوس به مو دا پانګه د یوې ملي وثیقې په توګه لرلای.
دا چې له ولسي نکلونو او فولکلور تر معاصرو داستانی ادبیاتو پورې بهیر نیمګړی راغلی او لکه د نورو هېوادو په شان مو دا لږ ونشوه ساتلای څو لاملونه لري:
آن زمور د ادبیاتو د څانګې محصلان، هغوی چې ځانته څېړونکي وایي او لوستي افغانان له خپل لرغوني فوکلور څخه ډېر ندي خبر، آن دا چې د اروښاد محمد ګل نوري له دغې ټولګې او د هغې له تاریخي فرهنګي ارزښتونو ډېر نه دي خبر. یواځې داستاني ادب نه، موسیقی مو هم دغسې ده. اروښاد سلیم سرمست فولکلور موسیقی ته یو څه کار وکړ او یو ځانګړی انسامبل یې جوړ کړ، خو وروسته له هغه هرڅه له منځه ولاړل. خدای دی نه کوي چې ادبیات مو هغسې نشي.
افغانستان یو بېوزلی هېواد دی، په تېره بیا په ښوونځیو کې د پښتو ژبې تدریس، پوهنتونو کې د پښتو ژبې دیپارتمنتونه، د افغانستان د علومو اکاډمی کې د پښتو څانګه او رسنۍ ، راډیو او تلویزیونو کې پروګرامونه دومره خوار دي چې د ګوتو په شمار ښه څېړونکي، خبریالان، ویندویان، لکه د څو کلونو پخوا په شان ښه لیکوال او ښه استادان نه لرو. هغه (پښتو) مجله چې د یونسکو په ژبو به خپرېده، نوره نشته، د اطلاعاتو او کلتور وزارت کې د فولکور دفتر او کارکوونکی له منځه تللي دي، دلیکوالو ټولنه چې خپل وخت کې یې ستر کار کړی و، یا هغې ته ورته بله ټولنه یا ادبي انجمن نشته. د نورو ژبو په پرتله دا ګیله سترګو ته درېږي چې سره له دې چې پښتو ژبې ته پخوا هم چندان کار نه و شوی، خو اوس ورځ په ورځ هېره ده.
یو بل دلیل دا دی چې حکومتونه د څېړنیزو مراکزو ملاتړ نه کوي، هومره کار چې اروښاد نوري د (ملي هینداره) برخه کې کړی، د حکومت یوې بشپړې اداري نه دی کړی. باید دا اثر نړۍ په ډېرو ژبو ژباړل شوی وای او نن د هغو ولسي متنونو په کتار کې وای، چې بشریت یې د خپل ګډ نړیوال فرهنګي میراث برخې بولي، بیا به نو مور هم نړیوال داستانی ادب کې سر لوړي وای.
له دې ټولو نیمګړتیاوو سره سره ، پښتو داستانی ادب له لرغونو وختونو تر نن پورې زمور د مشرانو نیکونو او اناګانو له خوا سینه په سینه تر څو کلو مخکې نسلونو ته راورسېد، خو دغو وروستیو کې دا سلسله ودرېده،

د چاپ د صنعت په راتګ د ګوتو په شمار لیکوالو داستاني ادب ته کار وکړ، پنځوني يي وکړي، لنډه کیسه، رمان او ناول يي ولیک. دا د دوی خپل همت و، کوم حکومتي او رسمي پلان دی برخه کي نه و. د همدې زړه سواندو او ژمنو لیکوالو په همت زموږ داستاني ادب د بنې او تخنیک له پلوه، عصري بڼې ته بدلون وموند، خو خوند او کیفیت يي هغسي لکه د فولکلوریکو داستانو په شان پاتي دی. زموږ لرغونی شفاهي داستاني ادب(حکایت، اسطوري، ولسي نکلونو...) تاریخي مسایل هم را نغاړل.

مسعود: تاسو د پښتو داستاني ادبیاتو مهم ډولونه لکه: حماسه، داستان، ناول، لنډه کیسه، حکایت، افسانه او رومان څه ډول ارزوئ؟ ښه به وي که د دغو داستاني ډولونو د مهمو ځانګړتیاوو، پراخوالي، منځپانګې، جوړښت، ټولنیز ارزښتونو، اخلاقي انځورونو، اصلي موضوع او بېلګو په ټراو او د دوی د مهمو او نوموتو لیکوالو د لنډې پېژندنې په اړه رنا واچوئ.

استاد دودیال:

پښتو داستاني ادبیاتو کې پراخ مسایل لکه دین، اخلاق، عرفان، حماسه، تاریخ، ملي شعور، ټولنیز ژوند، انساني روان، مینه، حکمت، طبیعت او د ژوند فلسفي مسئلې راغلي دي. لنډه کیسه او ناول له ځلویښتمې لسیزې وروسته کله چې خیبري، افغانپور، مهدي او یو شمیر نورو ډېرې بڼکلې او د ملي تاریخ او ملي ژوند د پیغام لرونکی او د ولس آزادي، آبادي، یووالي او ارتقا ته ژمن داستاني متن خپور او دود کړ، مخ په بره روان او تر اوسه بڼه پر مخ ځي(سره له دې چې لومړنۍ لنډې کیسې راحت زاخیلی او محمد ادریس او یو شمیر نورو لیکلي وې). د پښتو معاصر داستاني ادب ژبه او ادبي سبک د کلاسیک ادب د ژبني او هنري میراث پر بنسټ ولاړ، خو د نوې زماني له فکري، ټولنیزو او فرهنګي اړتیاوو سره سم يي د پام وړ بدلون موندلی دی. اوس هم لا موږ د پخوانیو نکلونو او حکایتونو د احسان تابع یاستو . موږ د خپلو اناګانو په ژبه اوربدلو کیسو او نکلونو څخه اوسني لیکلي نثر ته وده ورکړه او هغه خواږه لا پکي شته. په معاصر داستاني ادب کې ژبه د کلاسیک دور د اشعارو او یا هم د دیني متونو د تکلف، درنو ترکیبونو او محدودو موضوعاتو څخه تر ډېره راوتلې او د ورځني ژوند، ټولنیزې تجربې او نوې فکري نړۍ سره يي ټراو موندلی دی. د دې تر څنګ چې روزنیز، مسلکي، دیني او د ډېرو نورو موضوعاتو نثر نوی شو، ادبي نثر هم د بشپړتیا په لوري ولاړ. زموږ داستاني ادب کې د لیکوال د فردي احساس ترځنګ؛ د ټولنې، وطن، ازادۍ، سولې، جګړې، کډوالۍ، مینې، فطرت، هویت او انساني ژوند موضوعات بیان شوي دي. په ټوله کې معاصر نثر د داستاني ادب له برکته روان او خوږ شوی دی. ناول، لنډه کیسې، ډرامې، ادبي مقالو، یونلیکونو، پېښلیکونو او ادبي کره کتنې پښتو ژبه تر ډېره پورې ساده، محاوروي، طبیعي، خوږه او روانه کړې ده. په داستاني نثر کې د کرکټر و پېښو د توصیف مکالمې، فضا، منظر، روایت او سایکالوجیکي تجربې د بیان لپاره بېلابېل سبکونه رامنځته شوي دي. که دا څو وروستي خپاره شوي ناولونه ولولو، د خوښۍ احساس راته پیدا کیږي.

مسعود: تاسو د ولسي کیسو سرچینې، ډولونه، ځانګړنې او په پښتني فرهنګ کې يي ارزښت څنګه ځپړئ؟

استاد دودیال: پښتو ولسي ادبیات چې په علمي اصطلاح ورته فولکلور ویل کیږي، د پښتنو د ملي هویت، ټولنیز ژوند، کار ، بزګري، سوداګري، سیاست او تاریخ او تاریخي لاسته راوړنو هېنداره او سرچینه يي په خپله خلک او ولس، د دوي د ژوند لوړې- ژورې،مړې- ژوندې، پېښې، دښمن او بڼکېلاک سره ډغرې او مبارزه او د ویالو، کروندو، کلیو، لارو- ګودرنو د جوړولو روایات دي.

ولسي داستاني روایات او کیسې د شفاهي کلتور او ادب هغه بډایه برخه ده چې د پېړیو په اوږدو کې له یوه نسل څخه بل ته لېږدول شوي او د پښتنو د اوسېدلو د هرې برخې، هر کلي، هرې سیمې، دېرې او حجرې، تاریخ، کلتور، د دوی ټولنیزه روحیه او افکار يي انځور او لېږدولي دي. د ولسي کیسو مفهوم، سرچینې او ارزښت په لاندې توګه په لنډه او روښانه توګه تشریح کیږي:

- فولکلور د فرهنګي میراث په توګه: په دغه مفهوم سره ولسي کیسې هغو نکلونو، افسانو، اسطورو او پېښو ته ویل کیږي چې لیکوال يي معلوم نه وي او په شفاهي ډول (خوله په خوله) له یو نسل څخه بل ته رالېږدېدلي او د خلکو په حافظو کې ساتل شوي وي. په دې کیسو کې

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندۀ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»

ډېرى وخت د انسانانو، حيواناتو، پيريانو، ښاپيريو او دېوانو کردارونه شامل وو، چې د نورو اړخونو ترڅنګ يې د ژوند حقايق د تمثيل په ژبه بيان کړي دي. لکه د مومن خان کيسې، د حکيم جالينوس د حکمت نکلونه، د پټې خان نکل، سکندرنامه، يوسف-زليخا او سلګونه نور نکلونه.

- . د عاميانه نکلونو او حکايتونو پيل او آغاز له بېلابېلو مادي او معنوي سرچينو څخه دى، لکه تاريخي پېښې او اتلولى، د پخوانيو جګړو، سفرونو، مېلو، اخترونو، کاروانونو، ملي مبارزو او د قومي اتلانو واقعي کارنامې چې د وخت په تېرېدو سره د قصې منبع شوي وي. لکه دسکندر او چنګيز کيسې او د محمود غزنوي نکلونه، د بهلول کيسې او نور.

دشفاهى يا ولسى ادب د نکلونو برخه د پېړيو په اوږدو کې په غيرمدون او نالیکلي ډول له يوه نسل څخه بل ته لېږدول شوي او د پښتو ژبې د بډاينې او پايښت اصلي سرچينه ګڼل کېږي. البته اوس د چاپ د آسانتيا په راتګ سره دغه يو شمير نکلونه د مطبوعاتو پاڼو او آن ويبسايټونه ته رسيدلي دي. د ولسي ادبياتو منځپانګه د پښتنولي کوډونو، اخلاقو، مېرانې، ميلمه پالنې او انساني عاطفې پر بنسټ ولاړه ده. دا يې يو معنوي ارزښت دى.
د فولکلوريکو نکلونو او کيسو علمي او ادبي ارزښت په دې کې دى چې ولسي ادبيات په نړيوالو اکاډميکو مرکزونو کې د لاندې ځانګړنو له امله د مطالعې وړ ګرځېدلي دي:
لومړى) د پښتو ولسي ادبياتو اصالت د دې لامل شوى چې د نړۍ په معتبرو پوهنتونونو لکه د شوروي اتحاد د ختيځپوهنې انستيتيوت، د لندن ثقافتى مرکز، د جواهر لال نهرو پوهنتون (JNU) کې. د دغه ميراث په کتلو سره ځېړونکو د پښتو ادبياتو په نورو ځانګړو ځانګو کې علمي څېړنې وکړې. د ف. ګيرس (دميرنې ولس ادبيات) د دغو څېړنو يوه بېلګه ده و همداسې د انګليس نارويژي او نورو ځېړونکو علمي کار چې د قدر وړ دى. پښتو شفاهي ادب د منځنۍ او سوېلي اسيا د کلتوري وصل د يوې مهمې وسيلې په توګه پېژندل کېږي، چې د امريکا د کانګرس کتابتون په ځېر مرکزونو کې يې تاريخي نسخې خوندي دي. د ولسي ادبياتو جوړښت، په ځانګړې توګه د لنډيو، کاکړيو، بګتيو، چاربيتو، حکاياتو او بدلو هنري ترکيب، د ژبپوهنې او ولسي کلتور (Ethno-culture) له نظره خورا لوړ علمي مقام لري. هغه حقدار فولکلوريست چې زموږ د بډاې فولکلور يو څو بېلګې يې دريو ټوکونو کې خوندي کړي، اروښاد محمد ګل نوري و. اروښاد نوري په ۱۲۷۹ل. کال په کندهارکې نړۍ ته سترګې پرانيستې او په ۱۳۵۲ل. کال د لينديز په دوهمه په ډېره بيوزلي کې په کندهار کې وفات شو. د ولسي ادب په اړه د ده نامتو اثر د «ملي هيندارە» په نوم په درېو ټوکو کې دى. دا قيمتي خزانه د پښتو فولکلور، کلتور او نکلونو شاهکار ګڼل کېږي. د دې کتاب لومړى جلد په ۱۹۳۸، دويم په ۱۹۴۵ او دريم په ۱۹۷۲ کال کې چاپ شوى دى. د ده په قلم را ټول شوي ولسي نکلونه زياتره يې اخلاقي، يو څو يې ملي او د خاورې او وطن د ساتنې او مېرانې، څو نور د مينې او يو څو د لويانو، حاکمانو او پاچاهانو دي.
بايد ووايو چې زموږ ولسي ادبيات له موضوعي پلوه بېلابېل دي لکه : رزمي او حماسي، اساطير، تاريخي (چې د ملى مبارزو او مېرانو داستانونه په منظومه او نثري بڼه يې راغلي وي)، د مينې او عشقي محتوا او غنايي ادبيات چې د پښتنې ټولنې عاطفي اړخ او د ژوند ټولنيز رنګونه انځوروي. حکمت او متلونه چې د پښتنو د زرګونو کلونو تجربې او اخلاقي لارښوونې په لنډو او اغېزناکو جملو کې رانغاړي.
مسعود: ستاسو په اند د پښتو داستاني ادبياتو ژانرونو او ډولونو لکه: حماسه، داستان، ناول، لنډه کيسه، حکايت، افسانه او رومان، په خپل منځ کې د اصلي او مهمې موضوع، منځپانګې، اوږدوالى او مهمو توکو او عناصرو له پلوه څه توپير لري.
استاد دوديال: حکايت، افسانه، حماسه، داستان، ناول، لنډه کيسه،درامه او رومان هر يو په حقيقت کې داستان يا کيسه ده، خو د فُرم، لنډوالى او پراخوالي، لرغوني زماني او د معاصر ادب د دوران او مهمو توکو له پلوه يو بل سره توپير لري. د کلاسيک داستاني ادب يوه برخه د ليکدود او تمدنونو

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندۀ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»

رامنځته کېدلو څخه وروسته کله چې ښارونه، مطبعه، او د خپرولو وسایل رامنځته شول؛ دې سره شفاهي ادبي میراث په لیکلي متن بدل شو. آن د هومر کیسې په معاصر دور کې د چاپ ماشین ته وسپارل شوې، د لیلا او مجنون، رومیو-ژولیت په شان کیسو څخه خو آن فلمونه جوړ شول. د الف لیلیه له بیلابیلو کیسو، نوې داستاني آثار رامنځته شول. لنډه دا چې معاصر داستاني ادب له لرغونو داستاني آثارو څخه اغیزمن دی. کلاسیک داستاني ادبیات د معاصرو داستاني ژانرونو لپاره فکري او هنري بنسټ جوړ کړی دی. مهم موضوعات یې لکه کار، دوستي- دښمني پالل، د ژوند او مرګ تفسیر، مینه، جګړه، د نیاو لپاره هڅې او آزادي پالنه، پاچهي او سلطنتونه او د هغو ماجراګاني او نکلونه، اخلاق او د انسان او ټولنې اړیکې هغه موضوعات وو چې له لرغوني ادب څخه تر معاصر ادب پورې دوام لري؛ خو هره زمانه یې د خپلو شرایطو له مخې په نوې بڼه بیانوي.

د ادبي ښکلا او هنري سکښت، نوښت او ایماژونو له پلوه هم کلاسیک ادب ببلابیل رواني او عاطفي حالات د حماسې، ټراژیدۍ، روایتونو، سمبولونو، اسطورې، شخصیت‌جوړونې او دیالوګ، پېښو او د پېښو د انکشاف له پلوه بډای و چې ګڼې ځانګړنې یې معاصر ادب ته په میراث را پاتې دي. معاصر لیکوالان کله د کلاسیکو اثارو له موضوعاتو او اسطورو سره مستقیمه اړیکه جوړوي او کله یې په نوې معنا او نوې هنري بڼه بیا راژوندي کوي، لکه یو څو منظومې مو چې مخکې یادې کړې. معاصر داستاني ادب(لنډه کیسه، ناول او رمان) د کلاسیک داستانی ادب (حماسو، حکایتونو، ولسی نکلونواو افسانو)یوازې کاپی نه کوي؛ بلکې له هغو څخه یو بډای معنوي میراث یې بولو. یو شمېر نوښو داستاني ژانرونو(لنډې کیسې، ناول او رومان) د پخوانیو حماسو، اساطیرو او نکلونو تفسیر کړی او د خپل وخت له فکري، ټولنیزو او فرهنګي اړتیاوو سره یې نوې بڼه ورکړې ده.

د دغو ټولو معنوي او کلتوري ارزښت لوړ او د اساسي فکر، انسان او نړۍ لید، ژوند، مرګ، تقدیر، عدالت، اخلاقو او نورو بنسټیزو مسئلو په اړه یې منځپانګه په زړه پورې ده. هغه پخواني یې لکه نکلونه، حماسه او حکایت ښکلي او هنري او ادبي معیار باندې برابر وو ، کوم چې دېر اغیزمند نه وو، هغه هېر شول، خو د هنري او ادبي تومنې او د عبرت او پند د پانګې لرونکي لا اوس د خلکو حافظه کې شته. اوس هم معاصر داستاني ادب(لنډه کیسه، رمان او ناول) لکه د فولکلور د پورته بېلګو په شان باید په ادبي معیار برابر او د ځانګړو عناصرو لرونکي وي. د اثر ژبه، اسلوب، تخیل، تصویر، سمبول، روایت، کرکټر جوړونه، حماسي یا تراژیډي جوړښت او د بیان هنري ځواک باید په پام کې ونیول شي. له دې امله چې دا هریو یې یو بېل ادبي ژانر دی، نو ژانري او جوړښتي معیارونه یې باید د خپل ژانر له ځانګړتیاوو سره سم په پام کې وي. له دې امله چې یو بل سره توپیر لري، نو د ارزوني معیارونه یې یو شان نه شي کېدای. د بیلګې په توګه؛ د لرغونو داستاني ادبیاتو پېژند او ارزونه کې د شفاهي روایت او شفاهي ادب ځانګړتیاوې، تکرار، موزونیت، حافظوي جوړښت او د روایت د انتقال ځانګړني په پام کې نیسو، خو د معاصرې لنډې کیسې یا ناول په برخه کې بیا نور معیارونه دي.

دغه داستانی ژانرونه د بڼې، عناصرو، اوږدوالي او لنډوالي له پلوه یو بل سره توپیر لري. د بیلګې په توګه لنډه کیسه دومره لنډه وي چې د امریکایي لیکوال له تعریف سره سم یې وکولای شو د ډوډۍ پرمیز اوربدونکی ته ووایو، خو ناول بیا یو بشپړ کتاب وي. لنډه کیسه معمولاً یو اصلی کرکټر لري، خو د ناول او رومان کرکټرونه زیات او پېښې پرله پسې او زیاتې وي، سیمې هم بدلیدای شي او نور توپیرونه چې مخکې هم و لیکل شول.

مسعود: د پښتو داستاني ادب په تاریخ کې د ځینو لیکوالو نومونه ځانګړی اهمیت لري، لکه: سید راحت زاخیلي، استاد ګل پاچا الفت، نور محمد تره کی، حمزه شینواری، زیتون بانو، تورویانا، ناصر احمد احمدي، سید مهدي شاه مهدي او داسې ګڼ شمېر نور... تاسو د دغو ستو د ادبي او فرهنګي پېژندنې او د دوی د نښیرونو(آثارو) ځانګړتیاوې، اصلي او مهمه موضوع، منځپانګه، د پښتني، انساني او ټولنیز ژوند ارزښتونه، اخلاقي او فکري پیغامونه څه ډول ارزوئ؟

استاد دودیال: پښتو ادبي نثر کې د همدغو درنو لیکوالو نومونه او آثار ځانګړی ځای لري. راحت زاخیلی او ادریس خان لومړنۍ پښتو لنډې کیسې ولیکلې، بره پښتیخا کې باید د احسان الله هېر نوم هم هېر نه کړو او ورسره د ا نور درانه لیکوال. د پښتو لومړنیو داستاني آثارو موضوعات ټولنیزې

ناخوالي، د ښکېلاک په وړاندې مبارزه او ټينګار، طبقاتي نابرابري او اخلاقي او فکري پېغامونه وو. تر ټولو مهم دا چې داستاني ادبياتو د پښتو نثر ښکلی کړ، ژبه يې بډايه او متون د دې جوګه شول چې راز راز مسايل پکې تشريح او را ونغاړل شي. د دې ترځنګ يې زمونږ د ټولنې پټ دردونه وسپړل او د اصلاح لار يې وښوده. د بيلګې په توګه دراحت زاخيلی د (کونډه نجلی) کيسه د هغه وخت هغه ناوړه رواجونه غندي چې پښتني ټولنه کې وو. البته دا ډول ناوړه دود-دستور او ظلمونه شاوخوا نورو ټولنو کی هم وو، د بيلګې په توګه هندوستان کې هم له ښځو سره ظلم او ناوړه چلند و. هند کې داسې اصلاحي افکار او ليکوال را څرګند شول چې نه يواځې د داستانی نثر لمن کې يې اصلاحي فکر ته ځای ورکړ، بلکې ډرامه او فلم کې يې هم اصلاحي افکارو ته وده ورکړه او ټولنه يې د سمون لوري ته رهنمايی کړه. د هند پخواني فلمونه لکه(مادر انديا)،(انکور) او نور فلمونه يادولای شو، خو پښتني ټولنه کې يې توپير دا و چې د عنعناتو او دود ترځنګ ديني صبغه هم ورکول کېده. يو شمېر ناوړه دودونه احسان الله هېر هم انځور کړي دي، خو د اروښاد الفت صاحب نثري کليات زياتره اخلاقي او فکري، د مهدي شاه مهدي د نثري آثارو محتوا د انګريز او پنجابي سامراج په وړاندې مقاومت او ملی مبارزه، د تره کې ليکنې د طبقاتي نابرابري او د اروښاد خيبري ليکنی تاريخي وې.

بېرته به خپلې خبرې ته راشم؛ د راحت زاخيلی لومړنی کيسې په هکله به درته ووايم:

د پښتو د لومړنی لنډې کيسې ليکوال سيد راحت زاخېلی د سيد قريح الله زوی په ۱۸۸۴م. کال د پېښور د نوښار اړوند په زاخېلو کلي کې زېږېدلی و ، دوديز ديني او ادبي علوم يې ولوستل ، پياوړی ليکوال ، شاعر ، ژباړونکی ، ژورنالیست ،مورخ او خطاط و. د ده لومړنی لنډې کيسې(شليدلی پېغه او کونډه نجلی) د هغه وخت د ناخوالو انځور دی. د کونډه نجلی په کيسه کې مرکزي کرکټر (مرغی) ده ، چې لومړی اړخ يې د کيسې له پيله تر پايه ځومره ښه انځور شوی ، ښه په دې مانا چې په پښتني ټولنه کې د کونډې تصوير د لوستونکي ذهن ته داسې يو مظلوم او عاجز موجود دروي لکه مرغی ، ځکه چې زمونږ په ټولنه کې کونډه له عادي ښځو سره بايد په خبرو ، جامو ، ناسته پاسته ، کړو وړو او کې توپير ولري . کونډه د خوشحالي کولو او خندا حق نه لري،کونډه بايد په زوره خبرې ونکړي، ونه خاندي ، ځان پاک و نه ساتي او نور جبري محدوديتونه چې په پورته کيسه کې چې له نن څخه څه باندې سل کاله پخوا ليکل شوي ده، ښودل شوي دي. په زړه پورې خو داده چې لا هغه وخت په کيسه کې د پېښو ترځنګ او د کرکټر د توصيف او ظاهري فزيکي انځورولو ترځنګ؛ دويم(پټ) يا اروايي اړخ هم انځور شوی دی چې هغه په کيسه کې د کيسې د اصلي کرکټر(مرغی) دروني ښځينه احساسات دي. لوستونکی دغه مظلومانه حالت ښه درک کولای شي. په کيسه کې چې مرغی له خسره د ځان سوځونې غوښتنه کوي، نهايت مجبوريت، محدوديت او نااميدي راښيي.ممکن هره کونډه دغسې ، زمونږ د ټولنې د دود په ژبه خپه ناهيلي بيان کړي، لکه کيسه کې چې وايي:

(...بابا که ربښتيا داسې وي لکه ته چې يې وايي نو ما اوس وسېزه چې سبا ستاسې د ډېران ايرې يم او څوک مې نوم په خوله وانخلي !) دلته اصلاً د جملې وروستی برخه د مرغی ناهيلي، خواره خوله ، ښځينه توب او عاجزي ټول يو ځای وړاندې کوي، بېخي داسې نه ښکاري چې د خسر ځواب دې يې وي، بلکې خپله غوښتنه په ډېره خواره خوله کوي، خو څرنګه چې د هغې له خوا دومره عکس العمل هم خسريې د ځان سپکاوی بولي ځکه خو يې ظالم (نارينه!) خسر په وهلو شروع کوي .

که کوم نارينه د چا تر وهلو لاندې راشي، يا خو ځان کلک نيسي چې ممکن يوازې زګېروي يا کله کله اخ ، اوف يې هم تر خوله راووځي ،اما په پورته کيسه کې د مرغی کرکټر په پوره مانا د يوې ښځې کرکټر دی او په داسې سختيو او بې علته وهلو کې هم د خسر د وهلو سره سره خاموشه مظلومه ده. دلته په کيسه کې د هغه وخت يوه مظلومه ښځه انځور شوې او له خولې يې د يوې ښځينه عذرونه او زاری وځي چې وايي يا کاکا صاحب راورسېږي يا هم ... د خدای دپاره ، رسول ته وګوره !

کيسه کې د يوې ښځينه مظلوم غږ دی . دا د هرې ښځې خوی دی چې پټه ژړا کوي ،خو که د تمې يا غمشريکی څوک ووينې ، نو بيا ښه په زوره زوره ژاړي تر دې چې خپل وينتان هم شکوي ، د کيسې په پای کې د کرکټر دومره لوی بدلون چې ځان وژنې ته تيارېږي . لږ به ورته تم شو ، چې ښځينه تر

دې حده له مرګه وېرېږي چې پر لري پردي مړي باندې هم کله اوښکې تويوي ، خو دغسې ښځينه احساساتو او عواطفو ته په کتو سړی حيرانيږي چې مرغۍ ولې ځان سيند ته غورځوي ؟ دا يوه واقعي او د هغه وخت رياليستکي لنډه کيسه ده، چې د ټولنې اصلاح کې يې بريالی رول درلود. نن ورځ ډېر هغه زاړه او ظالمانه چلندونه اصلاح شوي دي، دا د اروښاد زاخيلی د قلم برکت و.

خو د لومړنيو کيسو په کتار کې، د محمد ادريس خان لنډه کيسه (په تېره بيا د "پېغله "په نوم لنډه کيسه) د معاصری داستان ليکنې يوه غوره بېلګه وه. د محمد ادريس نوم به پښو داستانې ادبياتو کې هېر نه کړو.

د هېر نوم هم بايد هېر نه کړو: سيد احسان الله هېر د سيد غلام احمد پاچا زوی د لغمان له ساداتو څخه دی ، په کابل کې زېږېدلی او رالوی شوی دی . لومړۍ زده کړې يې د کابل په طب پوهنځي کې سرته رسولې دي ، له کوچنيوالي څخه يې لوړ ادبي ذوق درلود ، د ادبي اثارو ژوره مطالعه يې کړې او د زړه په وينه او مينه يې خپل ادبي ذوق پاللی و.

د لنډې کيسې په ليکنه کې يې پوره مهارت درلود ډېرې خوږې ، پخې او معياري-اصلاحي لنډې کيسې يې ليکلې ، چې د هېواد په خپرونو کې خپرې شوې او د (رنځور) په نوم يې د لنډو کيسو يوه ټولګه په ۱۳۴۶ل. کال د پښتو ټولنې لخوا چاپ شوې ده. د الفت صاحب غوره نثرونه اخلاقي او فکري درسونه دي. په دې توګه پښتو معاصر نثر او داستاني ادبيات له هماغه پيل څخه تر اوسه د محتوا او موضوعاتو له پلوه بډای او رنګارنګ دي. د تره کي (د بنګ مسافري) او (د غوايي لاندی) او نور ناولونه او داستانونه د طبقاتي تضادونو په اړه دي. په دې توګه پښتو داستان او رومان راز راز مسايل رااخيستي دي چې زياتره د رياليزيم او رمانتيزم خواږه پکې دي.

د زيتون بانو په اړه مو پوښتنه کړی، هو ! زيتون بانو د يوې سمونپالي او منورې ميرمن په توګه خپل رسالت د ټولنې په وړاندې ادا کړی دی. هغې لومړنۍ زده کړې د پېښور په اسلاميه کالج های سکول ،منځنۍ او ثانوي زده کړې يې د الزابېت ګرلز های سکول او فرانټير کالج کې تر سره کړې دي، وروسته يې په پښتو او اردو ادبياتو کې د ماسټرۍ تر سويې زده کړې وکړې او د ښوونکې د دندې ترڅنګ يې په پېښور راډيو کې د پروډيو سرې دنده ترسره کوله ، نومورې د ډرامې او لنډې کيسې د نومیالی ليکونکې په توګه د لوړ نوم او شهرت څخه برخمنه ده ، د لنډو کيسو دغه ټولګې يې چاپ شوي دي: هنداره (د ډرامو او لنډو کيسو ټولګه)، مات بنګړي، خوبونه ،د لنډو کيسو ټولګه، ژوندي غمونه او کچکول(پښتو درامې). زيتون بانو په اردو ژبه هم ليکل کول. هغې د پېښور د خلکو د اذهانو روښانولو کې لوی کار کړی دی. د افغانستان په پرتله کوزه خوا کې زيات خلک د تعليم پلويان شول، آن نجونې ښوونځيو ته ولاړې او لږ وخت کې د ټولنې د اړتيا سره سم؛ ښځينه طبيبانې، ښوونکې او د عامه سکتور نورو برخو کې ښځو ته د کار ډګر پراخ شو.

مسعود: په پښتو داستاني ادبياتو کې داستان له پخوا څخه د شفاهي ادب مهمه برخه وه. ستاسو په اند شفاهي داستانونه څنګه له يو نسل څخه بل نسل ته لېږدول شوي دي؟ ښه به وي که د دغو داستانونو نوموتي بېلګې راته په ګوته کړئ؟

استاد دوديال: نکلونه، حکايات او داستان د شفاهي داستاني ادب برخه وه. اوس ورته د فکري، تاريخي او فرهنګي ژوند د يوه ادبي ميراث په نظر ګورو او راته ارزښت لري، آن دا چې يو شمېر معاصر آثار مو د هغه پر بنسټ نوي پنځولي دي. په پخواني داستاني ادب کې ډېرو غوره ادبي او هنري ځانګړنو د وختونو په تېرېدو بياهم خپله ځلا او پرتم ساتلی او زمونږ د ټولنې او ژبو تاريخي شالېد، د ټولنيز ژوند طرز او دود-دستور، روايتونه او نور معلومات پکې راپاتې دي. حيرانوونکې ده چې د کتاب او کتابت، تذهيب او چاپ تر صنعت مخکې زمونږ د نيکونو ډېره ادبي او فرهنګي حافظه د شفاهي روايت له لارې له يوه نسل څخه بل نسل ته راپاتې شوه، د هغې د بډاينې، خوږوالي، تربيتي اړخ، ښکلا او پيغام له امله مو وساتله او دغه ارزښتونه مو نوښو ژانرونو کې بياځلي را غبرګ کړل، د خپل وخت له فکري او ټولنيز ژوند سره مو اړيکه ورکړه او دوام به مومي.

پخواني داستاني اثار يواځې په دې نه دي مهم چې څومره پخواني او زمونږ د نيکونو ميراث دی؛ بلکې د هغو جوړښت، ادبي پيرايه، مانا او مفاهيم، هغه فلسفه چې پکې وه، له هغو فکري او کلتوري موادو

چې جوړ وو او د خپل وخت د انسان او ټولنې کومه تجربه چې رابنيي او د هغو د ژبنۍ زيرمې له پلوه راته مهم او دا دی اوس دا ارزښتونه نوېو ژانرونو ته لېږدلو شوي دي. نه هيروو چې د پخوانيو داستاني ادبياتو څېړنه يعنی فولکلوريکه مطالعه اوس له ساده تاريخي معلوماتو څخه علمي، ادبي او فرهنګي څېړنې ته لوړ شوې ده. د هغو نامتو بيلګې آدم خان- درخانی، يوسف خان او شيربانو، موسی خان او ګل مکی، د ملنګانو او پاچايانو نکلونه، د لويو لارو، د اوبو د بندونو، ويالو او ودانيو د جوړولو کيسې، د سيمو د پېښو نکلونه او ډېر نور مسايل وو. په دې ژبه کې هم داسې بيلګې شته؛ د زرياب (کاکه شش پر و دختر شاه پريان) ناول زمونږ د يو فولکلوريک نکل څخه رنګ اخيستی دی. د تورويانا، اکرم عثمان او ببرک ارغند څو داستانونه هم داسې بيلګې لري.

تر دې ځايه مو ستاسو د پوښتنې سره سم، د شفاهي داستانو خبره وکړه، خو نه هيروو چې په مجموع کې شفاهی/ ولسي ادبيات (فولکلور) يوه لويه زيرمه ده. له نيکه مرغه زمونږ ولسي يا شفاهي ادب له داستاني صنف ور هاخوا نورو برخو کې هم ډېر بډای او د لاتينې امريکا او اروپا د فولکلور په اندازه لرغونتوب او خوږوالی لري. په فوکلور کې د پند، عبرت، تجربې، حماسې او د ملي اتلانو نکلونه شته. متلونه، لنډی، کلاسيک شعر، لرغوني ټوټکي، وجيزې، رباعيات او ولسي چاربيټي او سندرې د اوسنې وخت د فرهنګي مجموعې په توګه د درناوي او ساتنې وړ فرهنګي ميراث دی. د لنډيو مثال د نړۍ په هيڅ ادبي صنف کې نشته. د ولسي شفاهي ادب هينداري کې مور د خپلو نيکونو احساسات، له چاپېريال سره چلند، د دوی مجبوريتونه، عقايد او ډېر نور واقعيتونه وينو. متلونو، لنډيو، وجيزو او کيسو کې د خلکو ذوق، تاريخي پېښې او تجربې منعکس شوي، او هنري تنده خړوبوي. آن په ورځنيو خبرو- اترو کې له فوکلور څخه نقل قول وينا ښکلي کوي. د شفاهي ادب او فولکلور لمن له عواطفو، د طبيعت د ستاينې او منظرکشي، انساندوستي، مينې، آزادي خوښولو او ولولو څخه مالامال ده. شفاهی ادبيات يا ولسي ادب د يوه ولس او ملت د احساساتو، تاريخي تشخُص، انګيرنو،افکارو، دود ـ دستور، عقايدو او هويت يوه بشپړه هېنداره او دهويت برخه ده.

مسعود: په پښتو داستاني ادبياتو کې ټولنيز بدلونونه څه ځای لري، آيا پښتو داستاني ادبياتو زمونږ ټولنيز شرايط انځور کړي دي او په ټولنه کې يې اغيزکړی دی او که نه؟

استاد دوديال: داستاني ادبياتو زمونږ د ټولنې بېلابېل حالات انځور کړي دي. له کله چې پښتو لنډه کيسه پيل شوه، د پښتنې ټولنې د خوشحاليو، ناخوالو، سرو-تودو او د وګړو ترمنځ اړيکې يې انځور او ثبت کړي دي. داسې ويلای شو چې پښتو هره لنډه کيسه د ټولنېژندنې يوه پاڼه او د هر ېوې په لوستلو سره د هغه وخت بشپړو پېښو او حالاتو باندې خبريږو. لنډې کيسې يوه درنه پازه په غاړه لرلې ده. زمونږ بشپړ اکثريت ليکوال ژمن او د سمون راوستو لپاره رسالتمن ليکوال وو. آن هغه لومړنی لنډې کيسې (کونډه نجلۍ) او بيا (شليدلې پڼه) ريالېستيکه، اصلاحي او د سمون راوستو هڅه کړی ده. د لنډو کيسو ليکوالو د خپل دور ستونزې لکه د خلکو بېسوادي، د تعليم وروسته والی، طبقاتي تضاد او ستم، د ښځو د حقوقو غصب، د ښکيلاک په وړاندې په مېړانه مبارزه، ټينګار، جرګې، مرکې، د کروندې او کيږديو کيسې او د ژوند نور اړخونه انځور کړي دي. افغانستان کې د لومړي جمهوريت په راتګ سره لنډو کيسو کې بدلون راغی، د فيوډالي مناسباتو بدلون او د اقتصاد نوي کولو، ديموکراتيکو ارزښتونو ځلول، د تعليم لوړي ته پاملرنه او د انساني کرامت درناوی د کيسو نوې سوژه شوه. له کله چې کورنۍ جګړې، مهاجرتونه او بې ثباتي پېښه شوه، دا ټول په داستاني ادبياتو کې راغلل. د دغو کلونو هر ناول او هره لنډه کيسه د دغو حالاتو انعکاس دی.

ستاسو د پوښتنې په ځواب کې، چې پوښتنه مو کړې؛ پښتو داستاني ادبياتو کې ټولنيز بدلونونه ځای لري او پښتو داستاني ادبياتو زمونږ ټولنيز شرايط انځور کړي ؟ ځواب دادی چې هو !

له بلې خوا فکر کوم دا کافي نه ده، بايد په دې هم فکر وکړو چې آيا بالمقابل داستاني ادبياتو د ټولنې پر وضعيت اغيز کړی که نه؟ دا مهمه پوښتنه ده.د دې پوښتنې ځواب خواشينوونکی دی.

نوره نړۍ کې داستاني ادب د ټولنې اصلاح او سمون کې رغنده او ځلنده رول لرلای دی. ټولنپوهان وايي چې اروپا کې رنسانس اصلاً د ليکوالو او د کيسه ييز ادب له برکته پېښ شو. په تېره بيا رُمانتيزم اروپا روښانه او د ترقي، ارتقا او تعالي په لوري روانه کړه، خو له بده شامته د پښتو کيسه ييز ادب، د

ژمنو او ريښتينو ليکوالو آرمان، د لوستو او منورو ادیبانو خواريو، بېخوبيو، ستوماني، دالیکین رڼا ته د شپو له رڼولو نيولي د کمپيوتر تر پاڼو پورې، د ژباړې تر زيار ګاللو پورې؛ هغه بدلون، روښنايي، ويښتيا او سمون چې بايد راغلی وای، رانغی، فکري، اصلاحي او تنويري نښې ډېر لږ ولیدل شوې. ليکوالو او ادیبانو، خواریٔ وکړې، شپې يې رڼې تېرې کړې، آن خپل ژوند يې د ليکوالیٔ د ژمنې لپاره قربان کړئ، خو سمون ډېر ورو و. د مشروطه غوښتونکو د غورځنګ د هر غړي ژوند موږ او تاسو ته معلوم دی، د ويښ زلميانو ښکلي ملي ارمانونه او د هغوی د زړونو ماتېدل، ... د پاچا خان (جدوجهد)، د پژواک د قلم رنګ، د الفت اخلاقي او د خادم فکري لارښوونو، د ابراهيم عطايي، خيبري، ملنګ جان او نورو هيلې پوره نشوې . اروښاد مجروح دغې ټولنې ته داسې فلسفي- ادبي نښر وړاندې کړ، چې نړیٔ ورباندئ بحثونه وکړل، خو پښتنو ونه لوست. زموږ هر ليکوال له خوشحال خان خټک، محمود طرزي، مولانا صالح محمد کندهاري، فخر افغان او پژواک نيولي ، تر انيس، جويا، کشککي، استادکاظم آهنګ، بختاني، پرهېز، الفت، مجروح او قتيل او نورو پورې د ټولنې د سمون او د پښتون د بيداري په ارمان تورو خاورو ته کوز شول. پخوا وخت به پرېږدو؛ دا تازه نويو کلونو کې د نصير احمد احمدي په شان ليکوالو هڅو هم د ويښتيا او رونټيا برخه کې ډېر لږ اغيز ونشو کولای، سره له دې چې يوويشتمه پېړیٔ کې ياستو. [واى فرياد له درده کېږي!(رحمن بابا(رح))]. خدای وکړي زموږ په دې فرياد او ګپله لوستونکي خپه نشي. [واى چې نه وايم له غمه يې وايم]. دې قلم هم له غمه دا څو کرښې وليکلې.

زموږ داستاني ادبيات له هماغه پيله رسالتمن او متعهد وو. ليکوالو لويه قرباني ورکړه، خو د ټولنې سمون، پښتنو کې يووالی، تعليم او د نوي عصر تقاضاوو سره د ځان برابرولو هيلې لا هم ندي پوره. داستاني ادب مو ښکلی او د درنښت وړ دی، خو د ټولنې شرايط او وضعيت دردوونکی دی.

ډېر قدرمن او معزز اينجنير صاحب ! پوهېږم چې دا پوښتنه دې له زړه سوې کړې وه. ستاسو پوښتنه کې (د ټولنې بدلون) او(ټولنيز شرايط) ډېر درانه ټکي دي، خو زموږ د زړه پټ ټپونه دې راوسپړل، مالګه ورباندئ ولوېده، پوښتنې دې قلم اړ کړ چې لوستونکو سره د زړه خواله او تر يوې اندازې له پښتنو ګيله وکړي. اوس مو چې ګيله وکړه، بخښنه هم غواړم هيله ده څوک خپه نشي.

مسعود: تاسو پښتو لرغوني داستاني ادبيات، چې د پښتو ادب يوه مهمه برخه ده څه ډول راپېژنئ؟ ښه به وي که د دغو ادبياتو د تاريخي بهير، سرچينې، مهمو پراوونو، موضوع، منځپانګې او ځانګړتياوو په ټراو او د دوی د مهمو او نوموتو ليکوالو د لنډې پېژندنې په اړه رڼا واچوئ.

استاد دوديال: پښتو لرغوني داستانونه د موضوع له پلوه توپير سره لري. په هغو کې د آدم (ع) او بی بی حوا له نکلونو رانيولې، د پيغمبرانو داستانونه(لکه د يوسف زليخا، يعقوب (ع)، داود(ع) او بلقيس داستانونه... تر سکندر پورې، د سلطان محمود او بهلول دانا تر هوتکي پاچايانو، بيا د هوښيارو وزيرانو تر کيسو، بيا يو شمير د درويشانو، صوفيانو ، د جنګ او ټينګار روايتونه، د الف ليلی کيسو او د پند او عبرت حکايتونه، د زمري او ګيدړ داستانونه چې د زړروتيا او هوښياریٔ، مکاری او نورو پيغانونو لرونکي دي، حماسي ته ورته نکلونه، د ديوانو او پريانو او د کوه قاف داستانونه، د مينې داستانونه لکه د بدریٔ جمالي، شهو او دلې، طالب او ګل بشرې، مومن خان اوشيرينو او ډېر نور داستانونه. عجيبه ده چې دغو داستاني بيلګو کې هم د نړيوال لرغوني او کلاسيک داستاني ادب بيلګې شته او هم ملي او سيمه ييز. دا داستانونه له شفاهي بڼې ورو ورو په کتابونو کې خطاطی او تذهيب شول، هغو چې ديني او مذهبي بڼه لرله، زيات شهرت وموند، خو زيات نور يې هېر شول. پخواني داستانونه يواځې د متن په بڼه نه، بلکې زيات يې د مثنوي ګانو او منظومونو په بڼه را پاتې دي . داستاني مثنوي کې داستان ويونکي د يوې ثابتې قافيې په تکرار اړ ندي، بلکې په نظم ډول کولای شي په سلګونو يا زرګونو بيتونو کې داستان په ازادیٔ سره وغځوي. په اوږدو رومانټيکو او رزمي داستانونو کې د پېښو تسلسل، کرکټر جوړونه، د پېښو روايت، تمثيل او د صحنو انځورول، مکالمې او د پېښو تفصيلي بيان حيرانوونکی و. خو معاصرو داستاني ادبياتو له هغو څخه ادبي او هنري ښکلا زده کړه، نثر يې وکاراوه. زيات شمېر پخواني داستاني ادبيات اوس هېر دي، يواځې اروښاد محمدګل نوري د سلګونو داستانو له جملې يو څو داستانونه درېو ټوکونو کې تدوين کړل چې له نېکه مرغه د

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندهٔ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»

بیلګې په توګه یې لرو. یو شمېر یې ښایي اوس هم د سپینږیرو په حافظه کې وي، خو له بده شامته چې زیاته برخه یې هېره شوې ده.

مسعود: تاسو پښتو کلاسیک داستاني ادبیات، چې د پښتو ادب یوه مهمه برخه ده څه ډول راپېژنئ؟

استاد دودیال: سره له دې چې پښتو کلاسیک داستاني ادبیات (چې زمونږ د فولکور مهمه برخه ده) د اوسنیو داستاني ځېلونو چوکاټ کې نه دي، خو د خوږوالي، تلوسې، کرکترونو، دیالوګونو او پېښو له پلوه ډېر ښکلي، هنرمندانه، جذاب او د اخلاقي، فکري، وطني، دیني او ملي منځپانګې لرونکي دي. لږ شمېر یې په نظم او نور یې په نثر تر موږ را پاتې دي، خو زیات شمېر یې نه دې ضبط او ثبت شوي، بلکې هېر شوي دي. ښایي ځینو ته به داسې ښکاره شي چې د پښتو کلاسیکو داستاني ادبیاتو اهمیت د هغو تاریخي قدامت یاد پخوانیو پېښو په بیان کې دی، حال دا چې تر دې هم د هغو زیات اهمیت د ژبې بډاینې، ادبي ښکلا، انځورونو، محتوا او پیغام کې ده. یو بل اهمیت یې دا دی چې په دغو داستانو او نکلونو کې د یو شمېر جغرافیایي سیمو او قومونو نومونه راغلي دي، دا نومونه زمونږ د جغرافیې تاریخ او د ورونو قومونو ترمنځ وروري او نیک مناسبات ثابتوي. کله چې اوس د یوې سیمې په اړه پوښتنه پیدا کیږي، له دغو نکلونو څخه یې موږ زباتولای شو چې دې سیمه کې څوک و؟ او دا سیمه چیرې ده. د بیلګې په توګه په کلاسیک ادب کې له کشمیر سره د افغانانو تجارتي اړیکې ثابتیږي. ډېرو نکلونو کې کابل، کندهار، شالکوټ، ملتان، غور او دغسې بنو او تیرا پورې ټوله زمونږ د نیکونو واحده سیمه او جغرافیه او په دې ټولو کې د خپلوي، اقتصادي معاملاتو او د کاروانو د تګ راتګ کیسې شته.

د فردوسي شاهنامه کې دوه ډوله نومونه راغلي دي؛ یو یې تاریخي او جغرافیایي دي، چې اوس یې هم پیژندلای شو، بل یې اساطیري. یو څو نومونه دا دي: زابل او زابلستان، کابل او کابلستان، بخدي، سیستان، نیمروز، هري، غزنین، بُست، قندهار، بامیان، آموی، طالقان، غرچګان(اوسنی غور) او څو نور ځایونه. سلسال او شاه مامه کې دغه لرغونی نومونه راغلي دي: سورغر، پامیر، بخدي، لوګر، هیندوکوښ، پاروپامیزاد، کپروک، شیبر، بامیکان، ګربت غر، کاشغر، پنجهیر، سوات، هري، ساکستان، آریانا، سیکارام، ګندهارا، اوزبین او نور چې په دې کې د ځینو سیمو نومونه بدل شوي، خو نور یې زیاتره هغسې پاتې دي. د اروښاد تورویانا او غوث خیبری کیسو کې هم د څو سیمو جغرافیه او تاریخ یاد شوی دی.

کله چې موږ د خپل کلاسیک ادب جوړښت، مانا، محتوا، اخلاقي، فکري او کلتوري اړخونه ګورو، ورته حیرانیږو. زمونږ نیکونو په ادبي او هنرمندانه توګه د خپل ژوند حالات، چاپېریال، د کور او کار لوښي او وسایل، ټولنیز وضعیت او تاریخي پېښې او تجربې موږ ته را پرېښي دي. دوی د خپل ژوند واقعیتونه د تخیل په قوت په هنري متن بدل او یوه کمه برخه یې موږ ته راپاتې، خو ډېره برخه یې ناوړه پېښو له منځه وړې او هېره کړې ده، افسوس چې ډېره برخه یې ثبت شوی نه ده. دا چې راپاتې ده دا زمونږ فرهنګي درون میراث دی. په دې مانا چې؛ پښتو کلاسیک داستاني ادب یوازې د پخوانیو اثارو مجموعه نه ده، بلکې زمونږ د نیکونو د فکري، کلتوري او هنري حافظې او خلاقیت یوه ژوره برخه ده. د پښتو کلاسیک داستاني ادب پانګې یوه ځانګړتیا دا ده چې ځانګړې محلي تجربه په پراخه او لاربنوونکي بڼه موږ ته رابنیي. زمونږ کلاسیک داستاني ادبیات تجارب او پندونه دي، زمونږ د نیکونو د ژوند ترخه او خوږه دي، معنوي ارزښتونه یې راته خوندي کړي دي، موږ یې په اوریدو د خوښې احساس کوو، عواطف او احساس مو تخنوي، مو ږ په نوستالیژې کې ډوبوي، د خیالونو زانګوګانو کې مو زنګوي، ژورو انساني آرمانو او د سولې او مینې الهام ، د پخلاینې، کار، کوښښ او د وطن د ساتنې لپاره د قربانۍ درسونه راکوي. په مجموع کې کلاسیک ادب د کلتور له تجربو څخه راپاتې شوی میراث دی. پښتو داستاني کلاسیک ادبیات د ننني ادبي فکر د تاریخي حافظې او بنسټونو یوه مهمه برخه او سرچینه ده. موږ یې په همدې ډول پېژنو.

مسعود: ښه به وي که تاسو د پښتو په کلاسیکو داستاني ادبیاتو کې د تاریخي بهیر، سرچینې، مهمو پراوونو، مهمې ځانګړنې، داستاني توکي او عناصرو په ټراو خپل اندو لید راسره شریک کړئ؟

استاد دودیال: د پښتو داستاني ادبیاتو ریښه زمونږ فولکلور او عامیانه نکلونو کې ده. دا د پښتو ادب هغه بډایه زیرمه او د الهام سرچینه ده چې د کیسو، روایتونو او تاریخي پېښو په بیانولو ولاړه ده. زمونږ داستاني ادبیات په دوو برخو ویشل کېدای شي: معاصره او له معاصرې دورې مخکې داستانی ادبیات. ولسي داستانونه (منظوم او غیر منظوم) او معاصر داستاني ادب (نثر لکه لنډه کیسه،رومان او ناول) دواړه د بیلابیلو موضوعاتو لرونکي دي. داستاني ادبیات د پښتني ټولنې د تاریخ،اخلاقو، مېرانۍ، سړو-تودو پېښو، جنګونو، دښمنیو او مینې د انځورولو تر ټولو پیاوړې وسیله ګڼل کېږي.

د پښتو اوسمهالي(معاصر)داستاني ادب ریښې په شفاهي فولکلور کې دي. په پخوانیو وختونو کې د ادم خان او دُرخانۍ، فتح خان، بړیڅي، کمال او رابیاجاني، نیکي او بدي، بارام خان، د مومن خان او شیرینۍ ، طالب او ګل بشري، بدرۍ او سیف الملوک، پخوانیو خیالي پاچاهانو، دیوانو او پریانو... په ځېر د پند، عبرت، صبر، زغم او د مینې کیسې چې زمونږ د نیکونو او اناګانو په سینو کې خوندي وي، له هغوی څخه مونږ ته راپاتې دي. راوروسته بیا د لیلا مجنون او یوسف زلیخا کیسې او یو څو دیني نکلونه هم پښتو ته راغلي او زمونږ خلکو کې مشهوره شوي دي. ځینې نکلونه د بدلو او نظم په بڼه اودل شوي(چې عوام یې داستان بولي) دا د هېواد بېلابېلو سیمو کې یو بل سره په لږ توپیر راپاتې دي. د دغو (داستانو) څو بیلګې د راډیو په جوړیدو سره، راډیو کې هم ضبط او ثبت شوي دي. ګلکی(ګل محمد ولسي سندرغاړی)، محمدخان، منور او څو نورو سندرغاړو دا داستانونه محلي موسیقي سره راډیو کې ثبت کړي دي. د دیو او پرې ، پیرانو او پېریانو، زیارتونو، جنګونو ، هدیرو، ژرندو، غرونو او دښتو نکلونه هم لرو. د تاریخي څېړنو په ترسره کولو سره ثابته شوه چې پښتنو د حماسو او داستانونو د ویلو لرغونی دود درلود. تر دوه- درې نسله پخوا پورې دا ډول نکلونه ویل کېدل. له دې پرته وروسته، معاصر پېړۍ ته راځو.

په معاصر دور کې، پښتو داستاني ادبیاتو له نظم څخه نثر ته مخه کړه. د لنډو کیسو او ناولونو لیکل پیل شول چې پکې ټولنیز اصلاحات، په ټولنه کې د واکمنو فیوډالي مناسباتو، د خان او ملک، مړي- ژوندي دود- دستور، ملي مبارزو، د استعمار ضد سرغندنو او بیا د دیموکراتیکو ارزښتونو ننګه، بڼوونه اوروزنه او د ټولنیزو ریفورمونو موضوعات رانغښتل شوي دي. د معاصرو داستاني ادبیاتو بحث مو په زړه پورې دی دوام به ورکړو.

مسعود: په پښتو کلاسیکو ادبیاتو کې څو نوموتي داستانونه ډېر شهرت لري. لکه: د آدم خان او درخانۍ داستان، د یوسف خان او شیر بانو داستان، د موسی خان، جنتۍ او ګل مکۍ داستان، د ګل صنوبر داستان د کمال خان او رابیا داستان. د دغو داستانونو د ادبي، هنري منځپانګې، موضوع، موخه او پیغام په اړه او د ټولنیزو ستونزو او خندونو په تړاو ستاسو ارزونه څه ده.

استاد دودیال: زمونږ کلاسیکو ادبیاتو کې نه یواځې د مینې او مینتابه نکلونه، بلکې د بهادرۍ، نیکي کولو، زغم، نیاو، د وطن د ساتنې او میرانې نکلونه هم شته. د مومن خان نکل یا د نیکي او بدي د نکلونو سلسله د پند او عبرت نکلونه دي. د بهلول دانا او حکیم جالینوس نکلونه د حکمت محتوا لري، د داود عیه السلام او بلقیس، د یوسف او زلیخا او د شام او کنعان نکلونه هم پښتو ته راغلي وو او ویل کیدل به. په دې ټولو کې د مینې د موضوعاتو نکلونه لکه آدم خان او درخانۍ داستان، د یوسف خان او شیر بانو داستان، د موسی خان، جنتۍ او ګل مکۍ داستان، د ګل صنوبر داستان او یو څو نور ډېر ویل کېدل.

مسعود: د پښتو کلاسیکو ادبیاتو په برخه کې داسې داستاني نښیرونه شته چې یوازې د کیسې له پلوه نه، بلکې د اخلاقو، مینې، عرفان، حماسې، ټولنیز ارزښتونو او انساني شخصیت له پلوه هم ژور اغېز لري. د بېلګې په توګه: د یوسف او زلیخا داستان(یوځو بیلګې مو مخکنیو پوښتنو کې یادې کړې)، مومن خان او شرینو، آدم خان او درخانۍ، شرین او فرهاد، لیلا او مجنون، او... د ولسي عاشقانه روایتونو لړۍ، شاه و ګدا، فولکلوري حماسي داستانونه: لکه د ملا مست، د میرویس، احمدشاه بابا، یوسف خان او شیر بانو، ایمل خان او نورو اتلانو ولسي روایتونه، حماسي او عشقي داستانونه او داسې نور. تاسو د دغو داستانونو او کیسو ځانګړتیاوې، اصلي موضوع، ادبي او فکري ارزښت، اخلاقي، ټولنیز، پښتني او انساني ارزښتونه، د آزادۍ، مېرانې او وطنپالنې پیغامونه څه ډول ارزوئ.

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندهٔ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»

استاد دودیال:
یقیناً؛ لږ مخکی د ړومبنۍ پوښتنې ځوابولو کې مې هم کوښښ وکړ چې د فولکلوریکو نکلونو او پخوانیو کیسو د موضوعاتو رنګارنګي او متنوع مسایل روښانه کړم. تاسو چې په دغه پوښتنه کې نوري بیلګې هم یادې کړی، خبره لږ نوره هم رنه شوه. زمونږ ټول شفاهی ادبیات د اخلاقو او فکري روزنې ترڅنګ راز راز نور اړخونه هم لري. دا چې دپیړیو په پوړیو کې په یاد پاتې دي او له یوه نسله څخه بل ته په میراث رسیدلي دي، د دې مانا لري چې د پیغام له پلوه د لوړ ارزښت لرونکي دي، که یې ارزښت نه درلوداى، تر نن ورځې به نه و راپاتې. آن هغه برخه یې چې نده ثبت شوی او هېره یا د هېریدو په حال کې ده، دهغو لپاره هم افسوس کوو چې کاشکې مو خوندي او ثبت کړی وای.
مسعود: په پښتو ادبیاتو کې ډېرې کلاسیک داستانونه منظوم دي، یانې کیسه د شعر په ژبه بیان شوې ده. د خوشحال خان خټک او رحمان بابا په نښیرونو(آثارو) کې داسې تاریخي روایتونه، حکایتونه، انساني او اخلاقي ارزښتونه، موضواعات، مفاهیم او ادبي پیغامونه شته، چې د کلاسیک داستاني ادب له فکري نړۍ سره نږدې اړیکې لري. تاسو په دې تړاو څه لیدلرئ؟
استاد دودیال: دا واقعیت دی چې یو شمیر زاړه داستانونه په نظم کې راغلي دي. دې ته منظوم داستان ویل کیږي. دا نه یواځې کلاسیک ادب کې، بلکې دې وروستیو کې یې هم بیلګې وینو .
مسعود: پښتو کلاسیک داستاني ادبیات یوازې د مینې کیسې نه دي؛ بلکې د پښتني ټولنې حافظه، کلتور، اخلاقو، دودونو، ټولنیزو اړیکو، وطنپالنې، اتلولۍ، آزادۍ، ټولنیز پازوالي او مسؤلیت او معنوي ارزښتونو ادبي انځور هم وړاندې کوي. ستاسو ارزونه په دې تړاو څه ده؟
استاد دودیال: د هغو داستانو نومونه تاسو مخکې یاد کړل چې موضوع یې مینه وه، خو ډېر نور داستاني آثار لرو چې تاریخي پېښې بیانوي، د حکیمانو د حکمت، د سوداګرو د سوداګري او د ژوند نور اړخونه یې بیان کړي دي لکه د شپېتو برېښو نکل، د الدین د څراغ نکل، دبیربل نکلونه، ناصرخان او د هغه سره اوښان. بېرم خان(بهرام) او د هغه د دوران پېښې او آن د آدم او حوا. دا وروستي مثالونه د مینې د کیسو نه دي ، بلکې د ژوند د نورو اړخونو بیانوونکي دي.
مسعود: په پښتو ولسي، فولکلور او شفاهي ادب کې د ډېرو ټپو تر شا د مینې، بېلتون، جګړې، کډوالۍ او هجرت، پښتني او ټولنیز ژوند داستانونه او همداسې د پښتو متلونو او ولسي حکایتونو شتون، چې د یوې پېښې له لارې اخلاقي یا ټولنیز لوست او درس وړاندې کوي. تاسو په دې تړاو څه لیدلرئ؟
استاد دودیال: دپښتو ژبې فولکلور تر ټولو لویه برخه اخلاقي او د ټولنیزو غوره اوصافو بیان ته وقف شوی ده. زمونږ او تاسو دین لله الحمد د اسلام مبارک دین دی. اسلام نېکو اخلاقو ته اوچت ارزښت ورکوي. پښتو او پښتنو ته اخلاق او انساني عالی سجایا د زرتښت له مهاله د (نقش فی الحجر) په شان پاتې دي. د اسلام د سپېڅلي دین په راتګ پښتنو نه یواځې دا چې اسلام ومانه، بلکې د دغه سپېڅلي دین لپاره یې پوره کار او مجاهدت هم وکړ. دا ځکه چې اسلامي احکام کټ مټ او هو به هو پښتني ارزښتونو سره تطابق درلود. د دوی د مجاهدت بیلګې به وروستیو څلور-پېنځه سوه کلونو کې را یادې کړو: روښان پیر او روښاني نهضت یو معنوي او اخلاقي، د آزادي، برابري او مساواتو پالونکی حرکت و چې له هندوستان څخه تر افغانستان او مرکزي آسیا پورې یې مریدان او مخلصان لرل. د بایزید انصاري آثار چې په څلورو ژبو(دري، پښتو، هندي او عربي) یې لیکلي وو، دغو سیمو کې خلکو لوستل، ورپسې حاجي میرویس نیکه، احمد شاه بابا، سیدجمالدین افغان او تر باچاهان ټولو د پښتني کودنو او اخلاقي مجموعې سره د اسلام احکام توصیه کول. د پښتنو د نامتو مشر افضل خان لالا خبره بیخي پرځای ده چې ویلي یې و(.. پښتانه فطرتاً مسلمان او د منزه سیرت لرونکي دي).
کله چې دوی زرګونه کاله ثبات لرونکی ژوند درلود، له خپلو اصلي سیمو څخه نه وو بېځایه شوي او د ځېښناک او استخباراتو لاسوهنې نه وې، دوی تل اخلاق او انساني عالي سجایاوو رعایت کړی دی، نو د پښتو ولسي، فولکلور او شفاهي ادب کې نکلونو او ولسي داستانونو د نورو موضوعاتو ترڅنګ؛ اخلاقي او ټولنیز لوستونه، پندونه او د عبرت پیغامونه لرل او تر نن ورځې یې نویو نسلونو ته دا درس وړاندې کړی دی.

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندهٔ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»

مسعود: د پښتو په وګړني ادب (نثر او نظم) کې ډېرې داسې بېلګې او نمونې شته چې د تېرې زمانې کړه وړه، دودونه او رواجونه، انګېرنې او روایتونه مور ته په ګوته کوي، چې مور په دې لړ کې نکل، ناري، چاربیتې، بدلي، بګتی ،لوبې، داستانونه او کیسې (فولکوریک نثر او نظم)، د مروتو کسرونه، ازاد ولسي شعرونه، د اتڼ ناري، د ښادۍ بدلي د مینډو سندرې، د هوتکو ناري، د کاکړۍ او نورې یادولای شو.که چېرې د یادشوي وګړني ادب هره بېلګه وڅېړو نو اړومرو پکې یو ډول کیسه تر سترګو کیږي. تاسې د دغو ملي او وګړني ادب د بېلابېلو بېلګو کیسې او نکلونه څه ډول ارزوئ او د دغو ملي او وګړني ادب د کیسو او نکلونو سایکلوژیک او رواني حالت، اروایي، معنوي، ادبي او ولسي ارزښت څرنګه څېړئ؟

استاد دودیال: لږ مخکې د هوې بلې پوښتنه په ترڅ کې ښادونه وشوه چې ډېر متلونه او لنډۍ خامخا یوه کیسه لري او له کیسو څخه جوړ او را پاتې دي. کیسو خلک اړ ایستلي چې په هغو، د هغو په اتلانو، د هغو په پایلو او علتونو فکر وکړي او بیا د متل، چاربیتې، بګتی یا د لنډۍ په بڼه هغه ضبط کړي. آن دا چې تازه وختونو کې چې راډیو او د ثبت وسایل رامنځته شول، زیات شمېر پخواني داستانونه سندرو سره وویل شول. د بېلګې په توګه دغه لاندې سندره په خپله یو لرغوني کیسه لري:

محبت اول آسانه په نظر راغی - په آخر کې مې نصیب خون جګر راغی
تل زه هیر انسان، خجل تر هره سیاله شوم- د عشق کښت چې مې کاوه دا یې ثمر راغی
تصور کې د شیرینې ناخبره وم - د فرهاد دیتشې واري مې پر سر راغی....

د تورې جان، د کونړ د غلام محمد، رادوجان، فرحت په تبې تور، ملامحمد جان سندرې هریوه یې یو داستان لري. نو ستاسو پوښته بیخي سمه ده. په دې سندرو، چاربیتو او کاکړیو کې د اصلي تېر شوي داستان درد، آرمان، غم او اثر ښکاري. هغه ارزښت چې لري یې دفولکلوریستانو د څېړنې موضوع ده او ولس دغو ارزښتونو ته په درناوي سره دا ډول موضوعات خپلو ذهنونو، حافظه او سینه کې ساتلي دي.

مسعود: هغه نکلونه او کیسې چې تر اوسه کومو شاعرانو نظم کړي دي او له ساز او اواز سره زمزه کیږي عشقي، جنګي، مذهبي او حماسي رنګ لري چې د بېلګې په توګه د مومن خان او شیرینو داستان، د لیلا او مجنون کیسه، د نمرود کیسه، د حضرت علي جنګنامه، د ممتاز شهزاده او بوقلمون کیسه، د نیکه داستان، د امامانو کیسه، د یوسف او زلیخا کیسه، د ګل مکی او شیر بانو کیسه او بې شمېره نورې کیسې په پښتو ژبه کې نظم شوي دي. تاسې د دغو کیسو د مضمون، موضوع، منځپانګې په تړاو څه لید لرئ او د دغو کیسو او نکلونو موخه، وګړني، هنري او ادبي، معنوي او رواني ارزښتونه څه ډول ارزوئ؟

استاد دودیال: کله چې یو هنر په بل سره التباس مومي، رنګ او خوند یې نور هم ښایسته کیږي، لکه غوږي لا غوږ. کیسه او روایت یوه معنوي شتمني او کله چې دا په نظم او سندرو کې له نورو هنري صنایعو سره سینګار شي، کیفیت یې نور هم اوچتیږي.

مسعود: په کلاسیکو داستاني ادبیاتو کې د اخلاقو او معنویت ارزښتونه څه ډول ارزوئ؟

استاد دودیال: په زغرده ویلای شو چې زمور کلاسیک داستاني ادبیات له دې ډول (اخلاقي او معنوي) ارزښتونو څخه چې تاسو یاد کړل، مالامال وو. د پښتو کلاسیکو داستاني ادبیاتو ارزښت په دې کې و چې زمور د هیواد د تمدن، اقتصادي آبادي، سوداګري، د خلکو د فکري تومنې، زمور د پخواني نسل هنري، ټولنیزې او انساني تجربې یې تر مور پورې را رسولي دي. موضوعات یې د اوسني ژوند تر موضوعاتو هم رنګارنګ او پیچلي دي. دا ځکه چې هغه وخت انسان له راز راز طبیعي پېښو، ساده تخنیک او ستونزمنو شپو-ورځو سره مخامخ وو. نوي تخنیک او رفاه ژوند ساده او آسانه کړ، اوس تکنالوژي او نوي آسانتیاوي د پخواني ستونزمن ژوند په پرتله جوړه مړۍ زمور خولې ته رارسوي، خو پخوا ژوند ستونزمن او فزیکي کارونه سخت وو. دغو داستانو کې د ژوند او مرګ، کار، مینې، جګړې او سولې، پاچایانو، وزیرانو، بزګرانو او د زمکو د مالکانو حاکمیت او ورسره د نیکو خلکو عادلانه مبارزې او بالاخره د اخلاقو او انساني کرامت په څېر تلپاتې انساني مسئلو ځای درلود. د کلاسیکو داستاني ادبیاتو مخیل هنري ځواک، فکري ژورتیا، ښکلی جوړښت مور ته الهام

بخښونکی دی. باید زمور نوی نسل یې ولولي، ورځخه خوند واخلي، ورځخه زده کړه وکړي او هغسې احساس او عواطف ځان کې وروزي.
مسعود: تاسو د پښتو معاصرو داستاني ادبیاتو، تاریخي بهیر، سرچینې او مهم پراوونه څه ډول ارزوئ؟
استاد دودیال: په زړه پورې ده؛ ځومره چې زمور فولکوریک داستانونه د لرغونو وختونو روایات او لوړې- ژورې راته بیانوي، ځومره چې ولسي نکلونه راز راز پېښې راته وایي او په وطنونو مو ګرځوي، هومره هم حیرانوونکي، د تاریخ سپړونکي، هنرمندانه، د جادویي اغېز لرونکي او خواږه دي. همداسې هم د کلاسیک دور منظوم داستانونه، بیا معاصر داستاني ادب ښکلی او په زړه پورې دي. د دغو کیسو اورېدو ته زمور تنده نه ماتېدونکې ده. ډېرې کیسې او روایات، په تېره بیا هغه چې تاریخي او مذهبي اړخ لري، شرقي ادب کې ګډ او سره ورته دي. په شرقي ادب کې کیسه په ټول فورم کې له پخوا نه موجوده وه. ختیځوال له پېړیو پېړیو داستاني ادب سره له پخوا بوخت پاتې شوي دي. په آریایي اثارو کې له میلاده دوه زره کاله وړاندې د (پانچاتنترا یا پانچا کیانه) په نامه کیسې موجودې وې ، چې تر اوسه پورې د نړۍ په بېلابېلو ژبو ژباړل شوې دي او د یادو کیسو پښتو ژباړه له ننه شاوخوا درې سوه کاله وړاندې په ۱۲۲۸سپوږمیز کال افضل خان خټک کړې وه، له هغه وروسته بېلابېلو وختونو کې یې درې یا څلور نورې ژباړې هم شوي دي.
له ژباړو پرته؛ په خپله پښتو لرغوني کیسې هم له یو نسل بل ته په میراث پاتې دي. لرغوني او کلاسیک نکلونه، حکایات او کیسې په شفاهي توګه سینه په سینه تر موږ رارسېدلي دي، له نیکه مرغه اوس یې یو شمېر مطبوعاتو په لیکلي بڼه خوندي کړي دي.
که له شفاهي کیسو او داستانونو تېر شو او لیکلو آثارو ته راشو، نو وایو چې:
پښتو معاصر ادب کې د داستاني ادب، د دریو لویو او نامتو فورمونو(ځېلونو) یعنې لنډې کیسې، ناول او رومان له ډلې، لنډه کیسه لومړی دود شوه.
پښتو ادب ته د لنډې کیسې راتګ کې د اردو ژبې کیسې او آثار اغیزمن بلل کیږي. په دې اړه ځینې څېړونکي وایي چې له اردو ادب (د پریم چند له کیسو) څخه، لنډه کیسه پښتو ادب ته راغلې ده . ځومره چې موږ ته ښکاري په پښتو ادب کې لومړنۍ دوه لنډې کیسې (کونډه نجلۍ او شلېدلې پڼه) نامتو دي، خو دا چې کومه یوه مخکې او کومه دوهمه وه، په دې کې یوڅه دقت په کار دی:
د ارواښاد تقویم الحق کاکاخېل د پښتو داستاني اثارو د کرونولوژیک فهرست له مخې ویلای شو چې د مرحوم سید راحت زاخېلي (شلېدلې پڼه) چې په د ۱۹۰۸ م. کال کې لیکل شوې ده، پښتو لومړنۍ لنډه کیسه وه. په همدې خاطر ځینو طنازو څیړونکو مشهوره کړې ده چې:
پښتو ته لنډه کیسه په شلېدلې پڼه کې راغلې ده ! خو ګرندی او بریالی مزل یې وکړ.
شلېدلی پڼه هغه وخت ولیکل شوه چې د شلمې پېړۍ لومړۍ لسیزه وه.
په لویدیځ کې د لنډو کیسو لومړۍ ټولګه د نولسمې پېړۍ په دویمه لسیزه کې (۱۸۱۴- ۱۸۱۸م.)کلونو ترمنځ، جرمني کیسه لیکوال راتې ډبلیوهوفمین خپره کړه. ورپسې امریکایي دارونـــګ په(۱۸۱۹ – ۱۹۲۰م.) کې (The short stories) کیسې خپرې کړې .امریکایي لیکوال(ادګار الن پو) په ۱۸۴۲م. کال کې لنډې کیسې ته یو لړ ځانګړي اصول وړاندې کړل چې د دغو اصولو له مخې معاصره لنډه کیسه له نورو داستاني فُرمونو څخه توپیر شوه .لویدیز کې څه کم سل کاله مخکې په انګلیسي او نورو اروپایي ژبو د معاصر فن او تخنیک سره سم، لنډې کیسې ولیکل شوې. د طباعت او چاپ د آسانتیاوو په زیاتېدو سره او د نولسمې پېړۍ په بهیر کې امریکا او اروپا کې لنډې کیسې چاپ او خلکو په مینه لوستلې. پښتو لومړنۍ لنډه کیسه د شلمې پېړۍ لومړیو کې په چاپي اثارو کې راغله . یو شمېر نور لیکوال وایي چې (کونډه نجلۍ) تر (شلېدلې پڼه) لنډې کیسې یو کال مشره ده(سره له دې چې د دې دوو کیسو وړاندې- وروسته والی ډېر مهم نه دی) . د کاکا خېل د څېړنې پر بنسټ ځینې وایي چې پښتو ادب ته مخکې له دې چې په اردو ادب کې منشي پرېم چند پر کیسه لیکلو لاس پورې کړي، لنډه کیسه لیکل شوې وه.

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندهٔ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»

په هر حال په پښتو ادب کې د لنډې کیسې د پیلامې ویاړ مرحوم زاخېلي صیب ګټلی دی . وروسته د شلمې پېړۍ د درېیمې لسیزې په نیمایي۱۹۲۶م. کال په (افغان) مجله کې د ابولمعاني ازاد (د یوه مړي پیغام) او د سربلند خان د (نواب صیب آشنا یي) لنډې کیسې خپرې شوې او په دغو مخکښانو کې د ادریس خان نوم هم راځي. وروسته بیا کوزه پښتونخوا کې د سید مهدي شاه مهدي په شان کیسه لیکوال را میدان ته شول چې داستاني ادب یې نه یواځې له فني اړخه، بلکې د محتوا او مقصدیت له پلوه اوچت دریځ ته ورساو.

بره پښتیخا کې کیسه له شمس النهار اخبار پیل شوه، وروسته لوی استاد علامه عبدالحی حبیبي په ۱۳۱۲ ل.(۱۹۳۳م.) کال کې د طلوع افغان په کلنۍ کې د (سرو زرو ګېندتوب) تر سرلیک لاندې یوه داستاني طرح خپره کړه چې د لنډې کیسې څرکونه پکې لګېدل. دري کاله وروسته بیا هم لوی استاد علامه عبدالحی حبیبي د (توریالی پښتنه ۱۹۳۶م.) په نامه یوه حماسي کیسه خپره کړه چې د یوې بشپړې لنډې کیسې بېلګه یې ګڼلای شو. وروسته ګڼ شمېر ژباړلې کیسې خپرې شوې او لیکوالانو پر لنډه کیسه لیکلو لاس پورې کړ. په دري ژبه کې لومړنۍ کیسه ارواښاد نجیب تورویانا (۱۹۱۴م.-۲۰۲۴م.)ولیکلې چې تاریخي او حماسي بڼې یې لرلې لکه (اوشاس)، (مرګ محمد)،(فرزند رویګر)،(آخرین خوارزمشاه)،(قبه خضرا) او(هیرمند).. د ارواښاد غوث خیبري تاریخي او حماسي کیسې لکه ابدالي توره، د اور لمبه، د کندهار ناوې، اراکوزۍ پېغله او مقدوني سکندر، یا د پژواک تاریخي داستاني آثار او نور مثالونه.

د پښتو لنډې کیسې پیل پېښور کې وشو، کله چې بره پښتیخا کې مطبوعات پراخ او له کابل څخه نیولې تر ولایتونو مجلې او اخبارونه نشر شول، ډېرو لیکوالو لنډې کیسې ولیکلې چې د یو شمېر نومونه دا دي: عبدالحی حبیبي، نورمحمد تره کي، سلیمان لایق، غوث شهامت خیبري، عبدالرووف قتیل خوږیاني، امین افغانپور، سعدالدین شپون ، محمد صدیق پسرلی، زړه سواند شینواری، مصطفی جهاد او یو څو نور پخواني او وفات شوي لیکوالان. په اوسنیو لیکوالو کې اکبرکرګر، بریالی باجوړی، ایمل پسرلی، عبدالوکیل سوله مل شینواری، اکبر بری، محمود نظري، خالق رشید، زرین انځور، ابراهیم سپېځلی، حفیظ الله تراب، نصیر احمدی او ډېر نور. له لنډې کیسې وروسته ناول لیکل هم پر مخ ولاړل. نن ورځ کوزه پښتونخا او بره ؛ دواړو کې ډېر زیات لیکوال لرو چې لنډې کیسې او ناول لیکي او زیات شمېر د لنډو کیسو ټولګې او ناولونه خپاره شوي دي.

کېدای شي چې د قلم، کاروبار او حرفو یوه ځانګړنه دا وي چې پکې بوخت کسان باید حتماً حرفوي وي او د مسلکي زده کړو په لړلو سره یې (فیلدfield) مربوطه بوختیا وي، خو عجیبه داده چې پورته درنو ذواتو کې یو څو تنه د ادبیاتو مسلکي نه دي او نه یې د کار ساحه (فیلد) وه، خو ډېرې معیاري او ښکلې لنډې کیسې او ناولونه یې لیکلي دي. نو دا ثابتیږي چې ادبي تخلیق کې تر مسلکي زده کړو علاقه، استعداد، ذوق او ښکلا پېژندنه مهمه ده، که مسلکي زده کړې او آفاقي مطالعه ورسره ولړي، نو غوړي لا غوړ. تجربو وښوده چې د داستاني ادبیاتو یو شمېر بریالیو لیکوالو بهرني او ملي ادبیات په مینه لوستي، د لیکلو پوره مشق او تمرین یې کړی، ریاضت یې ګاللی او بیا یې چې قلم ته لاس وروړی، نو ډېر ښکلي ادبي تخلیقات یې کړي دي.

د پوښتنې بله برخه مو هم په زړه پورې ده. باید ووایو چې: انسان په فطري ډول د کیسې اورولو او اورېدلو ذوق لري. کیسو ته د غوږ نیولو تنده کوچنیانو او لویانو کې یو شانته ده. په همدې خاطر لنډه کیسه یوه ادبي ګلدسته ده. لنډه کیسه د اوسني پرمختللي عصر زېږنده او پیداوار دی ،څومره چې بشري ټولنې له یوې ورځې څخه بلې ته په ذهني او مادي لحاظ د پرمختګ پړاوونه وهلي په هماغه اندازه د انسانانو ضرورتونه او مصروفیتونه هم زیات شوي دي ، پرونی انسان چې یوځه وزګار وختونه یې لړل او د ژمي اوږدې شپې به یې د مینې او محبت په رومانې ناولونو، د جنګونو او ننګونو په حماسو او د ښاپېریانو او دیوانو په خیالي اوږدو کیسو په لوستلو او اورېدلو سبا کولې او له هغو څخه به یې خوند، پندونه او یوه غوره پایله ترلاسه کوله، سوچ به یې وربانديِ کاو او خپله د کیسې اورېدنې تنده به یې پرې خړوبوله. نن ورځ داستاني ادبیات ایجادول، لوستل، خپرول او ټولنه وربانديِ عادت کول، د نوي تمدن یوه بېلګه ده. زیاتره کیسې تربیتي او معلوماتي بڼه لري، لوستونکی غور او تعمُق ته رابولي،

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندهٔ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»

يو شمېر نورې کيسې د ارادې دپياوړتيا لامل کيږي، ځېنې نورې بيا آن د رواني علاج په توګه اغيزمنې وي. دا نه يوازې زموږ او تاسو هېواد کې، بلکې ډېرو نورو هيوادو کې هم همداسې و، خو د اوسنې عصر انسان د صعنتي ژوند په بهير کې د ډېرو مصروفيتونو او بوختياوو له کبله ستومان انسان داستاني ادب ته د تفريح په توګه مراجعه کوي. دا چې د کيسو يا پېښو اورېدنه، متلذذ کېدل او ادبي تنده ماتول او روحي تسل موندل، يو څو شيبې له کيسو خوند اخيستل، کيسه لوستل او ځان پرې پوهونه د انساني ذهن فطري غوښتنه ده او د بشر د روحي تسکين لپاره همېشه د يوې مهمې اړتيا په توګه محسوسيږي، نو نوي داستاني ادبيات دوام لري او لاهم د خلکو تنده ورته شته او وي به.

مسعود: تاسو د پښتو معاصرو داستاني ادبياتو مهمې ځانګړتيا، منځپانګه، موضوع، اصلي مفکوره، ادبي، هنري، انساني، پښتني او ټولنيز ارزښت او پيغام څنګه ځېرئ؟

استاد دوديال: د پښتو معاصرو داستاني ادبياتو لومړۍ ځانګړنه دا وه چې ملي ارزښتونه او ملي هويت ځلول يې را ونغاړل. د ښکېلاک په وړاندې يې د افغان ولس زړوره مبارزه او حماسي پېښې او د ملي اتلانو اتلولۍ ثبت او توصيف کړې، ورسره يو ځای يې د خلکو د بيوزلۍ انځور وړاندې او د افغاني فيوډالي ټولنې د طبقاتي ژوند ريالېست ادبيات شول. ناوړه دودنه يې و غندل او استېتيکي ذوق ته يې وده ورکړه، خلک يې سياست سره آشنا او آن دا چې افغاني وروسته پاتې ټولنه کې يې سياسي مسايلو کې د خلکو ګډون ته جرات او زړروتيا ورکړه، د ولسونو ترمنځ يې يووالي ته لاره جوړه کړه، د ادبي ذوق روزنه کې يې ونډه ترسره کړه، افغانان يې نړيوال کلتور سره آشنا کړل. مينه يې وستايله او کرکه يې وغندله. زموږ لرغوني شفاهي او ولسي ادب ته يې د زربفتو نوې شال ورپه سر او د فولکلور ځينې برخې يې له هېريدو وژغورلې، پښتو ادب يې د نړۍ ادب سره سيال کېدو ته نږدې کړ.

مسعود: د پښتو معاصر داستاني ادب په بهير کې، د لرو بر پښتونخوا ګڼو ليکوالو او کيسه ليکونکو د پښتو داستاني نثر د ودې او پراختيا په برخه کې د پام وړ ونډه لرلې ده. ښه به وي که تاسو د دغو نوموتو ليکوالو د پېژندنې په تړاو او د دوی د مهمو او اعېزناکو نښرونو(آثارو) په اړه خپل ليد راسره شريک کړئ.

استاد دوديال: ويل کيږي چې پښتو لومړنی ناول د (نقش نګين) په نوم ژباړل شوی ناول و. د هنري او ادبي آثارو ژباړه هم هنر دی. دا ډېره ښه خبره ده چې آثار پښتو ژبې ته او له پښتو نورو ژبو ته وژباړل شي. د لومړني ليکل شوي ناول د ليکلو ويار سيد راحت زاخېلي ته ورګرځي. سيد راحت زاخيلي د پښتو داستاني نثر د ليکلو او ژباړې سرلاری و. ده پر ۱۹۱۲م. کې د "ماه رخ، نتيجهٔ عشق". د مينې ناول ليکلی چې کيسه يې تقريباً واقعي ده. ورپسې پر ۱۹۳۹م. کال کې نور محمد تره کي يو سياسي او فکري ناول په "کابل" مجله کې د "بې تربيته ځوی" خپور کړ، خو دا دواړه له فني پلوه او د ناول د عناصرو د نه پوره والي له امله معياري نه وو، خو لومړني وو.

هغه لومړنی پښتو ناول چې د فن او تيکنيک له مخه معياري او بشپړ و، د صاحبزاده محمد ادريس د "پېغله" په نوم و چې په ۱۹۵۰م. کې يې بشپړ او خپور کړ. دا د مينې کيسه ده چې هم تلوسه لري، هم منظري او ديالوګونه، په دې کې له سايکالوجيکي پلوه جذبات او احساسات هم څرګند دي. فزيکی کړه وړه يې هم طبيعي دي چې هنرمندانه پرداس ور کړل شوی دی. ورپسې دعبدالله جان اسير د "درسِ عبرت" نوم راځی چې د هغه وخت د کوزو پښتنو ژوند يې انځور کړی دی. ببرته به کابل ته راشو: د غوث خيبري تاريخي ډوله ناول "د ابدالي توره" په کال ۱۹۵۶م. کې خپور شو. کوزې خواته پر ۱۹۵۷م. کې د اشرف دراني عاشقانه ناول "زرکې سترګې" چاپ شو. دې پسې وروسته د حمزه شينواري نوم راځي چې هغه داستاني ادب کې ملي، سياسي، تعليمي، تصوفي او فلسفيانه مسايل و نغاړل. حمزه لکه د شعر (غزل) په شان فلم، ډرامه او داستاني آثارو کې ژمنتيا ته ځای ورکړ. وروسته بيا د ميلادي پېړۍ شپېتمه لسيزه کې د رشيد علي دهقان "د سرو تعويذ"، د محمد ابراهيم شبنم "خوابنې نږور" او "اجړه" او د روغ لېوني "چرسي" ناولونه چاپ شول.

د شلمې پېړۍ اوومه لسيزه د کميت او کيفيت له پلوه د پښتو داستاني ادبياتو د ځلا او ښکلا دوره وه. ميا سيد رسول رسا، د بنو غازي سيال، شېرزمان طايزی، نورمحمد تره کی، د سوات رحيم شاه

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندهٔ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»

رحيم، پاينده محمد خان، شيرين زاده خدوخيل او غلام حبيب افغاني، محمد حسن خليل، سعدالدين شپون، خيبري، امين افغانپور، سلمى شاهين ،ع.ا.محک، زرين انځور ، اسير منګل، ننګيال، آصفه عمرلور، کرګر، ن. ا.احمدي، ارش ننګيال، خ. رشيد، تراب، طاهر اپريدي، ا. پسرلى، امان الله ساهو، عقاب خټک، مصطفى سالک، عبدالبارى جهانى ، شهرحمد شهر، ساغر افريدي، د عبدالبصير زخمي، پرويز شيخ، ميا مکمل شاه، محمد ظريف خان، محمد اعظم ملازو، خيرالحکيم حکيمزي، دلسوز خټک، تاج سعيد خټک، مجاوراحمد زيار، کبرا مظهري، صفيه حليم او نورو درنو ليکوالو پښتو ناولونه وليکل(ځان په هيڅ صورت دعفوى وړ نه بولم چې د موضوع د اوږدوالي په خاطر مي د ډيرو حقدارو ليکوالو نومونه ونه ليکل، بل وخت به ان شاالله د ټول حق ادا کړم). پښتو لنډې کيسې او د لنډو کيسو ټولګي هم لرو، چې شمېر يې زيات دى، خو د ځينو پښتو ناولونو نومونه دا دي: ګل خان،امانت، ميخانه، رحمان کورونه، غونډى، وادۀ ونۀ شو، بې تر بيته ځوى، څېره، د بنګ مسافري ، سپين، سنګسار ، موچي، ښاپيرى، مينه او فرض، ناوې، غشى، بنزي، ابدالي توره، هغه وژړل، يو کارتوس به ځانته ساتم، کۀ رڼا شوه ، لوى بوټان، کانو کې رګونه ، ترله، راجګنه، بې بې مبارکه، سکندر اعظم، د مينې ډالى، دشت لوط مسافر، دا خو مينه نه وه، غازيان، مور ببرته خپل کلي ته ځو، ګټيالى، شين ټاغى، و نه و يو شپون و، د خلکو د آرمان سپيلنى، زمرده، قوماندان، ګوندي بيا به بنې ورځې راشي، د تخت غمى، په وزرونو سوي پتنګان، سيورى، نيکه، ولسمشر ما وژلى، د ارواحو له ښاره، نوى ژوند ، نوى کول يدي، وړه بې بي ، توده بکره ، ژوندى مينه مزل او منزل پاتې شه باران دى، شاهين ، د سيند په غاړه تږى ، ګل خوبانه دا يم، کډه په سر ، مينه د زړۀ په وينه ، سپوږمى، زيبښناک ، سکندر اعظم، بهګوان ، منګرى اونور(بيا هم ځان پرې بولم چې ډېر ښکلي ناولونه مي د موضوع د لنډيز په خاطر پرېښودل، بل وخت به خبرې ورباندې کوم، دلته مي د قدرمن اينجنير صاحب د پوښتنې د ځواب په خاطر فقط څو بيلګې راوړي دي. درناوى).

مسعود: د پښتو داستاني ادبياتو د ودې او پراختيا لپاره، شفاهي ولسي ادبي ميراث د داستاني تخيل مهمې او ګټورې سرچينې دي. که دا ميراث له معاصرې هنري ژبې سره پيوند وموميږي، داسې داستانونه به رامنځته کړي چې هم ژور ولسي ريښې ولري او هم معاصر ادبي خوند او جوړښت. ستاسو ارزونه په دې برخه څه ده؟

استاد دوديال: پښتو شفاهى ادب نه يواځې دا چې لنډيو ښکلى او ښپارى کړى، بلکې زمونږ متلونه، ولسي نکلونه، د پند او عبرت حکايات او ماشومانو ته د مېندو سندرو او بوللو رنګين او ښکلى کړى دى. دغه ستر معنوي ميراث زمونږ پر معاصرو داستاني آثارو هم اغيز کړى دى. يو شمېر لنډو کيسو او ناولونو تاريخي نکلونو څخه تومنه اخيستې ده. لږ مخکې دا خبره په تفصيل راغلې ده.

مسعود: تاسو د پښتو داستاني ادب پرتله له دري- پارسي، اردو او نړيوال داستاني ادب سره څه ډول ارزوئ؟

استاد دوديال: پښتو داستاني ادبيات د نړيوال داستاني ادب يوه برخه ده، په تېره بيا چې اوس ګڼ شمېر لنډې کيسې او آن ناولونه نورو ژبو ته ژباړل شوي او نړېوالو ورته پام کړى دى، خو تر هرڅه زيات زمونږ فرهنګي حوزه کې دري پارسي، عربي او اردو ژبو پښتو ادبياتو او پښتنو اديبانو سره نږدې اړيکې لرلې او لري يې. د علامه عبدالحى حبيبى او تورويانا داستاني ادبيات ايران کې د خلکو د پام وړ ګرځېدلي وو. ډېر زيات داستاني لرغوني او کلاسيک روايتونه د دري او پښتو ژبو تر منځ شريک او کټ مټ دي. ځينې کيسې د هندوستان او کشمير سره شريک برخليک او کرکترونه لري. د بهلول دانا نکلونه وګورئ، دري او پښتو کې کټ مټ راغلي دي، د ليلا او مجنون کيسه بيا دري/پارسي، عربى، پښتو او اردو کې بيخي کټ مټ ده. اوس يې لا هندوستان فلم هم جوړ کړى دى. آن د ملا نصرالدين کيسې تر دې هم پراخ وربوى کې خپرې دي. له دې څخه ښکاري چې په ولسونو کې کيسې د شعر په پرتله ژر او په پراخه اندازه له پولو اوړي، منل کيږي او د خلکو په ژبو جاري کيږي. د چاپ او طباعت دور کې هم ډېرې کيسې له اردو او دري پښتو ته ژباړل شوي دي، نو په دې توګه ګورو چې د داستاني ادب برخه کې دغو ژبو يو بل سره نږدې تعلقات ساتلي دي، خو دکميت او کيفيت له پلوه توپير شته. پښتو معاصر داستاني ادبيات د اردو ژبې د داستاني ادبياتو په اندازه نه دي. د دې يو لامل

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندۀ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»

دا دی چې د پښتنو سیمه کې د چاپ چارې او مطبوعات وروسته رامنځته شول. اوس د دري پارسي او اردو د داستاني ادبیاتو(لنډو کیسو، ناولونو او رمانونو) په پرتله د شمېر له پلوه پښتو داستاني آثار کم دي، خو د خوشحالي ځای دا دی چې د کیفیت او موضوعاتو له پلوه بیخي له دغو ژبو سره سیالي کولای شي. آن پښتو داستان لیکونکو دېر ښه دري/پارسي داستانونه او ناولونه لیکلي دي. موسی شفیق او پژواک په دواړو ژبو لیکل کول. امین افغانپور په ژوندون مجله کې هم دري او هم پښتو کیسې نشر کړي دي. ره نورد زریاب د دري ژبې نامتو لنډه کیسه لیکوال و، خو د (ګلنار و آئینه)،(چار ګرد قلا ګشتم)، (کاکه شش پر و دختر شاه پریان) ، سکه ی که سلیمان یافت) ښکلي ناولونه پښتنو هم په مینه لوستي دي. دغه وروستی یې عجیب فلسفی رنګ هم لري، چې آن بهرنیو ژبو کې یې ساری لږ دی. کاکه شش پر و دختر شاه پریان یو داسې ناول دی چې پخوانیو افسانو څخه روایت کوي او د کلاسیکې دري ژبې څخه بیا په معاصره بڼه لیکل شوی دی. اردو او هندي ژبو لیکوالو ډېرې ښې پښتو کیسې لیکلې دي (لکه روشن لال میلهوترا) او نورو. څومره چې د هند او افغانستان ترمنځ سیاسي، اقتصادي او تجارتي اړیکې نږدې او ګڼې پاتې شوي دي، همدومره مو فرهنګي تعلقات کلک وو او وي به. د کمیت یا څومره والي له پلوه د اردو او دري ژبو داستاني آثار د پښتو داستاني آثارو په پرتله زیات دي.

مسعود: تاسې په پښتو داستاني ادبیاتو کې مهمې ستې، د پامور څېړې، ستړې پېښې او د پېښو ارزول او تولنیز بدلونونه څه ډول څېړئ، او دا راته وواياست ایا زمور په تولنه کې ادیبانو او لیکوالو په خپلو ادبي نښیرونو (اثارو) کې زمور تولنیز شرایط انځور کړي دي او که نه؟

استاد دودیال: دا پوښتنه له مخکنۍ یوې پوښتنې سره بیخي ورته والی لري، چې هلته مو ځواب ورکړ، خو په لنډ ډول یو وار بیا وایم چې : پښتو اوسني داستاني ادب کې، د معاصر افغانستان بیلابیلو دورو او واکمنیو کې داستاني اثارو په ریالیستیک ډول تولنیز شرایط انځور کړي دي. آن دا چې که د هرې دورې داستاني ادب ولولو، د هغې دورې د تاریخ لنډیز یې بللای شو.

مسعود: تاسو د ښځینه وو لیکوالو پښتو داستانونو، منځپانګه، مهمه او اصلي موضوع، پښتني، انساني او تولنیز ارزښتونه او پیغامونه د نړېوالو ښځینه وو لیکوالو له داستانونو سره څه ډول پرتله کوئ؟

استاد دودیال: کلاسیک دور کې د شپږو ښځو شاعرانو ذکر راغلی دی، لکه زرغونه انا، نازو انا، بي‌بي زینب هوتک د میرویس نیکه لور، د شاه محمود هوتک او شاه حسین هوتک خور او او یو شمیر نورې چې دوی د پښتو ادب د منځنۍ/کلاسیکې دورې پورې اړه لري، هغه وخت مور لنډه کیسه او ناول نه درلود. د نولمسې پیړۍ وروستیو کې مېرمنو نثر کې لیکنې وکړې، خو بیا هم لنډه کیسه او ناول نه دی لیکلی. د بیلګې په توګه مېرمن زرغونه د ملا دین محمد کاکړ لور او د سعدالله جان نورزي ښځه وه، چې د نولسمی میلادی پیړۍ پای او د شلمی پیړۍ لومړیو کې یې سوات کې ژوند کاو، هم یې نظم او هم یې نثر موجود دی . هغې یوه داستاني واقعه نظم کړې وه. زرغوني کور کې زدکړې کړې وې او د کلاسیکو دري ژبو او پښتو ژبو شاعرانو شعرونه ئې لوستلي وو ، د شېخ سعدي کتاب (بوستان) یې د"بوستان د پښتو"په نوم پښتو منظومه ترجمه کړې وه . د بلې معاصرې دورې لیکوالې نوم سېده منصفه ده. دغه مېرمن د کاکاخېل د لویې کورنۍ اړوند د اعتکاف الدین په کور کښې په کال ۱۹۰۶ م. کې پیدا شوې وه ـ بیا وروسته د دوبیانو کلي ته وادۀ شوې وه . دیوان یې په ۱۹۸۴ م. کې چاپ شوی و. له شعر پرته یې نثر هم لیکلی، خو د لنډې کیسې، ناول یا رومان په بڼه لا تر دې وخته د کومې مېرمن اثر نه لیدل کیږي. ورپسې د بخت پري او مهرالنسا بانو نومونه راځي. بخت پري په ۱۹۲۷ کښې په سېدو شریف کښې پیدا او په ۱۹۷۹ م. کې همالته وفات شوې ده . د هغې د نثر په بڼه کوم کتاب لاس کې نشته، خو ``د بخت پري سوغات" په نوم د شعرونو ټولګه یې محفوظه ده ، ورسره د سعیده لائق ام وسیم او بي بي فاطمي، کشره بېګم دوه شعري مجموعې `` نیمګړے ژوند او ``یادونه" او د مختار بېګم ``د ارمان چغه"شامل دي . داسې ښکاري چې زیتون بانو هغه لومړنۍ مېرمن وه چې پښتو لنډه کیسه یې ولیکله. معاصر وخت کې د زیات شمېر ښځینه وو لیکوالو نوم مخې ته راځي لکه شریف شریف، سلماشاهین ، کبرا مظهري، سیده حسینه ګل، عمرلور، پروین ملال، زرغونه زیور او نوري. زرغوني زیور خپله لنډه کیسه یا رومان نه دی لیکلی، خو له روسي ژبې څخه یې له خپل

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندۀ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»

مېړه، زيورالدين زيور سره د " غابني ډزه" او " پولاد څنګه کلکيده" ناولونه ژباړلي وو. معاصر وخت کي نورو خويندو د پښتو نظم او نثر برخه کي آثار کښلي دي. د هغو مېرمنو نومونه چې ادبياتو کي يې معاصر وخت کې کار کړی، ستاسي بله پوښتنه کي ځواب شوی دی، خو دا چې د دوی د داستانونو، منځپانګه، مهمه او اصلي موضوع څه وه، بايد وويل شي چې دوی معمولاً د اجتماعي او روزنيزو مسايلو په برخو کي ليکني کړي دي، انساني او ټولنيز ارزښتونه او پيغامونه يې خپلو ليکنو کي راغبرګ کړي دي، البته لا وخت شته چې د نړېوالو ښځينه وو ليکوالو له داستانونو سره پرتله شي. ان شاالله داسي ورځ به هم راورسيږي، چې د خويندو داستاني آثار د نړيوالو داستاني آثارو کتار کي راشي او ور سره پرتله شي.

مسعود: تاسو د پښتو داستاني ادب د اوسني اکربکر(حال و احوال) او راتلونکي امکاناتو په تړاو څه ليد لرئ؟

استاد دوديال: پښتو کيسه ليکنه او د کيسو خپراوی ورځ تر بلې ډېر مينه وال مومي. اوس نه يواځې موقوته مجلو ، اخباورنو، ويبسايټونو او راډيويي پروګرامو کي لنډې کيسې خپل ځای لري، بلکې ځانګړی برېښنايي پاڼې ورته وقف شوي دي. "پښتو کيسه ډاټ کام" يې يو مثال دی. "هوډ "ويبسايټ پښتو ناولونه او د کيسو ټولګې آنلاين کړي دي. موده مخکی د داستانو ځانګړې مجله خپرېدله. کابل، ننګرهار، کندهار، پېښور او کوټه کي هر کال د لنډو کيسو ټولګې، ناولونه او رومانونه چاپ او خپريږي. ډېر پښتو ناولونه ديجيتال او آنلاين شوي دي. اوس ګڼ شمېر ځوانان لنډه کيسه او ناول پنځوي او د ناول د خپرېدو او لوستلو کاروان ښه روان دی. ترڅو کالو مخکې زمونږ ليکوالو د بهرنيو ناولونو په ژباړه بسنه کوله، خو دغو وروستيو کلونو کي پښتو ليکوالو خپله ناولونه وليکل او د لنډو کيسو ټولګي يې نشر کړې، آن دا چې بهرنيو ژبو ته وژباړل شوي. د بېلګې په توګه ښاغلي تراب (دېوال خبرې کوي) د لنډو کيسو ټولګه په همدې ۲۰۲۶م. کي په انګليسی نشر کړه او د(Par-dela Les portes closes) په نوم کتاب کی د لسو پښتو کيسه ليکوالو کيسې فرانسوي ژبې ته وژباړل شوې او دا کتاب همدې ۲۰۲۶م. کي په فرانسه کي په ښکلی قطع او صحافت چاپ شو. د(وطن ادب) ويبسايټ کي له سلو کلونو راديخوا ليکل شوي داستاني ادبيات په ديجيتل بڼه خوندي او دغه ويبسايټ همدا اوس آنلاين دی. دا ټول د پښتو داستاني ادب د ځلانده راتلونکی زيری ورکوي.

مسعود: . په پښتو داستاني ادبياتو کي کومې ټولنيزې موضوعګاني ډېرې تکرار شوي دي؟

استاد دوديال: د پښتو داستاني ادبياتو موضوعات متناسب دي: ملی ارزښتونه خوندي کول، د تاريخي پېښو ثبت او په هنری پيرايه او ادبي ژبه يې بيانځورول، د فيوډالي زړو مناسباتو په وړاندې پاڅون، د ښکلا، مينې، ادبي صنعتونو او ژبنيز اړخ پالل، د ناوړه دودونو غندل، وطنپالنه او د ښکپلاک په وړاندی ټينګار او اصلاحي او د سمون فکر روزل د دغو ادبياتو موضوعات دي. ديوې يا دوو موضوعاتو ستومانه کوونکی تکرار پکې نه وينو، خو بايد ووايو چې لاهم ځينې موضوعات شته چې دغو ادبی ژانرونو کي يې ځای تش يا ډېر لږ ښکاره کيږي؛ هغه : د ښځو دريځ په ټولنه کې، د تعليم تعميم ته پاملرنه، دکليوالی وروسته پاتې مناسباتو ړنګول او مدني ارزښتونه ستايل، خرافاتو، فتاليزم او بيوزلی سره مبارزه او سياسي شعور اوچتول دي. دغه وروستي پېنځه ياد شوي موضوعات هغه څه دي چې داستاني ادبياتو کي يې د سوزه ګرځولو هيله او توقع کيږي، دا ځکه چې لنډه کيسه او ناول د معاصر ادبي ژانر په توګه د عصر ايجابت رااخلي، خو دغو پېنځو برخو کی پخ روان ياستو. په نوره نړۍ کي د موضوع له پلوه ګڼ او بيلابيل ناولونه شته، لکه : اصلاحي ناولونه، تاريخي ناول، رومانې او د مينې د کيسو ناولونه، پوليسي او جاسوسي ناولونه، ډرامايي ناول، سايکالوجيکي ناولونه، فکري ناولونه او ساينسي ناول . دا چې ناول کوم ادبی سبک او مکتب پورې تړاو لري، هم توپير کوي، ځينې ناولونه کلاسيک، ځينې د رمانتيزم د دورې او د سيمبوليزم سبک اړوند، ځينې رياليستيک او همداسې دا نورو سبکونو لکه اکسپرسيونيزم او مادرنيزم کي ليکل شوي ناولونه لرو.

مسعود: ستاسو په اند، معاصر پښتو داستاني ادبيات څه وخت کولای شي نړېوال ادبي او هنري ارزښت وموندي؟

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندهٔ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»

استاد دودیال: له نیکه مرغه پښتو داستاني ادبیات اوس هم نړیوال دریځ لري او بهرنیو ژبو ته ژباړل شوي دي، خو یو څو ټکیو ته پاملرنه ضرور ده:

- ✓ د داستاني ادبیاتو ښکلاییز اړخ پیاوړي کول،
- ✓ د پنځولو فني او تخنیکي قوت، نوښت، د داستان ښکلاییز اړخ او ایماژونه انځورولو ته پام. نن ورځ ساینس فکشن کیسو د خلکو پام راواړولی. مور کولای شو، خپل فولکلوریک نکلونه د نوي کیسه ییز تخنیک په مرسته له هېریدو بچ او د نړیوالو پام ورته راواړوو. زمور دودیزې ټولنه کې بویه چې عصریت ته پام او د ویښتیا او روښتیا پازه پالل او د تنویر ژمنې ته وفاداري هېره نه کړو،
- ✓ د موضوعاتو تنوع،
- ✓ ژباړه(له نورو ژبو پښتو ته ژباړل او له پښتو نورو ژبو ته ژباړل).

دا هغه وخت کېدای شي چې مور د خپلې ژبې د نثر برخې او بیا د داستاني ادبیاتو برخه کې د تمرین او مشق کولو لوري ته پام وکړو. دا هیله له ځوانو داستان لیکونکو څخه لرو.

مسعود: د پښتو معاصر داستاني ادبیات له پخواني لرغوني او کلاسیکو داستاني ادبیاتو سره څه توپیر لري؟

استاد دودیال: ښکاره خبره ده چې هر عصرو زمان خپل ایجابات او ایجادیات لري. داستاني معاصر ادبیات د ایجادیاتو په حیث له لیکوالو څخه غواړي چې د وخت نوې غوښتنې په هنري او ادبي بڼه تولنې ته وروپیژني. له بلې خوا د بڼې او د ادبي سبک او د عناصرو د ترکیب له مخې هم معاصر ناولونه له کلاسیکو سره توپیر لري. پښتو کې ناول د نولسمې پیړۍ له نیمایي راوروسته دود شو، نو ځکه یې مسایل او سبک هم معاصر دي، خو د شفاهي ادب نکلونه او حکایتونه ډېر متنوع او مختلف دي. کلاسیکو داستاني ادبیاتو کې دیني مسایل، د جنګ کیسې، جادو، پیریان، دیوان، دمیني داستانونه، د پیغمبرانو د ژوند کیسې، د پند او عبرت او آن د سوداګري او تجارت موضوعات وو. تر دې ځایه د پخواني شفاهي ادب او معاصر داستاني ادب د تړاو خبره وه،اما توپیر یې دا دی چې اوسنیو داستاني آثارو کې د اوسني عصر مسایل دي، حال دا چې فولکلور کې لویه بشري، تاریخي او فکري زیرمه پرته ده. په دې اړه فولکلوریستانو ، ارکیالوجستانواو د اتنوګرافی پوهانو په زړه پورې څېړنې کړې دي.

د محتوا او ښکلا له پلوه زمور پخواني شفاهي ادبیات یوه لویه پانګه ده. د ټولنپوهنې او کلتوري انسان پېژندنې له لحاظه په شفاهي ادبیاتو یا فوکلور کې تر ټولو زیاته په زړه پورې برخه نکلونه او حکایات یا کیسه ییز صنف دی. کیسې د قومونو او ملتونو د اجتماعي اړیکو، کړو وړو او تعاملاتو روښانه هنداري دي. دا د ولسونو د واقعي کرکټرونو یا کردارونو په شاوخوا راڅرخي. د ټولنیز او تاریخي معرفت په لړ کې د فولکلور کیسه ییزه برخه مور بڼه قانع کولای شي. د یوې ټولنې تاریخ، دود-دستور، معنوي ارزښتونه، د اجتماعي تکامل د مسیر او بهیر پېژندنه د فوکلور په داستاني برخه کې په روښانه ډول موندلای شو.

د کیسې کولو او ویلو شوق په پښتنو کې ډېره سابقه لري. مونټ ستوارټ الفنسټون(۱۷۷۹-۱۷۵۹) د کلیوالو او باندې چې پښتنو په اړه لیکلي دي: ...(له ډوډۍ نه وروسته دوی کښېني او د نکلونو او بدلو ویلو د پاره یوه دایره جوړوي. زیاتره نکلچیان بوډاګان دي. د دوی قصې د پاچایانو، وزیرانو، زیارتونو، غرونو او دریابونو، د پیریانو او شاپیریانو دي، خو ډېرې یې دیني او د جنګ په باب هم دي. دغه کیسې له غزلو او نارو سره ګډې شوې او ان د غیرت په ټکي ختمېږي. پښتانه له کیسو او غزلو څخه ډېر خوند اخلي. څه وخت چې یوه کیسه ویل کېږي، دوی ټول چپ ناست وي. د هغې په پای کې ټول د ستاینې ناري وهي: ای شاباش،....)

د پښتو نکلونو آدم درخانی، دلی شهی، پټې رابیا، موسی خان ګل مکی، جلات محبوبا، مومن خان شیرینی، یوسف خان شیربانو، تاج محمد نمرو او نورو اصلي مأخذونه او منابع د همدغو کیسو شفاهي روایتونه او نکلونه دي چې لوستیو او نالوستیو شاعرانو زیاتره د بدلو او مثنویانو په بڼه لیکلي دي.

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندهٔ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»

ادبپوهان د هغه ولس د ادبیاتو زېرمه پیاوړې بولي چې په بنسټ کې یې د فوکلور ډبرې لګېدلې وي. دوی ځوانو لیکوالو ته سپارښتنه کوي چې که غواړي خپل ادبي ایجاد پر مناسب مقام ودروي، نو هڅه دې وکړي چې د ولس له ذوق څخه الهام واخلي، دا ذوق کلاسیک ادب کې مونده شي. دغه راز، دوی وایي چې ننني کیسه لیکونکي به په خپل فن کې هغه وخت بریالي وي چې خپله نوې کیسه د شفاهي کیسې په تقلید کې ولیکي. زمونږ په شفاهي ادب کې هره کیسه د یوې هینداري په شان د ټولنې ټول مناسبات منعکسوي.

مسعود: تاسو د پښتو معاصر داستاني ادب مهم ځواک او پیاوړتیاوې، خو له بلې خوا مهمې ستونزې، کمزورتیاوې او د ودې او پراختیا اړتیاوې، څه ډول ارزوئ؟

استاد دودیال: پښتو معاصر داستاني ادب د شلمې پېړۍ په دویمه لسیزه کې را څرګند شو. چې د پخواني ادب سره یې په ګڼو برخو کې لوی توپیر درلوده.د پښتو پخواني ادب زیاته برخه نظم کې و، په ځانګړې توګه غزل او قصیده له عربي ژبې څخه اغېزمنه او پښتو شاعري او غزل لیکنه د عربي عروضو تابع شوې وه. په لومړۍ او دویمه دوره کې د عربي ژبې څخه ګڼ نظمي ژانرونه پښتو ته داخل او د پښتو د شعر لمن پرې سینګار شوه. مګر د داستاني معاصر ادب (لنډې کیسې، ناول او رومان) رامنځته کېدل او مخکښو نثر لیکونکو پښتو معاصر نثر را جوړ کړ. د اروابنباد حبیبی، محمدګل مومند، خادم، الفت، پرهیز، پژواک، بېنوا، قتیل او نورو درنو مشرانو لیکنو ښکلی معاصر نثر ترویج کړ. لږ وروسته بیا د بهرنیو ژبو څخه د داستاني ادبیاتو په ژباړې سره د پښتو ژبې اړیکې له لویدیځ ادب سره هم وټرل شوې، وار په وار نثر پیاوړی شو. په هېواد کې د مطابعو او د چاپ د صنعت له پرمختګ سره د پښتو نثر نور هم د بڼې او جولې له پلوه پراخه شو (ادبي ټوټه، یونلیک، خاطرات لیکل، لنډه کیسه، ناول). دغو ادبي ژانرونو ته هنري صنعتونه لکه سیمبول، استعاره، تشبه، پارادکس او نور راغلل او دا دی اوس تر جادویي ریالیزم او ساینس فکشن پورې را ورسیدو. اوس پښتو ادب او په تېره داستاني ادب کې، خوږ او روان نثر، معیاري لیکدود، د ژبې علمي مطالعې، د نوې یا معاصرې ژبپوهنې د میتودونو زده کړو او دود کېدلو (لکه فون، فونیم ، تنقیط...) او نوی متن ته پام وشو. مخکې د ناظمانو "نثر مسجع" او "بحرطویل" (!)... دوره کې دا مسایل چا پېژندل هم نه. پرله پسې ټولنیزو او سیاسي بدلونو پښتو ادبیات او داستانی آثار له دودیزې بڼې څخه را وکاږل او نوې تکنالوژي د هنري نثر د پرمختګ لامل شوه. دا پرمختګ د نثر دواړو برخو؛ یعنې هم هنري نثر کې او هم عادي/ عمومی نثر کې ښکاري. اوس زمونږ داستاني ادب د مینې، طبقاتي تضادونو، تاریخی سوژو او ملي فکرې اوډون څخه ووت، د ښځو د ژوند مسایل، ښاري پېښې او مناسبات، ښوونه او روزنه او رواني مسایل آجنډا ته راغلي دي.

خو هیره د ې نه وې چې د داستاني ادب د موضوعاتو د تنوع، فني او تخنیکي اړخ ترڅنګ باید چې د (Free flow of the Stream of Consciousness) فضا او احاطه هم هېره نه شي.

بل دا چې کره کتنه وکړو: ادبي کره کتنه یوازې یوه وسیله نه، بلکې د ادبي فکر د پرمختګ او د هنري معیارونو د ارتقا عامل ده. په علمي کره کتنه کې ادبي اثر د خپل وخت له ټولنیزو، فکري او فرهنګي شرایطو سره د ښېګڼو او نیمګړتیاوو په ښودلو سره تلل کیږي، د اثارو هنري جوړښت، فکري محتوا، ژبه، تخنیک، اسلوب، نوښتونه، له ټولنیز او فرهنګي چاپېریال سره یې اړیکي او په ټولنه یې اغیز په علمي او تحلیلي توګه څېړل کیږي.د ادبي کره کتنې په پرمختګ سره، د ادبي اثر د ارزوني معیارونه هم بدلیږي. په یوه دوره کې کېدای شي د ژبې فصاحت، عروضو، لفظي ښکلا او دودیزو ادبي اصولو ته ډېره پاملرنه وشي لکه د پښتو کلاسیکه دوره؛ خو په بله دوره کې ممکن د انسان رواني مسایل او سایکالوجیکي تحلیل، ریالیزم، د ادبي اثر عناصر او سکښت، ژبنې معیار، ادبي صنایع او سمبولونه، روایت او له متن څخه د لوستونکي د تاویل خرنګوالی د ارزونې مهم معیارونه وګرځي. پښتو داستاني ادبیات چې له دوه سوه کلونو زیات لرغونتوب نه لري، باید په ګړندي ډول خپله لمن کې نویو مسایلو ته خای ورکړي چې دا د کره کتنې په مرسته د ثابتو معیارونو پر خای د بدلېدونکو او تکامل موندونکو معیارونو په رامنځته کولو کې کېدای شي. د شلمې او یوویشتمې پېړۍ ادبي تاریخ دا څرګندوي چې کله د ادبي ارزونې زاړه معیارونه د نویو ادبي تجربو د تشریح توان له لاسه ورکړي، نو د کره کتنې نوې

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندهٔ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»

لاري بايد رامنځته شي. ورسره يو ځای نوي ژبه يا نوی هنري تخنيک د کره کتنې له لارې پيژندل کيږي. کره کتنه د نوښت او ادبي بدلون ترمنځ د منځګړي او لارښود رول ترسره کوي او د ادب لپاره ټاکل شوي معيارونه، د اثر له داخلي جوړښت، تاريخي شرايطو، فرهنګي شاليد، ټولنيز واقعيت او هنري ځانګړتياوو سره په ګډه د ارزوني مناسب معيارونه رابنيي. کره کتنه له يوې خوا له معاصر پلوه د آثارو د ارزوني معيارونه او له بلې خوا د نويو ادبي تيوريو د ښودلو او دود کولو د ودې لپاره فکري او علمي زمينه برابروي.دا هغه وخت چې د صديق روهي، تقويم الحق کاکاخېل ، افضل رضا ، پريشان ختک، ایاز داودزی، همېش خليل، ډاکټر شېرزمان طايزی، اقبال نسيم ختک، رحيم شاه، پروفيسر رب نواز مايل، ګل باچا الفت، ابراهيم عطايي، دوست محمد شينواری، ډاکټر مجاوراحمد زيار، استادرحيم الهام، خالد خان ختک، ډاکټر اعظم ، دوکتور عبدالغفورليوال، استاد ښکلي، غضنفر ، آصف صميم، نافع همت، استاد معصوم هوتک په شان پياوړي قلموال، چې له فرهنګ، ادب، ژبې ، تاريخ او ټولنې سره آشنا او ادبی تيوري باندې آګاه ليکوال وو/ دي، دغې برخې ته پام وکړي. دلته مې د يو شمېر هغو درنو ليکوالو نومونه هم ياد کړل چې وفات شوي دي، خو لارښوونکي نښېرونه يې د معتبر اخځ په توګه شته چې ځوانانو ته يې لوستل بيخي ضرور دي او دغه نور درانه ذوات چې شکر الحمدلله حيات دي او دا اوس هم ليکنې کوي، کره کتنه کوي، ښکلي تخليقات ايجادوي، دوی ته مو ډېره تمه ده چې ستاسو د وينا سره سم ؛ کمزورتياوې راته بشپړې او د ودې او پراختيا لاره راوښيي. په ټېره بيا نثر او داستاني ادب کې د کميت او کيفيت، شکل او محتوا (ځومره والي، ځرنګوالي، جولې او بڼې) پرمختيا ته اړ ياستو.

مسعود: د مصنوعي ځيرکتيا، ټکنالوژۍ او ډيجيټلي فرهنګ پرمختګ او پراختيا د پښتو معاصرو داستاني ادبياتو پر راتلونکي څه اغېز کولی شي؟

استاد دوديال: مصنوعي ځيرکتيا او ديجټلي تکنالوژي او تخنيک يو بل سره توپير لري. مصنوعي ځيرکتيا د چاپ او نشر ماشين او ويبسايټونو سره هم توپير لري. د مصنوعي ځېرکتيا اوسني وضعيت په کتو او دا چې زموږ ځوانان ورځخه ځرنګه کار اخلي، د داستاني ادب په راتلونکي ممکن څه مثبت او بنه اغېز ونه لري، خو ديجتال وسايل، د چاپ او نشر نوي آسانتياوې، ويبپاڼې، د کتابونو د طبع کولو نوي تکنالوژی او ماشينونه د کتاب او خپراوي بنه وسايل دي، د ادبياتو او پوهې په وده او پرمختيا کې مثبت رول لري. مصنوعي ځيرکتيا يوه بې احساسه ښکارنده ده، خو ادبي نښير پنځول احساس، ښکلاخوښوني، نوښت او عاطفې سره تړاو لري. ديجتال تخنيک په اکاډميکو مرکزونو او پوهنتونونو کې د نړيوالو ادبياتو د مطالعې، د ادبي مکتبونو د پيژندنې او د بشري علومو او ټولنپوهنې په برخه کې د نويو څېړنو لپاره لاره هواروي. پوهان په دې باور دي چې د نړۍ د مشهورو ليکوالانو لکه هومر، شکسپير، هوګو، داستايوفسکي څخه رانيولې تر ګابريل ګارسيا مارکز پورې، د دوی د اثارو مطالعه موږ ته د بشر د تېر تاريخ او د هغه د راتلونکو هيلو په اړه ژور ليدلوری راکوي. دا مطالعه هغه وخت ممکنه کيږي چې موږ پرمختللي تکنالوژی ولرو. د معلوماتي ټکنالوژۍ په پراخېدو سره اوس د نړۍ ادبي شهکارونه د ډيجيټل کتابتونونو له لارې هر چا ته په اسانۍ د لاسرسي وړ دي، چې دې چارې د کلتوري تنوع په ساتلو او د تمدنونو ترمنځ د تعصب په کمولو کې بېساري مرسته کړې ده. په دغو اثارو کې د فلسفې، اخلاقو او ټولنيز عدالت په اړه بحثونه د يوې باخبره او متمدنې نړۍ د جوړولو لپاره بنسټيز ګټل کيږي. د چاپ او نشر نوي تکنالوژي د کتابونو ښکلي ډيزاينونو او صحافت، د لوستوالو لپاره آسانتيا راوستې ده. انترنيټ ټولو خلکو ته د آنلاين کتابونو د رسولو آسانتيا برابروي، ويبپاڼې د ګړندي، ارزانه او لوړ کيفيت لرونکي خپرونکي وسيلې په توګه يوه بله نوي آسانتيا ده، خو مصنوعي ځيرکتيا لا هم د تخليق برخه کې نده آزمويل شوي. دا لا تر اوسه يوه نوي ښکارنده ده، ګورو به چې د انسان د طبيعی ځيرکتيا او خلاقيت سره سيالی کولای شي که نه ؟ ځواب دا دی: اټکلونه وايي چې مصنوعي ځيرکتيا د انسان طبيعی هوش او ذکاوت سره سيالي نشي کولای.

مصنوعي ذکاوت يا د ماشين او تخنيک ځېرکتيا د انسان د فکري اوچته توانايي او استعداد په برکت يو جوړ شوی سيستم دی چې يواځې په معلوماتو او الګوريتمونو باندی تکيه کوي، خلاقيت نه لري. مصنوعي يا د بشر په استعداد او لاس دغه جوړه شوې تکنالوژي داسې يو سيستم دی چې يواځی هغه

ځوابونه راکوي چې ورزده شوي، پکې ثبت دي او له بیلابیلو سرچینو یې رااخیستي دي، که چیرې کوم استثنایي او ناوړه او نااشنا وضعیت پیښ شي، ممکن سمه پریکړه ونشي کولای او مور ته به سم ځوابونه را نه کړي. دا سیستم د انسان د خلاقیت او ذکاوت په پرتله محدوده برخه کې (پوهه) لري. اما همدغه محدوده پوهه چې تراوسه دې سیستم کې ځای شوې ډېر زیات معلومات دي او د ستونزو او ارتیا پر مهال مور سره لویه مرسته کوي، خو د هنري او ادبي ایجاد او هغه ښکلا انځورول چې طبیعي ذکاوت یې توصیف او تخلیق کوي، نشي تخلیق کولای. پایله دا چې تکنالوژي مور سره ډېره لویه مرسته کړې او کوي یې، مصنوعي ذکاوت هم یو پرمختللی سیستم دی، خو د هنر او ادب نړۍ جلا نړۍ ده چې طباعتي او بریښنایي تکنالوژي پکې ډېر مثبت رول لري، خو مصنوعي ځېرکتیا نه!
ماته د آنلاین او بریښنایي کتاب په پرتله د کاغذي کتاب لوستل خوند راکوي، د کاغذ بوی راباندې ښه لګیږي او د کتاب مخ راته تر هر مخ ښایسته ښکاري. د معاصرو دیجتال امکاناتو او انترنیت د مهیا والي سره سره کاغذي(طبع شوي) کتاب ته لومړیتوب ورکوم. اروپا کې دا اوس هم هر کال سلګونه عنوانه کتابونه چاپ او بازار کې د خلکو سیلاو ور مات وي، ترن، بس، تمځای، پارک او کورکې خلک د رومان او ناول کتابونه لولي او د لنډو کیسو لوستلو ته هوسیږي. لاهم د کاغذ او کاغذي کتابو دوران پای نه دی موندلی او نه به پای وموميِ.
مسعود: پښتو داستاني ادب له شفاهي نکل څخه لیکلي داستان، له ساده ټولنیز روایت څخه هنري کیسې، او له سیمه‌ییزې تجربې څخه د جګړې، مهاجرت او معاصر انسان نړیوالو مسئلو ته اوږد سفر کړی دی. تاسو د پښتو داستاني ادبیاتو دا اوږد سفر او راتلونکی څه ډول ارزوئ؟
استاد دودیال: پښتو ژبه ډېر ښکلي، بډای او پراخ ولسی(شفاهی/فولکلور) ادب لري. ولسي لرغونی ادب مو د لنډیو او متلونو ترڅنګ؛ تاریخي روایات (په تیره روایتي تسلسل سره)، حکایتونه او نکلونه لري. له څه کم دوه سوه کاله را دېخوا مور لیکلي معاصر داستاني ادب ته را ورسیدو. اوس دا ځېلونه د کلاسیک دور د داستانو او نکلونو په تجربو سره دوام لري. پښتو کلاسیک ادب کې اخلاق، عرفان، حماسه، ملي شعور، ټولنیز ژوند، انساني روان، حکمت، طبیعت او د ژوند فلسفي مسئلې وي. د همدې موضوعاتي تنوع له امله زمور معاصر داستاني ادبیات له یوې خوا د کلاسیک او شفاهي ادب میراث او له بلې خوا د خپل عصر د فکر، فرهنګ او ټولنیز ژوند حامل بلل کېدای شي. مور خپلو معاصرو داستاني ادبیاتو کې د فولکلور او کلاسیک ادب بډای میراث، د ارزښتونو دوام او انعکاس وینو. دا دوام د پښتني فرهنګ او کلتور د ساتنې، انتقال او بیا ژوندي کولو په برخه کې ځانګړی رول لري. ځکه کلاسیک ادب یوازې د ښکلا او هنري بیان مجموعه نه وه، بلکې زمور د درنو نیکونو د فکر، منل شویو کودونو، دودونو، اخلاقو، تاریخي حافظې او ټولنیزو اړیکو یوه مهمه ادبي ذخیره هم ده. په دې ادب کې پت، ننګ، مېلمه‌پالنه، غیرت، مېړانه، جرګه، حجره، خپلواکي، وفاداري، کورنۍ اړیکې او ټولنیز مسئولیت په ادبي او هنري بڼه و. اوس هم زمور معاصر داستاني ادب کې مېړانه، پښتني ارزښتونه، ملي شعور او ټولنیز مسئولیت اخلاقي او انساني ارزښتونه، وطنپالنه، تواضع، وروروالي او انسان‌دوستي له کلاسیک ادب په میراث اخیستي دي. کلاسیک ادب د شفاهي فرهنګ ډېرې عناصر لکه متلونه، اصطلاحات، ولسي تصویرونه، دودونه، مینه او ټولنیزې تجربې له پخوانیو زمانو څخه زمور زماني ته رالېږدولي دي. له همدې امله د کلاسیک ادب مطالعه مور ته یوازې د پخوانیو شاعرانو د شعرونو و متنونو پېژندنه نه راکوي، بلکې د پښتني ټولنې د کلتوري حافظې او فکري جوړښت د درک وسیله هم برابروي. البته کلاسیک ادب ته درناوی او هغه ته د یوه درون میراث په توګه کتل باید د فرهنګ یو ثابت او نه بدلېدونکی تصویر نه وي؛ بلکې د هغه د منلو وړ ارزښتونه یې ثبت، نیمګړتیاوی یې نقد، اوسني دوران سره یې تطابق تفسیر او کله ناکله یې اصلاح، هم کړو. نو ویلای شو چې زمور د نیکونو معنوي میراث، زمور بډای فولکلور او ولسي نکلونه او کلاسیک ادب د معاصر فرهنګ لپاره هم حافظه ده، هم ادبي بیان او هم د ارزښتونو د نسلونو ترمنځ د لېږد یوه مهمه وسیله ده. زه یقین لرم چې ځوان کول به داستاني ادب ته لازیاته ښکلا او ځلا ورپه برخه کړي.

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندهٔ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»

مسعود : لږ مخکې مو د داستاني ادبیاتو په لړ کې لنډه کیسه د ناول او رومان ترڅنګ؛ د یوه ځانګړي ځپل او ژانر په توګه یاده کړه، که د دغې ښکلي هنري او ادبي ځپل او ژانر د پېژند او تخنیکي ځانګړو توکو(عناصرو)، لنډې تاریخچې په اړه او دا چې ولې دا ځپل دومره په زړه پورې دی. ښه به وي که تاسو په دې برخه کې لنډ مالومات را کړئ.

استاد دودیال: لومړی به د لنډې کیسې پیژند ته راشو: لنډه کیسه ، چې په پښتو ژبه او ادب کې د درې ژبې د داستان کوتاه او د انګریزي ژبې د شارټ سټوري (short story) سره معادله او هم مانا ده ، د اصطلاحي پېژندنې په لړ کې یې د ببلابیلو ادبپوهانو او لیکوالانو له خوا ببلابیلې توضیحي او تشریحي څرګندونې شوې ، چې ځینې یې دلته د دغه منثور ادبي ژانر د پېژندنې لپاره رااخلو:

لنډه کیسه یا داستان کوتاه یو نوی ادبي نثري داستاني ځپل دی، چې د پېژند لومړنی ځانګړنه یې لنډوالی دی. د کیسې دغه لنډوالی هغه وخت محقق کېدای شي چې لیکوال د یوه اصلي کرکټر(کیدای شي فرعي کرکټر/کرکټرونه هم ولري) او یوې اصلي پېښې(کېدای شي کومه فرعي پېښه هم کیسه کې راوستل شي) په رعایت او بیان سره، خپله کیسه داسې ښکلې راته ووایي چې یوازې اړینې برخې یې د دیالوګ، دمنظزو د ښکلي انځورونو سره د کیسې تر اوج او غوټې پرانېستو پورې راونغاړي. مهم شرط یې تلوسه ده.

ډېر نور د ادب د تیوري ماهرین د لنډې کیسې بنسټیز توکي داسې راپېژني؛ څوک(کرکټر یا کرکټرونه)، چېرته(مکان)، کله(وخت)، څرنګه(پېښه / پېښې)، ولې(د پېښو منطقي دلیل/دلایل) او څه وشول(پای). خو ستونزه دا ده چې دا عناصر په ډېره خوږه ادبي ژبه او په هنري ایماژونو او دیالوګونو او منظرو سره په اغیزمن ډول پای ته ورسول شي او په طبیعي بڼه وسکنل شي. یو شمېر نور عناصر هم په اساسي توکو کې شمېرلای شو لکه تلوسه، معقول تصادف، ډراماتیک یون، په فني مسلسل ډول ټکر، اوج او بیا داسې پای چې لوستونکی ونه انګېري چې ګواکې لیکوال تېر ایستی دی. په دې توګه لنډه کیسه یو داسې فن دی چې ځان ته ښکلاییز اصول او فني غوښتنې لري لکه کوتلی تاثیر، رمزیت (سمبولیک والی) او د موادو فنکارانه اوډنه، هره کیسه باید تلوسه، پیل ، منځ او پای سره یو ځای د یوې انتباهي او هیجاني پایلې لرونکې وي. کیسه باید له پیل څخه منطقي وي پلاټ او بیان یې د منلو وړ، کافي منسجم او له ولولو ډک وي. د کیسې پلاټ (جوړښت) د احساساتو، فطري درک او ایډیاوو څخه جوړېږي .

د تاریخچې پوښتنه مو هم کړی ده، باید ووایو چې: لنډه کیسه له آره له هغو نکلونو څخه راپیلېږي چې په تېرو وختونو کې به خلکو په شفاهي ډول د وخت د ښه تېرولو، پند، له تیرو وختو څخه د خبرتیا، د ملي اتلانو د درناوی او د هغوی په یاد ساتلو، روزنې او نورو موخو په لرلو سره یو بل ته ویل، په ځانګړي ډول ماشومانو ته. کیسه ویل یو ټولنیز عمل او یو بل سره د انسان د (اُنس) دښودلو ثبوت دی. د انسان د ژوند سره سم کیسې هم پر ځمکه پل کېښود . په انساني ژوند کې د هرې کړنې بیانول خپله یوه کیسه ده. یوه فلسفي مقوله ده چې وایي: (انسان د انسان په وړاندې انسان دی) په دې مانا؛ که انسان غواړي خپل انسانیت ثابت کړي، نو مجبور دی چې نورو ته د زړه حال ووایي او بالمقابل یې له نورو واوري، ورځخه زده یې کړي، له پخوا وختونو خبر شي، یو بل سره اړیکي ولري او داچې انسان یو ټولنیز مخلوق دی ، هرو مرو غواړي چې له خپل همنوعه سره راشه درشه او اړیکي، خبرې- اترې او مرکې ولري او په دې خبرو-اترو کې کیسې هم راځي ، او د همدې ټولنیزو اړیکو له امله کیسه راوزېږېده. کیسه یواځې د انساني ټولنې ځانګړنه ده، کیسه اوربدل او کیسه کول د یوې روانې اړتیا، تندې او غریزې تر بریده رسیږي.

ننني فني هنرمندانه لنډه کیسه په لویدیځ ادب کې د نولسمې مېلادي پېړۍ په پیل کې پیدا شوه . هرکلی یې ځکه وشو چې نور نو نوي نړۍ د بوختیاوو په حال کې وه او د پخوانیو افسانو او اوږدو کیسو اوربدلو یا لوستلو ته چا وخت نه مونده او بل لوی لامل یې دا و چې په افسانو کې به کرکټرونه ، پېښې ، چاپېریال او آن کله کله خبرو اترو له انساني ژوند سره اړخ نه لګاو، له رواني پلوه انسان اوربدو ته اړ، سرګذشتونو څخه خبرېدل ورته جالب او خپل همنوع ته غوږ نیول یې یوه غریزه ده، نو ځکه کیسې ته اړتیا ده.

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندهٔ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»

د لنډې کیسې معاصره او تخنیکي لیکلې بڼه د ډېرو پوهانو په اند د لومړي ځل لپاره په انګریزي ادبیاتو کې پیدا شوه چې امریکا کې ځینو لیکوالانو لکه (E. A. Poe; Mark Twain, Sherwood Anderson; James Baldwin, F. Scott Fitzgerald; Ernest Hemingway, Edith Wharton, William Faulkner; Sinclair Lewis; Henry Slesar) دا ادبي ځپل پیل او پرمختیا یې ورکړه. افغانستان کې هم دلنډو کیسو لړۍ، زمونږ د نیکونو او اناګانو نکلونو سره تړلې ده. کټ مټ لکه نوره نړۍ کې. زمونږ د نیکونو موخه هم له نکلونو څخه پند، پوهه، عبرت، د نیکۍ توصیف او د بدې غندنه، د وطنپالنې د روحیې روزنه او دې ته ورته غوره موخې وې. په افغانستان کې لنډه کیسه چې لرغونو نکلونو سره ډېر اړخ لګوي، له تقریباً سلو کلونو څخه په معاصر او فني ډول دود شول. په اوسني وخت کې ډېر لیکوالان هڅه کوي چې لنډې کیسې ولیکي.

پوښتنه مو کړې چې ولې کیسه دومره مقبوله واقع شوه؟ دا چې د داستاني ادب د هر صنف او ډول په پرتله لنډه کیسه خلکو ډېره مقبوله کړې ده او د مقبولیت لامل یې لنډون، د وخت د ضایع کېدو مخنیوی او سپما ده ځکه چې لوستونکی یا اورېدونکی یې په لږ وخت متلذذ او یوه لنډه ناسته کې یې هم لوستلی او اورېدلی او له کیسې څخه پند ،خوند او انتباه په اسانه توګه ترلاسه کولای شي.

قدرمن اینجنیرصاحب اوس چې د پوښتنې څلور برخې(تعریف، تاریخچه، ځانګړي عناصر او دمقبولیت دک او دلیل) روښانه شول، باید ووایو چې لنډه کیسه یو مهین هنر دی، نو ضرور ده چې ځوانان دغو څو کرښوته هم پام وکړي:

په کیسه لیکنه کې د ادبي اصولو او قواعدو په نظر کې نیول حتمي دي. لنډې کیسې په دوه ډوله؛ ساده کیسه او تحلیلي کیسه ویشو. تحلیلي کیسه لیکل تر نورو سخته ده، هغه یو ډول نبوغ، الهام او موهبة غواړي، خو د ساده کیسې لپاره تکنیک او د لیکلو استعداد لرل کافي دي. په کیسه کې باید د ادبي ژبې په کارولو ټینګار وشي . ځوانان او نوې کیسه لیکوال باید له ژبنیو اصولو څه ناڅه خبر وي، ترڅو یې کیسه بریالۍ وي.لنډه کیسه کې باید د پېښې، کرکټر او تلوسې ترمنځ یو نه شلېدونکی تړون وي. د کیسه لیکنې لومړی ګام د موضوع موندل دي. کیسه ییز موضوعات ممکن دېر زیات نه وي، خو دغه هره موضوع په یو میلیون لارو او له بېلابېلو زاویو کښل او لیکل کېدای شي(!)، یعني میلیونونه موضوعات تري جوړېږي. لیکوال کولای شي چې د کیسې موضوعات په کور، کارځای، لاره، هوایي ډګر، موټر، تمځای، دغم اوښادۍ مجلسونو او هرځای کې ومومي. د ژوند ډګر ډېر پراخ دی.هره خبره که ډېره عادي هم وي، د یو ماشوم معصومیت، د یو بیوزله مجبوریت، د یوه الوتونکی ازاد پرواز، د سمندر د اوبو وهمناک غږ، د پېغلو خندا، د اخترونو او نوروزونو خوشحالي، د سرتیري په زړورتیا د سنګر سوبه ... کېدای شي د کیسې پر یوې او یا ګڼو موضوعاتو بدل او د الهام سرچینه شي، خو په دې شرط، چې خیال، ادبي صنایع او فني تخنیک ورسره مل شي. کیسه لیکوال باید لوستونکو ته داسې موضوع وړاندې کړي چې هغه ته دا پوښتنې پیدا شي :

له کرکټر سره څه کېږي؟

څنګه به کرکټر له دې ستونزې څخه وځي؟

آیا د غوټې اوارېدا ته به سم د منلو وړ حل پیدا شي، پایله به څه وي؟

له دې پوښتنو مطلب دا دی چې په موضوع کې خوځښت پیدا کړي، راویې سپړي، ویې پېچي او تلوسه په کې خوندي کړي چې لوستونکی موضوع تر وروستۍ کلمې په خوند ولولي. غوره ده چې په کیسه کې دې خیال له حقیقت سره ونغاړل شي او موضوع دې د خیال په مټ پر مخ یووړل شي.د موضوع له پیدا کولو وروسته باید پلات پوخ شي پېښه او کرکټرونه یې ښکاره او روښانه شي بیا دې کیسه بشپړه شي. یوازې په زده کړه څوک تکړه کیسه لیکوال کېدای نه شي، خو ځینې قواعد او لارې شته چې د کیسې چوکاټ جوړوي، د هغو په زده کړه یو مستعد لیکوال کولای شي کامیابې کیسې ولیکي. د کیسې چوکاټ پر دریو اساسي ستنو ولاړ دی؛ غوټه، له غوټې رازېرېدلی ټکر او له ټکره پیدا شوې پایله. د کیسې د چوکاټ توکي دا مرسته راسره کوي چې لاندې پوښتنو ته ځواب پیدا کړو چې آیا د کیسې موضوع غوټه درلوده، آیا کرکټر له کومې ستونزې سره مخ شو، آیا داسې څه په کې وو چې کرکټر یوې ځانګړې پرېکړې ته اړ کړي او په پای کې کرکټر څنګه له پېښې سره مخ شو او آیا تري ووت؟

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندهٔ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»

تر دې وروسته د کيسې پيل او پای، د کيسې غوټه، کرکټر، د نثر اسلوب او مکالمې پرمخ بيول ضرور دي. دلته مکالمه د کيسې يو مهم توکی دی، ځکه په کيسه کې د دې عنصر شته والی د موضوع له حرکت او پرمختګ سره مرسته کوي. ماهر کيسه ليکوال کله هم مکالمه کټ مټ د عوامو د عادي خبرو اترو په څېر نه وړاندې کوي. ځکه چې خلک عادتا مشخصې، روزمره او د ټاکلي موخې خبرې کوي او ټکي په ټکي د خلکو د خبرو اترو رانقلول په کيسه کې د داستاني متن استازيتوب نه کوي. بلکې هغه وخت دا خبرې د داستاني متن ښه خپلوي چې ليکوال يې مخيل کړي، چاڼ يې کړي، ويې تلي، د قلم په قوت او نوښت لرونکی ښه يې انځور کړي او په هغه ليکه يې وربرابر کړي چې د کيسې له پيښو سره سمون خوري.

مسعود: په پښتو معاصرو داستاني ادبياتو کې د معاصرې لنډې کيسې پيل او د لنډې کيسې د ژانر راڅرګندېدل، لومړني پراوونه او مخکښ ليکوال څوک ول؟ ښه به وي که تاسو په دې تړاو لنډ مالومات راسره شريک کړئ.

استاد دوديال: قدرمن او منلی اينجنير صاحب تاسو د لنډې کيسې د تاريخي بهير پوښتنه کړې. د پښتو په داستاني ادب کې د لنډې کيسې د تاريخي بهير د څېړنې په لړ کې د دې خبرې يادونه ضروري ده چې مونږ د پښتو ژبې په ليکلي ادب کې له لسمې هجري پيړۍ راهيسې د نکلونو او لنډو حکايتونو او کيسه ييزو روايتو بېلګې لرو. البته هغه وخت او دوران د معاصرې تخنيکي- فني لنډې کيسې څرک نه و لګيدلی او نه چاپې رسنۍ وې، خو د فرهنګي ميراث په توګه راپاتې دي. يو شمېر نکلونه، ديني کيسې او روايتونه پخوانيو کاتبانو په قلم ليکلي دي . د معاصر داستاني ادب د پوښتنې د پوره ځوابولو لپاره دوه ټکي مخکې تر مخکې يادوم:

د هنري نثر او داستاني ادبياتو څېړونکو د سيمې او پښتنو اوسني سياسي وضعيت او له ۱۹۴۷م. وروسته د مصنوعي جغرافيې له رامنځته کيدو وروسته، پښتو داستاني ادبيات دوو حوزو کې څېړلي دي؛ کوزه پښتيخا او بره. ريښتيانۍ خبره خو دا ده چې پښتو ټوله يوه ژبه ده، کوز او بر بېلول يې چندان سم نه بريښي. هنرې پښتو نثر ټولو پښتو ادبياتو کې ګډ بحث دی، خو مشکل دا دی چې کله ۱۹۴۷م. کې جغرافيه لړ بدله شوه، دا وخت څېړنيز کارونه، مطبوعات او څېړنه هم دوو خواوو پورې تعلق وموند، داځکه چې اړوند اداري ټولې حکومتي وې، خو ژبه او روايات ولسي وو. په دې ډول ملي او ولسي فرهنګي ميراث سخت د سياست تر اغيز لاندې راغی، دا هم لکه د واحد ملت په شان دوه برخې شو. نو زه وايم چې د پښتو ادب په برخه کې بايد د کوز او بر توپير نه وي، خو اوس چې زمونږ ريفرنس د دوو جلا حوزو(کوز اوبر) اغيز لاندې بېل شوی، اړ ياستو مونږ هم هغسې وليکو.

دوهمه خبره دا ده چې زمونږ معاصر داستاني ادبيات تر ډېره د پخوانيو ولسي نکلونو او شفاهي ادبياتو او حکايتونو خواږه لړي، نو د هغو يادونه هم ضرور ده.

اوس مې چې دا دوه شرطونه کېښودل، ستاسې د پوښتنې په اړه به لنډ ځواب وليکم:

لا ډېر مخکې زمونږ فولکلور کې داسې ولسي نکلونه وو چې د محتوا له پلوه يې ټولنيز پيغام، د تلوسې له پلوه يې عجيب زړه راکښون، د رسالت له مخې يې د سمون، برابري، ميرانې ، نيکي، تساند، زغم او د ستونزو په وړاندې ټينګار تلقين کاو. دغو نکلونو عواطف تلطيف کول، ذوق ته يې پالنه ورکوله، د ژمې په اوږدو او سړو شپو کې به يې اوريدونکي خوښ او تودول. دا نکلونه به مشرانو؛ په تېره بيا باباګانو او انا ګانو بچيانو او لمسيانو ته په ځانګړي خوند اورول. د ژمې پيتاوې ته به هم خلکو د سپينږيرو او مشرانو نکلونو ته غوږ نيو. دا نو هاغه د سندليو، تاوخانو او پلټه يې ډيوو دوران و. د اناګانو دغو نکلونو به لکه پېلوځه توره شپه رڼا، لکه دنداسه به يې کوټه عطرجنه او خوند به يې د لاندې تر ښورا هم زيات و.

د نکلونو، حکايتونو او کيسو دا دوران د مطبوعاتو د ستوري په رابره کېدو سره، يو بل پراو ته واوښت؛ هغه د معاصر لنډ داستان يا نوي تخنيکي- فني لنډې کيسې د ليکلو او مجلو او اخبارونو کې دهغو د خپرېدو دوران دی. د پښتو ادبياتو په افق کې معاصره لنډه کيسه لکه د سباوون ستوری وځليده، چې وروسته يې د هنري نثر په وده اغېز وکړ.

د کیسو د څېړنې او د ننني لنډې کیسې د سر ربښتې د موندلو لپاره به د اوسنۍ کوزې پښتیخا د اروابناد اخوند احمد (ژوند: یوولسمه هجري پیړۍ) لنډې منثورې کیسې یادې کړو. دا کیسې له نن څخه څلور سوه کاله پخوا په ساده قلمي بڼه لیکل شوي دي، وروسته یې بیا د طباعت او ماشین په راتګ سره چاپي بڼه هم وموندله. چې له هغو څخه د بېلګې په توګه د ((ورک زوی څنګه پیدا شو!)) نومې کیسه ده چې د ننني کیسه لیکنې په چوکاټ کې بڼه مطالعه پرې کېدای شي او د اوسنۍ لنډې کیسې ډېر هغه ټکي پکې شته چې اوسنۍ کیسه لیکنه یې له مونږ څخه غواړي. برسېره پر دې د مولوي نور محمد نوري افغان په نچه روه په ۱۲۰۸ه ق. کال کې تالیف شوې کیسې دوهمه بېلګه ده چې تر اوسه مونږ موندلې ده. په دې ټولګه کې اووه لس واړه واړه حکایتونه او روایتونه، چې ډېر په خوږه ژبه د ولس له محاورې سره برابر لیکل شوي دي ، راغلي دي .

لکه مخکې مو چې وویل د چاپي رسنیو را میدان ته کیدو د پخوانیو نکلونو او معاصرې لنډې کیسې ترمنځ کربڼه وکښله، اما د ولسي نکلونو خوند لا هم د هیڅا هېر نه دی. پښتو ژبه کې لومړنی لیکوال چې په دغه لړکې یې خپل قلمي ځواک ازمویلی اروابناد سیدراحت زاخېلي و، چې پر ۱۹۰۸م. کال یې د (کونډه نجلۍ) خوږه لنډه کیسه ولیکله. دغه لنډه کیسه د لومړي ځل لپاره په پېښور کې افغان اخبار او بیا وروسته د مردان قند مجلې پر ۱۹۵۹م. کال خپره کړې ده، چې اوس له هغه وخته څه کم اویا کاله کیږي. د اروابناد سید راحت زاخېلي دوېمه لنډه کیسه (شلېدلې پڼه) نومیږي چې په ۱۹۱۸م. کال لیکل شوې ده(د هغه وخت د مطبوعات له مخې شلېدلې پڼه تر کونډه نجلۍ وروسته خپره شوې ده، خو شک دا دی چې لومړۍ شلېدلې پڼه لیکل شوې، بیا کونډه نجلۍ ؟!). خو دا یقني ده چې د اوسنۍ کیسې پیل د راحت زاخیلي په قلم له نن څخه څه کم یوسل و شل کاله مخکې شوی دی. داسې اټکل کیږي چې راحت زاخیلي د نورو ژبو ادب (په تېره د هندوستان ادبیات اومطبوعات) لوستل، آن دا چې د هند د ادبي نثر لیکوالو سره یې پېژندل.

په کوزه پښتونخوا کې د لنډې کیسې په لیکوالو کې په سید راحت زاخېلي پسې د میا آزاد ګل نوم د یادونې وړ دی چې په ۱۹۲۶م. کال یې (د یوه مړي پیغام) په نوم لنډه کیسه ولیکله او په افغان اخبار کې یې خپره کړې ده، بیا د ادریس نوم راځي. ورپسې د بدرښو د سربلند خان نوم مخې ته راځي چې په ۱۹۲۶م. کال یې په افغان اخبار کې د (خان صاحب اشنا یې) په نوم لنډه کیسه خپره شوې وه. بره خوا بیا په ۱۹۳۶م. کې لومړنۍ لنډه کیسه مطبوعاتو ته راغله. د پام وړ او په زړه پورې خبره خو داده چې د پښتو همدغو لومړنیو لنډو کیسو ژور اصلاحي او د عدالت غوښتنې، د ټولنیز طبقاتي ژوند، د کلیوالو د بیوزلۍ غمجن انځور او د ریالیستیک ادب رنګ درلود . اروابناد ماسټر عبدالکریم هغه وخت لنډه کیسه لیکله چې بره پښتونخوا کې هم لنډې کیسې خپرې شوې وې (۱۹۲۲م.) . د دغو لیکوالو کیسې په بېلابېلو خپرونو ، لکه افغان ، پښتون ، نن پرون ، او نورو کې خپرې شوې دي ، کوزه پښتیخا کې کیسه لیکلو ته لاندې لیکوالو دوام ورکړ : مولانا عبدالقادر ، میا سیدرسول رسا، فاروق شینواری ، ایس ایس ای رحمان ، حمزه شینواری ، مفلس درانی ، ادیب سرحدي ، مراد شینواری ، ندا سرحدي او نورو کې.

افغانستان کې معاصره کیسه او کیسه ییز ادبیات په دري /پارسي او پښتو(دواړو) ژبو کې تقریباً یو وخت کې را څرګند شول. ترکومه چې خبره بره پښتیخا کې د پښتو لنډې کیسې په تاریخي بهیر پورې اړه لري، ویلای شو چې: د ادبي څېړنو له مخې جوته شوې چې لومړنی لیکوال چې په دې ډګر کې یې خپل قلم چلولی یا ازمویلی ، هغه له نن څخه شپږ نوي کاله مخکې اروابناد علامه پوهاند عبدالحی حبیبي و. (توریالۍ پښتنه) د اروابناد استاد لومړنۍ په معیار برابره او په ټول پوره او کره لنډه کیسه ده، چې د طلوع افغان په څوارلسم خپرنیز کال (۱۳۱۵ل.) د دې کال په لومړۍ ګڼه کې خپره شوه . (توریالۍ پښتنه) لنډه کیسه، د لنډې کیسې هغه ځانګړنې لري، چې غرب کې د لنډې کیسې لپاره ښودل شوي دي. غوث خیبری د پښتو ژبې د داستاني اثارو یو له لومړنیو لیکوالانو څخه دی چې فني او تخنیکي لنډې کیسې او تاریخي ناولونه یې ولیکل . څومره یې چې لنډې کیسې ښکلې او په معیار برابرې وې، هومره یې د ناول برخه کې هم ښکلی قلم چلولی و. نژدې نیمه پیړۍ وړاندې غوث خیبري د(ابدالۍ توره) ناول خپور کړ . د شننونکو په ګومان همدا په پښتو ژبه هغه لومړنی ناول دی چې په

تاريخي پيښو او څيرو کښل شوی دی او بره پښتونخوا کی نشر شو.له دې ناول وروسته يې دغه څلور ناولونه هم ډېر ښکلي او د تاريخ هنري بيان دی: ابدالي توره، د اور لمبه، د کندهار ناوې، اراکوزۍ پېغله او مقدوني سکندر. د ښاغلي غوث خيبري دې د لنډو کيسو دری ټولګي هم چاپ شوي دي: هغه وژړل، پردېس او د ګوګامنډې لېوان.

بيا د اروښاد تورويانا نوم رائي او ورپسي نور ليکوالان. د بېلګې په توګه دغه نومونه يادولای شو : استاد ګل پاچا الفت ، سراج الدين سعيد ، عبدالرحيم هاتـف، استاد قيام الدين خادم، عبدالرووف بېنوا، بختانی، عبدالقدوس پرهېز ، غلام محـــی الدين زرملـــوال، امين افغانپور، استاد زيار، سليمان لايق... په دغو نومونو کي يو شمېر يې مسلکي ادیبان(د ادبياتو د ځانګې فارغان) نه وو، دوې په اماتور او شوقي ډول او د خپل اصلی مسلک او بوختيا تر څنګ او د نورو ډېرو علمي او فرهنګي بوختياوو سره يو ځای په ضمني توګه له لنډې کيسې سره د خلکو د مينې او د خپل ادبي ذوق له مخې لنډې کيسې ليکلي دي. هغه وخت لنډو کيسو مطبوعاتو کې زيات لوستونکي لرل. سره له دې چې دا لومړني او مخکښ اماتور ليکوالان وو، خو ليکل شوې کيسې يې ډېرې ښکلې وې. لومړنيو لنډو کيسو تر يوې اندازې پخوانيو ولسي کيسو سره ورته والی درلود، چې وروسته بيا يو شمېر کره کتونکو وليکل چې دا وخت لا ليکل شوې لنډې کيسی د معاصر وخت لنډ داستان(short story) تعريف سره پوره برابر والی نه درلود. خو ډېر ژر وليدل شول چې د پښتو لنډې کيسې ليکنې په برخه کې له ۱۳۳۰ل. کال وروسته بنسټيز کار پيل شو او ځينې داسې ليکوال ډګر ته راووتل چې له نويو نړۍ والو ادبياتو او دادبي جريانونو سره اشنا ول او داسې لنډې کيسې يې وليکلې چې نن مونږ د معيار له مخې پرې حساب کولی شو ، لکه : استادحبيب الله تږي ، عبدالروف قتيل خوږياني ، سعدالدين شپون، ميراجان سيال ، نورمحمد تره کي ، غوث خيبري، محمد موسی شفيق او نور. په دوې کي يو شميرو يې هم پښتو او هم په دري پارسي کي لنډ داستانونه ليکل لکه اروښاد موسی شفيق چې د پښتو کيسو تر څنګ يې د دري ژبې کيسو نوم درلود. استاد بختانی هم په دواړو ژبو ليکل، خو د ده په هنري نثر کي (ادبي ټوټه) زياته ليدل کيږي. وروسته يې له روسي ژبې ډېرې غوره لنډې کيسې وژباړلې. د دی مانا دا ده چې همدوی د لنډو کيسو ژباړه هم پيل کړه.

اوس چې د (ادبي ټوټې) يادونه وشوه، نو ضرور ده چې لږ يې وپېژنو، چې داستانی ادبياتو سره يې توپير باندې پوه شو:

دوه ډوله هنري نثرونه لرو: داستانی نثر(لنډه کيسه، ناول، منځی داستان، ډرامه، رومان چې مونږ او تاسو وربانديې خبري وکړی او دوام لري.) او غير کيسه ييز (ادبی ليکونه، ادبي انځور، تکل، ادبي راپورتاژ، ادبي يونليکونه، طنز، پېښليک، او ادبي ټوټه)چې اوس زمونږ بحث نه دی.

ادبی ټوټه چې په دري ژبه ورته (پارچه ادبی) وايي، لومړی يونان کې، بيا د فرانسوي ليکوال دي. مونټين (۱۵۳۲- ۱۵۹۲م) له خوا فرانسه کې رامنځته شو. خو د يونان هغه لومړنۍ بېلګې يې د ادبي ټوټې اوسني تعريف سره اړخ نه لګوي. د ادبي ښکلا د خوږو احساساتو، ځانګړي کيفيت او د اغېزمن کولو د ظرفيت او لنډ پيغام رسولو له امله دغه ژانر د پښتو ادبياتو د معاصرې دورې په دويم پړاو کې مطبوعاتو کې را ښکاره شو؛ که په دقت ووايو ادبی ټوټه د شلمي ميلادی پېړۍ په لومړيو کې پښتو ژبې ته راغلې، چې ورو ورو يې وده وکړه. که څه هم په هغه وخت کې يې په فني او موضوعي لحاظ وده نه وه کړې، د اردو او انګريزي ادب اغېزې پرې وې؛ خو بيا هم ليکوالو کوښښ کړی وو، چې په دغه ادبي ژانر کې پنځونې وکړي. په درېيم پړاو کې ادبي ټوټو په فني لحاظ وده وکړه، خو آثار يې دومره زيات چاپ نه شول. په څلورم پړاو کې دغه ژانر ښه وده وکړه، ډېرو ليکوالو ادبي ټوټې وليکلې او د آثارو په بڼه چاپ شوې. ادبي ټوټه نه لنډه کيسه ده، نه طنز او نه ناول.

منلی او ښاغلی اينجنيز صاحب! ستاسو د پوښتنې د پوره ځواب په خاطر به دلته د پښتو لنډو کيسو د ليکوالو نومونه له پيل تر اوسه ياد کړم: راحت زاخيلی، ماستر عبدالکريم، سربلندخان، استاد عبالحی حبيبی، قلندر مومند ، اجمل خټک ، ميرمهدي شاه پاچا ، ، هميش خليل ، ا قيام الدين خادم ، عبدالرؤف بېنوا ، صديق الله رښتين ، ګل پاچا الفت ، استاد عبدالشکور رشاد ،زيتون بانو ، سلطان محمد صابر ، اشرف حسين ، ډاکټر شېرزمان طايزی ، اکمل اسدابادي ، پروفيسر هدايت الله خټک ، درمحمد کاسي ،

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندهٔ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»

غوث خيبري ، مېرمن بلقيس ، ساغر اپريدی ، ډاکټر محمد اعظم اعظم ، سعدالله جان برق ، مهدی شاه، سحر يوسفزی، نورمحمدسهيم ، عبدالله جان مغموم ، سيف الرحمن سيد ، جمال رازي ، رضا مومند ، محمد اقبال اقبال ، عنايت الله ضيا ، رحمت شاه سايل ، فاروق سرور ، پيرمحمد کاروان ، زرين انځور ، پروين فيض زاده ملال، امين افغانپور ، عارفه عمر لور ، جميله مجاهد ، ساره سادات ، ناجيه هاروني ، اکبر بري ، عبدالخالق رشيد ، شفيق شاپنزي ، اکبرکرګر ، ولي محمد ،نظر پانيزی ، سيدامين مجاهد ، بريالی باجوړی ، لايق زاده لايق ، نورالامين يوسفزی ، شيرين خدوخېل و علي کميل قزلباش ، خليل باور و مشتاق مجروح ، اسماعيل ګوهر ، عصمت قانع ، محب الله شوق ، قيوم مروت ، ډاکټر سيد چراغ ، حسين شاه ، مجيدالله خليل ، سلما شاهين، سوله مل شينواری ، پروفيسر شاه صابر ، صالح محمد صالح ، علم ګل سحر، زړه سواند شينواری ، نذير احمد سهار، عبدالخالق خليق ، نجيب عامر ، وړمه سبا عامر ، مېجر الطاف خټک ،مراد شينواری ، غزانور غزا ، محمد اياز غزل ، نصير احمد احمدي ، عظما هما ، عرفان خټک ، مېرمن عصمت بي بي ، م . ر . شفيق ، حفيظ الله تراب ، مجيب الرحمن اميري ، عبدالرحمن احساس، خورشيد اقبال ، نعمان دوست ، بازمحمد عابد ، مېرمن صفيه حليم ، ډاکټر محمد اکبر يوسفزی ، اجمل اند ، اجمل تورمان ، نصيب الله سيماب ، تاج الدين تاجور ، اظهارالله اظهار ، پروفيسور محمد يوسف ، اورنګ زيب ارشاد ، ذبيح الله شرر، ذبيح الله احساس ، حنان حبيبزی ،علي خېل درياب ، سيدصابرشاه صابر ، سيده حسينه ګله، آرش ننګيال ، اسير منګل ، نصرت ارمان او داسي نور ... دي چې پښتو لنډې کيسې يې تر هسکه ورسولې.(دغې پوښتنې ته ورته يوې بلې مخکينۍ پوښتنې ته هم دې برخه کې څه ناڅه ځواب ورکړل شو).

مسعود: تاسو په پښتو معاصرو داستاني ادبياتو کې د پښتو لنډو کيسو د پرمختيا او پراختيا پړاوونه د شلمې پيړۍ په اوږدو کې د لنډو کيسو موضوعاتي، ادبي او هنري بدلونونه څه ډول ارزوئ؟

استاد دوديال: لنډه کيسه له هغه اول څخه چې کله يې د پښتو ژبې ور وټکاوه او لومړني قدمونه يې د پښتو ژبې په ګلبن کې په ناز سره واخيستل، د پښتو ژبې او ليکوالو له خوا ورته په ورين تندی ښه راغلاست وويل شو، هرکلی يې وشو، او په مينه ورته کار کول پيل شوه، چې تر اوسه يې ښه په زړه پوري پر مختګ کړي دئ. پښتو داستاني ادب کې تر ناول او رومان، لنډه کيسه ښه پرمخ ولاړه.

په پښتو ژبه کې د لنډې کيسې د پرمختګ د ګڼو نورو علتونو سره تر څنګ يو دا هم يادولای شوو، چې د لنډې کيسې د ليکلو سره سم په دې ژانر کې کره کتنه پيل شوه. نو هغه د کره کتنونکو او پوهانو په خبره چې: (د ادبياتو روح کره کتنه ده).

نو ځکه لنډې کيسې په پښتو ادب کې هم پرمختګ، وده وکړه او بډايه شوه .

په پښتو ادب کې نه يوازې لنډې کيسې ليکل کيږي، بلکه د ګڼو نورو ژبو څخه پښتو ته را ژباړل کيږي هم، چې په دې سره نو پښتو لنډه کيسه ليکوال د نړۍ د لنډو کيسو د ليکوالو له تجربو څخه هم برخمن شوه.

خو په هغه اويلو کې په پښتو ژبه کې لنډې کيسې دومره لنډې نه وې. بلکې د اوسنيو لنډ و کيسو څو برابر به اوږدې وې. خو اوس داسي نه ده. اوس په پښتو ادبياتو کې لنډه کيسه په ربښتيا سره هم لنډه کيسه شوې ده. دا چې ولی داسي شوې ده؟

څو علتونه لرې چې د هغوی څخه به يې د ځينو ضروري يادونه وکړو.

لومړی- په ويشتمه پيړۍ کې او دا د کمپيوټر او انټرنيټ په عصر کې د لوستونکو سره دومره زيات وخت نشته چې هغه دې په ساعتونو، ساعتونو وخت د يوې کيسې په لوستلو سره تير کړي. ولی د دې کيسې پر ځای په تلويزيزن کې تر دې ښې کيسې په تصويری بڼه نه ګوري. نو همدې علت ته په کتو

سره لیکوالو دا د ځان سره وپیتله چې د لوستونکو د راجلبولو لپاره باید په واقعي معنا سره لنډه کیسه لنډه شي ، چې وروسته به یې په مثال کې درته وړاندې کړو.

دوهم ـ علت کېدای شي دا وي چې د لنډه کیسو لیکوالو په دې ژانر کښې تجربه تر لاسه کړي وي. هغه په دې معنا چې اوس لیکوالان کولای شي هغه مفهوم چې پخوا به یې په اوږدو جملو، او پارګرافو کې وړاندې کولې، نن کولای شي چې هغه مفهوم په لنډو او کمو کلماتو کې وړاندې کړي.

لکه څنګه چې مخکې وویل شوه کېدای شي چې نور علتونه هم ولري. خو دلته یې د یادولو څخه ډډه کوو.

مسعود: ښه به وي که تاسو د پښتو لنډو کیسو د جوړښت او هنري تخنیکونو په ټراو رنا واچوئ.
استاد دودیال: دا ډېر په زړه پورې او اساسي ټکی دی. هغه لیکوال، په تېره بیا ځوانان چې غواړي لنډې کیسې ولیکي او لیکنه یې ریښتیا هم وځلیږي او وستایل شي، باید د لنډو کیسو په جوړښت او هنري تخنیک پوه وي. دا پوښتنه نیمایي یې د لنډې کیسې په پېژندنه او تعریف کې ځواب کیږي، نو ځوانان دې دغه تعریف او پېژند ټکي په ټکي پام وکړي، دلته یې لیکو:
لنډه کیسه هغه هنري ایجاد او ادبي- تخلیقی اثر دی چې په هغې کې لیکوال د یوې منظمې طرحې په مرسته یو اصلي شخصیت یا کرکټر په یوې اصلي پېښه کې ځرګندوي او دغه اثر په ټولو یو ژور اغېز پریباسي .
په پورته تعریف کې په طرح(پلاټ)، کرکټر او پېښه تاکید شوی دی. ورسره یو ځای ځینی نور ټکي هم شته ، لکه: دیالوګ، ښکلې منظره جوړونه، تلوسه ایجادول او د کیسې ژمنتیا او د ټولنې اړتیا او ارتقا ته ځواب ویل.
لنډه کیسه رواني تداوي ده، د عواطفو تلطیف ده، ذوق روزنه، ښکلا ستاینه او ښکلا جوړونه ده. دغو موخو ته هغه وخت رسیږو چې ښه داستاني آثار ولرو.
پوښتنه کې مو د لنډ داستان دجوړښت ټکی هم شته. د دې پوښتنې د ځواب لپاره وایو:
لنډه کیسه هغه نثري داستان دی چې لنډ وي او له نیم ساعت څخه تر دوو ساعتونو پورې یې لوستل یا اورېدل ختم شي، په دې هنري لیکنه کې یو چاپېریال (ماحول) ، یو کردار یا یوه کیسه د نورو وړو کردارونو یا پېښو په مرسته داسې بیانیږي چې د مکان او زمان پوره یووالی پکې موجود وي او انځورونه له چاپېریال سره مطابقت ولري .
امریکایي لیکوال ادګارآلن پوو چې په نړۍ کې د لنډو کیسو لومړنی او نامتو لیکوال و، پورته تعریفونه خپلو لنډو کیسو کې رعایت کړی، نو ځکه یې کیسې د خلکو خوښیږي.
د یوې ښې لنډې کیسې د تخنیکی او فني جوړښت لپاره دا لاندې ځانګړنې ښودل شوې دي:
۱) لنډې کیسې ته د یوې منظمې او مشخصې طرحې جو ړول،
۲) یو اصلي کرکټر غوره کول،
۳) د کیسې شخصیت یا اصلي کرکټر په یوې پېښې کې داسې لوبول چې واقعي تصور شي، یا هم د واقعي کرکټر داسې انځورول چې په ادبي او هنري پیرایه کې انځور او دو باره راڅرګندشي.
۴) د کیسې هنرمندانه او عالي سکښت، یعنې د لیکنې ټولې برخې باید یوله بلې سره متقابلې اړیکې ولري،
۵) د لوستونکی په ذهن د یوې واحدې اغیزې ښندل.
دلته مو د کیسې د سکښت او اوږدون خبره وکړه. د دې مانا دا ده چې د لنډې کیسې د جوړښت توکي پوره او ډېر ښه سره ونښول شي، دا یوولس توکي دلته لیکو:
پېښه یا واقعه، پلاټ یا طرح، د کیسې پیلامه او کیسې ته زمینه جوړول، کرکټر ، سپنس (تلوسه /کشش)، مکالمې(دیالوګونه) او منظر کشي، تخیل ، د کیسې د اوج ټکی او د کیسې پایله او انتباع، خو شرط به دا وي چې کیسه ډېره اوږده نه بلکې ریښتیا هم چې لنډه وي.

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندۀ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»

د لنډې کيسې مبتدي ليکوال، ځوانان او د داستاني نثر ځيړونکي ته اړينه ده چې دغه توکي(د کيسې عناصر يا ترکيبي اجزا) وپېژني:
۱. په کيسه کې پېښه (واقعه يا حادثه): او پېښې ته انکشاف ورکول: ښکاره خبره ده چې کيسه يوه پېښه بيانوي، اصلاً کيسه د يوې پېښې بيانول دي. پېښه يا حادثه د لنډې کيسې د جوړښت لپاره بنسټيز اهميت لري. پرته له حادثې او پېښې څخه د کيسې رغښت او جوړښت ناشونی دی . همدغه پېښه يا واقعه ده چې د هغې له مخې د کيسې طرحه يا پلاټ جوړيږي. کيدای شي کيسه کې د اصلي پېښې ترڅنګ يوه يا دوه فرعی پېښې هم وي.
اصلي پېښه هغه ده چې شته والی يې د کيســې د طرحــې لپاره ضروري او حتمي وي فرعي پېښه هغه ده چې ليکوال د هغې په مرسته د کيسې طرحه پراخوي او له اصلي پېښې سره يې په هنرمندانه توګه تړي او منطقي پيوند/ اړيکه ورکوي.
۲.پلاټ (طرح) : دکيسې د پېښې يا حادثې طرح او اډانه کې راوستلو ته پلاټ ويل کيږي. لومړی بايد دا يوه خاکه کې جوړه او سوچ ورباندې وشي ، چې د يو شخص فکري او ذهني يا روحي حالت او يا داخلي جذباتو او احساساتو څرګندوپه وي. البته د پلاټ د دغې خاکې د تجزيې او تحليل دنده معمولا د کيسې د مهمو پېښو په غاړه ده. د پلاټ لپاره دا دري ځانګړني ښودلې دي:
لومړی بايد په دې سوچ وشي چې طرح (اډانه) يا پلاټ ساده وي، منسجمه او ښه تنظيم شوې وي چې اغېزه او خوند يې زيات شي.
دويم، دا چې پلاټ بايد له حقيقت او ريښتينولی سره اړه ولري او د ژوند لکه چې څرنګه دی، هغسې انځور کړي.
دريم دا چې نوښت او جدت د يو ښه پلاټ لپاره ضرور ده. ليکوال بايد دا ځواک او وړتيا ولري چې زوړ شی هم په نوي ډول او انداز وړاندې کړای شي. ابتکار د خلاقيت لومړی شرط دی.
کله چې د کيسې لپاره د طرحې په خاکه جوړولو لاس پورې کوو، دوه ټکي مهم دي:
طرح او پلاټ به منظم وي، يا به غير منظم.
په منظم پلاټ کې پېښې او کردار يو له بل سره سيده او يو وخت اړيکي لري چې يو د بل له مرستې پرته وړاندې نشي تللی، خو په نامنظم پلاټ يا طرحه کې نه د کردار او نه د پېښو ترمنځ اړيکي وي او نه هم پکې پېښې کوم ځانګړي ترتيب او نظم لري. ځيني وخت ليکوال د لوستونکي د فکر تحرک او لوستونکی ژور فکر ته د اړ کولو په خاطر پلاټ نا منظم جوړوي. د ادبی اثارو، داستان او ناول د لوستلو يو کمال دا دی چې استعداد، منطق، د خبرو وړتيا او ژور فکر کولو ته وده ورکوي.
۳. درپيمه خبره د کيسې پيلامه او زمينه داسې برابرول چې لوستونکی پېښه پرله پسې تعقيب او ترپايه ولولي(واوري). د داستان، ناول او رومان ښه پيلامه کولای شي چې لوستونکی يا اورېدونکی لوستو يا اورېدو ته داسې لېوال کړي چې تر پای پورې هغه پرېنږدي. دا ډول جاذبيت او کشش جوړول، د داستاني ادب کمال او هنر دی.
په هنري- ادبي ليکنو کې د داستان زمينه او پيلامه جوړول په دوو لارو ترسره کيږي : يوه لاره داده چې ليکوال کيسه له پای څخه پيل کوي او د ليکوالي په فني او تخنيکي مهارت ښرته د کيسې پيل ته راځي او بيا په کيسه کې د شاملې موضوع تفصيل بشپړوي . دا پيلامه په ساده او روانه توګه وي يا هم په شاعرانه تخيل ايجاديږي. په دغو لارو کې د يوې غوره کول د لنډې کيسې د ليکوال خوښې پورې اړه لري، خو په هر حال دې ته پاملرنه په کار ده چې پيلامه د بې مقصده اوږدوالی ښکار نه شي.
۴ . د داستان او کيسې کرکټر يا شخصيت او لوبغاړی بايد د ټولنې يو واقعي فرد او لوستونکي ته د منلو وي. البه ساينس فکشن، يا نورو حالاتو کې مسئله توپير مومي، لکه د بوف کور داستان کې. د کيسې اتل يا مرکزي شخصيت ډېر د پام وړ وي. دا مرکزی کرکتر هغه څوک دی چې په خپلو کړنو، ويناوو، عمل او عکس العمل سره پېښه او کيسه رامينځته کوي او تر آخره پکې لوبيږي. زياتره ليکوال که غواړي چې مرکزي شخصيت له ننګونو، چلنجونو ، ستونزو او سختيو سره مخامخ او ورځخه تېر يې کړي، نو هغه ته بېلابېل حالتونه او پراوونه جوړ او کرکتر ورسره مخامخ کوي. که کرکتر مثبت رول کې وي، طبيعي خبره ده چې لوستونکی او اورېدونکی غواړي چې کرکتر له ستونزو بريالی

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندهٔ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»

راووځي او که منفي وي، لوستونکی یا اوریدونکی په یو ناخودآګه ګروم د هغه د ناکامی او د یو چا په لاس د کسات اخیستو ته په تمه وي. دا حالت لوستونکی نور هم هڅوي چې د کرکتر په وروستي حالت خبر شي، نو کیسی لوستلو/ اورېدوته دوام ورکوي. د داستان کرکتر له کړکیچونو اوړي، مبارزه کوي او غورځي پرځي، خو په خپل ټول وس او ځواک د موخې او هدف په لوري له وړاندې تګ څخه لاس نه اخلي . د یوې لنډې کیسې په پېښه کې کېدای شي له یوه څخه زیات شخصیتونه یا کرکټرونه یا کردارونه څرګند او د لیکوال په قلم انځور او وروزل شي خو مرکزي کرکټر یا د داستان اتل یکي هغه وي چې د پېښې جزئیات د هغه پر شاوخوا څرخي. اصلي یا مرکزي کرکټر د پېښې د جزئیاتو په بهیر کې ورو ورو راڅرګندیږي او د کیسې په آخر کې یوې پایلې ته رسیږي . د یوې غوره او ښکلې کیسې د لیکلو مهارت همدغه ځای کې دی.

۵) د کیسې د پېښې ځای: په کیسه کې د محل او ځای ښودل او انځورول، باید د کیسې له نورو ټولو عناصرو سره اړخ ولګوي. ښکاره خبره ده چې که د ژمي یخه سیلۍ کې یو مسافر د پنا ځای په لټه کې وي، نو شنې ګوري ونې لاندې ځان له واورو او یخنۍ نه ژغوري. په کیسه کې ځای هغه محل دی، چې پېښه یکې ترسره کېږي، کرکټر یکې اوسېږي، کار کوي، یا هسې ورغلی وي او هلته خلکو سره اړیکو کې وي. کیدای شي، الوتکه کې وي، جېل(زندان) کې وي، تردې هم لوی؛ کیدای شي دکیسې ځای یو هېواد وي، یو ښار وي، یو کلی وي، مغازه، یا هوټل وي. د کیسې لیکوال او راوي به د کیسې له روال سره سم دکیسې ځای ټاکي. ځای باید داسې انځور او وکښل سي چې واقعی وبرېښي. البته د ساینس فکشن یا طنزیه کیسې حالت جلا دی. مور داسې طنز لوستی چې پاچا غوجل کې ځاړویو ته مخامخ دی !

د ځای او محل ترڅنګ؛ وخت هم باید ریالیستیک وي. زمان او مکان په لنډه کیسه، ناول او رومان کې د ټاکلي ټولنیز، اقتصادي، سیاسي او عقیدوي چاپېریال بڼه روښانه کوي، چې پر بنسټ یې لوستونکي ته د داستان د اتل او نورو کرکټرانو وضعیت، د دوی اوصاف او ځانګړنې، هیلې او د ژوند اړخونه اړخونه راښیي. په کیسه او ناول کې مور د یوې ټولنې هغه حالت پېژنو، چې یو ټاکلي وخت کې یې درلود. د ځای او زمان او د کرکترونو په توصیف سره مور د هغه وخت له دود- دستور خبرېږو. د سیمې د طبیعت په انځورلو سره مو د سیمې جغرافیې سره آشنا کېږو او په کیسه او ناول می سفر کوو. په ځینو کیسو او ناولونو کې دغه عناصر سېمبولیکه بڼه غوره کوي. د بېلګې په توګه د هدیرې چاپېریال ښایي د سکوت او خاموشۍ سمبول وي، یو ګڼ ځنګل ممکن وېره تداعي کړي، داستان کې کنډواله د پېریانو او شیشکو د اوسیدو ځای ښیي، رڼاګانې د خوشحالي سیمبول او شور-زور او هیجان د کار او خوشحالی انځورونه دي. دا زمور لرغونو نکلونو کې هم راغلي دي.

۵) سپنس (تلوسه او د د کرکتر او د کیسې په پایلې ته دلوستونکی بېړه): دا یوه ذهني هڅونه ده چې د لیکوال مهارت او هنر پورې اړه لري، چې په څه ډول کولای شي، لوستونکی یا اوریدونکی کیسې ته داسې رامات کړي، چې تر آخره یې ولولي. د هنر دا جادو نه یواځې لنډه کیسه، بلکې په هره هنري او ادبي لیکنه کې په ځانګړې توګه داستاني ادب کې اووسي. دې موخې ته د رسېدو په خاطر لیکوال د خپل فن په مهارت د پېښې جزئیات په داسې ترتیب راوړي چې لوستونکی یا اورېدونکی د لوستنې یا اورېدنې پر مهال په یو ډول فکري او ذهني تجسس، تلوسه او کشمکش کې راښکېل کړي، دا غوښتنه او پوښتنه ورته پیدا شي چې دا ولې؟ داڅه وشول؟ چا وکړل، لامل څه و ؟ او آخر څه کېږي؟ په دې توګه یې کرښه په کرښه او شېبه په شېبه د راتلونکو پېښو په تړاو بېړه او تلوسه لاپسې زیاتېږي ، چې نور به څه کېږی ؟

۶) دیالوګ او د منظرو کښل: ادبیاتو کې د ښکلا توصیف، طبیعت ته نږدې کیدل، آزد فکر ته وزرونه ورکول او منظره د رومانتیزم د دورې سوغات دی. په طبیعی دیالوګ، طبیعی منظرو کښلو، د ښکلا په توصیف او د واقعیت انځورولو سره یو ښکلی داستاني اثر لیکلای شو. دیالوګ زمور فکر تخنوي، خبرې راښیي، منطق پیاوړی کوي، کیسه ډېره بڼه پرمخ بیایي او د کیسې اصلی اتل او نور کرکټورنه د دوی په دیالوګ سره بیژندلای شي . په لنډه کیسه کې د ناول، رومان او ډرامې په پرتله یکې دیالوګونه لږې وي ، خو بیا یې هم له اهمیت څخه سترګې نشو پټولای ،ځکه چې د

کرکترونو له خبرو څخه د دوي په هویت، عادتونو او خصلتونو پوهېدای شو. دیالوګ او کیسه کې د شخصیتونو ترمنځ راغلي خبرې- اترې باید د دوی او د کیسې له پېښې سره سمون ولري او بې ضرورته مکالمې دې ونه کارول شي.
دا هم ضروري ده چې دیالوګ او د کرکترونو خبر- اترې باید له حال او مهال سره برابرې او منطقي وي . مانا دا چې د خوښۍ په وخت کې د خوښۍ په الفاظو او لهجې خبرې او مکالمه او د غم یا خواشینۍ پر مهال دې لهجه او الفاظ غمناک او خواشیني کوونکي وي ، ځومره چې په کیسه کې دغه برخه قوي، ځواکمنه او طبیعي وي، هومره داستاني اثر ښکلی او په زړه پورې کیږي.
یو بل څه چې ضرور دی، هغه د رومانتیزم د دورې د داستانی ادب له وخته را پاتې دی او تر اوسه اهمیت ورکول کیږي، هغه د طبیعت د منظرو کښل، طبیعت سره نږدې کېدل او د ښکلا د توصیف لپاره د کیسو یو غوره عنصر دی. په دې سره یو داستان او ناول ډېر ښکلی کیږي دا د انسان فطرت دی چې غواړي ښکلې منظرې وویني. منظرکشی او د چاپېریال انځورول یواځې فزیکی چاپېریال نه دی، دې کې تودوخه، یخني، تیاره او رڼا او نور هم راځي. لنډه دا چې د لنډې کیسې، ناول او رومان پېښې چې په کوم چاپېریال، زمان او مکان کې واقع کیږي، د هغه ځای او وخت د تصویر وړاندې کولو ته منظر کشي وایو. دغه هر عنصر خپل ځای لري.
۷ . تخیل : تخیل او انځور کښل د هر ادبي او هنري اثر ځانګړتیا ده. تخیل یواځې شعر کې ندی مطرح، بلکې د داستاني ادب ځېلونو کې هم (لنډه کیسه، ناول، رمان او ډرامه)کې هم له لوړ تخیل څخه کار اخیستل کیږي. د داستاني ادب په سراسر کې باید تخیل باید داسې په الوت وي چې بیخي واقعیت یا واقعیت ته نږدې او په ټولنیز ژوند کې واقع کېدونکی، دمنلو وړ وي،
۸) د داستاني ادبیاتو یوه ځانګړه د د اوج ټکی یا هغه پېراو دی چې نور نو کیسه کې د پوښتنې څه نه پاتې کیږي. لوستونکی یا اوریدونکی دغه ځای ته په رسیدو، تر ډېره پورې د کیسې پای سنجولی او اټکل کولا شي ، خو د یوه ښه اوج لیکل له کړاوه ډک کار دی. په دې ځای کې داستاني ادبیاتو لیکوال نه یواځې باید هنرمند او د پیاوړی قلم لرونکی وي، بلکی د ارواپي مسایلو پوه، د ښکلا پالونکی، ټولنپوه، تاریخ څخه خبر وي.
۹). په پای کې به ووایو چې لنډه کیسه باید لنډه ، ناول باید د ټولو پېښو چې پلاټ کې په پام کې وي بیانوونکی او هر کرکتر خپل رول ترسره او پېښې په منطقی ټرون پای وموميِ.
مسعود: تاسې د پښتو ژبې کلیوالي او ښاري کیسې او مدرن او سنتي داستانونه یو تر بله څه ډول پرتله کوئ او توپیر یې په څه کې وینئ؟ د یو مدرن داستان د لیکلو لپاره د افساني له تجربو څخه باید کومې لارې او نظریې په کار واچول شي؟
استاد دودیال: د پخوانیو روایتونو راوړل او په معاصرو ژانرونو کې یې بیا انځورول ټوله نړۍ کې معمول ده. د دون کیشوت او شکسپیر له لیکنو اوس ډرامونه جوړیږي، د شوالیو له ژوند ناولونه لیکل کیږي، د سکندر ، پرومته او نورو په اړه له زړو کیسو ،نوي ناولونه لیکل شوي دي. په فرانسه کې داسې معاصر ناولونه شته چې د ځلور -پینځه سوه کاله مخکې بادي ژرندو کیسې لري او فلمونه یې جوړ شوي دي. دا ډول داستان او فلم ډېر زیات مینه وال لري. پښتو شفاهي ادب کې داسې ټومنه او تجربه شته چې معاصرو داستاني ادبیاتو کې ورځخه کار واخلو. زمونږ سنتي یا لرغوني حکایتونه او کیسې ساده، خو له پند او عبرت ډک وو. معاصره پښتو کیسه لیکنه کې هم لکه د نورې نړۍ د داستاني ادبیاتو په شان ډېرې داسې بیلګې شته چې په پخوانیو نکلونو ډډه لګوي. تر اوسه چې مونږ ځومره ګورو زیاتره کیسې او ناولونه کلیوالي سیمې انځوروي. په تېره بیا د شپون، احمدي، لایق، غوث خیبري، انځور او خالق رشید ناولونه او لنډې کیسې زیاتره کلیوالي چاپېریال انځوروي، سره له دې چې دوی کې یو شمېر یې له هېواد بهر او یو شمېر یې ښاري چاپېریال کې اوسیدلي او لیکنې یې هم ښاري ماحول کې کړي دي، خو په کره توګه یې کلی او کلیوالي ژوند انځور کړی دی. البته د محک یو ناول ، د مصطفی سالک یو ناول او د ګوتو په شمار لیکوالو کیسو ښاري چاپېریال انځور کړی دی.

مسعود: ستاسي له انده د پښتو ژبې لنډه کيسه او ناول او بيا دا دواړه له نورو ناپيلو(منثورو) ځپلونو (طنز، تکل، نندارمي يا نمايشنامي، فيلمنامي...) سره د ميتود له پلوه څه توپير لري؟

استاد دوديال: د داستاني ادب هر ځپل خپل ميتود، معيارونه او عناصر لري. د داستاني ادب د هر ځيل د ليکلو ميتود په خپل منځ کي تقريباً سره ورته دی، خو له نورو ادبي ځپلونو سره توپير لري. البته دا لکه د رياضی او کيميا د فرمولو په شان وچ او مقيد نه دي، خو ښودل شوي دي. په دې کې مهمه ده چې ليکوال د کيسې له پيل مخکې يو ښه پلات چې هدفمند، منطقي، د تلوسې پاروونکی او ورته د انځورولو او انکشاف ورکولو وړ وي، طرح کړي. دې ته لومړنی ګام يا د طرح پراو وايو. د لنډې کيسې، ناول يا ډرام لپاره يوه پيلامه هم په کار ده چې د اوريدونکي، لوستونکي يا ليدونکي پام راواړوي او څه ناڅه موضوع څخه خبر شي. د کرکټر غوره کول، د هغه د رول او نقش سره سم د هغه توصيف کول، درپيم ګام دی. توپير دا دی چې ممکن لنډه کيسه کې يو کرکټر ولرو، خو ناول او ډرامه کې ممکن څو کرکټرونه او نور فرعی کرکټرونه او پېښې هم زياتې وي. په نندارو او ډرامه کې د کرکټر د توصيف ترڅنګ، په ستيژ د هغه مکياژ او جوړول هم لوی هنر دی. ناول کې کرکټر د هغه په ټولو ځانګړونو لوبول کيږي، خو لنډه کيسه کې د کرکټر يواځی يو مهم او جوت انځور کارل په کار دي. هره لنډه کيسه او لنډ ډرام اقلاً په يوه پېښه او ناول او رمان په څو پېښو راڅرخي. د کرکټر / کرکټرونو ديالوګ عمومي فضا او د پېښو پرمختګ بيانوي. پېښې بايد دومره تخنوونکي او د تلوسې پاروونکي وي چې د لنډې کيسې/ ناول لوستونکی ځان او خپل ماحول هېر او په کيسه کې دومره ډوب شي چې ترپايه پورې يې له لوستلو سر پورته نه کړي. د داستاني ادب د تخليق هنرمندانه مهارت او ورتيا همدې کې ده.

د داستاني ادب د ليکوالو لوی مهارت به دا وي چې صحنې، کرکټرونه او پېښې داسې انځور کړي چې لوستونکی يې نه يواځې ريښتيانی و بولي، بلکې ورته حيران شي. ځينو ميجيک رياليزم او ساينس فکشن کې انځور ګړي جلا مهارت غواړي. دلته بايد په لوستونکي، اوريدونکي يا د ډرام او فلم په ليدونکي نه باور کيدونکي مسايل د هنرمندانه ايماژونو په قوت ومنو(!).

تخيل د ادب هر ځپل کې يو عنصر دی، خو لنډه کيسه او ناول کې د تخيل پر وزرونو لوستونکی او اورېدونکی تر اوج پورې رسول کيږي. عجيبه ده چې دغه عنصر لا آن زمور ولسي نکلونو کې شته. په تخيل سره ادبي تخليق ښايسته او په همدې مخيل والي سره هنري کيږي. د داستاني ادبياتو په ليکلو د دغه ميتود پام کې نيول د ليکوال د بري ضمانت کوي.

د مخکنيو يادو شويو عناصرو سره يوځای په لنډه کيسه، ناول، رمان او ډرامه کې بايد لوړ تخيل وي. دا نو د ليکوال فکری قوت پورې اړه لري. سره له دې چې داستاني ادب کې څو پورتني عناصر او د ليکلو ميتود شريک دي، خو لنډه کيسه کې اوج يادپرمختګ لوړ ټکې د کيسې د شاخص نقطه او هغه پراو دی چې نور نو کيسه کې د پوښتنې څه نه پاتې کيږي او لوستونکی د کيسې پاې اټکل کوي. دا هغه وروستی او پربکنده شپېږ دي ، چې ليکوال ورته په ټوله ليکنه کې چمتووالی نيولی او دلته يې لوړې څوکې ته رسوي. دا پراو اروايي تحليل سره ډېره اړيکه لري. په دې پراو کې د لوستونکي ذهن کې ټولې راجمع شوې پوښتنې ځواب مومي او د کيسې له پيل تر دې ځايه اچول شوې غوټې يو په بل پسې پکې پرانيستل کيږي او کيسه د منطقي پايلې په لرلو سره د يو ژور رواني اغيز پر پرېباسلو پای ته رسيږي.

د لنډې کيسې او ډرامې د اوج د ټکی د کښلو لپاره ضروري ده چې :

۱. اوج بايد د هغې تر ټولو لوړ او د پېښې د پای ته نږدې کېدو نقطه وي. دغې برخې ته په رسيدو سره لوستونکی د کيسې د پېښو منطقي پايله او نتيجه تر لاسه کوي.

۲. بايد اوج د کيسې له ټولو پېښو يا اصلي پېښې او په کيسه کې د رامنځته شويو کمپلکسونو او کرکېچونو سره چې د مخه راغلي وي، ټينګه اړيکه ولري.

۳. بايد قناعت بخښونکی ، د منلو وړ او روښانه وي،

۴. د کيسې اوج ته په رسيدو کې بېړه نه ده په کار، بلکې فقط هغه وخت لوستونکی ور ورسول شي، چې نور غوټه پرانيستل کيږي او د انتباع سبب کيږي.

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندۀ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»

۵. وروستۍ خبره د کيسې پايله ده چې اغېزمنده وي او اثر تر عمرونو پورې د لوستونکي ذهن او حافظه کې پاتې شي. دا په واقعيت کې هغه پراو دی چې دلته بايد ټول هغه مقصد، اغېز او تاثير يا پيغام چې ليکوال يې لوستونکي ته رسول غواړي، بشپړ شي . د کيسې پايله بايد په داسې ډول وشي چې لوستونکي يا اوربدونکي ته کټ مټ د حقيقت په څېر وبرېښي او که څه مصنوعيت او غير طبيعي والی پکې څرګند شي د ټولې کيسې خوند به خراب کړي.. کله چې ليکوال د لنډې کيسې دا مهارتونه ولري، هغه ډېر ښه ناول او رمان يا ډرامه هم ليکلای شي.

داستاني ادبيات د خپلو ځانګړنو، سکښت، عناصرو او هنري بيان له مخې يو بل سره نږدې دي، په همدې خاطر هغه ليکوال چې لنډه کيسه ليکلو کې تجربه او مهارت لري، ښه ناول او رومان هم ليکلای شي، همدغه ليکوال ډېره ښکلې ډرامه هم ليکلای شي. په همدې خاطر د نړۍ ډېر کيسه ليکوال، نامتو ناول ليکونکي او د ډرامو ريژوسور کوونکی هم وو. دا ميتودونه په لږ او زيات توپير سره ټولو داستاني ادبياتو که شته، خو ځينې توپيرونه هم لري. د ښلګې په توګه لنډه کيسه بايد لنډه وي، خو ناول او رمان ته دا شرط نشته، لنډه کيسه معمولاً يو کرکټر او يوه پېښه تعقيبوي، خو رمان او ناول کې دا شرط نشته. ناول او رمان په څو څېرکيو ويشل کيږي، خو لنډه کيسه څېرکي نه لري. ډرامه د نندارې لپاره ليکل کيږي، جذابيت يې ډيکور، ديالوګونو، د نندارې ظاهري ډول پورې اړه لري، کيدای شي د يو پيغام ترځنګ زياتره د خندولو اوتفريح په موخه وي. نو په دې ډول دا هر يو د مشترکاتو ترځنګ؛ د ميتود له مخې يو بل سره توپيرونه هم لري.

مسعود: پښتو ناول د پښتو معاصر داستاني ادب له مهمو ادبي ژانرونو څخه دی. تاسو د پښتو ناول د رامنځته کېدو تاريخي بهير، سرچينې، د پرمختګ مهم پراوونه او د لومړنيو ناولونو پېژندنه څه ډول ارزوئ؟

استاد دوديال: لومړی به معاصر وخت کې د نړيوال داستاني ادب په اړه لنډه خبره وکړم:
اوسنی عصر د ساينس، تخنيک او د هنرونو د رنګارنګۍ او ايجادياتو عصر دی. لنډه کيسه، ناول او رُمان د همدې نوي عصر ادبي ايجادیات دي. ناول او رومان د اروپا په ويښتيا او ترقی کې پرېکنده رول درلود. ناول لوستل د اروپائيانو ډېره خوږه تفريح ده. دا چې د ناول، داستان او رومان پوښتنه مو کړی ده، بايد وويل شي چې دا ټول په ادبی نثر او بيا په داستانی ادبياتو کې شمېرل کيږي.

ناول نه يواځې د نړۍ په کچه، بلکې پښتو ادب کې هم نوی ادبي ژانر دی. د ناول کلمه په اوسنۍ بڼه په اتلسمي ميلادي پېړۍ کې را پيدا شوې، چې وروسته بيا له انګليسي او هسپانوي څخه په نورو ژبو ورګډه شوې ده. ځينې کره کتونکي او ادبپوهان ناول د ادبي ژانرونو ملکه بولي. په انګرېزي ژبه کې لومړنی کتاب چې د ناول نوم ورکړ شو، د درچارډسن کتاب و. په دغه کتاب کې ډېر نوښتونه شوي وو، په دغه ناول کې يوه خادمه له يو تور رنګ سړي سره مينه کوي، په ياد ناول کې، د لرغونو وختونو د کيسو برخلاف، د لومړي ځل لپاره د دېوانو او پريانو پرځای د انساني ژوند کيسه بيان شوې ده.

له نولسمي پېړۍ را دېخوا عصر کې ناول ليکلو ګړندی پرمختګ وکړ، د کميت او کيفيت له پلوه لوړ برېد ته ورسيدل. په تېره بيا اوس امريکا او اروپا کې د ليکوالانو زيات تمرکز په ناول او لنډې کيسې ليکلو دی. داستاني ادبيات د ادبي ژانرونو ښکلی، جذاب،خو پيچلی او له رمزونو او روموزونو ډک فورم دی. پښتو داستاني ادب او ناول له نولسمي پېړۍ را پيل شو، دا دی اوس مور پښتو کې هم غوره ناولونه لرو. پښتو ناول کې هم د دېوانو، پريانو او شيشکو ځای اوسنيو واقعيتونو ونيو. د پښتو داستاني ادب پيل اروښاد راحت زاخيلي ته منسوب دی چې کوزه پښتيخا کې يې لومړنۍ لنډه کيسه وليکله او بيا يې يو اردو ناول ژباړلی و. پښتو داستاني ادبيات په زه پورې تاريخچه لري. زمور لندې کيسې، ناولونه او رمانونه هومره خوارۍ او بډاي دي، لکه فولکلور او شفاهی -ولسي ادب کې مو چې نکلونه او افساني له خوږو پندونو، عبرت او عجيبو پېښو ډک، روايات او راز راز کرکترونه حيرانوونکی او

بيان يې جذاب دی. له دې څخه پايله ترلاسه کيږي، چې معاصر داستاني ادب مو په حقه سره د فولکلور خوا ره په ميراث وړي دي.

ستاسو د پوښتنې بله برخه د داستاني ادب سرچينې او لومړني آثار او د داستاني ادب پراوونو په اړه ده، په لنډ ډول به ووايو چې:

د پښتو معاصرو لنډو کيسو او ناولونو سرچينې په خپله د ټولنې وضعيت، روايات، حماسې، اسطوري، د خلکو دردونه، له پخوا څخه راپاتې د حکايتونو او ولسی نکلونو دود-دستور او تر ډېره پورې له هغو څخه متاثر والی او د ليکوالو ژمنتيا د ټولنې په وړاندې او بالاخره د ادبي تخليق تنده او پازه ده.

د پښتو لومړنی ناول د مياحسيب ګل کاکاخېل (نقش نګين) و، څېړونکي يې د اردو ناول(مراة العروس) ژباړه بولي. ډېر څېړونکي د سيدراحت زاخيلي ماه رخ يا نتيجه عشق لومړنی پښتو ناول بولي چې په ۱۹۱۲م. کال کې خپور شو، ورپسې نورمحمد تره کې (بې تربيه زوی) په ۱۹۲۹م. کې نشر کړ. په دې توګه پښتو داستاني ادب او ناول ليکنه کې د راحت زاخيلي او نور محمد تره کی نومونه تر نورو مخکی مخې ته راځي. په ۱۹۵۰م. کې د محمد ادريس ناول د(پېغله) په معيارونو برابر ناول و، چې د معاصر ناول ټولې ځانګړنې يې لرلې. د پراوونو پوښتنه مو کړې ده ، په لنډ ډول به ووايو چې: د د پښتو ناول لومړی پړاو د شلمې پېړۍ لومړۍ نيمايی وه، چې بيلګه يې (پېغله) او (بی تربيه زوی) کيدای شي،
دويم پړاو يې له ۱۹۵۰ وروسته تر ۱۹۷۰م. پورې و. دا وخت په داستاني ادب کې هنريت ، نوښت او ژمنتيا څرګند شول، موضوعات هم متنوع وو. دې کې د مهدي شاه مهدي، غوث خيبري، تورويانا او پژواک نومونه يادولای شو.
دريم پړاو له ۱۹۷۰ څخه تر ۲۰۰۱م. کال پورې و، چې دغه دوره کې زيات ليکوالان لرو، لکه: مصطفی جهاد چې (دتخت غمی) يې ليکلی، ع.ا.محک (زمرده)، شپون شين ټاغی، افغانپور(د خلکود آرمان سپيلنی) او نور چې دلته د ټولو يادول زيات ځای نيسي.
څلورم پړاو له ۲۰۰۱م. وروسته. په دې پړاو کې زيات ځوانان را څرګند شول لکه اروابناد نصيراحمد، عمرلور،ننګيال، تراب، پسرلی، نصرت آرمان او څو نور. بايد ووايم چې دلته مې د بړې پښتونخوا د ليکوالو نومونه ياد کړل، خو په مجموع کې که د پښتو داستاني ادبياتو تاريخ او پراوونه يادوو، بايد د پښتو ژبې اثار وشميرو چې دې کې بيا ډېره برخه د کوزې پښتيخا ده، چې نومونه او بيلګې يې ما يوه بله پوښتنه کې ليکلي دي.
مسعود: پښتو ناولونه د موضوع، سبک او موخې له مخې بېلابېل ډولونه لري. ښه به وي که تاسو د دغو بېلابېلو ډولونو په تړاو رنا واچوئ؟
استاد دوديال: د ناول ليکلو سبک ټولې هغه ځانګړنې، د ليکلو طرز، فکر او هنري- ادبي اصول او منځپانګه ده چې ناول ليکوال يې رعايتوي. نړيوال ناولونه بېلابېلو مکتبونو پورې اړه لري، خو د پښتو ناول ليکنې يواځې دوه پېړۍ تيريږي. په همدې خاطر مورږ کلاسيک سبک کې ناول نه لرو، خو د کلاسيکي دورې حکايتونه ، نکلونه او اسطورې لرو. پښتو ناول شلمه پېړۍ کې را منځته شو. دا وخت رومانتيزم مروج او عام ادبي سبک و. لومړنيو ناولونو کې تخيل، طبيعت سره پيوند، مينه او د چاپيريال د ښکلاوو ستايل، آزادي او عدالت پالل پکې له ورايه ښکاري. آن د ښځو ژوند (لکه د کونډه ناول، پېغله او يوځو نورو کی)، طبقاتی بيعدالتی (لکه د ننګ مسافری) کې او د زړو فيوډالي مناسباتو غندنه او د ملي اتلانو ستاينه او تاريخي پېښې يې رانغښتې دي. وروسته له هغه ريااليستيک ناولونه وليکل شول. دا وخت ريااليزم يا آرمان پالنه يوه اړتيا شوې وه، په تېره بيا د لمريزې پنځوسمې او د شپيتمې لسيزې لومړيو کې دا ډول ناولونه هم له بهرنيو ژبو پښتو ته و ژباړل شول او هم زمورږ د ليکوالو له خوا په پښتو ژبه خپاره شول. د ناتورااليزم څرګنده بيلګه نه لرو، خو د اسحاق ننګيال، (سيوری) د سيمبوليزم يوه بيلګه کېدای شي. د سوريااليزم، فوتوريزم او اګزيستاليزم بيلګې ما نه دي ليدلي. د تراب، (هغه به څوک و) ناول د خپلو ځانګړنو له مخې جادويي يا کوډګر ريااليزم ته ورته دی.

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندهٔ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»

زمور ليکوال ډېر ښه پوهيدلي دي چې افغاني ټولنه وروسته پاتې ټولنه ده، نو ناول ليکوالو ډېرې عالي او انساني موخې پام کې نيولې دي، لکه: تعليم، کار او زيار ته درناوی، د ښځو د حقونو درناوی او د محرومو وګړو د ژوند انځور، کورنۍ مسايل، سوله، د ملي اتلانو د ژوند انځورول او ولسواکي. البته يو شمېر ليکوالو تاريخي ناولونه هم ليکلي دي چې موخه يې د ګران وطن او زمور د نيکونو د پرتم او د ملی دود-دستور پېژندنه او د تاريخي پېښو روښانه کول دي.

مسعود: تاسو د پښتو ناول د ودې او پراختيا پړاوونه له دوديز روايتونو څخه ټولنيز، تاريخي، رواني او انتقادي بدلون ته، څه ډول ځېرئ؟

استاد دوديال: پښتو ناول او د هغه پړاوونو زياتره له سياسي تحولاتو سره مزل کړی دی. د همدغو سياسي بدلونو له امله يې منځپانګه هم بدله شوې ده . له ۱۹۲۰ تر ۱۹۵۰ م. پورې مور د ګوتو په شمار ناولونه، هغه هم زياتره کوزې خوا کې لرل، له ۱۹۵۰م. وروسته د موضوعاتو په بدلون سره هم کوزه او هم بره خوا کې هم د ناول او هم د ليکوالو شمېر زيات شو. زيات ناولونه چې موضوعات يې بيخي متنوع وو، له ۱۹۷۰ او بيا وروسته تر ۲۰۰۱م. پورې پېښ شول. لږ مخکې دا پړاوونه ياد شول. د منځپانګې بدلون په ترتيب سره له ټولنيزو مسايلو ، تاريخي موضوعاتو ته او بيا طبقاتی تضادونه، بيوزلي او د سياست مسايل او وروستيو کې ځينو کې رواني موضوعات راغلي دي. دا پړاوونه تر اوسه د کوم خپلواک تحقيق پر بنياد نه دي، خو ثابته خبره ده چې ډېر ګړندي نه، بلکې په محافظه کاری سره روان وو. تېرو دوه سوو کلونو کې د ناولونو شمېر ډېر کم او د بيسوادي له امله يې د لوستونکو شمېر هم کم و. ستونزمنه خبره ده چې د بدلون خبره يې وشي. آن دا چې يو شمېر ادبي نويو سبکونو کې ناول نه لرو. د سيمبوليزم، فوتوريزم او سيانيس فکشن برخو کې زمور نظرته کوم معياری ناول مخې ته نه راځي، خو هيله لرو چې لږ وخت کې به له خيره ښه او د بيلابېلو موضوعاتو لرونکي او نويو سبکونو کې نوښتيز او خواږه ناولونه ولرو.

مسعود: ستاسو په اند، د پښتو ناول د ښه جوړښت او اغېزناک ادبي او هنري بيان لپاره يو ليکوال بايد له کومو بېلابېلو مهمو ادبي او هنري لارو او تخنيکي وسايلو څخه کار واخلي؟

استاد دوديال: داستاني ادبيات؛ په تېره بيا ناول د نوي عصر ژانر دي. د ناول لپاره معيارونه لرو. د ناول ليکوال بايد تر هرڅه د مخه پراخه او ژوره مطالعه ولري، خپله ټولنه يې پېژندلي وي، د ولس له ذوق او اړتياوو خبر اوسي. کله چې ناول خپريږي، ډېره به ښه وي چې کره کتنه وربانديې وشي. کره کتنه کې کېدای شي د نښېر د ښه جوړښت او اغېزناک ادبي او هنري بيان، د بېلابېلو مهمو ادبي او هنري لارو او تخنيکونو او وسايلو ارزونه وشي. زمور داستاني ادبيات اکاډميکې، ادبي، فلسفي او ټولنيزې کرهکتنې ته اړتيا لري. ناول ليکنه په هر اړخيزې ارزونې سره وده کوي چې په دې ډول ارزونه کې د ادبي اثر نوي اړخونه رابرسېره، ارزښتونه يې جوت او د نوښت لپاره فکري زمينه برابره شي. اکاډميکې کرهکتنې د ناول جوړښت، ژبه او هنري بيان رابنيي. ادبي کرهکتنه يې ژبه او د ليکوالي طرز او هنري ارزښتونه رابنيي، فلسفي کرهکتنه يې فکري او وجودي پوښتنې؛ او ټولنيزه کرهکتنه يې له ټولنې، تاريخ، کلتور او انساني ژوند سره اړيکه روښانه کوي. ډېره مهمه ده چې د ليکوالو ټولنې ولرو چې د ليکوالو لاسنيوی وکړي، د خپرو شويو آثارو لپاره ماترکيت وموندل شي، ملي ادب مو په بهرنيو ژبو وژباړل شي او نړيوالو ته معرفي شي. د ادبياتو تجربه لرونکي استادان دې لکچرونه، سيمينارونه او کنفرانسونه دايرکړي، غوره ناول وهڅول شي او هغه ناول چې د سمون او اصلاح لپاره اړتيا لري، ورته لارښوونه وشي. د ناول د چاپ مصرف دې له حکومتي بودېجې څخه مجرا شي او کتاب په ارزانه بيه لوستونکو ته ورسول شي. د اطلاعاتو او کلتور وزارت دې ليکوالو ته حق الزحمه وټاکي او ليکوال وکولای شي د خپل قلم له برکته د ژوند اړتياوې پوره کړي. هرکال د ادبي سيالیو اعلان او ناول لوستلو ته د ځوانانو هڅونه يوه حتمي اړتيا ده. کله چې د ادبي آثارو د ليکلو او خپرولو برخه کې دا ډول ګامونه اوچت شي، ليکوال خامخا د خپلو آثارو د ښه جوړښت او اغېزناک ادبي او هنري بيان لپاره نوښت کوي، زيار ګالي او په بېلابېلو مهمو ادبي او هنري لارو او تخنيکي وسايلو ځان بلدوي.

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندهٔ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»

مسعود: ستاسو ارزونه د پښتو ناولونو د مهو موضوعاتو، منځپانګې، د پښتني، انساني او ټولنيز ژوند د بېلابېل اړخونو، موخو او پيغامونو، د ادبي، تاريخي، اقتصادي او ټولنيزو ارزښتونو په تړاو څه ده؟

استاد دوديال: د ناول موضوعات له پخوا محدود وو. مينه، ټولنيز مسايل، ظلم او بيعدالتي غندل، د ښځو د دردونو انځورول او بيا وروسته تاريخي مسايل. يو شمير نوي مسايل لکه د سياست، روحيات، اقتصاد، د حقوقو موضوع يا د ساينسي پرمختګونو موضوعات مو نه لرل. له بلې خوا لومړني ناولونه زياتره فزيکي اخ وډب او ظاهري حرکات او د کرکتر يا کرکترونو ميخانيکي چلندونه وو، د پرسوناژ سايکالوژيکي انځورول او د هغه د د ننني حالت ښودل نه و. د کيسې په مسير کې به کرکتر يا څېرې او پرسوناژونه د کيسې څوکې (اوج) ته ورسول شول. البته ليکوالانو مو ښه پيغامونه لرل، خو پلات او پېښو تر ډېره ځايه فعاله او روايتي بڼه درلوده ، په ارواييِ تحليل به دومره نه څرخېده او ټوله پاملرنه به يې فزيکي کړو- وړو ، حرکاتو او ظاهري څېرې ته اړولې وه. د داستان د کرکتر رواني حالت انځورول چې يو جلا هنر دی، پخوانيو کيسو کې نه و . ښکاره خبره ده چې دې ډول کيسې د وګړو د ننني روحي حالت ښودل، د ټولنې د حقايقو انځورول او رابرسېره کول په سمه توګه نشو کولای. د لومړنيو يو شمير ناولونو موضوعات هسې د بوختيا لپاره وو، ټولنيز رسالت او لوستونکي ته يې د ده پازه نشوه القا کولای، لوستونکي به يې د څو شېبو لپاره بوخت ساتل. خو وروسته پېښتو ناول جدي مسايل مطرح کړل، لوستونکو ته يې هېواد او تاريخ ورمعرفي کړ، ملي اتلان يې وځلول، آن دا چې ناول کې داسې سياسي موضوعات راغلل، چې د لوستونکو پر سياسي شعور يې اغيز وکړ. د اروښاد خيبري ناولونو ملي شعور راويښ کړ، ورپسې نورو ناولونو د ژوند په نورو برخو کې مسايل طرح کړل، خو هغه څه چې هېر وو، هغه د تربورګلوي غندنه، د اتفاق راوستل، د نوي عصر تعليم ته هڅونه او د ژوند اقتصادي او معيشتي برخو ته پام وو. دې اړتيا ته نصير احمد احمدي ځواب ووايه.

ښکاره خبره ده چې يو ناول په يوه مرکزي پېښه او ورسره د يوې يا څو فرعي پېښو په لړلو سره په مخ ځي، دا پېښه/ پېښې بايد د تخيل له وزرو نو سره سره واقعي بڼه او د احساساتو د پاروني څېې هم ولري . يوه ښه ناول کې د واقعيت او تخيل تر منځ يو منطقي تړاو وي، تر څو د ټولنې ناخوالې او واقعيتونه څرګند کړي. پښتني ټولنه ډېرو زياتو ناخوالو سره مخ ده. که ناول اروپا د کليسا له جبر او خرافاتو وژغورله، پښتني ټولنه بايد د ناول په قوت له وروسته پاتېوالي، بې اتفاقي، بېسوادي، بيوزلي او فتاليزم وژغورو. همدا دردونه او نيمګړتياوې زمونږ واقعيتونه دي او کوم ناول چې په واقعيت ولاړه وي ، بريالی او د ټولنې د درد دوا کوونکی کېدای شي. دا سمه ده چې ادب کې تخيل او ښکلا انځورول وي(ادب د ادب لپاره) ، خو زمونږ د پښتو معاصرو داستاني ادبياتو يوه پازه بايد (ادب د ژوند لپاره) هم وي. موخه دا نده چې د لنډې کيسې، ناول او رومان ليکنې بهير کې هنريت او ادبي صنايع، ايماژونه او ښکلاييز اړخونه هير او کټ مټ پکې واقعيت تصوير شوی وي او د تخيل هيڅ تومنه پکې محسوسه نشي، يوازې د پېښې/پېښو تخنيکي او فزيکي بيان او اخ وډب وي يا بيخي تخيلي، خيالي او له واقعيت لرې وي. پښتو ناول بايد په افغاني ټولنې او چاپېريال کې اووسي نه پردي چاپېريال او ټولنه کې . (موخه هغه ډرامې او فلمونه دي چې له بده مرغه دغو وروستيو کلونو کې پاکستان کې د پښتو فلم او ډرامې په نوم ډکيږي چې قطعاً پښتني کلتور نه ښيي، بلکې د پښتني ټولنې سپکاوی دی.)

البته کله چې ناول د تخيل په زور ليکو څه شاوخوا داسې انځورونه به راځي چې لوستونکی حيرانوي، خو دټولنې د ارزښتونو، دود-دستور او معنوي دريځ خلاف به نه وي او دا ډول انځورونه ناول ته ښکلا وربخښي. شپون دا انډول ډېر ښه رعايت کړی و. دا هيله هغه وخت تحقق مومي چې د داستاني آثارو فني تخنيکونه او اصول تطبيق شي. دغه برېد ته رسېدل هله ممکن کېدای شي چې ليکوال مو ادبی مکتبونه، د نړۍ او نورو ژبو نامتو داستاني آثار او څه ناڅه ادبي تيوري لوستي وي او په ليکوالي کې يې پوره مشق او تمرين کړی وي، د کره کتونکو خبرو ته يې غوږ نيولی وي او ټولنه او ولس يې سم پيژندلی وي. زمونږ داستاني ادبيات بايد داسې انځور او وليکل شي چې د ټولنې او ولس پر واقعيتونو ولاړ وي ،لوستونکو ته نوی او رغوونکی اغيزناک فکر ورکړي، د سمون لامل

شي او د دوی پر ژوند او چاپېریال راوخرخي او هم يې استازیتوب وکولای شي. په ډېرو داستاني پېښو کې د پند او عبرت ټکی نغښتل یوه اړتیا ده.
مسعود: د پښتو داستاني ادب په تاریخ کې ګڼو لیکوالو د ناول او اوږده داستان په برخه کې ډېره زیاته پاملرنه کړېده. ښه به وي که تاسو د پښتو ناولونو د نوموتو لیکوالو د پیژندنې په ټراو او د دوی د مهمو او اعېزناکو نښرونو(آثارو) په اړه خپل لید راسره شریک کړئ.
استاد دودیال: لږ مخکې د داستاني ادب د لنډ تاریخ د توضیح ترڅنګ، د نامتو ناول لیکوالو او نامتو پښتو ناولونو نومونه یادشول. دلته به د یو څو تنو چې ډېر حقدار دي، نوم بیا ځلي یاد کړم: محمد ادریس، قلندر مومند، ډاکتراحسان الله هېر، سعدالدین شپون، محمد صدیق پسرلی، نصیر احمد احمدي، زیتون بانو، فاروق سرور ،درمحمدکاسی، زرین انځور، پروین ملال، امین افغانپور، اکبر کرګر، او ګڼ نور لیکوال چې مخکې پوښتنه کې په تفصیل د دوی له آثارو سره یو ځای یاد شول. د دغو لیکوالو د داستانی آثارو له لارې پښتو نثر له نویو موضوعاتو، نویو فکري لیدلورو او بېلابېلو اسلوبونو سره مخ شوی او ښه پرمخ روان دی.
مسعود: ښه به وي که د یو ښه پښتو ناول د ځانګړتیاوو، بنسټیز او رغوونکي توکي او عناصرو او ادبي سبک په اړوند خپل لید راسره شریک کړئ.
استاد دودیال: یو ښه ناول او کېسه کې پلاټ، کرکټرونه، پیغام، مکالمې، غوټه پرانیستل، منظر کشي، غوټه پرانیستل، تلوسه او احساس له مهمو ځانګړنو څخه دي. نوښت لرونکی لیکوال باید په ښه پیل او پای، د کېسې د بیانولو په ژبې، هنریت، د نویو ترکیبونو او اصطلاحاتو په راوړلو، له کلیشه یي مسئلې په تېرېدلو، معنا لرونکو لنډو جملو راوړلو، په ځانګړو وختونو کې د شعرونو، متلونو او لنډو کېسو په استعمال او ځینو نورو برخو هم برلاسی وي. د ادبي صنایعو د رعایت، د غوره دیالوګ او ایماژونو ترڅنګ؛ ښه ناول هغه دی چې د ټولنې په وړاندې یې ژمنتیا پوره کړي وي، د ولس دردونه انځور، د حل لارې وښیی او رونټیا او ویښتابه سره مرسته وکړي. زموږ ټولنه اوس دغو ارزښتونو ته اړه ده.
مسعود: په پښتو معاصرو داستاني ادبیاتو کې د پښتو ناول پیل او د دې ځپل (ژانر) راڅرګندېدل، لومړني پړاوونه او مخکښ لیکوال څوک ول؟ ښه به وي که تاسو په دې ټراو لنډ مالومات راسره شریک کړئ.
استاد دودیال: د پښتو د لومړنۍ کیسې کې هم ډېر لږ اختلاف شته، زیاتره څېړونکي شلېدلې پېنه لومړنۍ لیکل شوې لنډه کیسه بولي، د ناول په اړه هم یو څه اختلاف شته. ځینې څېړونکی د اروابشاد میاحسیب ګل کاکاخېل (نقش نګین) ناول لومړنی لیکل شوی او خپور شوی ناول بولي. څېړونکي وایي چې لومړنی ناول اردو (مراة العروس) ژباړه وه. ژباړه هم یو فرهنګی کار و، خو ډېر څېړونکي د سیدراحت زاخیلي په ماه رخ یا نتیجه عشق حساب کوي چې همدا لومړنی پښتو ناول دی. سید راحت زاخیلی هغه لیکوال و چې لومړنۍ لنډې کیسې هم لیکلی وې. د پښتو دغه لومړنی لیکل شوی ناول په ۱۹۱۲م. کال کې خپور او خلکو ولوست. بړي خواته نورمحمد تره کې (بې تربیه زوی) په ۱۹۲۹م. کې نشر کړ. په دې توګه پښتو داستاني ادب او ناول لیکنه کې د راحت زاخیلي او نور محمد تره کی نومونه تر نورو مخکی مخې ته راځي. وروسته بیا هم کوزه خوا او هم بره خوا ناول لیکنه ورو ورو پرمخ ولاړه او په ۱۹۵۰م. کې د محمد ادریس ناول د(پېغله) په نوم نشر شو. دا یو ډېر ښکلی ناول و. دا ځکه چې د معاصر ناول ټولې ځانګړني یې لرلې. د شلمې پېړۍ لومړۍ نیمایی د پښتو ناول لومړی پړاو بلل کیږي. بل پړاو یې له ۱۹۵۰ وروسته تر ۱۹۷۰م. پورې و. دغه دوره کې داستانی ادب کی هنریت وځلېد او موضوعات هم متنوع شول: لکه ټولنیز مسایل، ښوونه اوروزنه، ټولنیز طبقاتی تضادونه، د ناوړه دودونو غندنه، د ښځو د ژوند انځور او دې ته ورته د ټولنیزو ستونزو عکاسي او د نیمګړتیاوو ښودل او د سمون پیغامونه د داستاني ادب محتوا شوه. ورپسې بل پړاو له ۱۹۷۰ څخه تر ۲۰۰۱م. کال او څلورم پړاو له ۲۰۰۱م. وروسته. دا پړاوونه او وېشني د شرایطو د بدلون سره موازي په داستاني ادبیاتو بدلونونه او تغییرات ښیي. فکر کوم نور درانه لیکوال به هم دې خبرې او وېشنې سره موافق وي .

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندۀ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»

مسعود: په پښتو معاصرو داستاني ادبياتو کې پښتو ناول يوازې د پېښو بيان نه دی؛ ژبه او سبک هغه څه دي چې ساده پېښه په ادبي او هنري نښير(اثر) بدلوي. تاسو په پښتو ناول کې د ژبې او ادبي سبک مهمې ځانګړتياوې او اغېزناک ادبي او هنري ارزښت څه ډول ارزوئ؟

استاد دودیال: په پښتو ژبه ناول د نولسمې پېړۍ وروستيو او د شلمې پېړۍ پيل کې وليکل شو. دا دوران د رومانتيزم او رياليزم دوران و. افغاني ټولنې هم همدې سبک ته اړتيا لرله. طبيعت پالنه، خپلواکي سره مينه او ملي مسايل ستايل، عدالت او نياو، د طبقاتي تضادونو؛ په تيره د فيوډالي زړو مناسباتو غندل او ټولنې ته د نوي دوران زيری ورکول او دي ته ورته مسايل لومړيتوب و. دا هغه کلونه وو چې د پښتو ژبې د نثر او ليکدود خواته پام اړول شوی و. په افغانستان کې د علامه عبدالحی حبيبی، لايق، تره کي، الفت، عبدالقدوس پرهيز، ژواک او نورو نثري ليکنو نوی سبک او نوې سوژی راوپېژندلې. د ارواښاد پژواک، موسی شفيق، عبدالله بختاني، استاد رشاد، بينوا، استادحبيب الله تږي او خادم نثر؛ يا غوره ده هنري نثر يې وبولو، د اختصار، د جملو نوې سکښت او سلاست بيلګه شو. د هغه وخت اخبارونو، راډيو او مجلو د دغه نثر په پراختيا کې اغيز درلود. د روغتيا مجلې، د کابل پوهنتون د اجتماعي علومو او طبيعي علومو، د علومو د اکاډمي پښتو، آريانا او زيري مجلو او اخبارونو، اصلاح او هېواد د عمومي او معلوماتي او ورسره د علمي ليکنو بيلګې د ځوانانو لپاره لارښوونکي شوې. وروسته بيا پښتون ژغ او ژوندون کې لنډې کيسې هم خپريدې. کابل پوهنتون کې ارواښاد رشاد، پوهاندحبيبي، پوهاند دوکتورحمزه خټل، پوهاند دوکتور بازمحمد شيرزاد، پوهاندوکتورزيار، پوهاند دوکتور عبدالقهار ثمين، د ننګرهار پوهنتون طب پوهنځی کې داکتر شيرزاد لومړني پښتو درسي کتاب او عبدالرووف خپلواک او محمد طاهر څرک د اقتصاد پوهنځي کې لومړني درسي پښتو کتابونه وليکل. آن ديني علماوو لکه مولانا ارشاد، مولوي خالص او مولانا کشاف په روان نثر موعظي او مقالي او د(دين او تمدن) او (حقپالونکي) په شان کتابونه په همدې روان نثر وليکل، حال دا چې پخوا ديني موعظي او نور متون ساده او روان نه وو، بلکې ځيني وخت نثر مسجع او طويل بحر دود و. تر دا وخته پښتنو هغه خپاره شوي ديني ارشادات چې دوی ته رسېدل، په مسجع نثر يا په نظم سره لوستي او ورسره عادت وو. تر پنځوس- شپيتو کلونو مخکې پوري زمور د بېلابېلو ځانګو متخصصينو او مسلکي تکړه کادرونو په پښتو يوه علمي او مسلکي مقاله او کتاب نه و ليکلای، حال دا چې په خپل مسلک کی به ډېر لايق و، علت دا و چې دوی پښتو نثر باندې آثار نه وو لوستي. دا ستونزه هله هواريږي چې د ښوونځی زده کوونکي او ځوانان پښتو داستاني ادبيات ولولي. دا د دوې لپاره هم ذهنی تمرين، تفريح، د ادبی ذوق خړوبول او د عواطفو روزنه ده، او مهمه دا چې د دوی د مطالعې عادت پياوړی او د نثر ليکنې وړتيا يې اوچتيږي. روسان وايي روسي ژبه د پوشکين او تولستوی د ادبي شهکارونو له برکته دومره بډايه، خوږه او روانه ده. دغسې نوري ژبې.

له ځلوېښتمې لسيزې وروسته پښتو نثر ته پام وشو. دا نوې بيلګې د ادبي نثر او عمومي ليکنو برخو کې په يو وخت او يو شان وليدل شوې. ځلوېښتمه لسيزه يوه د تحول لسيزه وه چې لنډه کيسه پکې ښه وځلېده او لومړني ناولونه هم همدا وخت خپاره شول. د دغو ليکنو پيغامونه هم نوي وو.

مسعود : پښتو ژبه کې د شعرونو ديوانونه زيات لرو، د نظم برخه کې زيات کار شوی، خو نثر ته پام نه دی شوی. ننني ورځ کې د نثر د اهميت او دا چې څو ډوله نثر لرو په نثر کې کوم ډول ليکنې ځای لري راته روښانه کړئ، څه بايد وشي چې بې تېروتنو، خوږ او روان نثر ولرو؟

استاد دودیال: اوس چې د نثر خبره راغله، او د نظم او شعر ترڅنګ د نثر د اړتيا يادونه وشوه، بايد د ژبې موضوع ته راشو. ننني وخت کې ډېر متون، ليکنې او خپرونې په نثر سره دي. د نړۍ د نامتو ژبو ليکوالان هڅه کوي چې نثر خوږ، له مانا ډک، روان او سليس او ښه د پوهېدو وړ وګرځوي. که مور د انګليسي، جرمني، روسي او نورو ژبو نثر ولولو، ډېر روان او ادبي دی. دا ځکه چې دوی نثر ته پام کړی دی. د دوی ماشومان له وړکتوبه خپله ژبه ښه زده کوي، د ماشوم د ادبياتو برخه کې تر ټولو تجربه لرونکي پيداګوګان، فلالوجستان، ليکوالان او د ادب متخصصان بوخت وي، ماشومانو ته املا، انشا او ګرامر ورزده کوي، مصورې کيسې ورته ليکي او دليکلو تمرين او مشق ورباندې کوي. له بده مرغه مور دې برخه کې کار نه دی کړی. بهرنيو هېوادو کې ځوانانو ته راز راز د کيسو کتابونه

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندهٔ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»

او نالونه شته چې دوی يې لولي، نو ډېره اړينه ده چې مونږ هم نثر ته کار وکړو. سره خپه کيږو به نه، واقعيت به ووايو چې: زمونږ د دولسم ټولګي د فارغ املا او انشا سمه نه ده، د لغاتو دايره يې ډېره محدوده او يو ساده متن نشي ليکلای. حال دا چې پښتو زمونږ ملي او رسمي ژبه ده. څه ناڅه اويا ميليونه وګړي يوه لويه جغرافيه کې وړاندې خبرې کوي، د ژبو د نړيوالي معتبرې سرچينې "ايتنالاګ" له ځيړنې سره سم ، پښتو په ژوندیو او باثباته ژبو کې حسابيږي او د ويونکو د شمېر له پلوه د نړۍ په لومړيو لويو ځلوېښتو ژبو کې ځای لري. په پښتو ژبه کې له ځلوېښت-پنځوسو کالو راډېخوا بدلونونه، په نثر د ليکنو زياتوالی او د داستاني ادب وده د دې لامل شوه چې پښتو د نړيوالو ژبو په لومړي قطار کې ودروي. په نړۍ کې د پښتو يو شمېر راډيو او ټي وي چينلونه فعاليت کوي او هغو سيمو ته هم خپل غږ رسوي چيرې چې انټرنېټ نشته. مخکې به زياتره د ليکوالو پام شاعري ته و. اوس بايد نثر ته پام واړوو. اوس په پښتنو کې دا پوهه او احساس را ژوندی شوی چې لومړنۍ زده کړې بايد په مورنۍ ژبه وي. په نړۍ کې تر ټولو زيات پښتانه يا پښتو ويونکي په پاکستان کې استوګن دي چې د دې هېواد د ۲۰۱۷ز کال له سرشمېرنې سره سم، د څه باندې ۲۰۷ ميليونه وګړو څخه شاوخوا ۳۸ ميليونه (۱۸.۲۴) پښتانه دي. پښتو له پنجابي وروسته د پاکستان دويمه لويه ژبه ده. د سرچينو او ځيړنو له مخې، د افغانستان له اټکل شوي ۴۱ مليونه نفوس څخه نيمايي يې پښتانه دي. پر دې سربېره د نړۍ په يو شمېر نورو هېوادونو کې هم پښتانه ژوند کوي چې شمېر يې څه باندې پينځه ميليونه کيږي. په دې توګه په نړۍ کې د پښتنو يا پښتو ويونکو شمېر تر اويا مليونه يا اويا کروړه اوړي.
پښتو ژبه له ۱۹۸۴م. کال راډېخوا په کمپيوټر کې کارول کيږي، اوس سلګونه وېبپاڼې، راډيو او تلويزيون چينلونه لري. په ۲۰۱۶م. کال د انټرنېټي پلټونکي ماشين ګوګل ژباړن برخه هم وګړځېده. خو له دې ټولو سره سره نثر ته پام نشته. د نثرې کتابونو، ورځنيو معلوماتو، آفاقي پوهې او مطالعې سره ناآشنايي پښتانه له سياسي، اقتصادي او ټولنيزو ننګونو، بې اتفاقي، افراط ګرايي او بې ګټې شخړو سره مخامخ کړي دي.
دا ننګونه هله جبران او حل کيږي، چې په نثر خپرونې ولرو، چې يوه مهمه لاره يې د داستاني ادبياتو خپرول دي چې خلک يې په علاقې سره لولي. په دې سره به ځوانان مطالعې سره آشنا او عادت شي، د مورنۍ ژبې تومنه او د لغاتو زيرمه به يې پياوړی او خبرې، محاوره او ليک به يې روان شي. دا يوه نړيواله تجربه او د زړه کړې وړ خبره ده. نن چې پښتانه له کومو ننګونو سره مخامخ دي نو ژبه يې هم ورسره مخامخ ده. د پښتنو پر خاوره جنګونه او ناامني او افراطي ډلې واکمن کېدل د دوی ژبې، پښتني کودونو، دود-دستور او ملي ادب او فرهنګ ته لوی ګوابښ دی. په نثر سره ليکنې پښتو د اقتصاد، سياست، حقوقو، ساينس، ترانسپورت او د ژوند د نورو ډګرونو او اړتياوو ژبه ګرځوي. کومه ژبه چې د اقتصاد برخه وګرځي نو په هغې کې شعور، تشخص، کلتور او سياست پرمخ ځي. که مونږ د انګليسي، روسي، جرمني او ځينو نورو ژبو نثر وګورو، روان، خوځنده، سليس،مستحکم او استوار او له مانا ډک دی، مترادفات، سيمبولونه، تشبيهات...لنډه داچې ټول د دوی د داستاني ادب او د داستاني آثارو د ليکوالو د قلم برکت دی. زمونږ د داستاني ادب ليکوال ليکنه کوي، ښکلي لنډې کيسې او ناولونه ليکي، خو د خپلو آثارو دغو اغيزو ته ممکن ځير نه وي.
پر دې سربېره، پښتو ژبه هغه وخت زيات پرمختګ کولای شي او د اداري ژبو په صف کې درېدلای شي چې د رسمي مکاتباتو او دفتر ژبه شي. د مکاتباتو او دفتر ليک نثر دی، نه نظم او شعر. په تيرو پنځوسو کلونو کې د نثر د زيات رواج کېدو، په تېره د داستاني ادبياتو له برکته پښتو ژبې وده وکړه او له ډېرو زړو ژبو سره يې ځان برابر کړ. همدغو کلونو کې درسي او علمي کتابونه وليکل شول، چې ما يې بيلګې لږ مخکې يادې کړې.
د پوښتنې بله برخه مو د ليکنو د ډولونو په اړه وه. بايد ووايو چې د ليکنو ډولونه بېلابېل دي. يو نظم او شعر، بل نثر. په نثر هم دوه ډوله ليکنې لرو: هنري نثر او عمومي نثر. هنري نثر بيا خپله دوه ډوله دی: داستاني نثر(لنډه کيسه، رمان، ناول او ډرام) او غير داستاني نثر(يونليک، پيښليک، خاطره او ادبي ټوټه).

عمومی نثر یا عمومي لیکني(general writing) د میدیا ډېره برخه نیسي؛ هر ځای مهیا وي، په دې کې راز راز کتابونه، مقالې، مرکې، دیني وعظونه، اعلانونه، خبرونه او ویپانې راځي. مانا داچې د عمومي لیکنو محتوا له خبرونو نیولې، تر سیاسي او ټولنیزو تبصرو، ذوقي مطالب، تبلیغات، اقتصادي شننې دي، چې د نن ورځې اړتیا ده.
دعمومي لیکنو یوه برخه علمی لیکني(scientific writing) دي. ځانګړو واقعیتونو د موندلو او ساینسی مسایلو د روښانه کولو په موخه وي او د علمی بنسټونو ځانګړو ژورنالو کې خپریږي. علمی لیکنه د ځیرنې د پیچلې او ټاکلې پروسې له مخې یو واقعیت راسپړي. څېړنه د معیار او اصولو له مخې ترسره کیږي. علمی (heavy/scientific writing) لیکنه باید د علمی لیکنې ټول خصوصیات ولري. دا ځکه چې ځیرنه(research) هغه ژوره او عالمانه پلټنه ده چې په هغې سره حقایق او واقعیتونه موندل او روښانه کیږي. دا ټولې لیکنې په نثر سره دي. د عمومي لیکنو لوستونکي عام خلک دي. کیدای شي اکاډمیک کسان هم د دغو لیکنو لوستونکي وي، خو علمی لیکنې د پوهنتونو، علمی مراکزو، اکاډمیو او د ریسرچ د ادارو صنعت او تولید دی. اکاډمیک کسان په نثر سره څېړنیزه لیکنه خپروي . هیله ده هغه درانه لیکوال او ځوانان چې ځان دغه ملی مسوولیت ته ژمن بولي دا رسالت ترسره کړي چې ژبې او نثر ته کار وکړي، دا هغه وخت کیدای شي چې ځوانان کتاب لوستل او مطالعې باندې روږدي او د لوستلو سرعت یې ګړندی او د لغاتو دایره یې پراخه وي، چې دا توانایي او وړتیا د داستاني ادبیاتو لیکلو، چاپ او رسولو پورې اړه مومي. خدای وکړي د نثر او هنري نثر ارزښت او رول روښانه شوی وي.
مسعود: یو شمیر لیکوال په تېره بیا د پښتو ژبې لیکوال د خپلو ناپېلو(منثورو) پنځونو، داستانونو، ناولونو په تېره ټکل او ګپ و شپ کې خورا خوږه، او له طنز و کنایې ډکه ژبه کاروي، ستاسو په آند د دې لامل او دک ودلیل څه دی؟
استاد دودیال: چا چې له بنارونو او بازارونو لیرې کلیو کې ساده کلیوالي ژوند لیدلی وي، زموږ د صادقو کلیوالو خوږه ژبه، د دوی د ادا طرز، کنایې، خوږه مودبه افاده، ساده وینا او د ځانګړې فلسفې لرونکې خبرې به یې اوریدلې وي. دوی آن د غوسې او خپګان په مهال لا خوږه ژبه کاروي، خپل ناپایه دردونه او غمونه له زغم په ډکو الفاظو، خو په ضمني ډول په خوښي بخښونکو ویناوو بیانوي، په متلونو، لنډیو، وجیزو، حکایتونو او نکلونو کې یوه ژوره فلسفه رانغاړي. دوی درناوی او قناعت نه هیروي، ګستاخي نه کوي، په طنز، ټوکو او کنایه پوهیږي او خپل مطلب ډېر ښه افاده کوي. د بیلګې په توګه که یو کلیوال سره له موضوع لیرې او بې ارتباطه خبره وکړو، کېدای شي، موږ په یوه خوږه مسکا ځیر کړي او راته ووایي:

- ته هغه ځای ګرو چې خاښت نه کوي !

دغه نیمه جمله، لویه مانا لري، ظاهراً خندوونکې هم ده، ژوره مانا هم لري. نو اوس چې د متلونو خبره رایاده شوه، یو څو خواږه او د ژورې مانا لرونکی متلونه به رایاد کړو:

- زه چې ستا په منګ وم، ونه د لونګ وم (د مخاطب نیمګړتیا ته په مودبانه ډول اشاره او خپل شخصیت هغه ته معرفي کول)،
- ملا مې کړې، د ځان بلا مې کړې (د عوامو په فکر؛کم اصل ته عقل ښودل او د هغه کم ظرفیت)،
- اوبه له پورته خوا خړیږي (د حاکمیتونو، مقاماتو، ملکانو او خانانو خامي، تفرقه اچول، دوکه او بې پروایي ته اشاره ده)،
- اوبه په ډانګ نه بیلیږي،
- له څاڅکو سېلاو جوړیږي،
- د نوي منګي اوبه خوږې وي،
- د بنار دروازې تړل کیږي، خو د خلکو خولې نه،
- د ورغوي تناکه مرغلره ده،

- رنګ مې ګوره، حال مې پوښته(يوه پيچلی اروايی مسئله رانغاړي)،
- رنګ يې د مُلا، عمل يې د بلا. (د دوکي غندنه)،
- شرميږي هغه چې په شرم پوهيږي(وجدان او ضمير ته اشاره ده)،
- غوا توره، شيدی يې سپينې دي(حقيقت نه پټيږي)،
- کوږ بار تر منزله نه رسيږی(د عدالت ستاينه او نياو ته بلنه)،...

په دې توګه مور خپله خوږه ژبه کې لسګونه زره خواږه، له حکمت او باريکي ډک متلونه لرو. همداسې هم عاميانه نکلونه، د مينډو سندرې او بولنې او د لوياتو حکايتونه چې ټول فولکلور کې شمېرل کيږي، له حکمت، طنز، پند او عبرت ډک دي. کوم حکمت چې فولکلور کې را څرګندېږي، د هغو ټولو نسبت زمور پتمن ولس او باتورو نيکونو ته ورکول کيږي او ولس په اجمالي او مجموعي توګه عالم، حکيم، مبتکر او فيلسوف دی. نو تاسو په داستاني ادب او ناولونو کې د خوږو جملو، حکمت، او له طنز و کنايې ډکې ژبې د لامل او دک ودليل پوښتنه کړې ، د دې ځواب دا دی چې د دې ډول خوږوالي، ژورې مانا او طنز ريښه زمور بډای کلتور او ژور هڅووب او ويړ ولسي شفاهی ادب کې ده. په دې اړه به يو څو لنډې هم د بيلګې په توګه يادې کړم:

-په لويو غرو د خدای نظر وي په سر يې واورې شاوخوا ژيړي ګلونه
-زما د زړه ناپايه غمه اور دې چې هرڅو پټوم لوګې دي ځينه
-ناري وهم ژغ راته نه کړې بيا به دنيا را پسې ګورې نه به يمه
-څوک په رضا له ملکه نه ځي يا ډېر غريب شي يا ديار له غمه ځينه
-بېګا د اوښکو په درياب کې لامبوزن زړه راڅخه ورک شو مړ به وينه
-عالمه يو تر بل ځاريږئ دنيا فاني ده بيا به وکړئ ارمانونه
-په غم پيدا په غم کې لوی شوم په غم به مړ په غم به توري خاروې شمه.

دا ټولې هغه بيلګې دي چې زمور پتمن ولس، عامو پرګنو او سرګردانو پرګنو د خپل زړه آرمانونه، ناويلي اظهارات، ګيلې، موخې او اميدونه، پندونه، تجربې او حکمتونه پکې په ميراث پرېښي، يقيناً چې د هغو تبلور به معاصر ادب؛ په تيره داستاني ادب کې وي. راځئ ولس او د ولس خوږې، درنې، له حکمت، پوهې او تجربې ډک ميراث، فرهنګ او ادب ته د درناوی سر ټيټ کړو. دا د دوی برکت دی چې اوس څه ناڅه داسې داستاني آثار لرو چې تومنه يې د ستاينې وړ ده.

مسعود: په معاصرو پښتو ادبياتو کې پښتو ناولونه د موضوع، منځپانګې، محتوا او هنري سبک له مخې په بېلابېلو ډولونو وېشل کېدای شي. ښه به وي که تاسو د د پښتو ناولونه د ډولونو په تړاو رنا واچوئ.

استاد دوديال: د پښتو ادبياتو موضوعات رنګارنګ او متنوع دي. په ټوله کې له لنډيو را نيولې تر اوسنۍ لنډې کيسې، ناول او رومان پورې يې د مينې ، ښوونې او روزنې، د نيکي کولو او ښېګڼې لپاره د نصيحت او پندونو، حماسو او اسطورو، وطنپالنې او تاريخ موضوعات رااخيستي دي، خو دا به په دوو برخو وويشو؛ د محتوا له اړخه او د جوړښت او سبک له پلوه. د محتوا له پلوه تاريخي رمانونه، ښوونيز رومانونه، اجتماعي (Sociological) رومانونه، رواني (Psychological) رومانونه، محلي رومانونه او دمينې ناولونه لرو. د جوړښت او سبک له مخې يې په مفکوروي ، د کرکټر يا د شخصيت رومان، د پېښو رومان او روايتي رومان باندې ويشلای شو. د محک (ګل په جبه زار کې) او د مصطفی جهاد(د تخت غمی) ناولونو کې مينه او تاريخ دواړه غبرګ ښکاري، مصطفی سالک د ځوانانو په ذوق برابر يو ناول ليکلی(پاتې شه باران دی). نامتو ليکوال غوث خيبري بيا تر ډيره د وطنپالنې، له آزادي سره د مينی او تاريخی رومانونه ليکلي دي. د نصير احمد احمدي ناولونه تر ډېره فکري او د اجتماعی مسايلو په اړه دي. د اسحق ننګيال(سيوری) ناول مطلقاً د اروايي تحليل بڼه لري، خو لوستل يې ډېر دقت او فکر کول غواړي، ډېر سمبولونه يې پکې کارولي دي، تراب د طنز ژبه کاروي او وفا سمندر ځانګړې فلسفه لري، چې هغه يې د مينې فلسفه بولي. د شپون ناولونه بيا بېل دي. د نصير احمد احمدي (نيکه) ناول د افغانستان د تاريخ د يوې زرېينې پانې انځور او ډېره ښکلې

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندهٔ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»

کیسه ده. په دې توګه د پښتو ادبیاتو؛ په ځانګړې توګه د ناولونو موضوعات رنګارنګ دي. څومره يې چې وشمېرو د تاريخي ناولونو شمير به زيات وي.
تاريخي ناول څه دی؟ تاريخي داستاني ادبيات موږ ته د تېر وخت کيسه کوي، دا نو په کيسه کې د پېښو کيسي يا کيسه ده! د دې ډول ناول (ادبي کيسه ييز ژانر) موخه تاريخ ته ژوند ور بخښل، له تاريخ زده کړه او تېر يادونه دي. دلته بايد ليکوال تاريخي مطالعه ولري. غوث خيبری د خپلو تاريخی ناولونو سيمې (جغرافيه)، پېښې، کرکترونه(تاريخي اتلان) او کلونه ټول مطالعه کړي وو، نو ځکه يې بريالی ګڼو. په دې ډول ناول کې کرکترونه، پېښې، د ژوند بهير او د تېر وخت ياد يو ځل بيا انځوريږي. هر تاريخي داستان او ناول کې تاريخ مرکزي ټکی وي، د بيلګې په توګه « آرام دُن »، چې د قزاقانو پخوانی ژوند، لومړی نړيواله جګړه، د روسيې انقلاب او د روسيې کورنۍ جنګونه انځوروي، خو د ليکوال تخيُل او ادبی ايماژونه وچ تاريخي روايات ښکلي او په زړه پورې کوي. د دغه ډول ناولونو ليکوال له تاريخ څخه الهام اخلي او لوستونکي يې له تاريخ څخه زده کړه کوي. د دې ډول ناول ليکل ځکه ستونزمن دي چې ليکوال بايد د هغه زمان او هغه وخت خلک وپېژني، د هغوی له دود-دستور خبر وي، د هغه وخت اقتصادي ، حقوقی او نور مناسبات ورته معلوم او هغه داسې نځور کړي لکه ده چې ليدلي وي.
هغه ناولونه چې سوژه او موضوع يې مينه وي، د وفا، ښکلا، عواطفو او روحي کشش مسايل رااخلي. د اروښاد عبدالرحمن پژواک (درې مينان) يې يو مثال دی. دا کيسه له تيزين څخه شروع کيږي، دا د مومن خان او شيرنو د سوځنده مينې داستان دی. په دې کې يې عاشقانه شعرونه او لنډی هم راوستي دي. لوستونکی چې داستان پيل کړي، ترڅو يې تر پايه ونه لولي، کتاب له مخې نه لرې کوي. دا داستان د خلکو له روايتونو راپاتې دی، خو پژواک صاحب د خپل تخيُل او قلم په قوت ډېر ښکلی کړی دی. ليلا او مجنون، روميو او ژوليت په نړيوال ډګر د مينې او محبت کيسې کوي. درخو او آدم خان، بدرئ جماله او سيف الملوک او دې ته ورته داستانونه زموږ پښتو ژبه او ملي فرهنګ کې د مينې کيسې رانغاړي چې له پلرونو ، نيکونو او اناګانو مو اورېدلي دي. اروښاد محمدګل نوري يو څو دا ډول داستانونه ثبت او له نن څخه پنځوس کاله مخکې کابل کې خپاره شوي وو. په دې ډول ناولونو او کيسو کې مهمه دا ده چې ليکوال احساسات، عواطف، ښکلا، د انسان روحي سپرنه او ژور تمايلات درک او انځور کړای شي. که ليکوال دا ډول داستانونه له پخوانيو روياتو را اخلي، نو بايد د هغو ولسي ژبه، خوځنده عاميانه بيان، خوږوالي او روان، پوست او عام فهمه سلاست يې وساتلای شي. د ولس د ژبې کښل (د قلم څوکې اوکتاب ته راوړل) يو جلا هنر دی.
د فکري ناولونو بيلګې د اروښاد احمدي نښپرونه دي. اروښاد د يوه رون او ژمن ليکوال په توګه خپلو ناولونو کې ولس ته فکر ورکوي، د نن ورځې د ژوند پيغام ورته استوي، روښنايي نمانځي، تياره غندي، د اتفاق، زغم او ساينسی افکارو منل هڅوي. د نورمحمد تره کې ناولونه اجتماعي اړخ لري، زياتره فيوډالي زاړه مناسبات انځوروي او طبقاتي اخ وډب کې ښکېل دی. د محک(زمرده) ناول سياسي دی. د اکبرکرګر (د ارواحو له ښار) ناول، يو اروايي ناول دی، چې ليکوال د داستان کرکتر يوه ژور نفسياتي(سايکولوجيکال) پېښه کې ښکېل کوي او له پېښو سره ډوب رواني حالت کې پرمخ ځي. دا ناولونه ريالیستيک او رومانتيک سبک کې ليکل شوي دي. يو شمېر سبکونو لکه سانيس فيکشن کې ما تر اوسه کوم ناول ندی ليدلی. په هر ترتيب؛ دا و د پښتو ناولونو د موضوعاتو او محتوا(منځپانګې) په اړه زما نظر چې له يو څو بيلګو سره مې راوړل، ډاډه يم چې لوستونکي تر دې هم ښه معلومات لري.
مسعود: تاسو په داستاني معاصرو ادبياتو کې د پښتو ناول د پرمختيا او پراختيا په تړاو ادبي تحليل، تفسير، علمي او اکاديميکه ارزونه او څېړنه، علمي، ادبي او مسلکي کره کتنه او نقد څنګه ارزوئ؟
استاد دوديال: د نقد يا کره کتنې منظمې بيلګې د پښتو ادب په دويمه ادبي دوره کې موندل کيږي چې د خوشحال خان خټک، رحمان بابا او وروسته د نورو شاعرانو په شعرونو کې يې بيلګې وليدل شوې. د پښتو ادب په درېيمه ادبي دوره کې د نورو بدلونو ترڅنګ؛ د کره کتنې اړتيا هم محسوس شوه. په اول کې يې ستونزې هم درلودې مګر وروسته ماهئيت ته په کتو ورځ تر بلې د ښه کېدو په حال کې ده. د

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندهٔ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»

ادبي انجمنونو، مجلو او د ليکوالو ترمنځ ناستو او بيا د تکنالوژيکي وسايلو پرمختګ د ادبي آثارو په نقد کي هم بدلون رامنځته کړ. دا بدلون تر ډيره د پښتو ادب د ښه والي او پراختيا لامل شو. د چاپي رسنيو په زياتيدو سره چې د کره کتنې لپاره يې ځانګړې کليشه لرله، کره کتنې يوه نوې بڼه غوره کړه چې کره کتونکي به د يوه داستاني اثر په اړه خپله ليکنه اخبار او مجلې ته استوله، خو دا به هغه وخت نشر شوه، چې د اصلي اثر له خپراوي به مياشتې تيري وې، ځيني وخت به ليکوال خبر نشو چې کوم اخبار کي د ده پر اثر نقد شوی دی. کره کتنه په شعر، ناول او آن د مجلو او اخبارونو په خپرونو او د راډيو په پروګرامونو کې دود شو.

که له نورو ادبي ځپلونو تير شو؛ خبره به يواځې داستاني ادبياتو باندې را وګرځوو، نو وبه وايو: زمور پښتو داستاني ادبياتو کي ناول د شعر په پرتله لږ ليکل شوی دی، خو ليکوالان يې پاخه، د سياسي او ټولنيزو تجربو لرونکي، ژمن او له تاريخ او پښتو څخه خبر قلموال وو. دا له راحت زاخيلي را نيولې تر غوث خيبري، امين افغانپور، مصطفی جهاد، ننګيال، نورمحمد تره کی، س. ا. شپون، محک، او بيا آصفه عمر لور او نصير احمداحمدي پوري . څومره چې مور ناول لږ لرو، کره کتنه يې هم بيخي لږ شوي ده. دا لويه پوښتنه او غوښتنه ده، چې بايد ناول باندې مسلکي کره کتنه وشي، تر څو ښه ناول و لرلای شو. دا هم مهمه ده چې کره کتنه، د ناول تحليل او تفسير بايد ادبي تيوريو او محورونو باندې متمرکزه وي، نه دا چې خدای مه کړه د خوش بيني يا بدبيني له مخې هرې تبصرې ته کره کتنه ووايو. افغانستان کي د معاصر ميتود له مخې ادبي تحليل او کره کتنه د لمريزې پيړۍ پنځوسمو کلونو کې پيل شوه. تر ډيره پوري د راډيو د (کره کتنه/ تراوزی طلايي) برنامې چې هرو پنځلسو شپو، کې يو ځل، وروسته بيا اونۍ کې يوځل خپرېده، پر ادبی آثارو کره کتنه په متعارف ډوله پيل کړه. وروسته بيا د ادبی آثار و په خپرېدو ، په ادبی ناستو کې پر خپور شوي نښر کتنه کېده. د افغانستان د ليکوالو د ټولنې موقوته مجلې(ژوندون) هم کره کتنې ته څو پاڼې پرېښې وې. د ليکوالو ټولنه کې د ادبي نقد ځانګه هم جوړه شوه. په دې توګه هم ليکوال او هم ټولنه کره کتنې سره آشنا شول، پرمختيا او پراختيا يې وموندە. تر ډيره پوري هغه معيارونه هم دود شول چې له مخې يې نقد او مسلکي ارزونه ممکنه کيږي.

داستاني آثار ځانګړی تخنيک لري. د دغه ډول ادبي اثر کره کتنه له تخنيک، ژبې، موضوع، د ليکوال سبک او د ليکوالې له اصولو سره تړاو لري.

د داستاني ادبياتو او په تېره د ناول د تحليل، تفسير اوکره کتنې موخه يوازې د ليکل شوي ناول ارزونه نه ده، بلکې شننه، تشريح او تبصره هم په ادبي کره کتنه کې راځي، د بيلګې په توګه يو ښکلی نوی نشر شوی رومان يا ناول لولو، کيدای شي دا ناول يا لنډه کيسه داسې سمبوليک ايماژونه، تاريخي پېښې، پېچلې ماناوې ولري چې له عادي لوستونکو پټې وي، يا ناول ساينس فيکشن موضوع رااخيستي وي، ښه کره کوونکی بايد د دې ناول سمبوليکي او پېچلې خواوې وشني، تشريح يې کړي، ورسره به يې نيمګړتياوې هم ووايي. دا شوه کره کتنه. کره کتنه هم د هنريت او غوره ټکيو برجسته کول دي او هم د نيمګړتياوو. کره کتنه يعنی سره او ناسره يوبل څخه بېلول. د دې اصل په رعايت سره ادبي نقد وشو او ټولنې ته ناول په پېژندلو کې مرسته وشوه.

بايد هېره نشي چې نه يواځې ناول او هر داستاني اثر کې بايد د کره کتنې په ترڅ کې د ادبي کره کتنې تخنيکي اړخ، موخې او ماهيت سره ګډ نشي او له دې نه ادبي کره کتنه په يوه معما بدله نه شي، بلکی بايد صفا او رڼه وي، له ښېګڼو سره يو ځای يې نيمګړي ټکي هم ياد شي.

د داستاني ادب او په دې کې د ناول د کره کتنې ماهيت هغه نظريه جوړوي، چې د ناول د ليکلو يا ايجاد پر وخت د ليکوال په ذهن او اراده ، ليکلی شوي اثر(ناول) او د لوست پر مهال يې پر لوستونکي اثرات وښيي، ښکلا يې توصيف او نوښت يې وستايو، نيمګړتيا يې جوته کړو. دا ډول کره کول د

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندهٔ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»

علومو او ادب د تیورۍ له مخې وي. په نوره نړۍ کې چې (ادبي تیوري) او (ادبي کره کتنه)خوا په خوا یادېږي، مطلب یې دا دی، چې دا له یو بل سره نېژدې تړاو لري. د یو ناول د ښکلا ارزونه د استیتیک نظریې یا ښکلا پېژندنې سره اړه مومي، فورمالیستي ادبي کره کتنه بیا فورمالیستي تیوري سره تړاو لري، د یوه ریالیستیک ناول کره کول باید د ریالیزم له نظره وشي او داسې نور الزامات، آثار او نظریات(تیوریګانې).

د تحلیل، تفسیر، نقد او کره کتنې پر مهال باید د ناول ډول، بیان، کرکترونو، دیالوګونو، انځورونو او نورو اړخونو ته وګورو، چې کوم سبک او نظریې سره برابروالی لري، بیا یې مناسبه تیوري او سبک کې کره کړو. ځینې وخت د داستانی اثر لیک او متن د یوې ترافیکي علامې په شان ده چې په موخه او ماناوو او اشارتي اړخونو یې د پوهېدو لپاره لارښوونې ته اړتیا ده. د ناول کره کتونکی نه یواځې داچې باید له ادبي سبکونو او ادبی تیوري څخه پوره خبر وي، بلکې ژوره اړوپوهنیزه پوهه او د ښکلا پېژندنې معیارو څخه هم باید خبر وي. د پښتو آثارو هیڅ کره کتونکی دې نه هیروي چې زمونږ نثر باید ښکلی، روان، سلیس او خوږ شي.

د ناول مسلکي ارزونه له هر پلوه (ټولنیزو، فلسفي، تاریخي او ادبي-ژبنیز) اړخونو کیدای شي. ناول معمولاً د حجم له مخې زیات وي، کرکترونه، پېښې، زماني واټن او دیالوګونه یې له لنډې کیسې سره توپیر لري، نو کره کتنه یې هم زیات کره کول او دقت غواړي. د شعر په پرتله د داستاني ادبیاتو لوستونکي بېلابېل او د ټولنې د هر لوستي وګړي د خوښې ژانرونه دي، نو باید تر ډېره د خواصو په پرتله، د عوامو د لید لوري څخه کره شي. ځینې نالونه(په تېره بهرني ناولونه) د خواصو ذوق سره برابر وي، لکه د ګابریل مارکیز (سل کاله یواځیتوب)، خو پښتو ناولونه زیاتره د عوامو ذوق او ذهن سره برابر دي. د دغو ناولونو ژبه ساده او عامیانه ده، لکه پخواني نکلونه، خو په معاصر فن او تخنیک باندې لیکل شوي دي. دلته مو دري اړخونه / عناصر پام کې نیولي دي: د ناول لیکوال، ژبه او د ناول لوستونکي. د کره کتنې دا دود عام دی، نه یواځې د ناول کره کولو کې، بلکې نورو ادبی ژانرونو کې یې هم تطبیقولای شو. په هره ادبي پنځونه کې پنځګر، پنځونه او لوستونکی په پام کې دی. د ادبي پنځونو کره کتنه هم دا دري اړخونه لري. ځینې کره کتونکي پر پنځګر ډېر تمرکز لري، ځینې پر پنځونو او ځینې پر لوستونکو. ښه کره کتنه هغه ده چې درېواړه متوازن را ونغاړي.

نه هیروو چې مونږ لږ شمېر ناول لیکوال لرو او دا یو معاصر ادبی ژانر دی چې پښتو ادب ته نوی راغلی دی؛ د هرې زمانې او هرې ټولنې لوستونکی د بلې زمانې او بلې ټولنې له لوستونکو سره توپیر لري. زمونږ د ټولنې خلک له پنځوس کلن ناوړین وروسته باید ادبیاتو سره آشنا او عادت کړو. د دوی عواطف باید تلطیف شي. کره کتونکي دی وسنجوي چې لوستونکی کوم وضعیت کې دی او کومه نظریه لري او په کومو شرایطو کې ژوند کوي، له همدې زاویې نه یوازې ادبي متن ته نه، بلکې هر ډول متن ته وګوري. ښه، معیاري او مناسبه کره کتنه د کره کتونکي مطالعې، د ښکلا خوښونې ذوق، منصفانه قضاوت او ځانګړي لیدلوري پورې اړه لري. که یو ښه ناول یوه مبتدي کره کتونکي ته وسپارو، ډېر څه به پکې و نه مومي؛ خو که یوه تجربه لرونکي، په معیارونو خبر او دراک کره کتونکي ته یې وسپارو، د ښکلا او باریکیو خواوې به یې را وښیي. په نوې بڼه کره کتنه لومړی رادیویي برنامو کې پیل شول، دا نه یواځې د(کره کتنه/تراوزی طلایی) برنامه، بلکې وروسته بیا د رادیویي مجلې پروګرام، ولولي، دبوډی ټال/هفت اورنګ او د (کتاب) برنامو هم کره کتنې ته دوام ورکړ، د لیکوالو ټولنه کې به نوي چاپ شوي نښېرونه د کره کتنې مخامخ غونډو کې ارزول کېدل. د ژوندون مجلې ادبي آثار نقد کړل او د ادبیاتو پوهنځي کې د کره کتنې تیوري تدریس کېده، استاد صدیقی روهی دي برخه په معاصرو معیارونو برابره کره کتنه را وپېژنده او مقالې او مستقل آثار یې ولیکل. د کره کتنې په برخه کې د اړوباسه روهي کار د عطف ټکی و. یو شمېر کلتوري بنسټونو لکه

افغان ادبي بهير، خټيځ ادبي بهير، تاند ويبپاڼې او نورو هم کره کتنه هېره نه کړه. استاد رحيم الهام نړيوال ادبي آثار کره کړل او ځوانانو ته يې لارښوونه وکړه.

اوس د کره کتنې مخامخ ناستې ډېرې نشته، خو انټرنېټي شبکو په پښتو ادبياتو کې کره کتنې ته نوی بدلون ورکړ. نوې لارې او نوي لوري يې را څرګند کړل. د پښتو ادبياتو نقد د انټرنيټي شبکو(ويبپاڼې، فيسبوک، مسينجر، واتساپ ، تلګرام، يوټيوب...) غېړې ته ولوېده. اوسنۍ تکنالوژي په داستاني ادبياتو اغېزه کړې ده. د انټرنېټ په راتګ سره انلاين کره کتنه هم رامنځته شوه. يوه بېلګه يې (تاندtaand.com) بربښنايي پاڼه ده. اوس چې د ادبي نښېرونو د کره کتنې لپاره انلاين شکبو څخه کار اخيستل کېږي. دا لړۍ هم ګټه او زيانونه لري. د دې بهير ګټې او مثبت اړخونه زيات دي. يوه ستونزه پکې داده چې کره کتونکی او ليکوال يو بل سره مخامخ نه دي، ځيني وخت ليکوال د خپل اثر له کره کېدو نه خبرېږي، ممکن انترنت ته لاسرسۍ ونه لري، يابه د پام وړ بربښنا پاڼې څخه خبر نه وي.

په هر ترتيب؛ له نېکه مرغه دا دی اوس د نورو ادبي ژانرونو ترڅنګ؛ د داستاني ادبياتو د کره کتنې بهير د پرمختيا او پراختيا په حال کې ده. يوه بېلګه يې له لندن څخه د ايمل پسرلي په همت د کيسه ډاټ کام ويبسايټ دی چې د داستانی ادبياتو د خپرولو تر څنګ؛ د هغو کره کتنه هم کوي.

يو وخت هره چهار شنبه دوه بجې د ليکوالو ټولنه کې د يو ليکوال په نوي خپور شوي کتاب د يو تن پېژندل شوي تجربه لرونکي ليکوال له خوا کره کتنه کېده او د کتاب د ليکوال ترڅنګ به د ادبياتو ګڼ شمېر مينه والو ګډون کاو، ځيني وخت به د ادبياتو د پوهنځي محصلان هم راتلل. د هغې تجربې په دوام اوس د انلاين کره کتنې په راتګ سره پنځګر او کره کتونکي يو بل سره ناسته او دوستانه خبرې په مخامخ بڼه کولای شي، خو دا ډول کره کتنه لا هم عامه شوې نه ده او د دوی تر منځ واټن را لنډ شوی نه دی، هيله ده دا ارمان پوره شي.

اقلاً تر پخوا اوس کره کتنه ګړندۍ شوې ده، پخوا به د يو شاعر شعر په ورځپاڼه کې خپرېده يا به يې څو کاله وروسته شعري ټولګه چاپ شوه. د وخت په تېرېدو به د کره کتونکي لاس ته ورغله، هغه به خپل نقد وړاندې کړ؛ مګر نقد به هم د مياشتو يا کلونو په تېرېدو سره د چاپ لمن ته ولوېده. بيا به پنځګر د خپلې ليکنې يا شعر په تړاو د نقاد له نظر څخه په ناسيده ډول او ډېر وروسته خبر شو.

په انلاين کره کتنه کې همغه مهال يا لږ وروسته پنځګر د خپلې ليکنې يا شعر په تړاو نظرونه ويني يعنې په لنډ وخت کې کولای شي د خپل شعر ښېګڼې او نيمګړې برخې چې د نقاد له لوري مشخصې شوې دي وويني. انلاين کره کتنې يو شمېر نوي ليکوال ټولنې ته ور وپېژندل. د هغوی له تيوري او نقد څخه نورو ليکوالو ګټه پورته کړه. انلاين کره کتنې وکولای شول، چې ادبي متون له ورکېدو څخه وژغوري. انلاين کره کتنې لړۍ په ګڼو نويو ځوانو ليکوالو کې د غوره داستاني آثارو (په تېره لنډې کيسې او ناول) د ايجاد روحيه هم پياوړې کړې ده. دې لړۍ په پښتو ادب (په تېره هنري نثر ليکلو) کې د ليکوالو شمېر زيات کړ او په کمې او کيفي لحاظ زيات اثار رامنځته شول.اوسمهال نه يوازې د يوې سيمې کله ان له هېواده بهر ځيني نوميالي ليکوال، شاعران او کره کتونکي برخه اخلي او دا لړۍ ښه پالل کېږي. خدای وکړي چې کره کتنې مو د شعر ترڅنګ، نثر ته لازياته پاملرنه وکړي.

مسعود: تاسو د پښتو ژبې نوموتي ناولونو ژباړه، نړيوالو ژبو، په ځانګړي ډول انګليسي، فرانسوي، عربي او نورو ژبو ته په لوړ ادبي څرنګوالي او کيفيت سره، د نړيوالو لوستونکو او څېړونکو لپاره څه ډول ارزوئ؟

استاد دوديال: د نړيوالو داستاني آثارو ژباړه يو بل سره د آشنا کېدو، د کلتوري ډيالوګ د پياوړتيا، د نړۍ د بېلابېلو ملتونو ترمنځ د تفاهم او پوهې د کچې د لوړولو لامل ده. د بشري ارزښتونو ترويج، د تجاربو تبادله او د معاصر تمدن او ګډ فرهنګ وده د داسې اثارو ملاتړ کوي چې د عدالت، ازادۍ او

انساني کرامت پيغام نړيوالو ته رسوي. ژباړه د ژبني تنوع ساتنه په نړيواله کچه د کوچنيو ژبو د ادبي هستيو د ژوندي ساتلو او هغوی ته د نړيوال ستيج د برابرولو امکان او لاره هواروي. له بلې خوا د ملتونو دپيوستون او دکلتوري او نورو اړيکو ټينګښت د ادبياتو په مرسته د تاريخ، اروا‌پوهنې او سياست ترمنځ د نويو څېړنيزو لارو د موندلو زمينه برابروي ترڅو د ټولنې ستونزې په هر اړخيزه توګه وڅېړل شي. د نړۍ پرمخ د بشريت ډېر مسايل لکه جګړې، سوله، مينه، کار، غم او درد، خوښۍ، وېرې، وباګاني، مرګ، عدالت او بيعدالتي، ازادۍ او بنکلا خوښونه يو بل سره شريک دي. هر ولس د بل په شان ډېرې ګډې انساني تجربې لري. همدا ګډې تجربې د انسانانو ترمنځ د فکري او معنوي نږدېوالي احساس پياوړی کوي. په فرهنګي برخه کې داستاني ادب د ملتونو ترمنځ د فرهنګي پېژندنې او تبادلې وسيله ده. د ژباړې له لارې د بيلابيلو هيوادو ادبي ميراث يو بل ته لېږدي او هر جلا هېواد کولای شي د نورو هيوادونو له فکري او فرهنګي تجربو څخه ګټه واخلي. په دې توګه ژباړه يوازې له يوې ژبې بلې ته اړول يا د ژبې د انتقال په ترسره کولو د مفاهيمو اړول نه دي، بلکې د کلتورونو ترمنځ د پېژند کړکۍ او د خبرو کولو يوه مهمه وسيله ده.

له نيکه مرغه اوس پښتو ته زيات شمير داستانی آثار ژباړل شوي او زمونږ داستاني ادبيات هم نورو ژبو ته ژباړل کېږي. دا چاره بايد دوه اړخيزه وي، خو مخکې تردې به لږ وړاندې وخت ته ولاړ شو او د لومړنيو ژباړو او د بيلابيلو پراوونو لنډه يادونه به وکړو:

پښتو ادب او پښتو ته د ادبي آثارو ژباړه دري پراوونه يا دورې لري، چې د ژباړې پيل په لومړۍ دوره کې شوی دی او لومړني ژباړې له نظم څخه وې . د نثر ژباړه ډېر وروسته وشوه. لومړنۍ ژباړې زياتره له عربي، وروسته له اردو او بيا له دري، انګليسي، ترکي او روسي ژبو وې. د بيلګې په توګه د عراقي شاعر ابن خلاد عربي شعر پښتو ته د زايد سرواني ژباړلی و. په دويمه ادبي دوره کې د ژباړو لړۍ ته خوشحال خان او د هغه د کورنۍ غړو او حميد مومند دوام ورکړ. په درېيمه ادبي دوره کې د ژباړو بازار نور هم ګرمېږي، دا دوره همدا معاصره دوره ده چې مور او تاسو هم پکې شمارل کېږو. په ځانګړي توګه اوسمهال چې پښتو ژبه د انټرنيټ په مرسته تر هر ځايه رسيدلې ده. همداسې اوسمهال د نړۍ ګڼو هېوادو سره زمونږ اړيکې او نړيوالتوب پالل هغه عوامل دي چې د پښتو ژبې د ژباړې پسرلی يې رنګين کړی دی. يو شمېر وروسته پاتې هېوادونه هڅه کوي چې د پرمختللو ټولنو د بريا راز خپل کړي د هغوی له يو شمېر پرمختګونو څخه د ځان په ګټه کار واخلي چې د پرمختګ لامل کېږي. په همدې اساس اوسمهال د ټکنالوژيکې وسايلو په راتګ سره د پښتو ادب ژباړې هم بډايه شوي دي او هم پراخه شوي. مخکې وختونو کې زياتره له عربي، اردو او روسي ژبو ادبي اثار وژباړل شول، په تيره بيا لنډې کيسې او ناولونه له روسي ژبې زيات وژباړل شول. د عيسوي اتيايمې لسيزې او شمسي شپيتمې لسيزې په ترڅ کې د افغانستان دننه څو نوي پوهنتونونه جوړ شول. پوهنتونو کې د تدريس ترڅنګ، دځيرنو او ژباړو دنده وسپارل شوه. کوزه خوا هم د پېښور پښتو اکاډمي او د کوټې د پښتو ژبې علمي مرکزونو ژباړې ته پام واړاو. ، له ۱۹۹۱ م . راپديخوا په پېښور، کوټه، کابل او کراچۍ کې پښتو ته له انګليسي، اوردو، دري او تورکي ژبو آثار وژباړل شول، په دې کې داستاني ادبيات هم وو . له دې وروسته د هېواد دننه په کابل، کندهار، ننګرهار خوست او غزني کې ادبي ژباړې زياتې شوې. دنسيم حجازی، عزيزنسين، ايراني ليکوالو او نورو ژبو نامتو ليکنې وژباړل شوې. اوسمهال چې پښتو د ګوګل ټرانسليټ ژبه ده. د اړتيا پر مهال په ګڼو برخو کې تري کار اخيستل کېږي او د نورو ژبو علمي او فرهنګي او نور متون راژباړل کېږي. د نوي برېښنايي تکنالوژۍ په دوران کې تر ډېره ژباړه ماشيني بڼه موندلې ده. د ژباړو په لړ کې د نړۍ په کچه افغانستان هغه هېواد چې دې برخې ته يې پام کړی . اوسمهال ګڼ شمېر فرهنګيان او د پښتو ژبې او ادب محصلان او څېړونکي په لويو علمي مرکزونو او پوهنتونو کې زده کړې او څېړنې کوي چې په دې نويو امکاناتو سره د نړۍ مهم اثار ورځ تر بلې پښتو ته ژباړل کېږي ، له خبرونو نيولې، تر راپورونو، نوي تيوري او تر داستاني آثارو پورې ژباړل کېږي او د ټولنيزو شبکو له لارې له نورو سره شريک کېږي. دا ژباړې زياتره د ادب او د ژبې په تړاو نوې تيوري لري چې لوستل او زده کړه يې د پښتو ادب لپاره په ځينو برخو کې طلايي چانس ګڼل کېږي. ښېرته راځم د ژباړې دوه اړخيز والی ته:

ژباړه بايد دوه اړخيزه وي؛ له بهرنيو داستاني ادبياتو پښتو او دري ته او همداسي هم زموږ داستاني ادبيات نورو ژبو ته. نورو ژبو ته د پښتو داستاني ادبياتو ورژباړل، نړيوال ادب ته زموږ د ادب ور اضافه کول دي. د کلتوري اړيکو د ټينګښت، نورې نړۍ ته زموږ د داستاني ادبياتو د خپرېدو او پياوړتيا تر شا تر ټولو لوی لاس د ژباړې د هنر دی، ځکه چې همدا ژباړه يو اثر له خپلې محدودې سيمې راباسي او د نړۍ د نورو ژبو ويونکو ته يې وړاندې کوي. کله چې يو ناول، شعر يا داستان نړيوال شهرت ترلاسه کوي، نو هغه يوازې د يوې ځانګړې ټولنې ملکيت نه وي، بلکې د بشري معنوي شتمنې او ادب برخه ګرځي. په دې پروسه کې د نوبل جايزه او د بوکر نړيواله جايزه د هغو اثارو په معرفي کولو کې مهم رول لوبوي چې لوړ کيفيت لري او په نړيواله کچه د انساني ارزښتونو د بيانولو وړتيا ښيي. يوه اوږده موده د آسيا او افريقا د ليکوالو د ټولنې نشراتي ارګان(لوټوس) د ولسونو د کلتور او يو بل ته يې د ادبياتو پېژندنه کې ښه رول درلود. اوس چې د بريښنايي ميديا دور دی، نو د ژباړې له لارې داستاني ادبيات لږ وخت کې او آسانه د نړۍ سراسر ته رسيږي. په حقيقت کې، داستاني ادبيات او د هغو ژباړه د مختلفو کلتورونو ترمنځ د همپالنې او يووالي يو داسې نظام رامنځته کوي چې پکې هر غږ خپل ځای او ارزښت لري. په ځانګړې ډول نورو ژبو ته د پښتو داستاني ادبياتو د ژباړې په اړه ويلای شو چې:

سره له دې چې نړيوال ادب (World Literature) د بېلابېلو ژبو او ملتونو د ادبي اثارو هغه ګډه ټولګه ده چې له ملي او جغرافيايي پولو هاخوا د بشريت د فکري ميراث په توګه پېژندل شوي دي، خو ادبي ارزښت، ښکلاييز اړخ، عناصر او ذوق يې ټولو ژبو کې يو شان دی. نورو ژبو ځخه پښتو ته او د پښتو داستاني تخليقاتو ژباړه نورو ژبو ته متقابله پېژندنه، د دوستي پلونه او د تمدنونو ترمنځ د خبرو اترو او يو بل ته د درناوي رامنځته کول او په نړيوال ادب کې زموږ د ادبي آثارو شاملول او ورګډول دي. له معنوي او کلتوري پلوه نړيوال ادبيات د يوې داسې وسيلې په توګه کارول کېږي چې لوستونکو ته اجازه ورکوي د نړۍ د نورو قومونو په تاريخ، احساساتو او ټولنيزو ستونزو خبر شي. دا د ادبياتو هغه ښه ده چې د ژباړې او کلتوري تبادلې له لارې په نړيواله کچه خپرېږي او د انسانانو ترمنځ د فکري پلونو د جوړولو دنده په غاړه اخلي. ځومره چې موږ خپل آثار په نورو ژبو وژباړو، دغې موخې ته رسيږو. له نيکه مرغه زموږ يو شمير ادبي آثار نورو ژبو ته ژباړل شوي هم دي. د اروښاد پژواک(کوچی پېغله) قاهره کې عربي ته ژباړل شوي او بيا وروسته په امريکا، انګلستان او هند کې په انګليسي او فرانسه کې فرانسوي ژبې ته ژباړل شوي ده. د نور محمد تره کی ناولونه په روسي ژبه ژباړل شوي، د سليمان لايق ځو داستانونه هند کی ژباړل شوي، همدا سرکال د لسو تنو پښتنو داستان ليکونکو لنډې کيسې فرانسوي ژبې ته وژباړل شوې او مېرمن س. هيرمن (Sarah Hermann)پاريس کې د يوه ښکلي کتاب په بڼه چاپ کړې چې ډېر ټاوده هرکلي سره مخامخ شوی. د دې کتاب نوم Par-dela les portes closes دی چې فرانسه کې د (nouvelles) مطبعې او ناشرانو چاپ کړی دی. پښتو داستاني ادبيات د شوروي اتحاد ختيځ پېژندونکو روسي ژبې ته ژباړلي دي، هند کې روشن لال ملهوترا پښتو کيسې هندی ژبې ته ژباړلي دي. (سوله اوجنګ) او (اناکارنينا) بهاند پښتو ته ژباړلی او (دسوفي نړۍ) ژباړل شوی کتاب هم د ځوانانو پام رااړولی دی...

يوه بله خبره مو هېره نشي چې يو شمير بهرنی ناولونه اصلاً افغاني دي، خو بهرنيو ليکوالو ليکلي لکه (CARWAN) چې مخکې کلونو کې په انګليسي ژبه ليکل شوی و. له نورو ژبو زموږ ژبو ته او زموږ له ژبو نورو ژبو ته د ژباړل شويو ادبياتو د خپرېدو او پياوړتيا تر شا تر ټولو لوی لاس د ژباړې د هنر دی، ځکه چې همدا ژباړه يو اثر له خپلې محدودې سيمې راوباسي او د نړۍ د نورو ژبو ويونکو ته يې وړاندې کوي. کله چې يو ناول، شعر يا داستان نړيوال شهرت ترلاسه کوي، نو هغه نور يوازې د يوې ځانګړې ټولنې ملکيت نه وي، بلکې د بشري شعور برخه ګرځي. ژباړل شوي داستاني ښېرونه د مختلفو کلتورونو ترمنځ د همپالنې او يووالي يو داسې نظام رامنځته کوي چې پکې هر غږ خپل ځای او ارزښت مومي.

نن ورځ په اکاډميکو مرکزونو او پوهنتونونو کې د نړيوالو ادبياتو مطالعه د بشري علومو او ټولنپوهنه په برخه کې د نويو څېړنو لپاره لاره هواروي. د معلوماتي ټکنالوژۍ په پراخېدو سره اوس ژباړل

شويو کاغذي طبع شوي او ډيجيټل آثار هر چا ته په اسانۍ د لاسرسي وړ دي، چې دې چارې د کلتوري تنوع په ساتلو او د تمدنونو ترمنځ د واټن په کمولو کې بېساري مرسته کړې ده. له نيکه مرغه چې زمونږ ليکل شوي داستاني آثار په ادبي معيارونو برابر او ځومره چې په نورو ژبو وژباړل شي، هومره له هرکلي سره مخامخ کيږي. ژباړل شوي ادبي نښرونه زمونږ د تمدن، دود- دستور، اخلاقو، ټولنيزو عاداتو، افکارو او ارزښتونو استازيتوب کوي، دا د نړيوالو ادبياتو د کورنۍ غړي کيږي او نړيوال ادبيات د کلتوري تبادلې يوه مهمه وسيله ده. د بېلابېلو ژبو او کلتورونو سره د ټراو له لارې، د ادبياتو د ژباړې او خپرونې له لارې، کلتورونه يو بل سره نږدې کيږي. زمونږ ژبه د نړۍ د يوې ژوندۍ، په زړه پورې او لرغونې ژبې په توګه د نړۍ په کچه پراخه شهرت مومي. ډېرو هېوادو کې د پښتو د زده کړې موسسات شته، نو د داستاني ادب ژباړه مو د نورو کلتورونو سره اړيکې ټينګوي. دا د نن ورځې اړتيا ده.

مسعود: تاسو په پښتو معاصر داستاني ادب کې د پښتو ناول مهم ځواک او پياوړتياوې، خو له بلې خوا مهمې ستونزې، کمزورتياوې او د ودې او پراختيا اړتياوې، څه ډول ارزوئ؟ ښه به وي که د ستونزو او کمزورتياو په ټراو خپل وړانديزونه او سلا مشورې را سره شريکې کړئ؟

استاد دوديال: ناول د ساينس او د تخنيک د عصر سوغات دی. ناول او رُمان ته اروپا کې ډېر توده هرکلی وويل شو. ناول د ملکونو په ويښتيا، رونټيا او ترقۍ کې پرېکنده رول درلود. ناول لوستل د اروپاييانو ډيره خوږه تفريح ده. اوس هر ملت او هره ژبه ناول د خپل ادب يوه تازه او ښکلې ګلدسته بولي. هرکال نوي ناولونه د زرګونو ټوکو په شمېر په ښکلی صحافت خپريږي. پخواني ناولونه هم بيا بيا خپريږي. د کيمياګر،کوچنی شاه زوی، جرم او جزا (Crime and Punishment)، اناکارنينا،(رام دُن)، «سدهارتا» (Siddhartha)، سل کاله يواځيتوب او لسګونه نور ناولونه له امريکا نيولې، تر اروپا او آن هند او عربي هېوادو پورې مينه وال او لوستونکي لري. له نيکه مرغه اوس دا دی پښتو ژبه کې هم ځيني ناولونه ليکل شوي دي او لوستونکو خوښ کړي دي. بهرنيو ناول ليکوالو او ادبي کره کتونکو ناولونه په رياليستي، فکري، رومانتيک او د مينې، پوليسي، تاريخي، جاسوسي، سياسي، ډرامه يي، ساينسي او ارواپي يا روحي برخو ويشلي دي. زمونږ ځوانان کولای شي د خپلې خوښې ناولونه ولولي او آن قلم اوچت کړي خپل استعداد و آزمايي. په تېرو څلوېښتو کلونو کې چې په هېواد کې د چاپ صنعت او امکانات پراخ شول، د نورو خپرونو او کتابونو ترڅنګ؛ ناولونه هم خپاره شول. ځينې زمونږ خپلو ليکوالو وليکل او ځينې نور وژباړل شول. دې برخه کې د ره نورد زرياب ، سليمان لايق، شپون، مصطفی سالک، ح.ا. تراب، سپوژمۍ زرياب، س.ا. شپون، نصير احمد احمدي، ببرک ارغند، محب زغم ، محمداجان يار، امين افغانپور، غوث خيبري، ننګيال نومونه د يادولو دي. هغو درنو ليکوالو چې ناولونه ژباړلي هم د قدرونو دي(ډېښتو ناول ليکوالو نومونه مخکې ياد شول).

پښتو ناولونه ځکه خواږه دي چې زمونږ د ولس او وطن ښکلا، ستونزې، خوښي، غمونه، غرونه او دښتې، د خلکو مينه، کار، ګيلې، هيلې او د ژوند اړخونه راښيي او ځوان کول ته د پند، عبرت، انګېزې، تجربې،معلوماتو سرچينه او د دوی د مثبتې بوختيا او د مطالعې د عادت کېدو او د متن د روان لوستلو او د ذهني تمرين وسيله کيږي. ځينو ناولونو کې په دې وطن د تېرو شويو حالاتو انځور شته، نورو کې د پرمختيا آرمانونه او داسې ډېر نور مسايل په ادبي ژبه راغلي دي. پښتنو ته خپل ليکوال ګران دي، د دوی ليکنې لولي. تر اوسه چې کوم ناولونه بازار ته وتلي دي، هرکلی يې شوی دی، خو د خلکو بيوزلي او د ليکوالو له ستونزو ډک ژوند د دې لامل دی چې لا هم دغه غورځنګ د نورو هېوادو له ادبي کاروان سره ګړندی مزل ونشي کولای. مونږ لا روان تحليلي، پوليسي، ساينس فکشن او سياسي نالونه يا نه لرو، يا د ګوتو په شمار دي. زياتره هغه ناولونه دې چې فزيکی اخ وډب او ورځنۍ پېښې يې بيان کړي دي. د ناول نور ډولونه چې مخکې می ياد کړل نه لرو. تر اوسه ټولنه کې د پوره سواد د نشتوالي له امله ناول لوستل پوره عام شوي نه دي. حکومت يا داسې ادبي ټولنې او بنسټونه نشته چې د داستاني ادب ودې، د آثارو خپرولو، ژباړلو او د وطن هرې سيمې ته رسولو کې

کار او د لیکوالو ملاتړ وکړي. هیله ده دا پراو ژر تېر او وطنوالو ته مو ښه نالونه ولرو او دوی یې په شوق ولولي.

مسعود: ستاسو په اند، په پښتو معاصر داستاني ادبیاتو کې پښتو ناول څه وخت کولای شي نړېوال علمي، ټولنیز او ادبي ارزښت وموندي او له نړېوالو ادبیاتو سره سیالي وکړي؟
استاد دودیال: زمونږ لیکوال باوري دي چې افغاني ټولنه ویاړلی تاریخ، له لوړو- ژورو ، ترخو او خوږو خاطراتو ډک ژوند، نامتو څېرې، ځانګړي دودونه او نړۍ ته وړپېژندلو وړ فرهنګي میراث، آبدات او موسسات، حماسي او اسطورې لري او فولکلور مو له روایاتو ډکه لمن لري، دا ټول د لیکوالو لیکنو کې رانغاړل کېدای شي.
دغو وروستیو کې مورږ داسي پېښو سره مخامخ شولو چې ساری یې نورو ټولنو کې لږ دی. دا ټول زمونږ د لیکوالو لپاره داسي سوژې دي چې که دوی یې په هنرمندانه ډول خپلو آثارو کې و ځلوي، د نړۍ تر ټولو غوره اثر به یې کښلی وي. د دې لپاره چې د دومره نوښو سوژو او نایابه پېښو په لرلو سره و کولای شو چې نړیوالو ادبیاتو سره سیالي وکړو، غوره ده چې لنډه کیسه، ناول او رُمان کې تلوسه (suspense) ایجادول، خوږه ژبه، نوښت، د داستاني ادب د ټولو عناصرو رعایت د لوستونکو پېژندنه او غوښتنه هېر نه کړو. چې تلوسه نه وي، ځوک اثر تر پایه نه لولي او نه یې بهرنیان خپلو ژبو ته ژباړي، دې پسې وروسته کرکتر او پېښې په هنرمندانه ډول کښل دي. کافی ده چې مورږ د افغاني ټولنې عیني لوړې- ژورې او د عجیبو واقعاتو تصویرونه او هنرې ایماژونه د خپل فن په قوت ادبي اثر او تخلیق کې وکارو. د ناول نړۍ مو باید د حقیقي نړۍ په شان او ریښتني و ښیو. البته داستاني ادبیات ټول د یو ژانر تر تعریف لاندې راغلي دي، خو یو څه توپیر پکې شته چې لیکوال یې باید هېر نه کړي، هغه دا چې:
دلنډې کیسې پلاټ او ابتدایي طرح ځینی وخت په تخیلی دنیا کې وي، خو ناول حقیقی ژوند او دنیا سره تړاو لري. باید له کرکترونو سره د لوستونکي همدردي پیدا کول هېر نه کړو، زمان او مکان باید یو بل سره مطابقت ولري. د لنډې کیسې په پرتله ناول تفصیلي وي. ډیالوګونه باید د کرکتر او پرګنو په ژبه او انساني جذبات او احساسات بیان کړي. نه هېروو چې؛ داستاني اثر د ریښتني ژوند یوه برخه د نوښت او تخیل په هیندارې کې وړاندې کوي. د ناول لیکوال باید د ناول لپاره لاندنۍ ځانګړنې په یاد ولري:
۱ . ډاډه اوسي چې په ناول کې هر څه شوني دي. لیکوال کولای شي چې د ژوند یوه لنډه موده او یوه کوچنۍ موضوع په سلګونو پاڼو کې په خوږه او روانه ژبه، په زړهپورې جملاتو، تفصیلاتو، انځورونو، حیرانوونکو پېښو او هنري توصیفونو په واسطه پرمخ بوځي او کیسې ته هنرمندانه انکشاف ورکړي؛ کولای شي خپل تخیل داسي انځور کړي چې کټ مټ حقیقي ښکاره ولري او لوستونکی یې ومني. د بیلګې په توګه، داسي تخیُلي نړۍ د قلم په قوت انځور او جوړه کړي چې هلته بې روحه توکي خبرې وکولای شي، ځاروي لکه بنیادم منطق ولري، خپل حال ووایي او سوچ وکړي، وریځې وژاړي او آسمان اور واخلي، انسانان ګونګیان شي... په ناول کې د یو موجود بدلېدل په بل موجود اسانه کار دی، خو هنر غواړي، داسي چې لوستونکی دا بدلیدل هیڅ احساس نه کړي، بلکې د لکینې تر اغیز لاندې داسي راغلی وي چې هر څه ورته طبیعی ښکاري، مړي به ژوندي شي، د سلو کلو مخکې موجودات په مخه راشي، آن آخرت به د سر په سترګو وویني(توبه نعوذوبالله!) او داسي نورې کړنې پکې ترسره کېدلای شي، خو په دې شرط چې لیکوال وکولای شي په ښه توګه لوستونکی د دا ډول غیر معمولي پېښو منلو ته اړباسي. مورږ نړیوال ادب کې دا ډول ښکلي ناولونه لرو چې د هر یوه په لوستلو آرمان راځي چې کاشکې خپله ژبه کې دا ډول داستاني اثر او ناول ولرو.
۲ . مورږ یوویشتمه پیړۍ کې ژوند کوو، کلاسیک دور تیر دی. دا د ریالیزم دوران دی. د ناول بله ځانګړنه باید ریالیزم یا ریښتینولي، طبیعت سره مینه، ښکلا انځورول، د آزادۍ ستاینه، دوطنپالنې عالي احساس او واقعیت ښودل وي. یعنې موضوع او سوژه مو له ریښتني ژوند سره سیده تړاو ولري او په ریښتینو پېښو تمرکز ولري. ټولنه او واقعي ژوند کې دا ټول شته.

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندهٔ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»

۳ . هغه لیکوال به ښه ناول ولیکلای شي چې لنډې کیسې یې لیکلی وي او د لیکوالي تجربه ولري. ارنست همینګوی، چیخوف،غوث خیبری، کافکا، زریاب، افغانپور، ملویل، تولستوی... ډېر نور زمور ملي او نړیوال لیکوال همداسي وو، خو دا به نه هیروو چې په ناول کې د لنډ داستان یا لنډې کیسې د پلاټ او نقشي په پرتله کرکټر/ کرکترونو ته ډېره پاملرنه وشي.

۴. د یوه داسي ناول د لیکلو بل شرط چې په نړیوالو ژبو باندې وژباړل او نړیوال شي دا ده چې د ادبي صنایعو د موجودیت او ښکلاییپز اړخ ترڅنګ؛ د اروپاپژندنې برخې ته هم پکې ډېره پاملرنه شوي وي، یعني د کرکټرونو داخلي غوښتنې د سایکالوجیکي تحلیل له مخې خلکو ته رابرسېره کړي او هغوی پرې پوه کړي. داسي به ووایو چې: په ناول کې له باندنۍ نړۍ سره د کرکټر د ښکاره چلند تر څنګ د هغه د ننني نړۍ هم لویه برخه ولري. نو ویلای شو چې هر ناولیکونکي ته پکار ده چې خپل نوښت، د قلم قوت، فکري ډګر او تخیُل په نوې بڼه پر خپل ځای وکاروي. الفاظ، سیمبولونه، ایماژونه او دیالوګونه چې څومره جذاب، نوي او خواږه وي په همغه اندازه ناول ته ښکلا وربخښي. که مور پورته څلور ټکي رعایت کړو، ان شاالله افغانستان به د نړیوالو ادبي شهکارونو په کچه ناول ولري.

مسعود: مور ګڼ شمېر افغاني لیکوال لرو چې څو رومانونه یې کښلي دي لکه: د داکتر ببرک ارغند د (لبخند شیطان) په نوم په ۱۱۴۳ مخونو کې ناول اویو بل (پهلوان مراد و اسپی که اصیل نبود) پینځه سوه مخونه او (کفتر بازان)هم د ۵۰۰ مخونو شاوخوا کې لوی رومانونه، خورِ ژبي لیکوال ښاغلي داکتر صاحب اکرم عثمان د (کوچهء ما) تاریخي رومان، او داسي نور رومانونه لکه: (ښایستو)، (و، نه و یو شپون و) د پوه او مخکښ لیکوال ښاغلي سعدالدین شپون په قلم، (په کور یو لیونی)، د قدر وړ او ښه لیکوال ښاغلي محمد انور وفا سمندر لیکنه، (مینه او جګړه) د ګران لیکوال علم ګل سحر اثر او نور لرو. تاسي څه فکر کوئ زمور په هیواد کې رومان لیکنه به د سیمې له هیوادونو په تیره بیا زمور د هم ژبو هیوادونو سره سیالي او رقابت وکړای شي او که نه؟

استاد دودیال: دا پوښته ځکه ضروري ده چې دا پوښتنه او د دې ځواب په ګران افغانستان کې د پښتو او دري ژبو او زمور ملي ادب کې داستاني ادب باندې رڼا اچوي. کوم آثار چې تاسو یاد کړل، د هغو ترڅنګ د هیواد د پیاوړي لیکوال اروښاد غوث خیبری د ابدالي توره، د اور لمبه،د کندهار ناوي، اراکوزۍ پېغله او مقدوني سکندر، هغه وژړل، پردېس او د ګوګامنډه لېوان په نومونو تاریخي لنډې کیسې او ناولونه، د تورویانا اوشاس او فرزند رویګر، د احمدي نیکه او د زریاب کاکه شش پرو دختر شاه پریان تاریخی نالونه، د اسحق ننګیال (سیوری) ناول، د ع. محک (ګل په جبه زار کې)، د امین افغانپور(دخلکو د ارمان سپېلنی) د مصطفی جهاد (د تخت غمی)، د اروښاد نصیراحمد احمدی (بغدادي پیر)، د پژواک (دبُست شهزاده)، د ابراهیم عطایي(د آسیا په زړه کې توپان)تاریخي ناول او دا څو نومونه چې تاسو یاد کړي دي. د دوی ترڅنګ د ح.ا. تراب (دابه څوک و)، د آرش ننګیال(ولسمشر ما وژلی) مصطفی سالک(پاتې شه باران دی)، نالونه او ورسره نور ناول لیکونکي لکه د خالق رشید، د ع. عمر لور ، ګل رحمان رحماني، سیدرسول رسا، ډاکتر اسرار، شیرزمان طایزی، داکتر اکرم عثمان او نور هم د یادولو وړ دي. د اروښاد پژواک داستاني آثارو یو ټول خوند او ځانګړې رنګ درلود؛ هغه د وطن ویاړونه، د سیمو نومونه، د ملی اتلانو خاطرات او تاریخي پېښې په جادویي نثر لیکلي او ثبت کړي دي. پژواک تر ډېره بریده د خپلو هنري پنځونو محراق د خپل وطن هست اوبود ټاکلی دی، نومورې که (سپین غر، پچیر، اسمار، زرنکا، لمپاکا، بلخ، کندهار، هری، بادغیس، بدخش، آریانا... او یا ملي ویاړونه لکه سپین تمان، میرویس نیکه، احمدشاه بابا، ملاله، ناهید...)، یادوي، نو ادبي نثر په ګانه کې یې پسولي. د ده په آثارو کې د افغانستان طبیعت چې د طبیعي ښکلاوو یوه برخه ده په خپلو هنري ظرافتونو او ادبي مهارتونو بیا؛ بیا رنګینوي، او خپلو خلکوته یې وړاندي کوي.

هم کوزه پښتیخا کې هم ډېر ښکلي ناولونه لیکل شوي دي او فلمونه هم ورڅخه جوړ شوي دي. د کوزې پښتیخا لیکوالو لکه: پروفیسور نصیب الله سیماب ، تاج الدین تاجور ، اظهارالله اظهار ، پروفیسور محمد یوسف ، اورنګ زیب ارشاد ، ذبیح الله شرر، ذبیح الله احساس ، علي خپل دریاب ، سیدصابرشاه صابر ، سیده حسینه ګله ، اسیر منګل ، عبدالخالق خلیق، مهجر الطاف خټک ،مراد شینواری او یو څو نور هغه لیکوال دي چې نومونه یې باید یاد کړو. دا ټول زمور د خلکو او ولسونو او د لوی وطن د

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندهٔ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»

ځانګړو تاریخي پېښو، ټولنیز دود- دستور، ټولنیزو او اقتصادي مناسباتو موضوعات لري. بره پښتیخا کې ناول د شاوخوا هېوادو په پرتله لږ وروسته ولیکل شو، خو ډېر ښه ولیکل شو او موضوعات یې رسالتمن او د ملي پیغام لرونکي دي. زمونږ لومړني ناولونه عمدتاً تاریخي او یو څو یې حماسي وو. نور ناولونه د ټولنیز ریالیزم د سبک لرونکي او د رُمانتیزم خواږه یې لرل. دغه ډول آثارو د خلکو د اذهانو تنویر کې ښه اغیز درلود. د شمېر له پلوه به موږ له نورو ژبو سره سیالي ونه کولای شو، خو لیکوالو مو خپل ملي او تاریخي رسالت ښه پېژندلی او د ملي ادب بډایني کې یې رول د حساب وړ دی. ځینو لیکوالو لکه شپون او افغانپور ژبه ښکلي او صیقل کړه او سوچه ولسي متلونه، اصطلاحات او وګړني دودنه او د کلیو منظري او د ساده کلیوالو صداقت او د خواریکښو طبقو د ژوند رنګونه یې ثبت کړل. له دې پلوه دا آثار ځانګړي او منفرد دي. په دې دوره کې موږ یوه نوي پړاو ته واوښتو اوس نو وروسته تر دې د بل نسل(کول) او ځوانانو رسالت دی چې دوی نویو شرایطو کې خپل رسالت تر سره کړي. موږ له ستونزو ډکو ورځو کې ورو مزل کړی، خو ښه مزل مو کړی دی. ماته داسې ښکاري چې ناول د سختو ورځو تخلیق دی ! که د تولستوی، ګارسیا مارکز، شولوخوف، کافکا، سروانتس او نورو نامتو ناول لیکونکو ژوند ته وګورو؛ هر یوه سختو ورځو کې داسې داستاني آثار موږ ته ډالۍ کړل چې د حیراني وړ دي. د پښتو او دري ژبو پورته یاد شوي داستاني آثار هم سختو ورځو او محدودو امکاناتو کې ولیکل شول، ولس یې هرکلی وکړ او د لومړنیو ګامونو او خوږو-ترخو تجربو په توګه ثبت شول.

که د سیالي خبره وي، نو سیالي ته به وروسته تر دې ملا وتړو، اوس څه ناڅه تجربه هم ترلاسه شوې، امکانات هم زیات دي او آسانتیاوې هم رامنځته شوي دي. تر ډېره پورې راتلونکي بریاوې د لیکوالو هڅوني او په ټولنه کې د دوی د نښېرونو هرکلي پورې اړه لري. زما دا وروستۍ جمله کومه ننګونه او چلنج نه، بلکې ستاسو د پوښتنې د ځواب یوه برخه ده.

مسعود: موږ غښتلي او پیاوړي افغان لیکوال لرو لکه راحت زاخیلي، فاضل استاد عبدالروف بینوا، غوث خیبري، داکتر اکرم عثمان، اروابناد امین افغان پور، اکبرکرګر، شریفه شریف، اسحق ننګیال، کامله حبیب، عبدالروف قتیل خوږیانی، ببرک ارغند، زرین انځور او نور چې د ټولو یادونه ډېر وخت نیسي، خو لکه څرنګه چې ښایي د هغو نښیرونو(اثارو) په خپراوي او پېژندنه کې وړ او دقیق کار نه دی شوی. تاسې یې دک و دلیل په څه کې وینئ؟ دولتي چارواکي تل د نشت په اړه خبرې کوي خو هغه څه چې شته د هغو په باب چوپه خوله دي.

استاد دودیال: قدرمن اینجنیر صاحب ستاسو پوښتنه او اندېښنه بیخي پر ځای ده. دغه نومونه چې تاسو یاد کړل، دوی مشران لیکوال وو، ځوانانو کې نصیر احمد احمدی، آغلی عمر لور، شفیقه خپلواک، ایمل پسرلی، ستاره ویسا، ډېرځوان لیکوال نصرت ارمان، حفیظ الله تراب، ابراهیم سپېڅلی، همت او ډېر نور هم داستاني ادب کې کار او لیکنې کوي، خو د هغوی د آثارو خپرولو، کره کولو او معرفي کې چندان کار نه کیږي. یو دک او دلیل دادې چې موږ دا ځلوېښت کاله جګړه کې ښکېل شولو، آن دا چې ذهن او فکر مو زنداني او تخلیق زندۍ شو. په ټوله کې پښتو نثر ته کار ونشو. پخوا نظم د نثر په پرتله د پام وړ و، د نوي عصر تقاضا دا وه او ده چې نثر ته پام وشي، خو له موږ څخه جنګ ډېر فرصتونه وترویږل. اوس هغه وخت رارسیدلی چې موږ باید خپل لیکوال او د هغوی آثار معرفي کړو. البته د نظم برخه یو څه معرفي شوې، خو د نثر برخه کې لږ کار شوی دی. داستاني ادبیات خپرول او لوستل د نثر نورو برخو سره(چې مخکې مو د نثر دري برخې یادې کړې) مرسته کوي او د هغو د پیاوړتیا ضامن دي. د داستاني آثارو لوستل جاذبه لري، ځوانان یې لولي، دوی مطالعې سره عادت کوي، د دوی آفاقي معلومات زیاتوي، نړۍ پېژني، د لغاتو زېرمه یې پیاوړې کیږي، سترګې یې کرښو سره عادت کیږي، حافظه یې غښتلې کیږي او وروسته بیا چې کله د ځواني له پړاو واوړي، په خپله ډېر ښه ایجادیات او آثار ټولنې ته وړاندې کولای شي، نو باید چوپتیا ماته او د هغو نښیرونو(اثارو) په خپراوي او پېژندنه کې وړ او دقیق کار وکړو چې زمونږ نامتو لیکوالو تخلیق کړي دي. دا سمه ده چې یو شمېر کسان تل د نشت په اړه خبرې کوي خو هغه څه چې شته د هغو په باب چوپه خوله دي، دا وضعیت باید سمون وموميږ. بهرنیو هېوادو کې ادبي ایجادیات او نښیرونه او هر ناول لسګونه زره

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندهٔ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»

ټوکه او بیا بیا خپریږي، لوستل کیږي، کره کیږي، معرفي کیږي او نورو ژبو ته ژباړل کیږي. مور د ټولو برخو کې وروسته پاتې یاستو. له څلوېښتمو کلونو تر شپېتمو پورې دې برخه کې څه ناڅه کار وشو، خو دغو وروستیو دېرش-پېنځه دېرش کلونو کې دا اړتیا هېره ده.

مسعود: زمور د ادبیاتو په تاریخ کې (فیمینیستی) نښیرونه (اثار) په کومه کچه کې دي؟ او ولې دغه ډول نښیرونه (اثار) زمور په هیواد کې له بې پروایي سره مخامخ دي، پداسې حال کې چې مور د سیده حسینه ګل، تورپیکی قیوم، صفیه حلیم، شیما غفوري، شریفه شریف، نیلاب موج سلام، او پروین پژواک په څیر زیاتې لیکوالې لرو. ایا ستاسې په اند دا په هیواد کې د نارینه وو د واکمنې لامل دی او که پدې برخه کې کوم بل لید لرئ؟

استاد دودیال: پښتو په کلاسیک پېر کې، د نازو توخي په څېر مېرمني نه یوازې د شاعرۍ په ډګر کې، بلکې په سیاسي او نظامي مشورو کې هم خورا فعالې وې. نازو توخي چې د میوندۍ ملالۍ او نورو ننګیالیو مېرمنو لپاره یوه الګو وه، ثابته یې کړه چې پښتو ادبیات د مېرمنو د فکري روزنې لپاره یوه پیاوړې سرچینه ده. بی بی شمسو او میرمن علایې د روښانې دور روښاندې او ټولنیزو چارو کې فعاله مېرمنې وې. وروسته له دوی څخه؛ یو سل او شل کاله مخکې زرغونه د ملا دین محمد لور او د سعدالله جان نورزي مېرمن د پښتو ادب رون ستوری وه. هغه په ۱۹۰۶م. کی نړۍ ته راغلې او ۱۹۷۹م. کې مړه شوه، د لیکنو ټولګه یې په ۱۹۸۹م. کی کوزه پښتونخا کې خپره شوه، د وخت ډېر لیکوال ورته ګوته په غاښ وو. په معاصر پېر کې، پښتنو مېرمنو د داستان، ډرامې او ژورنالیزم له لارې خپله وندې لا پراخه کړې ده. د خوشحالي خبره ده چې مور اوس د ادبیاتو او لیکوالي برخه کې دا نومونه پېژنو:

صفیه صدیقی، شفیقه رنا، روشنا وردک، فریده هوډ، لیلا خرم، نجیبه سارابیاباني، وړانګه ساپۍ، نوشابه آشنا، نفیسه نبی، شریفه پاڅون، هواسلګی، وړمه سبا، لطیفه وردک، کامله طاهر، فرحناز رحماني، آرین یون، ثمینه قادر، حمیراکاوون، جمیله مجاهد، بلقیس مکیز، حمیرا بزګر، شریف شریف، کریمه رسولي، بلقیس محبوبی حقیق، پروین ملال، آسیه محرابی، شفیقه خپلواک، فرزانه زیار، ستاره ویسا، شاه جهان هاجره حرکت، کامله عزیزي، مسعوده قاضي وزیري، آمنه فنا، زرغونه توخي، زرپانه همپا، ملالی همدم، مینه ګل، وحیده وردک، دُرخای ذهین، کبرا مظهري، سیده حسینه ګل، نفیسه کوچی، وربښمینه سعادت، ولوله تنها، ویداحافظ، سوسن نایل، سوله نیازي، صایمه ذهین، ناهید علومي، شکریه خروټي، شګوفه مینه، بښکلاپکتیاواله، عالیه وردک او ډېرې نورې خویندې. دوې هم شعر او هم نثر کې لیکنې کوي او فیمنستی مسایل یې مطرح کړي دي، ټولنه کې یې د بښو وندې او د مینډو مسوولیتونه او رسالت بیان کړي دي. په دغو خویند کې ځینې یې په داستاني ادب کې پوره او پراخه مطالعه لري، لکه شریفه شریف چې اوس کانادا کې اوسي، خو یووخت یې ډېرې بښکلې او له نوښت ډکې لنډې کیسې لیکلې او د کره کتنې برخه کې رسا قلم لري.

وروسته د اماني غورځنګ له منځه تللو څخه د بښو د حقونو په وړاندې خندونه او د جندر مسایلو اود بښو د ژوند د مطالعاتو (Gender Studies) دوه توري دورې وې:

یوه د حبیب الله کلکانی، بله د تنظیمی او طالبي حاکمیت دورې. پاتې کلونو کې د بښو کار، زده کړو او لیکوالي ته لاره هواره او خویندې هڅول کېدې او څه ناڅه کار شوی و. پورته یاد شوي نومونه د همدې روښانه دورو محصول دي. په دغو روښانه دورو کې نه یواځې خویندو، بلکې ورسره نارینه منورینو هم د بښینه لیکوالو درناوی کړی، د دوی آثار یې ستایلي او خپاره کړي یې دي، د بیلګې په توګه پوهنتونونو او د افغانستان د علومو اکاډمي، د مېرمنو ټولنې(وروسته بیا د بښو د چارو وزارت) د بښو ادبي څېړنیز مرکز د پوهاند عبدالحي حبیبي "پښتو مېرمنې" (تذکره). دغو برخو کې کار کړی دی.

آن څلوېښت کاله مخکې د څېړونکو په همت ثابته شوه چې اوسني افغانستان کې؛ د پښتو ولسي ادبیاتو او لنډیو تحلیل ثابته کړه چې په پښتو ادبیاتو کې د بښو وندې (Role of Women in Pashto Literature)یو خورا لرغونی او په زړه پورې تاریخ لري. د پښتو ژبې تر ټولو مشهور او اغېزناک صنف، یعنې "لنډۍ"، په اصل کې د پښتنو بښو له خوا رامنځته شوي او پالل شوي دي. لنډۍ د نړۍ په

کچه د یو داسي ادبي صنف په توګه پېژندل کېږي چې په هغو کې ښځه د خپل برخلیک، مېرانې، جګړې او ټولنیزو ناخوالو په اړه خپله رښتینې او بېباکه فلسفه وړاندې کوي. د ټولنیزو علومو د پوهانو څېړنې ښیي چې په پښتو ادب کې د ښځې غږ تل د ټولنیز بدلون او د پښتونولي د ارزښتونو ساتونکی پاتې شوی دی.
د پښتو په کلاسیک پېر کې، د نازو توخي په څېر مېرمني نه یوازې د شاعرۍ په ډګر کې، بلکې په سیاسي او نظامي مشورو کې هم خورا فعالې وې. نازو توخي چې د میوندۍ ملالۍ او نورو ننګیالیو مېرمنو لپاره یوه الګو وه، ثابته کړه چې پښتو ادبیات د مېرمنو د فکري روزنې لپاره یوه پیاوړې سرچینه ده. په معاصر پېر کې، پښتنو مېرمنو د داستان، ډرامې او ژورنالیزم له لارې خپله ونډه لا پراخه کړې ده. په راډیو افغانستان کې ښځینه لیکوالو، ممثلینو، نطاقانو، سندرغاړو، ممثلو او ډرامه لیکونکو ښځو د قدر وړ خدمتونه کړي او هیڅا یې مخه نه وه نیولې. له دې ټولو سره یو ځای دا حقیقت منو چې د سقاوي او تنظیمي- طالبي دورو عمومي اختناق ، استبداد او په ځانګړې توګه د ښځو په وړاندې تاو-تریخوالی استثنا وه. د فیمنستي ادب د ودې لپاره د باسواده او تعلیم یافته خویندو رسالت پر ځای دی، دوی باید خپل رول ادا کړي.
مسعود: ستاسو په اند د معاصرې ټکنالوژۍ او ډیجیټلي فرهنګ، مصنوعي ځیرکتیا امکانات او د تاریخي پېښو او حوادثو اکربکر(حال احوال) او د پښتني، انساني او ټولنیز ژوند نوي موضاعات د پښتو ناول او رومان د پرمختیا او پراختیا په راتلونکي څه اغېز کولای شي؟
استاد دودیال: معاصره ټکنالوژي او ډیجیټلي فرهنګ، د چاپ صنعت او مصنوعي ځیرکتیا او اوسني امکانات د پخوا په پرتله د پښتو داستاني ادبیاتو بډایینه او پرمختګ کې ډېر اغېزمن دي. په ټېرو شلو کلونو کې چې د چاپ صنعت او امکانات پراخ شول، د نورو خپرونو او کتابونو ترڅنګ، ناولونه هم خپاره شول. ځینې زموږ خپلو لیکوالو ولیکل او ځینې نور وژباړل شول. دې برخه کې د ایمل پسرلي، عصمت قانع، شپون، مصطفی سالک، سپوژمۍ زریاب، نصیر احمد احمدي، آرمان، عطاالله ځواب، محب زغم ، د محمداجان یار ، خالق رشید، ارش ننګیال او محمد زبیر شفیقی نومونونه د یادولو دي.هغو درنو لیکوالو چې ناولونه ژباړلی هم د قدر وړ دي.
معاصرې ټکنالوژي (طباعتي تخنیک، ماشین او برېښنایي وسایلو) د داستاني ادبیاتو د لازیات او آسانه نشر او خپرېدو امکان برابر کړ. زما یادیږي له نن څخه څلوېښت- پنځوس کاله مخکې به دیو کتاب چاپ په دولتي مطبعه کې دري یا څلور میاشتې وخت نیوه. زما د لنډو کیسو لومړنۍ ټولګه چې مطبعې ته د چاپ لپاره ورسیده، ترڅو کتاب چاپ او له مطبعې راووت، پوره دري میاشتې یې ونیولې، دا په داسې حال کې چې خپله به ورتلم، د لینو تایپ ماشین کار سره به می لیدل، بیا به مې ټرل شوې فورمې ادیت کولې او بیا به د پوښ لپاره لینوتایپ او زنګوګرافی ماشینو ته ولاړم چې پوښ په هنري خط ولیکي، لنډه دا چې ایله دریو میاشتو کې یو دوه سوه مخیز کتاب چاپ شو. اوس ددې نوې ټکنالوژۍ پرمټ ګڼ شمېر داستاني اثار په ښکلي خط، عالي ډیزاین او غوره کیفیت په څو ورځو کې له چاپخونې راوځي او لوستونکو ته رسیږي. د وخت او د کار د آساني ترڅنګ؛ مهمه داده چې کمپیوټر ټولې لیک نښې(تنقیط) ، د خط بېلابېل ډولونه(بهیج، آریل، نازو...) لري. په نوې ټکنالوژي کې تېروتنې او ادیت د پخوا په پرتله ډېر آسانه دی. پخوا که د یو کتاب لیکل د زړه د وینو خوړل و، چاپ او طباعتي چارې یې هم لویه ستوماني وه. د ټکنالوژي پر مټ اوسمهال انلاین کتابتونونه هم جوړ شوي دي، په ځانګړي توګه د ګڼو علمي مرکزونو له خوا ځینې مهم اثار د سکن او بیا په ګروپ کې وړاندې کېږي، نور بیا په (PDF) بڼه د لاسرسي وړ دي. د دې تر څنګ اوسمهال نوې لیکنې او کتابونه هم د پي ډي ایف له لارې خوندي کېږي، د لیکوالو لنډې کیسې د انټرنیټ پر مخ خپرېږي او آن د نړۍ هرې څنډې ته رسېدلای شي. پي ډي ایف داستاني اثار خوندي کړل، له ورکېدو یې وژغورل د نورو له لاسوهنې یې بچ کړل. د نوې ټکنالوژي بله ښېګڼه دا ده چې د لیکوالو او لوستونکو تر منځ واټن رالنډ شو. اوسمهال ځوانان کولای شي چې د AI په مرسته نیغ په سیده ډول یو نوی متن ولولي، تحلیل او تفسیر او آن نقد یې کړي. که چېرې ورته سوالونه پیدا شي کولای شي چې هممهاله یې ځوابونه هم تر لاسه کړي. دې ګټورې هڅې د پښتو داستاني ادبیاتو د مطالعې، فرهنګ په عادت کېدو او بډاینه کې ونډه

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندهٔ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»

واخیسته. پخوا به کوم داستاني یا بل هنري اثر ژر د لوستونکي لاس ته نه ورته ، لیکوال سره خو به یې اړیکه ممکنه نه وه، مګر د تخنیکي وسایلو په راتګ سره د داستاني ادبیاتو د ایجادګرو او لیکوالو دواړو اړیکي له لوستونکي سره نژدې شوې دي. دا لړۍ د لیکوال او لوستونکي ترمنځ د افکارو د تبادلي امکان برابر او د آثارو مینه وال د خپلې خوښې کتاب ژر او آسانه تر لاسه کولای شي. د پرمختللي بریښنایي معاصري تکنالوژي په راتګ سره د پښتو د ادبي اثارو د زېرمه کولو او ساتلو ګڼې لارې چارې رامنځته شوې دي. د ټکنالوژیکي وسایلو په راتګ سره د پښتو ژبې متن د تل لپاره د ګوګل/ مصنوعی ذکاوت اوکمپیوټر په حافظه کې خوندي شو، چې کلونه کلونه به ساتل کېږي. د دې تر څنګ اوسمهال د چاپ وسایل کابل، کندهار، هرات، بلخ، ننګرهار کې مهیا او موجود دي او کله چې یو داستاني اثر(دلنډو کیسو ټولګه، ناول یا رومان) ولیکل شي، په اسانه بازار ته د وړاندې کولو لپاره چمتو کیږي. د انلاین ببلابېل پلاټفورمونو په راتګ سره ادبي لیکنې او اثار تر ډېره د انټرنېټ او دیجیتال پر رڼاګانو او پانو کې خوندي کیږي. د مثال په توګه د فیسبوک، مسینجر، واتس اپ، تلګرام ، یوتیوب ... په دې پانو کې هنری او ادبي متن لپاره د منظرو د انځورولو او تجسمي هنر امکان هم په پام کې نېول شوی دی چې د لوستونکي د پام راجلبولو او ادبي - هنري ذوق خړوبولو کې مرسته کوي. له نېکه مرغه اوس د پرمختللي تکنالوژي په برکت د نړۍ د نورو فرهنګونو او علمي مرکزونو سره زموږ اړیکې ټینګې شوې. دې لړۍ د داستاني ادبیاتو پرمختیایي بهیر ته نوی رنګ ورکړ او دا آثار اوس د انټرنیټ او مبایل له راتګ سره د هر کور تر دروازې پورې ورسېدل. کتاب یوازې په کتابتون او تاخچه کې پاتې نه شو، بلکې د هر مُبایل د سکرین پر مخ د هر چا لاس ته ورسېد. د چاپ او طباعت له آسانتیا ور هاخوا، اوس د لیکوال د لیکنو په اړه د لوستونکو نظریات هم په کم او لنډ وخت کې تر لاسه کېدای شي. انلاین غونډې، ادبي بهیرونه، علمي او فرهنګي بحثونه یې بله آسانتیا ده. اوس موږ د داستاني ادبیاتو په اړه نړیوالي تجربې کتلای شو او آثار مو نورو ژبو ته واوښتل. نړیوالو تجربو د پښتو ادبیاتو په مضمون او بڼه کې لوی تغیر راوسته او ورځ تر بلې دا لړۍ د لیکوالو او فرهنګیانو له خوا پالل کېږي.

همدا اوس ډېر وېبسایټونه (بریښناپاڼې) داستاني ادبیات خپروي، بڼه بېلګه یې د ایمل پسرلي په همت د پښتو کیسه.کام ، هوډ، taand.com، Dawat.media او سپرغی دي، هوډ خو یو بل ګام اوچت کړی دی چې څو داستاني مجموعې او ناولونه یې دیجتال کړي دي او ډېر آسانه انلاین د لوستلو او کتلو وړ دي. د مطبعو او چاپ برخه کې هم اساني راغلې ده، همداوس جلال اباد او کابل کې د پخوانیو دولتي مطبعو ترڅنګ؛ شخصي مطبعې کتابونه خپروي، چې زیات شمېر یې د لنډو کیسو ټولګې او ناولونه دي. جلال آباد کې مازیګر خپرندویه ټولنه یواځې ناول او لنډې کیسې نشر او کتابونه یې ټول هېواد کې ویشي. زموږ ځینو لیکوالو له هېواد بهر خپل داستاني آثار چاپ کړل، لکه خ.ا. تراب چې د خپلو لنډو کیسو ټولګه نشر کړه.

مسعود: ستاسې پر اند د لنډو او اوږدو کیسو، ناول او رومانونو لیکونکي څه وکړي، چې مینه وال (مخاطب) یې په چټکۍ سره د دوی نښیرونو(اثارو) ته ورننوځي او هغه تر پایه ولولي؟

استاد دودیال: ځوانان د ټولنې راتلونکي جوړوي. زده کړه د دوی پانګه ده. مطالعه د فکري ودې او د استعدادونو د غوړېدو وسیله ده. ځوانانو ته بویه چې ادبي او فرهنګي هڅو کې فعال اووسي. څومره چې د جسمي روغتیا او تندرستي لپاره تکړښت او ورزش ضرور دی، د فکري ودې لپاره هومره مطالعه ضرور ده. طبعاً هر ځوان د خپلې خوښې سره سم، په یوه څانګه کې زده کړې کوي، خو ورسره ادبي ذوق روزل یا د یو شمېر خلاقانه هڅو او نوښتونو لرل هم کمال دی. لیکوالي فن (fun) او هنر(art) دی. د فن په توګه باید زده او تمرین شي او د هنر په توګه باید له نوښت او خلاقیت څخه پکې کار واخیستل شي. شعر لیکل او ناول یا د ادب بل ژانر کې بوختیا او یا هم کومه هنري بوختیا لرل، تر ټولو مخکې د ذوق او علاقې غوښتنه کوي، مطالعه، مشق، تمرین او پرله پسې هڅې غواړي. ژبه په ادبي تخلیقاتو بډایه کیږي. د لنډو کیسو، ناول او رومان لیکوال په دې ډېر بڼه پوهیږي چې داستاني ادب کې د فني او تخنیکي ټکیو د رعایت ترڅنګ، تلوسه ایجادول، د دې لامل ده چې لوستونکی یې اثر بې له دې چې کتاب وتړي، مخ تړي واړوي او بل کار ته پاڅیږي تر پایه ولولي.

د دا ډول اثر پښتول لوی هنر دی. دا هغه وخت کېدای شي چې لیکوال پوره ادبي آثار مطالعه کړي وي. ځوانان چې د ناول لیکلو سره مینه لري، دوی باید د خلکو ژوند سره آشنا وي، د ټولنې غوښتنې او علایق وپیژني، پوره زیات شمیر ناولونه او د نړیوال داستاني ادب شهکار آثار ولولي او بیا په لیکلو پیل وکړي. د داستاني اثارو کښل دا ایجابوي چې د لنډې کیسې، رومان او ناول لپاره یوه جذابه او ښکلي سوژه او موضوع ومومي. د غوره سوژې موندل په خپله هنر دی. سوژه او د کیسې طرح د ناول له لیکلو وړاندې د لیکوال په ذهن کې راټوکیږي. لیکوال چې یو څه لیکي؛ ښکاره خبره ده چې له وړاندې به یې سوژه لري. نو چې یو څوک ناول لیکي له وړاندې به کښه لري. داسې یوه کښه چې له ټولنې سره اړخ ولګوي. ښه لیکوال خپل لوستونکی پیژني، هغه دا سنجوي چې کومې ټولنې ته ناول وړاندې کوي. لوستونکي یې د سواد او آفاقی پوهې کومه کچه کې دي. د کیسې له غوره کولو وروسته بله خبره (تلوسه) ده. لنډه کیسه، رومان او ناول چې تلوسه ونه لري، لوستونکی یې تر پایه نه لولي، بلکې ستومانه کوي یې. که ژباړونکی د ژباړې لپاره ناول یا کیسه او رمان خوښوي هم باید دا ټکي هېر نه کړي.

د ادب په ډګر کې هر تخلیق مطالعې، روان قلم، پستې او خوږې ژبې، له تاریخ څخه خبرتیا، د ولس دود- دستور ته درناوي، پرله پسې ریاضت، کلاسیکو متونو باندې لاسبری، استیتیکی ذوق لرل او نوښتګر اوسېدو ته اړتیا لري. د موضوع غوره کول هم د پام وړ ده. د کیسو، رمان او ناول لپاره دې داسې موضوعات غوره شي، چې له پېښو ډک، کرکترونه او دیالوګونه طبیعي او د منلو وړ، ژبه روانه او خوږه، لیکنه د رسالت لرونکی او له عالی پیغام څخه برخمنه وي. لوستونکی او مخاطب باید وپېژنو. لیکنه کې ابهام او تکرار نه وي، سولیدلي او کلیشه یې مسایل څوک نه خوښوي، نوښت د بري راز دی او تر لیکلو هم لوستل لازیات ضرور دي. لیکنه باید د نوم او شهرت لپاره نه، بلکې د رسالت له مخې وي. د ښکلا پښتول او لوستونکي ته رغوونکی فکر او وطن او خلکو ته د کار کولو انګیزه ورکول باید په هنرمندانه ډول لیکه کې نغښتي وي. یواځې سوژه او موضوع نه، بلکې پیاوړی قلم لرل هم عالي هنر دی، یعنی ناول او داستان لیکونکي ته پکار ده چې خپله لیکنه، الفاظ او بیان په نوي بڼه او هر مفهوم او جمله په خپل ځای وکاروي. الفاظ چې څومره نوي او خواږه وي په هغه اندازه داستان، کیسې ، رومان او ناول ته ښکلا وربخښي. موضوع که هر څومره نوې وي، خو که الفاظ زاړه او تکراري وي، نو تخلیقي موضوع بېخونده کوي. له نوې موضوع سره چې هڅه وشي نوي خواږه الفاظ وکارول شي، په پایله کې به یو په زړه‌پورې داستاني اثر(لنډه کیسه، رومان او ناول) ټولنې او لوستونکو ته وړاندې شي. دا په داسې حال کې چې ټولنه د کیسو د اورېدو او لوستلو تږې ده، لوستونکي غوره داستاني اثارو ته په تمه دي. لیکوال په دې حالت کې رسالت لري چې خپل پور د ټولنې په وړاندې ادا کړي.

مسعود: پښتو ژبه کې د کلاسیکي دورې څخه بیا تر نن پورې ډېر ښکلي شعري دیوانونه، د معاصرو لیکوالو د اشعارو ټولګې او په ویبسایټونو او مجلو کې ښکلي شعرونه او نظمونه لرو، خو د نثرونو په تړاو هسې چې باید کار شوی وئ نه دی شوئ. تاسو په دې اړوند څنګه اندئ؟

استاد دودیال: سره له دې چې پښتو ژبه نامتو ویناوال او شاعران لري، خو په نثر کې هم ژبې ته خدمت او د معنوي زیرمو بډای کول ملي مسئولیت دی. ساینسي لیکنې، د ټولنیزو علومو څېړنې او ادبي نثر (چې ناول او لنډه کیسه هم په دې برخه کې راځي) پیاوړی قلم او ژور فکر غواړي.

ستاسو پوښتنه او اندېښنه بېخي پر ځای ده. پښتو کې نظم او شعر هم لرغونتوب لري او هم د کمیت له پلوه د حساب وړ دی، خو نثر او د نثر لیکوال لږ لرو. موخه یواځې ادبي نثر نه، بلکې عمومي لیکنې هم دي. موږ باید دري ډوله نثر ته د کمیت او کیفیت له پلوه کار وکړو: داستاني ادب، عمومي او معلوماتي نثر او لیکنې (genral writing) او علمي لیکنې(scintific/heavy writing). که د بېلابېلو مسلکونو لرونکي ځوانان نثر لیکلو کې تکړه شي، موږ به د ساینس او ټولنیزو علومو برخه کې ډېرې ښې لیکنې ولرو. اوس چې د میډیا ډګر پوره پراخ دی، بیا هم موږ نثر ته پام نه دی کړی. د نړۍ نورو ژبو د نظم او شعر تر څنګ علمي لیکنو (scintific/ heavy writting) ته پام کړی دی، نو ځکه په اقتصاد، سیاست، حقوقو، ساینسي اختراعاتو او تکنالوژي کې پر مخ تللي دي.

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندهٔ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»

اکاډمیکي لیکنې او علمي مقالې په نثر لیکل کیږي. دغو لیکنو پوهه او معلومات خلکو ته ورسول او د ټولنې د شعور د اوچتیدو لامل شول. دا په دې مانا نه ده چې شاعر نثري او علمي لیکنه نه کوي یا یې نشي کولای. اروابنداد الفت، اروابنداد پژواک، مجروح، بېنوا، استاد نوید، استاد رنګ، قتیل خوږیانی او ډېرو نورو درنو مشرانو هم شعر لیکلی او هم یې ډېرې ګټورې علمي، سیاسي، حقوقي او نورې لیکنې په نثر کې کړې دي.

مسعود: د ډېرو لیکوالو، په تېره بیا پښتو لیکوالو لنډې کیسې، ناولونه، رومانونه او داستانونه نوښتګرانه، هنري او شاعرانه رنګ لري. ستاسو پر اند دک و دلیل یې څه دی؟

استاد دودیال: زه داسې انګېرم چې د پښتو ژبې د داستاني ادبیاتو هنري او شاعرانه رنګ، د اورېدو تلوسه او جذابیت له ولسي خوږو کیسو څخه راپاتې دی. هغه په زړه پورې او خواږه نکلونه چې مینډو او اناګانو به ماشومانو ته ویل، په هغو کې هنري رمزونه، سمبولونه، د راز راز پېښو انځورونه او د ژبې بڼکلا وه، نو اوسني لیکل شوي داستاني آثار له هغو څخه اغیزمن دي. له بلې خوا د پښتنو ژوند، چاپېریال، دود- دستور هم رنګین او بڼکلی دی. موږ د نوښت لپاره نور پراخ ډګر هم لرو. لاهم ډېر څه شته چې ندي لیکل شوي او د قلم څوکې ته ندي ورغلي، که موږ خپل لرغوني فولکلور کې څېړنه وکړو، د ولسونو د ژوند بېلابېل اړخونه را وسپړو او له تاریخ څخه کیسې او له کیسو څخه تاریخ جوړ کړو، نو نوره به هم دا بڼکلا زیاته شي. دې برخه کې لا هم ډېر کار شته چې باید تر سره شي . وړاندیز دا دی چې د داستاني ادبیاتو ژبه سُچه او نګه وساتو، د ولس متلونه، روایات، اصطلاحات، نومونه او انګېرنې پکې راغبرګې او راتلونکو نسلونو ته یې په میراث پرېږدو. د داستاني ادب او د لنډې کیسې، ناول او رمان ژانرونه لازیات کار ته اړتیا لري. د کیسو اورېدو ته تنده نه خړوبېدونکي ده .

مسعود: تاسو د خپل ژوند په ادبي او فرهنګي بهیر کې داستانونه، لنډې، اوږدې کیسې ناول او رومانونه کښلي دي او که نه؟ که مو نه دي لیکلي د هغه لامل څه دی؟

استاد دودیال: قدرمن او بڼاغلی اینجنیرصاحب، دا نو یوه شخصي پوښتنه ده، مجبور یم د ځان په اړه یو څه وليکم، خدای وکړي لوستونکو او درنو هېوادوالو ته بد بڼکاره نشم.

کیسه، رومان او ناول لیکل یوه هڅه ده، تنده ده، ذوق دی او د بڼکلا انځورول، د پیغام رسول، د ژبې او ملي فرهنګ د ارتقا تلاش او د ټولنې د عواطفو د تلطیف او خلکو ته د داستاني ادب له لارې د ټولنې، تاریخ، نړۍ او واقعیتونه منعکس کول دي. خلکو ته خوښي بخښل، ژوند رنګین او متلذذ کول، د ناول او کیسې له لارې د خلکو جهان دیده کول رسالت، مسوولیت او د خېر او ثواب کار دی. کله چې ځوانانو ته داستاني اثار د لاسرسي وړ وي، د دوی مینه لوستلو او مطالعې سره زیاتیږي، کتاب سره عادت کیږي، معلومات یې زیاتیږي، خبرې زده کوي او ټولنه او خلک پېژني.

زه له وړکتوب څخه کیسو سره را لوی شوی یم. انا او پلار به مې د ژمي شپو کې پخواني نکلونه راته اورول. وروسته چې د بنوونځي نهم او لسم ټولګي ته ورسیدم، ناول او داستان لوستل مې یوه ذوقي او تفریحي بوختیا وه. شیرشاه مینه کې د (بکاولي) په نوم یو کتاب پلورنځی و، د کتاب له پلورلو سره یو ځای یې پولیسي داستانونه، رومان او ناولونه په کرایه هم ورکول. د یوې اونۍ لپاره د یوه کتاب کرایه له دوه افغانیو تر پینځو افغانیو پورې وه. کله به مو چې کتاب ولوست بېرته به مو ورور، بل کتاب به مو ورڅخه واخیست. د اروابنداد غنی بکاولي د کوچنۍ هټۍ له برکته مې د هغه وخت څه ناڅه ټول هغه داستانونه، رُمانونه او ناولونه لوستي و، چې کابل کې موندل کېدل. دا زیاتره د ایران چاپ کتابونه وو چې ایرانیانو بهرني داستاني ادبیات ژباړلي وو. زرنګار پارک کې د سپین زر هوټل مخې ته هم دا ډول کتابونه وو. د لومړي جمهوریت(۱۳۵۲ل. څخه وروسته) کلونو کې کابل کې داستاني ادبیات زیات شول، زیات مینه وال یې هم لرل. د پنځوسمو کلونو په پای کې کابل کې خپریدونکو مجلو کې د لنډو کیسو لیکل، د هغو لوستوال او مینه وال او د کیسو خپراوی زیات شو، د دوکتور اکرم عثمان، غوث خیبري، ره نورد زریاب، امین افغانپور، زرین انځور، ببرک ارغند لنډې کیسې به یې خپرولې، ټول مې لوستل. د داستاني ادبیاتو کوم کتابونه چې کابل کې نشر شوي وو، ټول مې لرل. لنډې کیسې او ناول سره مې مینه وه. کله چې محصل وم، د خپل قلم د آزمایلو لپاره مې لومړنی لنډ داستان د (معلم کیمیا)

تر سرلیک لاندې ولیک، ورسره یو ځای مې دوه پښتو لنډې کیسې هم ولیکلې. اوریدلې مې وو چې لیکوال ته بویه چې سلګونه پاڼې ولولي، بیا یوه پاڼه ولیکي، نو ځکه می لیکلو ته دوام ورنه کړ، خو لوستل می زیات کول. د ګی. دوموپاسان، لیکنې، د هوګو ببوزلان، د ګورکي (مور) د ایتماتوف(جمیله)، د کافکا او چارلز دیکنز آثار، د غوث خیبري لومړني چاپ شوی کتابونه او تاریخي کیسې مې لوستلي. یو وخت د مهدي داستاني کلیات کابل کې نشر شول، په هغه سبا مې دا کتاب رانیو. د سیدمهدي شاه مهدي لنډې کیسې پښتو داستاني ادبیاتو کې ډېر ښکلی کتاب و. دوه کاله وروسته مې خپل لومړنی لیکلی لنډ داستان ارواښاد زریاب ته ور وړ، په هغه ورځ زیات بوخت و، زما لیکنه یې میز کې کښېنوده ویې ویل د پنج شنبې په ورځ راشه. زریاب هغه وخت دوشنبه یې دفتر ته نه راته، پنج شنبه به یې معمولاً دوستانو، لیکوالو او آشنایانو سره مجلس و. کله چې ورغلم، زما لیکنه کې یې هیڅ نښه نه وه کړې، همدومره یې راته وویل چې : نوشته ات عالیست، داستان کوتاهي خوبی است ، ولی نوشتن را ادامه باید داد.

هغه لنډ داستان مې وروسته لږ نور هم جوړ کړ. پښتو لنډې کیسې مې ارواښاد امین افغانپور ته ښودلې. هغه وخت افغانپور صاحب راډیو تلویزون کې و. زما په لیکنه به یې په پنسل نښې کولې، ډېر به یې هڅولم او بیا به چې ورغلم مشوره به یې راکوله. وروسته می لیکنې ګران او منلي وروړ ښاغلي زرین انځور ته ښودلې. په دې توګه مې د شپېتمو کلونو لومړیو کې لومړني داستاني آثار مطبوعاتو کې چاپ شول. د سباوون، ژوندون، انیس، جرګه، زیری او نورو مجلو ته مې لنډې کیسې لیکلي دي. د لنډو کیسو لومړنۍ ټولګه مې د (تانده غوټۍ) په نوم په ۱۳۶۴ل. کال کې د لیکوالو ټولنې نشر کړه. دا کتاب دولتي مطبعې چاپ کړ. د لنډو کیسو دوهمه ټولګه د (شاهین) په نوم اردو مطبعه کې چاپ شوه. لومړنی ناول مې (د مینې ډالۍ) هم د لیکوالو ټولنې خپور کړ. له دې وروسته د پوهنتون اداري او درسي چارو کې زیات بوخت شوم. موقوته خپرونو ته مې لنډې کیسې استولې، خو کوم د داستاني ادبیاتو ځانګړی کتاب مې لاس لاندې نه و. یو وخت مې پېښور کې د (آزاد افغانستان) بیا(وفا) ته لنډې کیسې لیکلې، مسکو کې د درانه ورور فاروق فردا په همت خپرېدونکي اخبار مې څو لنډې کیسې نشر کړې. په ۱۳۸۴ل. کال کې سبا(میوند) خپرندویه ټولنې زما د طنزونو یوه ټولګه خپره کړه. په دې توګه نه یواځې د هېواد دننه، بلکې له هېواد بهر مې هم لیکنې خپرې شوې. د (داستانونه) مجلې ته مې زیات شمېر داستانونه واستول او نشر شول. په ۱۳۹۹ل. کال می (ACKU)/ کابل پوهنتون کې د افغانستان د معلوماتو مرکز (مورِ ببرته خپل کلي ته ځو) ناول نشر کړ. په ۱۴۰۲ل.کال ښاغلي او منلي وروړ نبیل عزیزي زما د پښتو لنډو کیسو درېیمه ټولګه (ورک شوی پل) د افغان جرمن آنلاین ویبسایت کې آنلاین خپره کړه، ورپسې مې د دري لنډو کیسو مجموعه(ازینجا تا شمالی کار دارم) انلاین شوه. په ۲۰۲۴م. کال کې می درېیم ناول(ګوندې بیا به ښې ورځې راشي) افغان جرمن آنلاین ویبسایت په قسطوار ډول او بیا په ۲۰۲۶م. کې د افغانستان د تاریخ ټولنې له خوا د امازون له خوا اروپا کې په کاغذي بڼه نشر او تر امریکا او استرلیا ورسېد، دا کتاب د ISBN 9781764655446 نړیوال نمبر او ځانګړي بارکود سره هم په کاغذي بڼه او هم انلاین د لاسرسي وړ دی. وروسته تر چاپ (هوډ) ویبسایت انلاین کړې دی. (کتابتونKETABTON) کې هم آنلاین موندل کیږي. په دې توګه له شپېتمو کلونو را هیسې تر اوسه مې د هیواد دننه او بهر د ۵۴ شاوخوا په دري او پښتو ژبو لنډې کیسې، دري ناولونه او ځلور د لنډو کیسو ټولګي (دري پارسي او پښتو) نشر او چاپ شوي دي، خو لا هم زما نوم د داستاني ادبیاتو د لیکوال په توګه نه دی پېژندل شوی، دا ځکه چې زه د ادبیاتو اماتور یم، د ادبیاتو د پوهنځي فارغ نه یم، بل دلیل دا دی چې زه تر ډېره پوهنتونونو کې په تدریس او اداري کارونو(مدیریت، آمریت، معاونیت او تر ریاست) او د افغانستان د علومو اکاډمي کې په علمی او اداري چارو بوخت وم او ډېرې مقالې او کتابونه مې مسلکي وو. نو د اته سوو شاوخوا مسلکي مقالو او ۸۸ چاپ شویو کتابونو په پرتله د ځلورو داستاني ټولګو او درېو ناولونو لیکل او نشر دومره د پام وړ نه دی، یعني تر ډېره زه د داستاني ادبیاتو د لیکوال په توګه نه، بلکې د اقتصاد د پوهنځي د یو استاد په توګه پېژندل شوی یم .

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندۀ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»

مسعود: تاسو د يو پياوړي ادیب، کیسه لیکونکي، نوښتګر څېړونکي، ژباړونکي او وتلي لیکوال په توګه زموږ د هیواد ځوان لیکوال پېژنت او نسل ته د داستان، د لنډو او اوږدو کیسو، ناول او رومان لیکنې په برخه کې کومې سلامشوري ورکولای شئ او وړاندیزونه مو ورته څه دي؟

استاد دودیال: لیکل یو درون مسوولیت دی. لیکل؛ په تېره بیا ادبي لیکنه لوړ مهارت غواړي . لیکوال کېدل یو ریاضت دی. د ژمن او رسالتمن لیکوال لپاره چې غواړي د ټولنې د سمون او ویښتیا لپاره لیکنه وکړي، مطالعه او تجربه دواړه مهم دي. یو لیکوال هغه وخت بریالی دی چې د تخلیقي اثر د پنځولو د مهارت او هنر ترڅنګ، خپله ټولنه وپیژني. ځوان لیکوال دې په دې تمه نه وي، چې خپله لومړنۍ لیکنه مطبوعاتو ته واستوي او هرومرو د لوستونکو یا د اخبارونو د مدیرانو تاوده هرکلي سره مخامخ شي، بلکې ممکن لومړنۍ لیکنې د خپراوي چانس ونه مومي، که نشر هم شي، ممکن ونه ستایل شي. نو ځوانان دې دوام ورکړي. کلونه کلونه وخت په کار دی چې د دوی لیکنې د هرکلي وړ وګرځي.

زه به خپله یوه تجربه وليکم:

زموږ وخت کې د ګوتو په شمار چاپې رسنۍ وې. زیاتره حکومتي او رسمي وې. مدیران یې ډېر پاخه او سختګیر وو. لیکنه به یې د ذره بیني عینکو له شا څو ځلي لوستله، هر اړخیزه به یې کتله. د دوی سپارښت به دا و چې: سل پاڼې ولوله بیا یوه پاڼه ولیکه!

ریښتیا یې ویل. د لیکوال کېدو لپاره مطالعه او لوستل لومړنی شرط او ډېر ښه تجویز دی. زیاتره وخت به یې د مطالعې د سپارښت ترڅنګ؛ لیکنه په سره قلم ځای ځای نښه کړه، د سمون لارښوونه به یې وکړه. د ځوانانو لیکنو ډېر لږ د خپراوي چانس موندلای شو. هغه وخت په هېواد کې هرڅه معیاري وو. زما لومړنۍ لیکنې یوه هم نشر نه شوه. اوس هم را څخه ورکې دي. ایله په پینځم یا شپږم کال مې لومړنۍ لنډه کیسه خپره شوه، د هغې ورځې خوشحالي تر اوسه نه هېروم. بیا نو داسې وخت راغی چې لومړۍ ادبي جایزه او د مطبوعاتو ستاینلیکونه مې واخیستل او د مجلو مدیرانو به را څخه لیکنې غوښتلې، خو دا ټول وروسته تر ډېرو لوستلو، ډېرو، ډېرو اصلاحاتو او بیا بیا کتلو.

ځوانان دې کم ولیکي، خو ښه دې ولیکي. بېړه نده په کار. ځوانان دې نوم او شهرت پسې نه ګرځي، بلکې مهمه خبره د مسوولیت او رسالت له مخې لیکل دي. لنډه کیسه او رومان لیکل تمرین او مشق کول غواړي. ځوانان دې د نړۍ نامتو ناولونه او لنډې کیسې ولولي. د ادب تیوري او د ادبیاتو تاریخ، ادبي مکتبونه باید وګوري. لیکنې دې مشرانو لیکوالو ته د کره کتنې او سمون لپاره ورکړي او د هغوی سپارښتنې دې واوري.

***

په درنښت او ادبي مینه:

انجنیر عبدالقادر « مسعود »

***

ګران پوهاند استاد محمد بشیر دودیال صاحب تاسو هغه ځواکمن لیکوال، د ژور اندو فکر ادیب، پیاوړی څېړونکی او ژباړونکی یاست، چې ستاسو علمي او ادبي دریځ د استدلال پر ځواک، د لید توګو او نظریاتو پر انتقادي ارزونه او د ادبي معیارونو پر پېژندنه ولاړ دی. د داستاني نړېوال او پښتو داستاني ادبیاتو په تړاو په دې مرکه کې ستاسو دا علمي، ادبي او مسلکي هر اړخیزه څېړنه او شننه، چې د مستند شواهدو او اخځونو، علمي او ادبي معیارونو او منطقي استدلال پر بنسټ ترسره شوې ده د خورا ستاینې او درنښت وړ ده. تاسو په دغه مرکه کې ارزښتاک، ژور، ګټور، کره او بشپړ مسلکي ځوابونه راکړي دي.

ګران پوهاند دودیال صاحب ستاسو د ستې او شخصیت ځانګړنه دا ده چې د پوهې په وړاندې تواضع، د حقیقت په وړاندې زړورتیا، د نقد او کره کتنې په وړاندې حوصله او د ادب په وړاندې ژمنتیا لرئ.

که په په لنډه توګه ووایم، ستاسو د څېړنو ارزښت په دې کې دی چې د ادب له ښکلا سره د پوهې ژورتیا، پراختیا او د ادبي مفاهیمو ژور تحلیل، د تخیل له ازادۍ سره د علمي ځیرکتیا او د ملي

فرهنګي هويت له درناوي سره نړيوال ادبي ليدلوری يوځای کوئ. ستاسو ځواکمن او اوچت قلم د الفاظو د ترتيب وسيله نه، بلکي د اندو فکر توليدونکی، د فرهنګي حافظي شنونکی، د هنري ارزښتونو پېژندونکی، د داستانونو په برخه کي د روح او تولني شنونکی، د علمي پوهاوې د پراختيا يو کارنده او فعال استازی او د حقيقتونو د سپرلو يوه اغېزناکه وسيله ده.

ستاسو علمي او ادبي اغېزناک او ژور نښيرونه(آثار) هغه تلپاتي لارښوونکي، ښکلي او هنري نښيرونه(آثار) دي، چې راتلونکي پښتونه او نسلونه به د پوهاوې، تفکر او علمي پرمختيا او پراختيا لپاره ترينه ګټور الهام اخلي.

لنډه دا چې ستاسو ځواکمن قلم د اند و فکر رڼا ده، ځېرنې مو د عيني حقيقت لټون دی، ادبي ليد لوری مو د معناوو نړی ده، او علمي رسالت مو د پوهې، ادب او انساني شعور د پراختيا نه ستړې کېدونکي او نه ورکېدونکي هاندو هڅه ده.

زه ستاسو ځخه نه يوازې د زړه له کومې مننډوی يم، خو له لوی خدای ځخه ستاسو د لا نورو پنځونو او هستونو د برياوو او بريالیتوبونو په هيله يم.
ګران استاد دوديال صاحب ستاسو اوچت قلم تل روان، اندوفکر مو روښانه او ځلېدونکی، ليد لوری مو پراخ او ژور او د پوهې او ادب په ډګر مو هاندو هڅې تلپاتي غواړم.

په درنښت او ادبي مينه:
انجنير عبدالقادر « مسعود »
***

ډېر قدرمن اينجنير صاحب، اجازه راکړئ چې له تاسو هم مننه وکړم او د پوره دقت او زحمت درناوی مو وکړم. هغه د ستايني وړ کار او هلې- ځلې چې تاسو د ادب او فرهنګ په ډګر کې کړي، دا چې ځومره مو معنوي ارزښتونه پاللي دي، موږ تولو ته ثابت دي.

تاسو د دغه ډول مرکو په ترسره کولو ډېر هغه څه روښانه او بحث لاندې راوستل چې بايد خبرې وربانديې شوې وای. ځوان نسل به ستاسو کارونه او زمونږ ملي کلتور ته د خپل وخت او انرژي د وقف کولو قرباني هېره نه کړي.

پوهاند استاد محمد بشير «دوديال»
***

www.said-afghani.org ــ به صفحه اصلی

«محتوای این مضمون بیانگر نظر نویسندهٔ آن است و ارگان نشراتی مولانا سعید افغانی مسئولیتی در قبال آن ندارد.»